فتاویٰ یعقوبیہ

تألیف

ذوالمجد الفاخر والعلم الذاخر والفہم الماہر

شیخ الحدیث والتفسیر

مفتی عبدالرزاق کدنوی عفی عنہ

مدیر مدرسہ محمدیہ نورزئی چوک خروٹ آباد کوئٹہ

ناشر

قاری بسم اللہ نوی کاریزی

مکتبہ حقانیہ

کانسی روڈ کوئٹہ



Maktaba Tul Ishaat



تمام فنون کے کتب ہمارے ویب سائٹ اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید نئے کتب شامل کر رہے ہیں نئے شامل شدہ کتب لیے روزانہ ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو باقاعدگی سے چیک کیا کریں۔

اپنی کتاب کو ہمارے ویب سائٹ پر شائع کرنے کے لیے رابطہ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ و دعوت
آڈیو دروس	مناظرے	تمام فنون

maktaba.tul.ishaatofficial@gmail.com

تقریظ

شیخ الحدیث والتفسیر فصیح اللسان حضرت مولانا نظر محمد صاحب الافغانی ادام الله برکاته الجاری بانی و مدیر جامعه ام القراء چمن .

الحمدلله العلی العظیم وصلوات الله البر الرحیم علی صاحب الخلق العظیم محمد و علی آله و صحبه و کل من اهتدیٰ بهدیه المستقیم اما بعد: فیقول الفقیر الی الله نظر محمد الافغانی انما طالعت نماز ج من الفتاوی الیعقوبیة لاخینا فی الله الشیخ الفقیهه المفتي النبیه الشیخ عبدالرازق زید مجده المدیر بالمدرسة المحمدیة فی کویته و علی الا سف انی لم آستوعب المطالعة لتزا هم آشغالی و تفا قم همومی و مع ذلک حین قلبت الحدقة فی نبذات من تلک الفتاویٰ و نماز ج منها عثرت علی تفو قهه و عموم و قوفهه فی آنحا العلوم من درایة الحدیث وروایة و من ناحیة الفقه الحنفی دقا وجلا و من ناحیة الحوادث والنوازل فی العصر الحاظر و ما الیه ذلک من رد البدع والمنکرات واصلاح الصدور المعتقدات مع الترجمة السهلة الوجیزة الی لغتنا الا فغانیة السلمانیة فجزی الله تعالیٰ المؤلف خیر الجزاء و تقبل جهوده و مساعیه فی تلک الفتاویٰ و فی المصنفات اللتی صنفها قبلها ووفقه لتا لیفات آخر کما یحب ویرضی و علی العلماء والائمة ان یطالعوها و یستفیدوا منهاخذما نظرت ودع شیئا سمعت به . فی طلعة الشمس مایغنیک عن زحل .

حضرت مولانا نظر محمد صاحب الافغانی

تقریظ

شیخ القرآن والحدیث حضرت مولانا حمد الله صاحب استاذ و بانی مدرسه عشره مبشره بائی پاس آخری استاپ الله دی دشیخ صاحب په عمر کښې برکت واچوي .

الحمد الله الذی خلق السموات والارض وجعل الظلمت والنور و فضل العلم علی الجهل فقال قل هل یستوی الذین یعلمو ن والذین لا یعلمو ن انما یتذکر اولو الاباب وصلوات ربی و سلامه علی محمد عبده و رسوله القائل من یرد الله به خیر یفقهه فی الدین و علی آله واصحابه القاده السادة و علی من تبعهم باحسان الی یوم الدین .

اما بعد: کله چې ما عاجزه بنده فتاوی یعقوبیه چې پر ۱۲ جلدو مشتمله ده چې د ذوالمجد الفاخر والعلم الذاخر جامع المنقول والمعقول محسود الاقرآن المفتي الاعظم جناب مولانا عبدالرازق کدنوی حفظه الله تألیف وو وکتل نو می په اخلاص دا وویل چې صادق هغه قائل ښې ویلی دي کم ترک الاول للاخر ځکه چې ډیری داسې جدیده مسائل پکښې شته چې متقد مینونه دي بیان کړي خو په دې مذکور کتاب کی سره د تحقیق او معتبرو حوالو سره بیان شوی دي .

تقریظ

شیخ القرآن والحدیث مناظر اسلام فصیح اللسان حضرت مولانا منظور احمد مینگل صاحب شیخ الحدیث مدرسة صدیقیة کراچی پاکستان .

الحمد للہ رب العالمین والصلوٰۃ والسلام علی اشرف الانبیاء محمد المصطفیٰ وعلیٰ آلہ واصحابہ نجوم الہدیٰ وفقہاء ملۃ الی یوم الجزی۔ امابعد:

اسلام ایک کامل مکمل دین ہے جس میں ہر شعبہ زندگی کے حوالے سے رہنمائی موجود ہے قرآن مقدس جو ہدی للمتقین ہے بغیر کسی تغیر وتبدیل کے پوری آب وتاب کے ساتھ محفوظ ہے دوسری طرف رحمت عالم ﷺ کے فرامین مبارکہ بھی محفوظ ہیں جنہیں امت کے خوش نصیب طبقے محدثین عظام نے فرب مبلغ اوعیٰ من سامع کے تحت بعد والوں کو منتقل کیا۔ فقہا کرام نے خداداد بصیرت کی بنیاد پر قرآن وسنت میں غوطہ زن ہوکر فقہ کی صورت میں جو عظیم ذخیرہ ملت کے سامنے پیش کیا وہ رہتی دنیا تک عملی میدان میں رہنمائی فراہم کرتا رہے گا لیکن پھر بھی النصوص محدودۃ والحوادث محدودۃ کے پیش نظر نوازل اور پیش آمدہ مسائل کا صحیح حل تلاش کرنا ہر دور کے فقہاء کی ذمہ داری ہوتی ہے جنہیں وہ بہتر طریقے سے نباہ رہے ہیں موجودہ دور میں مرکز رشد وہدایت دارالعلوم دیوبند کی طرف منسوب اہل علم اکابر نے دین کے تمام شعبوں کی خوب آبیاری کی صرف فقہ وافتاء کے باب میں جو عظیم ذخیرہ عربی اوار دو زبان میں مدون کیا اسے دیکھ کر عقلیں دنگ رہ جاتی ہیں ضرورت اس بات کی ہے کہ دیگر زبانوں میں اس طرح کی تالیفات وتراجم کا اہتمام کیا جائے پیش نظر مسودہ فتاوی یعقوبیہ اسی سلسلے کی ایک کڑی ہے جس کو حضرت مولانا مفتی عبدالرازق الکدنوی صاحب نے پشتو زبان میں مرتب کیا ہے فقہا مسائل میں بالخصوص آراء کے اختلاف بدیہی الامر حقیقت ہے اس وجہ سے اہل علم کے خلاف کی گنجائش موجود ہے۔ مؤلف اس قابل قدر محنت پر قابل داد اور کتاب قابل دید ہے۔ خوشبو آن است کہ خود ببوید نہ آنکہ عطار بگوید

اللہ تعالی اسے مؤلف کے لئے ذخیرہ آخرت اور امت کے لئے باعث ہدایت اور رہنمائی بنائیں آمین

﴿حضرت مولانا ڈاکٹر منظور احمد مینگل صاحب﴾ ﴿حفظہ اللہ﴾

رئیس جامعہ صدیقیہ گلشن معمار کراچی

دمطالبو فهرست

فتاویٰ

یعقوبیه

جلد (٧)

تألیف:

ذو المجد الفاخر و العلم الذاخر و الفهم الباهر



قاری بسم الله لوی کاریزی

مکتبه حقانیه
کانسی روڈ۔ کوئٹه

دکتاب لنډه پېژند ګلوي

دکتاب نوم:

مؤلف مفتي عبدُالرّازق کدنوي

کمپوزر: راز محمّد راز،مرکز کتابت،کوټه

دچاپ کال: ۲۰۲۰ عیسوي

صفحات: (   )

کتاب النکاح

بسم الله الرحمٰن الرحیم

نکاح په ایجاب او قبول سره منعقد کیږي ددې لپاره دوه ګواهان شرط دي .مثلاً زید وحلیمه ته ووائی چې ماستا سره دپنځه ویشت زره روپۍ په عوض کې نکاح وکړه .او حلیمه ددوو نرانو یا دیوه نر او دوو ښځو په مخ کې ووائی چې ما قبول کړې نو نکاح منعقد شوه .

مسئله

ښه خبره داده چې په لویه مجمع کی نکاح وکړل سي لکه دجمعې دلمونځ وروسته په جامع مسجد کې یا په بل ځای کې چې دنکاح ښه تشهیر راسي او په پټه پټه دی نکاح نه کوي (بهشتی زیور) مجمع الانهر ج:۱ ص ۳۱۵)

مسئله

په شریعت کی صرف ددوو ګواهانو په مخ کې نکاح کیدلای سي البته ددې اعلان کول مستحب دی په دې کی ډیر مصلحتونه دي مثلاً که چیري ددې ګواهانو څخه وی مړ سي او ښځې دنکاح څخه انکار وکړی نو بیابه دثبوت په پوره کولو کې ډیر مشکل پیدا سي ځوک چې په دغه نکاح خبر نه وي هغه به قسم قسم ګمانونه کوي دزوجین تعلقات به په حرمت او زنا باندي حمل کوي دتجربه کارو خلګو څخه دا شیان پټ نه دي .(فتاویٰ محمودیه ج۱۰ ص۴۷٦)

مسئله ﴾

نكاح په ټول كال هره ورځ او هره شپه كي جائز ده مګر دپنځ شنبې ،جمعې او دو شنبې په ورځ نكاح كول افضل ده (فتاوىٰ محموديه ج۱۰ ص:۴۸۵)

مسئله ﴾

په عمومي توګه ناوې دنكاح په محفل كي حاضر او شريک نه وي بلكه دناوي له خوا څخه دهغې وكيل موجود وي نو كه چيري دناوي وكيل دګواهانو په موجودګۍ كي زوم ته ووائى چي ما دحليمې نكاح ستاسره دپنځه ويشت زرو روپۍ د مهر په عوض كي وكړه ايا تا حليمه په خپل نكاح كي قبوله كړه ؟ او زوم ووائى چي هو ماقبوله كړه نو نكاح منعقده سوه .

مسئله ﴾

دوكالت پر وخت وكيل ته ضروري نه ده چي خپل مؤكل ته به ګوري (يعنى هغه به وينى) بلكه دټيلفون فاكس په ذريعه هم وكالت صحيح دى .

مسئله ﴾

ګواه چي ګواهى وركوي دهغه لپاره ضرورى دي چي (مشهود عليه به ليدلى وي)چي صرف ږغ ئى واورى يا دټيلفون او بله ذريعه سره خبره واورى او ګواهى وركړى نو دهغه ګواهى نه قبليږي . لايجوز للشاهد بشىء لم يعانه هداية ج ۱۵۶ـ۳۹۰ .

دناوي دوكيل مسئلې:

مسئله ﴾

کـه دنـاوي و کـيـل دنـاوي نـاْحـرم وي نو دو کيل لپاره دوکالت پر وخت دنـاوي لـيـدل ضـروري نـه ده چې صـرف بـﮋغ ئې واوري هم وکالت کولای سـي لـيـکـن دناوي دوکيل ګواهان چې کوم وخت دناوي له طرفه ګواهي ورکـوي نـو هغو له ضروري ده چې ناوي با وينې که دوکالت ورکولو په وخت نـاوې نـه ولـيـدل نـو ګـواهي ئې معتبره نه ده .نو ځکه مناسب دادی چې وکـيـل او دوکـيـل ګـواهان تـول دﭘـښځې (ناوي) محرم انسانان وي چې بې پردګی رانه شي .

مسئله ﴾

دنـاوي دوکـيـل لـپـاره ګـواهان ضروري نه دي چې يوائې وکيل وي نو هـغـه هـم کـفـايـت کـوي البته چې کوم وخت نکا ح وسي او ناوې دوکالت ورکـولـو څـخـه انـکـار وکـړي چې ما دغـه سړی دنکا ح لپاره وکيل نه ؤ جـوړ کـړی نـو پـه دغـه وخـت کـي بيـا دوکيل دوکـالت دثـابتـولو لـپـاره دګـواهانـو ضـرورت پـيـښـيـږي .

مسئله ﴾

دنـکـا ح پـه مـجـلـس کـي دناوي دوکيل موجوديت ضروري دی لاکن دوکـيـل دګـواهـانـو مـوجـوديـت هـيـڅ ضروری نه دی نو دوکالت دګواهي وروسـتـه دنـکـا ح پـه مـجـلـس کـي دهغوی شرکت خو به په طريقه اولیٰ سره ضروري نه وي .

وعـلـم انـه لا يـشـتـرط الـشـهـادة عـلـى الـوكـالة بـالـنكا ح بل على عقد الـوكـيـل وانـمـا يـبـغـى ان يـشـهـد الـوكـالة اذا خيف حجد المـوكـل اياها فتح القدير ج۳ ص ۹۵ .

دولي مسئلي

مسئله

کوم چاته چي دهلک او نجلۍ دنکاح اختیار حاصل وي هغه ته ولي ویل کیږي .

مسئله

دهلک او نجلۍ ولي تر ټولو مخ کي ددوی پلار دی که چیري پلار نه وي نو بیا نیکه دی که هغه هم نه وي نو بیا ورنیکه دی که په دغه کي یو هم نه ؤ نو بیا سکنی ورور دی که سکنی ورور نه ؤ نو بیا ناسکه ورور دی یعني چي دپلار دخوا ورور ئی وي بیا ؛اکازوی بیا دسکه اکا لمسی بیا دمیریئیځ اکازوی بیا دمیریئیځ اکا لمسی (بهشتی زیور)

الولی فی النکاح العصبة بنفسه وهو مایتصل بالمیت حتی المعتقة شرح تنویر ج١ ص١٩٢

مسئله

چي نجلۍ بالغه وي دهغې ولي په جبر (زور) سره دهغې نکاح نه سي ورکولای البته دنابالغی انجلۍ نکاح دهغې ولي په خپل اختیار سره کولای سي .

ولایجوز للولی اجبار البکر المبالغة علی النکاح الهدایة ج٢ص ٢٩٢ .

مسئله

که ولي یا غیر ولي دنکاح څخه مخ کي دبالغي انجلۍ څخه اجازت

راخلي نو دی دانجلۍ وکیل دی او که داجازت بغیر نکاح ورو وکړه نو بیا فضولي دی . (دفضولي مسئلې مخ ته راروانې دي) یعني چي دنکاح څخه مخ کي اجازت واخیستل سي بو داو کالت دی دنکاح وروسته وکالت نه دی بلکه هغه به پخپله دنکاح اجازت وي .

مسئله

که پلار یا نیکه دنابالغي انجلۍ دنکاح ولي جوړ سوی وي نو چي انجلۍ بالغه سي بیا دې ته دنکاح دفسخ کولو اختیار نسته .او که چیري دپلار او نیکه څخه ماسیوا بل څوک ولي سوی وي نو چي کله انجلۍ بالغه سي بیا دې ته دنکاح دفسخ کولو اختیار حاصل دی .

فان زوجها الاب والجد یعنی الصغیر والصغیرة فلا خیار لهما بعد بلوغها شامی ج۳ ص ٦٥ .

مسئله

چي هسی یو ولي دبالغي انجلۍ نکاح دهغې داجازت بغیره او دهغې څخه دپوښتني کولو بغیره وکړ نو دهغه نکاح به دانجلۍ پر اجازت موقوف پاته وي که انجلۍ اجازت ورکړي نو نکاح به سوه یعني صحیح سوه او که هغه راضي نه سوه او اجازت یې ورنه کړې نو نکاح صحیح نه سوه .

ولا یجوز نکاح احد علی بالغة صحیح العقل من اب او سلطان بغیر اذنها هندیة ج۲ ص ۲۹۵ .

دناوي څخه داجازت او
دوکالت اخیستلو طریقه

وکیل دنکاح څخه مخ کي دناوي څخه دغه ډول وکالت اخیستلای سي :
زه ستا دنکاح دزید چي دخالد زوی دی دپنځه زرو روپو په بدل کي ستا وکیل جوړیږم آیا ته ماته زما په وکیل جوړیدو سره راضي ئې ؟
پام لرنه:دوکالت دپاره یوازي دغه لفظونه ضروري نه دي بلکه نور لفظونه هم استعمالولای سي دغه لفظونه خو موږ صرف دمثال په توګه لیکلي دي .

دناوي له خوا څخه داجازت
ورکولو مسئلي

که اجازت اخیستونکی ولي او ناوې پېغله وي (یعني تر اوس مهال پوري دې په خلوت صحیحه سره دمیړه سره نزدیکت نه وي کړي)نو چي ناوي پته خوله سی یا وخاندي یاوژاړي نو داهم ددې له طرفه څخه اجازت ګڼل کیږي په ژبه سره ویل ضروري نه ده لیکن که چیري اجازت اخیستونکی دناوي ولي نه ؤ نو بیا په ژبه سره اجازت ورکول ضروري دی د ناوي پته خوله کېدل اجازت نه ګڼل کیږي .
فان استأ زنها الولی فسکتت او ضحکت غیر مستهلة او تبسمت او

ضحکت فهو اذن شرح تنویر ج۱ ص ۱۱.

مسئله﴾

چې پلار موجود وي يو بل ولي مثلاً اکا يا ورور يا بل يوه دپيغلي انجلۍ څخه اجازت طلب کړی نو په دې صورت کي چي انجلۍ پټه خوله سی دا اجازت نه ګڼل کيږي بلکه په ژبه سره اجازت ورکړي نو دا به اجازت ګڼل کيږي البته که پلار دوی دانجلۍ څخه داجازت غوښتلو لپاره واستول (يعني دوی دپلار له طرف څخه وکيل وي) نو بيا چي صرف پټه خوله سی نو داهم اجازت ګڼل کيږي

خلاصه دا چي کوم ولي تر ټولو مقدم وي او په شريعت کی يوائې وهغه ته حق حاصل دی چي کله دی يادده له طرفه څخه استول سوی انسان (يعني دهغه وکيل) اجازت طلب کړي نو پټه خوله اجازت دی او که چيري حق ونيکه ته حاصل وي او پوښتنه ورور څني وکړي يا حق ورور ته حاصل وي او پوښتنه اکا څني وکړی نو په داسي وخت کي پټه خوله اجازت نه دی (بهشتی زيور) شرح تنوير ج۲ ص ۱۹۲.

مسئله﴾

که چيري هغه انجلۍ پېغله نه وي بلکه يووار ئی مخ کی نکاح سوې وي دا ئی دوهمه نکاح وي ددې څخه ددې ولي اجازت طلب کړي او پوښتنه څنی وکړی نو صرف پټه خوله بيا اجازت نه دی بلکه په ژبه سره بيا وينا کول ضروري دي که چيري دې په ژبه سره ونه ويل صرف پټه خوله پاته سول او ولي ددې نکاح وروکړه نو دغه پټه خوله ددې له طرف څخه اجازت نه دی بلکه نکاح به موقوف وي وروسته که چيري

دې په ژبه سره دغه نکاح منظوره کړه نو نکاح به صحیح سي .او که منظوری ئی نه کړه نو نکاح نه وسوه یعنی باطل به سي (بهشتی زیور)

ولو استأزن الیشب نلا بدرضائها بالقول هندیة ج۲ ص ۲۹۸ .

دفضولي مسئلي

مسئله﴾

ولي بغیر دپر بنتنی ار اجازت اخیستلو بغیر نکاح ورکړه بیا دنکاح وروسته په خپله ولي یا دده له طرفه څخه رااستول سوی څوک (دولي وکیل) راغلی او داخبر ئې ورکړی چي ستا نکاح ئی دفلانی سړي سره وکړه نو په دې صورت کی هم که چیري داپتهه خوله سوه نو دا هم اجازت دی او نکاح به صحیح سي (بشتی زیور)

په دې کي پیغله او ښغه ښځه چي یو وار ئی نکاح سوې وي دواړي سره برابري دي . البدایة ج۲ ص۲۹۸

دنکاح پر فارم باندي دناوي ددستخط مسئله

مسئله﴾

دناوي څخه داجازت اخیستلو سنت طریقه خو داده چي په ژبه (خوله) ددې څخه اجازت وغوښتل سي رسول کریم ﷺ دحضرت فاطمې ؓ څخه زباني اجازت طلب کړي چي زباني اجازت ځنی واخیستل سي بیا دنکاح څخه مخ کي یا وروسته دنکاح دصحیح کیدلو لپاره

دنکاح پر فارم باندي دناوي څخه دستخط اخیستل شرعاً ضروري نه دي ددستخط (یاګوته لګول) دقانون تقاضا ده .

عن ابی هریرةؓ قال کان النبی ﷺ اذا زووج احدیٰ بناته اتی جدها فیتولو ان فلان یذکر فلانةً ثن زوجها مسند امام اعظم ص ۳۸۱ .

دنکاح خوان مسئلې

مسئله﴾

په کوم مجلس کي چي غزلي ویل کیږي بنځي او نران سره ګډ وي یا دغه رنګه نور دشریعت خلاف رواجونه پکښې کیږي په دغه ډول مجلس کي نکاح کول (دنکاح خطبه لوستل) شرعاً ممنوع ده په خصوصي توګه بیا هغه کسان چي هغه دعام خلګو مقتدایان او رهنمایان وي هغوی ته پکار دی چي په دغه ډول مجلسونو کي دنکاح لوستلو څخه ډیر احتیاط وکړي

مسئله﴾

دنکاح مجلس باید ډیر ساده وي نن سبا دنکاح په مجالسو کي دبیان (تقریر) کولو رواج جوړ سوی دی که چیري یو مستند عالم دین یا یو بزرګ دنکاح په مجلس کي بیان وکړي خو بیله خبره ده لیکن دنکاح په هر مجلس کي بیان کول او بیان اینبول او لازم ګڼلو څخه ډډه کول په کار دی .

مسئله﴾

دنکاح په مجلس کي چي هر څومره خلک دایجاب او قبول واوري هغه ټول دنکاح ګواهان دي دنکاح په فارم کی دنکاح ددوو ګواهانو

نومونه لیکل صرف یوه قانوني تقاضا ده نو ځکه دوه نومونه لیکل په کار دی ان تر دې چي په فارم کي لیکل سوی خلک دنکاح په مجلس کي موجود نه وي بیا هم دنورو خلکو په موجودګی کي نکاح صحیح کیږي .دهغی انتظار کول ضروری نه دی .البته که په فارم کي لیکل سوو خلکو انتظار ونه کړل سي نو بیا دي دهغوی نومونه خراب کړي دنورو نومونه دي ولیکي چي ددرواغ (غلط بیانئ) دلیکلو ګناه لازم نه سي .

مسئله

دغه رنګه دنکاح په مجلس کي دوکیل دګواهانو موجودګی هم ضروري نه ده دا خبره مخ کي ذکر سوې ده .

ویندب اعلانه وتقدیم خطبة در المختار ج۳ ص ۸

مسئله

دنکاح خطبه د ایجاب او قبول څخه مخ کي لوستل پکار ده .

مسئله

درې واره د ایجاب او قبول کول هسی یوه اضافه خبره ده یو وار ایجاب او قبول هم کفایت کوي فتاویٰ محمودیه ص۴٦۴ ج:۱۰

النکاح ینعقد متلبساً بایجاب من احدهما وقبول من آخر درالمختار ج۳ ص۹

مسئله

که نکاح خوان دنکاح دخطبې لوستلو څخه وروسته دناوي ووکیل (مثلاً عبدالله) ته دا ډول ووائي چي ایا تا خپله مؤکله چي حلیمه نومیږي او داحمد لور ده زید چي دخالد زوی دی دهغه په نکاح کي

وركړي ده او وكيل ووائى هو نو په دې صورت كي به ايجاب دوكيل له طرفه څخه وي او نكاح خوان به صرف معبر وي بيا دي نكاح خوان وزوم ته ووائى چي عبدالله صاحب خپله مؤكله چي حليمه نوميږي داحمد لور ده تاته په نكاح دركړه تا قبوله كړه ؟او زوم ووائى هو نو دغه وينا دزوم له طرفه څخه قبول دى او نكاح به منعقد سي .

مسئله﴾

كه چيري نكاح خوان دا ډول ونه وائى كوم چه دا اوس ذكر سوه بلكه دخپل جانب څخه ايجاب وكړي (او نكاح خوان پخپله دښځي يعني ناوي لخوا څخه وكيل نه وي لكه څنگه چي عموماً دغه رنگه وي) مثلاً زوم مخاطب كړى دا ډول ورته ووائي :

ما حليمه چي داحمد لور ده دعبدالله صاحب په وكالت تاته په نكاح دركړه چي مهر ئى پنځه ويشت زره روپۍ دي اياتا حليمه بنت احمد په خپله نكاح كى قبوله كړه .

يا ما حليمه بنت احمد تاته په نكاح دركړه چي مهر ئى پنځه ويشت زره روپۍ دى ايا تا حليمه بنت احمد په خپله نكاح كي قبوله كړه .

نو په دې صورت كي به نكاح خوان دوكيل وكيل سي لهذا دى به دوكيل څخه اجازت اخلي ليكن چي اجازت واخلي بيا هم دنكاح په مجلس كي دوكيل موجودگى ضرورى ده څكه چي دنكاح وكيل دخپلي مؤكلي داجازت بغيره بل څوك وكيل نه سي جوړولاى' البته كى چيرى وكيل په خپله په مجلس كي موجود وي نو بيا جائز دى (قاضيخان ج۸ ص۱۴۵)

مسئله﴾

نکا ح خوان دوکیل ځخه په دغو الفاظو اجازت اخیستلای سي ۰
ایـا تـاسـي لـه طـرف ځـخه دحلیمې بنت احمد دنکا ح کولو دزید بن خالد سره دپنځه ویشت زرو روپۍ په عوض اجازت دی ؟

مسئله﴾

کـه چیـري نـکـا ح دنـکـا ح پـه مـجلس کي دوکیل ځخه صرف دومره پوښتنه وکړي چي:
مـاتـه دنـکـا ح لـوستـلـو اجازت دی ؟ او وکیـل ووائي هو داهم کفایت کوي (قاضي خان ج:۸ ص:۱۴٦)

مسئله﴾

کـه چیـري نـکـا ح خـوان پـه هیـره سره دناوي دوکیل ځخه دنکا ح په مسـئـلـه کـي اجـازت نـه و اخیستـی یا ئی هسي په قصداً اجازت نه ځني واخیستـی او وکیـل دنـکـا ح پـه مـجـلـس کي حاضر وي او هغه دنکا ح وروستـه پـه خپل قول یا فعل یا حال سره په دغه نکا ح سره خپله رضامندي ښکاره کړي نو نکا ح صحیح سوه . (قاضي خان ص ۱۵۴ ج:۸)

مسئله﴾

کـه چیـری وکیـل دوکالت پر وخت دخپلي مؤکلي ځخه صراحةً بل تـه وکالت ورکولو اجازت واخلي نو دا به ډیره ښه خبره وي او مسـئـلـه بـه ډیره ښکاره وي مثلاً داډول وکالت ځیني واخلي :
دزیـد بـن خـالـد سره پنځه ویشت زره روپۍ مهر په عـوض کی زه ستا دنـکـا ح کـولـو وکیـل یم ایا زما په وکیـل جوړولو او زما له طرفه ځخه بل

ته دوکالت په ورکولو ته راضي ئی؟
دوکالت لپاره صرف دد غه الفاظو استعمال ضروري نه دی بلکه نور لفظونه هم کیدلای سي دا ټول موږ صرف دمثال په توګه لیکلی دي دضرورت په وخت تاسي دعلماء څخه پوښتنه کوئ
مسئله﴾
دمنکوحې دا ډول تعین ضروري دی چي میړه او ګواهان ئی ښه وپیژني هیڅ ډول اشتباه پاته نه سي که دناوي یا دهغې دپلار دنوم اخیستلو بغیر دغه رنګه تعین راسي نو هم نکاح صحیح ده مثلاً:
نجلۍ دنکاح په مجلس کي موجود وي نو بیا وهغې ته صرف اشاره کول هم کفایت کوي هیڅ دچا نوم اخیستلو ضرورت نسته مثلاً نجلۍ مخامخ موجوده وي او دنجلۍ پلار دګواهانو په موجودګۍ کي وانجلۍ (خپله لور) ته اشاره وکړي وزوم ته ووائي چي ما ددغه نکاح ستا سره دپنځه ویشت: ره روپۍ مهر په عوض کی وکړه .
انجلۍ خو په مجلس کي موجود نه وي مګر چي دهغې نوم واخلي نو ټول (هرڅوک) دا پیژني ددغه انجلۍ په نوم بله انجلۍ چي واده سؤې نه وي په دغه ځای کي بله نه وي نو په دغه ډول صورت کي صرف دانجلۍ نوم اخیستل کفایت کوي دپلار دنوم اخیستلو ضرورت نشته .
دیو چا صرف یوه لور وي یا ډیري لوڼي وي مګر دیوې علاوی نوري ټولي واده سوي وي نو په دغه صورت کي هم دانجلۍ دنوم اخیستلو ضرورت نسته چي صرف دپلار نوم ئی واخلي هم کفایت کوي مثلاً

نکاح خوان ووائي چي ما بنت احمد نکاح ستا سره وکړه . (احسن الفتاویٰ)

دزوم دوکیل مسئلي

مسئله﴾

چي زوم پخپله دنکاح په مجلس کي موجود وي نو دزوم دوکیل هیڅ ضرورت نسته دزوم دوکیل ضرورت خو په هغه وخت کي وي چي چي پخپله دنکاح په مجلس کي شرکت نه سي کولای لکه مثال زوم په بل ملک کي وي او دنکاح مجلس ته نه سي ورتلای نو دی بیا خپل وکیل مقرر کړي .

مسئله﴾

دزوم دوکیل وکالت پر ټېلیفون ،خط ،فیکس یا دغه رنګه پر بله طریقه صحیح کیږي یعني وکیل جوړیدلای سی لیکن دزوم دوکیل ګواهان چي پر ټېلیفون ، کالت واوري یا دخط او فیکس په ذریعه سره دغه وکالت ورته معلوم سي نو دوی دوکالت ګواهی نه سی ورکولای .دوکالت دګواهی لپاره ضروري دي چي ګواهان به دزوم څخه براه راست بغیر دهیڅ ډول واسطي ووکیلانو ته دوکالت سپارل او دهغه وینا اوریدلي وي او په مجلس کي وکیل هم موجود وي .

که چیري دغه رنګه ګواهی ورکول ممکن نه وي نو بیا صرف پر وکیل اکتفاء وکړي دوکیل دګواهانو موجودیدل دنکاح لپاره ضروري نه دي .

دوكالت لفظونه

زوم په دغه الفاظو سره وكيل ته وكالت وركولاى سي :
مادخپلي نكاح كولو دحليمې بنت احمد سره دپنځه ويشت زره روپۍ مهر په عوض كي تا خپل وكيل جوړ كړي ئى .
يا وكيل دزوم څخه په دې الفاظو سره وكالت اخيستلاى سي .
زه دحليمې بنت احمد سره ستا نكاح دپنځه ويشت زرو روپۍ مهر په عوض كي كوم ايا دغه تاته منظوره ده او زوم په جواب كي ووائي هو پاملرنه: دوكالت دپاره صرف دغه لفظونه ضروري نه دي بلكه نور لفظونه هم كيدلاى سي دا صرف دمثال په ډول راوړل سوي دي .

پر تيليفون نكاح

مسئله

چي دنكاح په مجلس كي پر تيليفون باندي ايجاب وقبول وسي نو هغه نكاح شرعاً نه منعقد كيږي مثلاً نكاح خوان پر تيلفون باندی په زوم ايجاب وقبول وكړي او زوم پر تليفون باندي قبول وكړي ځكه چي ايجاب وقبول په يوه مجلس كي ضروري دي بل دا چي دنكاح گواهان دغه ايجاب وقبول دتليفون په ذريعه سره اوري (مثلاً زوم سره ناست او موجود خلك پر تليفون باندي ايجاب اوري او بل طرف ته موجود خلك پر تيليفون باندي قبول اوري) او گواهان چي پر تيليفون باندي ديو شي گواهي واوري نو دوى دهغه شي په اړه گواهي نه شي وركولاى .
ومنها الايجاب والقبول فی مجلس واحد حتىٰ لو اختلف المجلس

لاینعقد و کذا اذا کان احدهما غائباً لاینعقد هندیة ج۲ ص ۲ خیر الفتاویٰ ج۴ ص ۳۷۰ .

مسئله

ددې جائز صورت دادی چې دهلک (زوم) څخه پر تیلیفون باندې دنکاح وکالت واخیستل سي بیا دانجلی (ناوي) دوکیل له طرفه څخه ایجاب وشي چې طریقه ئی مخ کي ذکر سوه او دزوم وکیل هغه قبول کړي یعني دا ډول ووائی چې مادزید بن خالد له طرفه څخه دادزید بن خالدپه نکاح کي قبول کړې ده .

مسئله

که دنکاح مجلس دزوم سره وي یعني زوم موجود وي او دناوي څخه پر تیلیفون باندي وکالت واخیستل سی او دناوي وکیل یا نکاح خوان په زوم باندي ایجاب وکړي او زوم هغه قبول کړي نو داهم صحیح دئ .

دمهر مسئلې دمهر لږ مقدار

لږ تر لږه مهر (۱۰) درهم دی یعني دومره سپین زر چې وزن ئی لس درهم وي ددې څخه لږ مهر جواز نه لري 'لس درهمه دوې تولې اوه نیمې ماشې یعني ۲.۶۲۵ تولې ٦١٦ ـ۳۰ ملی ګرام که چیري سپین زر یوه توله په یوولس سوه روپۍ وي نو دلس درهم قیمت ۲۸۸۸ روپۍ جوړیږي .

پام لرنه: په یوه توله کي دوولس ماشې وي .

مسئله

که یو چا دلس درهم څخه کم مهر مقرر کړيو نو نکاح صحیح کیږي لیکن دده پر ذمه لس درهمه قیمت په اندازه مهر لازمیږي .

مهر فاطمي

حضور ﷺ دخپلي لور سيدة النساء حضرت فاطمة الزهراءؓ چي دوم مهر مقرر کړی هغه ته مهر فاطمي وائي هغه څلور سوه مثقاله سپين زر ؤ .يو مثقال څلور نيمي ماشې دی لهذا څلور سوه مثقاله سپين زر اتلس سوه (۱۸۰۰) ماشې يعني يو نيم سل تولې سپين زر جوړيږي (عالمگيری ج:۲ ص۳۱۲)

که چيري دسپينو زرو قيمت يوه توله په يوولس سوه روپۍ وي نو دمهر فاطمي قيمت يو لک پنځه شپېته (۱۶۵۰۰۰) زره روپۍ جوړيږي .

مسئله﴾مهر بايد دخپل وس وس (طاقت) په اندازه وي تر خپل وس زيات مهر مقرر کول ښه کار نه دی .

مسئله﴾

که په نکاح کي دمهر ذکر سوی وي که نه په هر حال کي نکاح منعقد کيږي بلکه که څوک داشرط ولګوي چي زه مهر نه درکوم بيا هم نکاح منعقد کيږي او دخلوت صحيحه وروسته پر ميړه باندي مهر مثل لازم ګرزي .

وان زوجها على ان لا مهر لها فلها مهر مثلها ان دخل بها هندية ج۲ ص ۳۱۴ .

مسئله﴾

مهر ئی نه ؤ مقرر کړي درخصتي څخه مخ کي ميړه يا ماينه وفات سوه بيا هم مهر مثل لازميږي . پاملرنه:دمهر په مقرر کولو کي نن سبا په عمومي توګه په خلکو کي دافراط او تفريط رواج راغلی دی دومره

زیات مهرونه مقرر کوي چي میره دهغه دادا کولو تصور هم نه سي کولای په صحیح حدیثونو کي ددې ممانعت راغلی دی ددې څخه باید ځانونه وساتو. ددې په مقابل کي خلک نیا مهر فاطمی لازم او ضروري ګڼي او پر دغه باندی اصرار کوي او بس دغه مهر شرعی ګڼی حالانکه شریعت دمهر آخري حد نه دی مقرر کړی دخلفاء راشدین او صحابه کرام څخه دمهر فاطمي تر مقدارډیر زیات مهر مقرر کول ثابت دي نو ځکه دلته دا خبره هم په توجه کي ساتل پکار ده چي لکه څنګه چي په مهر اېښولو کي مبالغه او زیاتوب مذموم دی دغه رنګه دانجلۍ مهر ددې تر مهر مثل یعني دخاندان تر انجونو کم اېښول هم پر انجلۍ باندي ظلم او ددې حق تلفی ده چي ددې اختیار صرف او یوازي دانجلۍ واولیاء ته حاصل نه دی البته که چیري انجلۍ او ددې اولیاء تول د مهر فاطمي پر مقرر کولو او دخپل حق پر کمولو باندي دزړه په کومي سره راضي سي نو بیا هیڅ مضائقه نه لري لیکن په دغه معامله کي دشرم او حیاء په وجه دانجلۍ صرف خاموشي ددې درضامندۍ لپاره کفایت نه کوي بلکه په یوه طریقه دطریقو سره ددې دزړه منشا معلومول ضروري ده مثلاً ددې هغه همزولي انجوني یا بل دا ډول څوک چي ددې سره په آزاده توګه دخپل منشا اظهار کولای سي دهغوی په ذریعه ددې انجلۍ دزړه خواهش معلومول ضروري دی.

مهر معجل او مهر مؤجل

دکوم مهر په اړه چي اول دا خبره شوی وي چي دنکاح سره سم یا پر اول ملاقات به مهر ورکوي هغه ته مهر معجل وائي او دکوم مهر په اړه

چې دا خبره سوې وي چې دومره وخت وروسته به مهر درکوم يا چې کوم وخت ئې انجلۍ طلب کړي هغه وخت به درکوم هغه ته مهر مؤجل وائي .

مسئله

کوم مهر چې دمعجل يا مؤجل ذکر ئې نه وي سوی په هغه کې به دعرف او رواج مطابق عمل کيږي په کومه علاقه او ښار کې چې په اوله شپه دټول مهر ورکولو رواج وي هلته په لومړۍ شپه ښځه ته دټولو مهر دمطالبې کولو اختيار حاصل دی که په اوله شپه طلب ونه کړي نو چې کوم وخت ئې طلب کړي پر نر واجب دی چې په هغه وخت مهر ورکړي څنډولای ئې نه سي او په کوم ځای کې چې دا دستور وي چې مهر دطلاق يا دميړه دمرک وروسته ځنې اخلي نو په دغه ډول علاقه کې ښځه اول دمهر مطالبه نه سي کولای . (احسن الفتاویٰ ج:٥ ص ٣٤)

دنکاح دخطبې مسئلې

مسئله

دنکاح خطبه دايجاب او قبول څخه مخ کې لوستل سنت ده .

مسئله

چې خطبه نه ووائي نو هم نکاح خو منعقد کيږی ليکن دسنت خلاف کار دی او دبرکت څخه دمحرومۍ سبب دی .

مسئله

دنکاح خطبه بايد په ښه په پټه خوله سره واوريدل سي په دغه وخت

کي دحاضر خلک په خپل مينځ کي خبري کول يا يو دبل سره ددنيا کار کول جواز نه لري (ردالمحتار ج:١ص:٧٦٩)

مسئله ﴾

که يوه سړی وويل چي که زما اوله زوجه ژوندی وه ما بله نکاح پخپله يا په وکيل وکړه هغه دويمه په ثلاثه طلاقه ده نو ددې سړی دپاره بل سړی نکاح وکړه طلاق نه واقع کيږي .

سوال ﴾

که سړي داشرط لګولی ؤ که داولي زوجې په ژوند کي دويمه نکاح وکړه نو هغه طلاقه ده په ثلاثه طلاق سره .

جواب ﴾

که بل چا دده بې اجازې وده ته نکاح وکړه دا ښځه نه طلاقيږي .

وفی البحر نقلاً عن البزازيه والتزوج اولیٰ من فسخ اليمين فی زماننا وينبغي ان يجی الی عالم ويقول له ما حلف واحتياجه الی النکاح الفضولی فيوزوجه العالم امراة ويجيز بالفعل فلا بحنث اه کذا فی الشامی ٦ـــ٦٨٣ .ردالمحتار باب التعليق مطلب فی فسخ اليمين المضافة ١ـ٣٤٨

دنفاس په حالت کي نکاح

سوال ﴾

که ښځه په حالت دنفاس کي وي نکاح صحيح ده که نه ده؟

جواب ﴾

قال اصحابنا ثبوت ثلاث مراتب الاولیٰ النکاح الصحيح وماهو فی

معنـاه مـن النكا ح .الفاسد و الحكم فيه انه يثبت النسب من غير دعوة الـخ . . الـفتـاوىٰ عـالـمـكيـريه باب الخامس عشر فى ثبوت النسب ج:١ ص:٦٣٦)

لان الـنسـب كـما يثبت بالنكا ح الصحيح يثبت بالنكا ح الفاسد وبالوطي عن شبهة وبملك اليمين الخ الهدايه باب ثبوت النسب ج٢ ص٤٣٤)

وعـدة الـحـامل ان تضع حملها كذا فى الكافى وسواء كانت عن طلاق او وفـات الـخ . . الـفتـاوىٰ عـالـمكيرية الباب الثالث عشر فى العدة ج١ ص ٥٢٨ رشيدية)

وكذا فى البحر رائق باب العدة ج:۴ ص٢٢٦)

بنځه كه زنا وكي نكا ح ئى نه ختميږي

سوال ﴾ كه بنځه زنا وكي نكا ح ئى ختميږي كه نه ؟

جواب ﴾

ولايـجـب عـلـى الـزوج تطليق الفاجرة ج:۵ص:٢٦۴ درمختار كي وائى والـفـجور يعم الزنا وغيره .وقد قال ﷺ لمن زوجته لا ترديد لامس وقد قال انى احبها قال استمتع بها رد المحتار ج:۵ ص:٢٦۴)

(١) الدر المختار كتاب الحظر ولا باحة فصل فى البيع ج:٦ ص:٧٢٧)

(٢) ردالـمـخـتـار كتـاب الحظر والا باحة٦ ص:٤٢٦ سعيد) له امرأة فاسقة لاتـنـز جر بالزجر لايجب تطليقها كذا فى القنية الفتاوىٰ عالمكيرية كتاب الـكـراهيـة الـبـاب ثـلاثـون فـى الـمـتـفـرقـات ج:۵ ص: ٣٧٢ رشيدية وكذا فى حاشيه الطحطاوي على الدر المختار ج۴ ص٢١١)دار المعرفة بيروت .

که ښځه زنا وکي دزنا په وجه دهغې دلور سره نکاح

سوال ﴾

که دښځې دزنا لور وي دهغې دلور سره نکاح صحیح ده دبل سړي سره که نه؟

جواب ﴾

دحرامي هلک یا دانجلۍ نکاح صحیح ده یعني دزنا لور یا دزنا زوی .
ومنها اسلام الرجل اذا کانت مسلمة فلا یجوز النکاح المؤمنة الکافر بدائع الصنائع کتاب النکاح فصل فی عدم نکاح الکافر .المسلمة ۳ـ۴۶۵دار الکتب العلمیة بیروت .
۲) قال الله تعالیٰ (ولا تزرو وازرة وزراخریٰ فاطر۱۸ ولا تزرو وازرة ای تحمل نفس اثمة وزر اخریٰ ای اثم نفس اخریٰ بل تحمل کل نفس زرها .روح المعاني ۲۲ـ۱۸۴)دار احیاء التراث العربي بیروت قال الله تعالیٰ تخرج الحی من المیت الآیة قال العلامة القرطبي واختلف المفتیین فی معناه فقال الحسن معناه تخرج المؤمن من الکافر والکافر من المؤمن وحدیث الاسود بن عبد یغوث الجامع الاحکام الضمان ۴ـ۴۱ دار احیاء التراث العربی بیروت .

پټه نکاح

بې اعلانه نکاح کول جائز دی

سوال ﴾

که ددوو شاهدانو په مخ کي نکاح وسي اعلان ونه کی دا نکاح صحیح ده که نه ؟

جواب﴾

دا نکاح صحیح ده .

النکاح ینعقد بایجاب احدهما وقبول من الاخر الخ . . . الدر مختار کتاب النکاح مطلب کثیراً ما یستاهل فی طلاق المنعشب علی السنة ۹:۳ سعید . وشرط حضور شاهدین حرین او حر وحرتین مکلفین سامعین قولهما معاً الخ . . . ردالمحتار مطلب انحصاف کبیر فی العلم یجوز الاقداء به ۲۱:۳ سعید وکذا فی مجمع الانهر کتاب النکاح ۱:۳۲۰) دار احیاء التراث العربی بیروت)

وکذا فی الهدایة کتاب النکاح ۳۰٦:۲) مکتبه علمیه ملتان)عن عائشةؓ قالت رسول الله ﷺ علنوا هذالنکاح واجعلوه فی المساجد واضربوا علیه بالدفوف جامع الترمذی ابواب النکاح باب ماجاء فی اعلان النکاح :۱ـ ۲۰۷)سعید) مشکوٰة المصابیح کتاب النکاح باب اعلان والخطبة ص:۲۷۱)

دبنځي دنکاح دپاره
مخ پټول ضروری نه ده

سوال﴾

دبنځي مخ پټول دشرم له وجهي دنکاح پر وخت نکاح صحیح ده

که نه ده ؟

جواب ﴾

صحیح ده پر مخ پتـه اچول .

تنبیه: اشاره بقوله فیما مر ولا المنکوحة مجهولة الیٰ ما ذکره فی البحر بقوله ولابد من تمیز المنکوحة عند الشاهدین لتنتفی الجهالة فان کانت حاضرة منتقبة کفی الاشارة الیها والاحتیاط کشف وجهها الخ . .ردالمحتار ٣ ـ ٢١ سعید .

فان کان الشهود یعرفونها فلابد من ذکر اسمها و اسم ابیها وجدها اما لو کانت حاضرة متنقبة فقال تزوجت هذه وقبلت جازه لانها صارت معروفة بالاشارة الخ . . . فتح القدیر کتاب النکا ح ٣ـ١٩٢ مصطفیٰ البابي الحلبه مصر وکذا فی الفتاویٰ عالمکیریة کتاب اکنکا ح الباب الاول ١ـ٢٦٨ رشیدیة .

خطبه په نکا ح کي فرض نه ده

سوال ﴾

خطبه په نکا ح کي فرض ده که سنت؟

جواب ﴾

ویندب اعلانه وتقدیم خطبة الدر المَختار کتاب النکا ح ٣ـ٨ سعید .وکذا في الفتاویٰ دار العلوم دیوبند .عنوان بغیر خطبۂ نکاح ہو جاتا ہے یا نہیں ؟ ٧ ـ ١٥٩ امدادیہ ملتان .

فان عقدالزواج من غیر خطبة جاز

فالخطبة مستحبة غیر واجبة الفقة الاسلامی وادلته المبحث الخامس

مندوبات عقد الزواج او مایستحب له ۹ـــ۱۸ ٦٦ رشیدیة وکذا فی المیزان الشعرانی کتاب النکاح ۲ـ۱۱ مصطفیٰ البابی مصر .

سوال ﴾

دنکاح شرعی طریقه څه ده ؟

جواب ﴾

دنکاح شرعی طریقه داده چي ښځه پخپله یا ددې ولي څخه اجازه واخلي د دوو ګواهانو په مخ کي عقد وکي وينعقد متلبساً بایجاب من احدهما وقبول من آخر وشرط سماع کل من العاقدین لفظ الاخر لیتحقق رضاهما وشرط حضور الشاهدین حرین مکلفین الخ . . الدر المختار کتاب النکاح ۳ـ۹ـ۲۱ ـ۲۲ مکتبة سعید .

دنکاح فرائض
واجبات مستحبات

سوال ﴾ په نکاح کي څو فرض او څو واجب او څو مستحب دي او کوم کوم دي او دڅو خبرو اوکارو څخه نکاح صحیح کیږي؟

جواب ﴾

ایجاب او قبول فرض دی بغیر ددې څخه نکاح نه کیږي واما رکنه فالایجاب والقبول الفتاویٰ عالمګیریة کتاب النکاح الفصل الاول ج۱ ص ۲٦۷ رشیدیة .ن وکذا فی البدائع الصنائع کتاب النکاح فصل فی رکن النکاح ج۳ ص ۳۱۷ دار الکتب العلمیة بیروت وکذا فی الدر

المختار کتاب النکا ح ج ۳ ص ۹ سعید .

د دوو ګواهانو وجود شرط دی .

ولاینعقد نکا ح المسلمین الا بحضور شاهدین حرین عاقلین بالغین الخ . . هدایة کتاب النکا ح ج۲ ص ۳۰٦ شرکة علمیه ملتان وکذا فی البحر الرائق کتاب النکا ح ج۳ـص ۱۵۵ رشیدیة وکذا فی الدر مختار کتاب النکا ح ج۳ ص ۲۱ ـ۲۲ سعید .

دنکا ح اعلان او دنکا ح مخ کي خطبه ویل او په مسجد کي نکا ح تړل او په ورځ دجمعې دا مستحبات دي .

ویندب اعلانه وتقدیم خطبة وکونه فی مسجد یوم جمعة الدر المختار کتاب النکا ح ج۳ ص۸ سعید وکذا فی حاشیه الشبلی علی تبیین الحقائق کتاب النکا ح ج۲ ـ۴۲۷ دار الکتب العلمیة بیروت .

دنکا ح دپاره جمعه، جمعرات، او دو شنبه فضیلت لري

سوال ﴾

لکه څرنګه چي په میاشتو کي دکوچني اختر میاشت دنکا ح دپاره مسنون یا مستحب بیانوي دغه رنګه یوه ورځ هم دنکا ح لپاره مسنون یامستحب سته ؟

جواب ﴾

دجمعې جمعرات او دوشنبې ورځي فضیلت لري .

عن عائشةؓ قالت قال رسول الله ﷺ اعلنوا هذا النکا ح واجعلوه فی

المساجد الحديث (قوله واجعلوه فى المساجد هو اما لانه ادعى الى الاعلان او لحصول بركة المكان وينبغى ان يراعى ايضاً فضيلة الزمان ليكون نوراً على نور وسرور على سرور قال ابن الهمام يستحب مباشرة عقد النكاح فى المسجد لكونه عبادة وكونه فى يوم الجمعة اه .وهو اما تفاؤلًا للاجتماع او توقع زيادة الثواب اولا نه يحصل به كمال الاعلان .مرقاة المفاتيح ج٦ ص ٣١٢ كتاب النكاح باب اعلان النكاح والخطبة والشرط . الفصل الثاني رقم الحديث ٣١٥٢ مكتبة رشيدية .

ويندب كونه في مسجد يوم الجمعة (قوله يوم الجمعة)لانه اشرف الايام الاسبوع حاشية الطحطاوى على الدر المختار ج٢ ص ٥ كتاب النكاح دار المعرفة بيروت .

(ويوم الجمعة ولو منفرداً) ان صومه بانفراده مستحب عندالعامة كالاثنين والخميس وكذا فى المحيط معللًا بان لهذه الايام فضيلة ردالمحتار ج٢۔ص ٣٧٥ كتاب الصوم سعيد .

سوال ﴾

دكوچني هلك نكاح ولى كولاى سى كه نه ؟

جواب ﴾

كولاى شى .

مطلب لايصح تولية الضعيف الخ . . الصبى اذا تزوج يتوقف على اجازة الولى فى حالة الصغر فتح القدير ٣ ـ ٣٠٩ كتاب النكاح فصل فى الوكالة بالنكاح مصطفىٰ البابي الحبلى مصر .لولى الصغير ولصغيرة ان ينكحهما وان لم يرضيا بذلك سواء كانت النكاح الباب

الـرابـع رشيـدية وكذا فى البحر الرائق ٢ـ٢٠٨ كتاب النكا ح باب الاولياء والاكفاء رشيدية .

وكذا فى الدر المختار ٢ ـ٦٥ كتاب النكا ح باب الولى .

دمخه تر ختنه کیدو نکا ح

سوال ﴾

که هلګ سنت نه وي نکا ح کول جائز دی که نه؟

جواب ﴾

تر ختنه کیدو مخ کي نکا ح کول جائز دی .

والاصـل ان الـختـا ن سـنـة كـمـا جاء فى الخبر وهو من شعائر الاسلام الـخ . . الـدر الـمختار مسائل شتى ٦ ـ٧٥١ واختلفو فى فى الختان قيل انـه سنة وهـو الـصـحيـح كذا فـى الـغـرائـب (الـفـتاوىٰ عالمكيرية باب الكراهية الباب التاسع عشر فى الختان الخ . . . ج٥ص٣٥٧ رشيدية

ختنه سنة ده

او دهـغه تاکید ستـه مګر دنه سنتیدو په وجه نکا ح ناجائز نه ده بلکه جائز ده .

داسلام راوړلو وروسته
نکا ح کول دمسلمان سره

سوال ﴾

که ښځه اسلام راوړي دمسلمان سره نکا ح کولای سي که نه ؟

جواب ﴾ دمسلماني ښځي نکا ح دمسلمان سړي سره رواده .

قال الله تعالیٰ (ولا تنکحوا المشرکات حتیٰ یؤمن ولامة مؤمنة خیر من مشرکة ولو اعجبتکم)سورة بقرة ۲۲۱ .

لایجوز تزوج المسلمة من مشرک ولاکتابی .الفتاویٰ عالمکیریة کتاب النکا ح الباب الثالث فی بیان المحرمات القسم السابع المحرمات بالشرک ج ۱ ص۲۸۲ رشیدیة .

وکذا فی بدائع الصنائع کتاب النکا ح فصل فی عدم نکا ح الکافر المسلمة ج۳ ص ۴۶۵ دار الکتب العلمیة بیروت .

قال الله تعالیٰ (فاذا بلغن اجلهن فلا جنا ح علیکم فیما فعلن فی انفسهن بالمعروف) البقرة ۲۳۴ .وعن المسورا ابن مخرمة ان سبیحة الاسلمة نفست بعد وفات زوجها بلیال فجائت النبی ﷺ فاستاذنته ان تنکح فاذن لها فنکحت (مشکوٰة المصابیح کتاب النکا ح باب العدة الفصل الاول ص۲۸۸ قدیمی .

ډګونګي دنکا ح دپاره
دده اشاره صحیح ده

سوال ﴾

ډګونګي دنکا ح دپاره اشاره دده کافی ده که نه ؟

جواب ﴾

دنکا ح تړول پر وخت دده اشاره اجاب دی .

کما ینعقد النکا ح بالعبارة ینعقد بالاشارة من لاخرس اذا کانت اشارته معلومة الخ . .بدائع الصنائع فصل فی رکن النکا ح ۳ ــ۳۲۲ دار الکتب العلمیة بیروت .ففی کافی الحاکم الشهید مانعه فان کان الاخرس

لايكتب وكان له اشارة تعرف فى طلاقه ونكاحه وشرائه وبيعه فهو جائز الخ . . ردالمختار كتاب الطلاق .

ايماء الاخرس وكتابته كالبيان باللسان الدرالمختار مسائل شتى ج٦ ص ٧٣٧ سعيد .

سوال ﴾

دبې نماز نكاح صحيح ده كه نه ؟

جواب ﴾

كه هلك يا انجلۍ كلمه وائى كله كله لمونځ نه كوي نكاح ئى جائز ده .

واما ركن النكاح فهو الايجاب والقبول وذلك بالفاظ مخصوصة الخ . . .بدائع الصنائع فصل فى ركن النكاح ٣ـ٣١٧ .

كذا فى الفتاوىٰ العالمكيرية كتاب النكاح ج١ ص٢٦٧

كذا فى النهر الفائق كتاب النكاح ج ٢ ص ١٧٦

٢) من ترك الصلوٰة لقى الله وهو عليه غضبان فيض القدير رقم الحديث ٨٥٨٥ رياض ويكفر جاحدها لثبوتها بدليل قطعى وتاركها عمد مجانة اى تكاسلا فاسق الخ . . الدر المختار كتاب الصلاة ج ١ ص ٣٥٢ سعيد .

كه ديوه سړي څلور ښځې په نكاح وي

سوال ﴾

كه يو سړى څلور ښځې په نكاح لري پنځمه ښځه كولاى سى كه نه ؟

جواب ﴾

وللحر ان يتزوج اربعاً من الحرائر واذا تزوج خمساً التعاقب جاز

نكاح الاربع الاول ولا يجوز نكاح الخامسة الفتاوىٰ العالمكيرية القسم الرابع المحرمات بالجمع ج۱ ص۲۷۷ رشيدية .
اما الجمع في النكاح فنقول لايجوز للحران يتزوج اكثر من اربع زوجات من الحرائر الخ . . بدائع الصنائع فصل في الجمع بين الاجنبيات ج۳ ص ۴۴۳

كه ښځه په عده كي وي
يا دبل په نكاح كي وي

سوال ﴾
كه ښځه په نكاح كی دبل سړي وي يا په عده كي وي دا ښځه دبل سړي سره نكاح كول صحيح ده كه نه ؟

جواب ﴾
لايجوز للرجل ان يتزوج زوجة غيره وكذلك المعتدة كذا في السراج الوهاج .الفتاوىٰ العالمكيرية كتاب النكاح القسم السادس في، المحرمات التي يتعلق بها حق الغير ج۱ ص ۲۸۹ رشيد .
وكذا في بدائع الصنائع ج۳ ص۴۵۱ كتاب النكاح فصل في شرط الا تكون منكوحة الغير دار الكتب العلمية بيروت .

دښځي دخور سره نكاح كول

سوال ﴾
كه يو سړی ښځه طلاقه كړي دښځي خور په نكاح كول جواز لري كه نه ؟

جواب

دښځې خور په نکاح کول روادي وروسته تر عدې .

قال العلامه مرغینانیؒ واذا طلق امرأة طلاق بائناً او رجعیاً لم یجزله ان یتزوج باختها حتیٰ تنقضیٰ عدتها الهدایة کتاب النکاح فی بیان المحرمات ج۲ ـ۳۰۹ ـ۳۲۰

وکذا فی فتح القدیر کتاب النکاح فصل فی المحرمات ج۳ ص۱۸۰ رشید .

چونکہ بعد از عدت وہ اجنبیہ بن گئی لہذا جس طرح عام اجنبی عورتوں سے پردہ ضروری ہے اسی طرح سابقہ سے بھی پردہ ضروری ہے۔

قال الله تعالیٰ قل للمؤمنین یغضوا من ابصارهم ویحفظوا فروجهم ذلک ازکی هم ان الله خبیر بما یصنعون وقل للمؤمنات یغضن من ابصارهن ویحفظن فروجهن ولا یبدین زینتهن الا ماظهر منها الخ . . سورة النور ۳۱ .

ـ کوچني یا انجلۍ دنکاح طریقه

سوال

دنابالغ هلک یا انجلۍ دنکاح طریقه څنګه ده؟

جواب

دولی یا قریب اجاب او قبول ددوی په حق کې کافی ده .

وللولی نکاح الصغیر والصغیرة الدر المختار کتاب النکاح باب الولي ج ۳ ص۶۵ سعید .

وکذا کتاب النکاح باب الاولیاء ج۳ ص۲۰۸ رشیدیة .

وکذا فی تبیین الحقائق کتاب النکا ح باب الاولیاء ج۲ ص ۵۰۳

دبالغې انجلۍ نکا ح
بغیر ددې داجازې

سوال ﴾

دبالغې نجلۍ نکا ح ددې بې اجازې صحیح ده که نه ؟

جواب ﴾

ومنها رضاء المرأة اذا کانت بالغة بکراً کانت او ثیباً الخ الفتاویٰ العالمکیریة کتاب النکا ح الباب الاول ۱ ص۲٦٩ رشیدیة وثبت الاجازة لنکا ح الفضولی بالقول والفعل کذا فی البحر الرائق الفتاویٰ العالمکیریة الباب السادس فی الوکالة بالنکا ح وغیرها اص۲۹۹ رشیدیة .

ومن شرائط الایجاب والقبول . . .وشرط سماع کل من القاعدین لفظ الاخر لیتحقق رضاء هما الدر المختار .

قوله لیحقق رضاء هما ای لیصدر منهما ما من شانه ان یدل علی الرضا اذ حقیقة الرضاء غیر مشرطة فی النکا خ ردالمختار کتاب النکا ح ج ص ۱۴ـ۲۱ سعید .

وینعقد نکا ح الحرة العاقلة البالغة برضائها الخ . . الهدایة کتان النکا ح باب فی الاولیاء والاکفاء ج۲ ص ۲۱۳ مکتبة الشرکة علمیه ملتان .

په نکاح کښې شرط لګول نکاح باطلوي که یا؟

سوال ﴾

که یو سړی د ښځې سره نکاح وکی په دې شرط چې میاشت بعد طلاق درکوم دا نکاح صحیح ده که یا دا نکاح صحیح ده ؟

جواب ﴾

حامدًا و مصلیاً

و لکن لا یبطل النکاح بالشرط الغاسد و انما یبطل الشرط دونه الخ الدر المختار فصل فی المحرمات مطلب فیما لو زوج المولی امته و کذا فی الفتح القدیر باب المحرمات ٢:٢٥٠

علی ان یطلقها بعد شهر فانه جائز لان اشراط القاطع یدل علی انعقاد موبدا و یبطل الشرط مجمع الانهر باب المحرمات ١:٣٣١ . ا احیاء التراث العربی بیروت .

كتاب الطلاق

سوال ﴾

د شريعت په نزد د طلاق څه معنى ده؟

جواب ﴾

حامدا و مصيلاً

قيد د نكاح د الفاظ مخصوصهپه ذريعه سره فى الحال يا فى المال پورته كول ودې ته شرعاً طلاق وائى هور فع قيد النكاح فى الحال او المال بلفظ مخصوصى تنوير الابصار على هامش رد المحتار ج۳ص۲۲۶ اول كتاب الطلاق مطبوعة كراچى .عالمكيرى ج۱ص۳۴۸ كتاب الطلاق الباب الاول مطبوعة كوئټه .البحر الرائق ج۳ص۲۳۵ اول كتاب الطلاق مطبوعة ماجريه كوئټه والله تعالى اعلم بالصواب .

سوال ﴾

طلاق رجعى او طلاق بائن او طلاق مغلظ د شريعت په روشنى كى تعريف او حكم ئى څه دى؟

جواب ﴾

حامدا او مصليا

يو طلاق يا دوه طلاقه كچيرى په الفاظ صريحه سره يا په هغوا لفاظو

سره چې هغه قائم په ځای د صریحه وی طلاق ورکی نو خاوند ته په عدت کی دننه د رجعت اختیار حاصل دی او وروسته د عدت د طرفین په رضا مندی سره نکاح کولی سی او نکاح ئی صحیح ده و داسی طلاق ته رجعی طلاق ویلی سی او کچیری په الفاظو کنایه سره چې هغه الفاظ قائم مقام صریحه نه وی طلاق ورکی نو پدغه طلاق کی د رجعت اختیار خاوند ته نسته های، د طرفین په رضا مندی سره نکاح کولی سی په عدت کی هم او وروسته د عدت هم و داسی طلاق ته بائن طلاق وائی .

و اذا طلق الرجل امرائة تطليقة رجعية او تطلقتين فله أن راجع فی عدتها رضيت بذلک او لم ترض كذا فی الهداية عالمكيری ج۱ص۴۷۰ باب الرجعة مطبوعة كوئته هدايه ج۲ص۳۹۴ باب الرجعه مطبوعة تهانوی دیوبند .

اذا كان الطلاق بائنا دو ن الثلاث فله ان يتروجها فی العدة و بعد انقضا ئها عالمكيری ج۱ص۴۷۲ باب الرجعة فصل فيما تحل به المطلقة و ما يتصل به هدايه ج۲ص۳۹۹ باب الرجعة مطبوعة تهانوی ملتقی الابحر علی هامش مجمع الانهر ج۲ص۸۷ باب الرجعة مطبوعة دار الكتب العلميه بيروت .

او کچیری دری واره ئی طلاق ورکو نو پدې طلاق کی و داسی طلاق ته مغلظ طلاق وائی و ان الطلاق ثلثا فی الحرة و ثنين فی الامة لم تحل له حتی تنكح زوجا غيره نكاحا صحيحا و يد خل بها ثم يطلقها او يموت عنها كذا فی الهداية .عالمكيری ج۱ص۴۷۳ باب الرجعة

مطبوعة کوئته هدایه ج۲ص۳۹۹ باب الرجعة مطبوعة تهانوی دیوبند ملتقی الابحر علی هامش مجمع الانهر ج۲ص۸۸ .باب الرجعة مطبوعة دار الکتب العلمیة بیروت .والله تعالی اعلم بالصواب .

سوال ﴾

د والدین په حق کی یو حدیث دی چی نبی علیه الصلوة السلام و حضرت معاذ رضی الله تعالی عنه ته لس وصیتونه وکړل په هغو وصیتو کی یو وصیت دادی چې دوالدینو نا فرمانی مه کوه کڅه هم دوی حکم وکی چی ښځه پریږده او یا ټول مال خرڅ کړه ددغه حدیث تشریح وکه چی په هر حال کی دا حکم دی یا په هر حال کی نه دی؟

جواب ﴾

حامدا و مصلیا

دوالدینو اطاعت او فرمانبرداری لازم دی او دوالدینو د حکم په وجه ښځه او د ټول مال پریښولو حکم دی په دې شرط چی په فتن کی دا خته کیدلو زیات او قوی اندیشه نه وی .

مثلا: د ښځی په پریښولو سره په زنا کی اخته کیږی او د ټول مال په خرڅ کولو سره په غلا او په ډاکه کولو کی کیږی امداد الفتاوی: ج۴ص۴۸۵ مسائل شتی رساله تعدیل حقوق والدین مطبوعة اداره تالیفات اولیاء دیوبند .

عن معاذ رضی الله تعالی عنه ان رسول الله اوصی بعشر کلمات ﴿الی قوله﴾ ولا تعقن والدیک و ان امراک ان تخرج من اهلک و مالک قال ابن حجر شرط المبالغة باعتبار الاکمل اما باعتبار اصل الجواز فلا یلزمه

طلاق زوجة امراة بفراقها و ان تاذيا ببقائها ايذا شديداً لانه قد يحصل له ضرر بها فلا يكلفه لاجلهما اذ مز شان شفقتهما أنهما لو تحققا ذلک لم يا مراه به فالتزامهما له به مع ذلک حمق منهما ولا يلتفت اليه و كذا لک اخراج ماله مرقاة ص۱۳۲ ج ۱ باب الكبائر الفصل الثالث .

سوال ﴾

په اسلام کې د طلاق ورکولو صحيح طريقه څه ده يعنى طلاق به په څه طريقه سره اوړ کوی؟ .

جواب ﴾

حامدا و مصليا

د طلاق ورکولو درې طريقې دی .

اوله طريقه داده . چې کوم وخت ښځه د حيض څخه پاکه سی نو ددې ښځې سره د جماع او صحبت کولو بغير يو رجعی طلاق ورکی او بيا و دې ښځې ته رجوع نه وکی تر هغه وخته پورې چې ددې عدت تير او ختم سی په دې صورت کی په عدت کی دننه دننه د رجوع کولو گنجائش سته او د عدت وروسته دوباره نکاح کولی سی دا طريقه تر ټولو طريقو بهتره او ښه ده او په دې صورت کی آئنده بغير د شرعی حلالې په نکاح کی همراوستلی سی .بله طريقه داده چې و دې ته طلاق بدعت وائی چې ددې څو صورتونه دی دا چې و ښځې ته د حيض په حالت کی طلاق ورکی داچې په داسی طهر کی طلاق ورکی چې خاوند پداغه طهر کی جماع ورسره کړی وی دا چې په يو و لفظ سره و درې طلاقه ورکی دا چې په يوو مجلس کی درې طلاقه ورکی دا چې په يوو طهر کی

درې طلاقـه ورکـی دا چی په یوو طهر کی درې طلاقه ورکی و دغو ټولو
تـه طلاق بدعـت وائـی او ددې حـکـم دادی چی پـدغـه طریقـه سره طلاق
ورکـونـکـی انسـان ګـنهـګـار کیږی لیکن طلاق واقع کیږی کچیری یو
طلاق ورکی نو یو واری کیږی او کچیری په یو وار او یو ځای درې طلاقه
ورکـوی نـو درې واقـع کـیږی ښـا ئـی چی پـه یو لفظ سره وی یا پـه یوه
مـجلـس کـی وی یا په یوو طهر کی وی الطلاق علی ثلاثة اوجه حسن و
احسـن و بدعـی فالا حسن ان یطلق الرجل امرا ته تطلیقة واحدة فی طهر
لـم یـجا مـعهـا فیـه و یتـر کهـا حتـی تـنـقضی عدتها لان الصحا بة کانوا
یسـتـحبو ن ان لا یـزید وافی الطلاق علی واحدة حتی تنقضی العده و ان
هـذا افـضـل عـند هم من أن یطلق الرجل ثلا ثا عند کل طهر واحدة و لانه أ
بعد من الندامة و اقل ضرر بالمرأة ولا خلاف لأحد فی الکراهة والحسن
هـو طلاق السنة وهو ان یطلق المدخول ثلاثا فی ثلاثة اطهار وقال مالک
رحـمـه الله تـعـالـی انهـا بدعة ولا یبا ح الاوحدة لا ن الاصل فی الطلاق هو
الـحظر والا باحة لحاجة الخلاص و قد اند فعت باالواحدة ولنا قوله علیه
الســلام فـی حدیث ابن عـمرؓ ان الـسـنة ان یسـتـقبـل الـطهـر استـقبالا
فیـطـلـقها لکل قر ء تطلیقة و طلاق البدعة أن یطلقا ثلاثا بکلمة واحدة
او ثـلاثـا فـی طهـر واحـد فـاذا فـعـل ذلک وقـع الـطـلاق و کـان
عـاصیـاه اه .هـدایه:کتاب الطلاق:باب طلاق السنة: ج۲ ص ۳۵۴ و ۳۵۵ طبع
مـکتبه شرکت علمیه لاهور پاکستان والله تعالی اعلم بالصواب .

سوال ﴾

زیـد دیـوې ښځی سره نکا ح وکړه لیکن واده نه دی سوی او زید د

یو طلاق ورکی نو آیا اوس په دغه ښځه باندی عدت سته لکه دوا ده سوی ښځی یا عدت نسته او طلاق واقع سی یا نه سو واقع ؟

جواب ﴾

حامدا و مصليا

په داسی حالت کی په یو وار طلاق ورکولو سره طلاق بائن واقع کیږی و ان فرق بو صف أو خبر أو جمل بعطف أو غيره بانت با الاولیٰ .

لا الی عدة در المختار مع رد المحتار ج۲ص۴۹۴ کتاب الطلاق باب طلاق غير المدخول بها مکتبه شيديه کوئټه او د دارنګه ښځی د پاره د طلاق عدت هم نسته .

اربع من النساء لا عدة ليهن ﴿منها﴾ المطلقة قبل الدخول الخ . .

عالمکيری ج۱ص۵۲۶ کتاب الطلاق الباب الثالث عشر فی العدةمطبوعة رشيدية کوئټه او دغه ښځه بغير و توقف او بغير د عدت بل ځای نکاح کولی سی او د زيد او ددې ښځی په رضا مندی سره دوی دوهم وار هم نکاح کولی سی و اذا کان الطلاق بائنا دو ن الثلاث فله ان يتزو جها فی العدة و بعد انقضا ئها لان حل المحلية باق لان زواله معلق بالطلقه الثلاثة فينعدم قبله الخ . .

هدايه ج۲ص۳۹۹ کتاب الطلاق باب الرجعة .

سوال ﴾

ښځه که چيری په احکامو د شريعت عمل نه کوی لمونځ نه کوی روژه نه نيسی او سره ددې چی خاوند هر څو مره نصيحت ورته وکی ليکن ښځه عمل نه کوی نو اوس خاوند ته د شرعی تدابير اختيار ولو

وروسته طلاق ورکول لازم دی یا نه دی لازم .؟

جواب ﴾

حامدا و مصليا

کـچیـری خـاونـد بـغیـر د ښـځـی صبر کولی سی او پـه ادا کولو د مهر یعـنـی ﴿ولـور﴾ بـانـدی هم قدرت لری نو ښه او بهتره داده چي ښځی ته طلاق دی نه درکوی او کچیری خاوند دا نسی کولی نو طلاق دی نه کړی دی لا یجب علی الزوج تطلیق .

الفـاجـرة اهٔ الـدر الـمـختـار عـلـى الشـامی ج۴ ص۱۴۲ مطبوعة زكريا و ج۳ص۵۰ فصل فی المحر مات مطبوعه کراچی .

هـنـديـه ج۵ ص۳۷۲ كتـاب الـكـرهية البـاب الثلاثون فـی المتفـرقـات مطبوعة کوئټه .

بحر ج۳ص۱۰۷ كتاب النكا ح فصل فی المحرمات مطبوعة كوئټه .

اذا عتـارت الـزوجة الـفسق عـليـه الامـر بـالـمعـروف والنهی عن المنكر والـضـرب فيـمـا يـجـوز فيـه فـا ن لـم تـنـز جر لا يجب التطليق عليـه لا ن الزوج قدادی حقه و الا ثم علیها هذا ما اقتضاه الشرع و اما مقتضیٰ غاية التـقـوی فهـو ان يطلقها لكن جواز الطلاق انما هو اذا قدر على اداء المهر والا فـلا يـلـقها كما فی الا شباه والنظائر نفع المفتی والسائل ص۱۰۳ .۱۰۴ باب ما يتعلق با طاعة النساء لا زوا جهن مطبوعة رحيميه .

سوال ﴾

حامله ښځی ته په حالت د حمل کی طلاق ورکول جائز دی یا نه؟

جواب ﴾

حامدا و مصلیا

جائز دی طلاق ورکول و حاملې ښځی ته او طلاق واقع کیږی و حل طلا قهن أی .

الا یسته والصغیرة والحامل در مختار مع الشامی ج۲ص۴۵۴ کتاب الطلاق مکتبه رشیده کوئټه .

مجمع الانهر ج۲ ص٦ اول کتاب الطلاق دار الکتب العلمیه بیروت النهر الفائق ج۲ص۳۱۴ اول کتاب الطلاق طبع مکه مکرمة و طلاق الحامل یجوز عقیب الجامع الخ . . .

هدایه ج۲ص۳۲۵ کتاب الطلاق باب طلاق السنة مکتبه اسلامیه کوئټه .

والله تعالی اعلم بالصواب .

سوال ﴾

زید و خپلی ښځی ته بغیر د صفا الفاظو درې طلاق ئی ورکړل او داسی ئی ورته وویل یو تلاک دوه تلاک درې تلاک ددغو الفاظو خو د طلاق معنی نسته نو بیا په دغو الفاظو سره طلاق واقع کیږی یا نه واقع کیږی؟

جواب ﴾

حامدا و مصلیا

لفظ د تلاق کچیری دیو عالم د خولې او د ژبی نه وتلی وی چی هغه په طلاق ویلو باندی قدرت لري او دغه عالم دعوی وکی چی زما مقصود د طلاق نه وو نو دغه عالم تصدیق دی وسی او که چیری عالم ونکړی یا د

یو غیر عالم دژبی او خولي نه دا لفظ ووځی نو د طلاق د واقع کیدو حکم دی ورکړل شی کما هور وایة شمس الائمة الحلوانی رحمه الله تعالی یقر بها ای بهذه الالفاظ و ما بمعناه ها من الصریح و یدخل نحو طلاغ و تلاغ و طلاک او طلاق باش بلا فرق بین عالم و جاهل و ان قال تعمدته تخو یفا لم یصدق قضاء الا اذا اشهد علیه قبله به یفتی الدر المختار مع ها مش رد المحتار کتاب الطلاق باب الصریح ج۳ص۲۴۸ طبع سعید کراتشی .

و فی الندیه رجل قال لا مرائة ههنا خمسه الفاظ تلاق و تلاغ و طلاغ و طلاک و تلاک عن الشیخ الامام الجلیل ابی بکر محمد بن الفضل رحمه الله تعالی انه یقع و ان تعمد و قصد ان لا یقع ولا یصدق قضاء و یصدق دیانة الا اذا اشهد قبل ان یتلفظ به وقال ان امرأتی تطلب منی الطلاق ولا ینبغی لی ان اطلقها فا تلفظ بها قطعًا لقیلها و تلفظ بها و شهدوا بذلک عند الحاکم لا یحکم با الطلاق بینهما و کان فی الا بتداء یتفرق بین العالم والجاهل کما هو جواب شمس الائمة الحلوانی رحمه الله تعالی ثم رجع الی ماقلنا .

و علیه الفتوی کذا فی الخلاصة الفتاوی الهندیة ج۱ص۳۵۷ کتاب الطلاق الباب الثانی فی ایقاع الطلاق الفصل الاول فی الطلاق الصریح طبع ماجدیه کوئته د شمس الائمة حلوانی ر ح قول مرجو ح او مفتی به قول دغه دی چی د عالم او د جاهل فرق نسته .

والله تعالی اعلم بالصواب .

سوال ﴾

دیـو کوچنی انجلی نکا ح پلار دګونګی هلک سره وکړه وروسته د بلـوغـه د انـجـلـي انجلي د خاوند و کور ته د تللو څخه انکار کوي نو آیا کـچـیـری ګـونـګـی خاوند په طلاق ورکولو باندی راضي سی نو طلاق به څرنګه ورکوی او طلاق د ګونګی صحیح کیږی یا نه صحیح کیږی؟

جواب ﴾

حامدا و مصليا .

طـلاق د ګـونـګـی صحیح کیږی په اشاره سره طلاق هم کیږی او کچیری لیکل کولی سی نو طلاق دی په لیـکلو سره ورکی .

و يـقـع طـلاق الاخـر س بـالا شـار ۃ يـريـد باالا خرس الذی و لد وهو اخر س ﴿الـي قـولـه﴾ و اذا كـان الاخـر س يـكـتـب كتابا يجوز طلاقه عالمكيريه ج١ص٣٥۴ فـصـل فـيـمـن يـقـع طـلاقـه و فـيـمـن لا يـقـع طـلاقـه شـامـی ج۴ص۴۴٨ كتـاب الـطـلاق مطلب في الشيشة والافيو ن والبنج مطبوعة زكريا الدر المنتقى مع مجمع الانهر ج٢ص١٠ كتاب الطلاق مطبوعة دار الكتب العلميه بيروت والله اعلم بالصواب .

سوال ﴾

یـو سړی و زید ته دا الفاظ وویل اطلق زوجی طلقاً واحداً او ثانیاً او ثـالـثـاً لـیـکـن زیـد ددغـو الـفـاظـو مـعنی نه پیژنی بیا دغه سړی و زید ته مـعنی ددې الفاظو هم وویل او ور ویښو زید بیا دغه کلمه او جمله وویل او د زیـد نیـت د طـلاق ورکولو نه ده نو آیا پداسی صورت کی طلاق واقع کیږی یا نه واقع کیږی ؟

الجواب حامداً و مصلیاً .

كچيرى زيد ددې الفاظو ترجمه نه پيژني ليكن دا پيږني چي پدې الفاظو سره طلاق واقع كيږى نو په دې صورت كى طلاق واقع كيږى ليكن كوم وقت چي دغه سړى معنى هم ورښوله او بيا زيد په قصد سره دا الفاظ وويل نو پدې طلاق كى واقع كيدو كى څه شبهه ده د نيت هيڅ ضرورت نسته .

المرأة اذا لقنت زوجها الطلاق بالعربية و هو لا يعلم يقع الطلاق الفتاوى التاتار خانيه ج۳ص۲۵۹ كتاب الطلاق الفصل الثالث فى بيان من يقع طلاقه الخ مطبوعة كراچى .

الصريح لا يحتاج الى النية شامى ج۴ص۴۶۱ باب الصريح مطلب فى قول البحران الصريح الخ مطبوعة زكريا ﴿مطبوعة كراچى صج۳۲۵۰ .

بحر ج۳ ص۲۵۸ كتاب الطلاق باب الطلاق مطبع كوئته النهر الفائق ج۲ص۳۲۵ باب طلاق الصريح طبع عباس احمد الباز مكة مكرمة .

او كچيرى زيد بالكل د محل استعمال او د معنى :دې الفاظو څخه نا خبره او ناواقف وى بيا طلاق نه واقع كيږى قال ابو الليث رحمه الله تعالى اذا قال لا مرأته انت طالق ولا يعرف ان هذا اللفظ طلاق طلقت فى القضاء ولا تطلق فيما بينه و بين الله تعالى الفتاوى التاتار خانيه ج ۳ ص۲۵۹ كتاب الطلاق الفصل الثالث فيمن يقع طلاقه مطبوعة كراچى .

شامى ج۳ ص۲۴۱ كتاب الطلاق ملطب فى الحشيث والا فيون والبنج مطبوعة كراچى .

بزازيه على هامش الهنايه ج۴ ص۱۷۹ كتاب الطلاق مسائل الايقاع بلا قصد .

سوال﴾

زید و خپلی ښځی ته د کوتا هیو او نقصاناتو له وجهی څخه په غصه کی راغلی او و خپلی ښځی ته ئی درې واره طلاق طلاق طلاق وواېو کوم وخت چی د زید غصه ختمه سوه نو اوس زید وائی چی ما د طلاق نیت نه وو کړی بلکه د ښکنځلو په رنګه می ورته وویل نو لهذا په دې صورت کی طلاق واقع کیږی یا نه واقع کیږی؟

جواب ﴾

حامدًا و مصلیًا

کوم وخت چی زید و خپلی ښځی ته درې واره د طلاق لفظ وواېو که څه هم د شکنځلو په رنګه وی او د طلاق ورکولو نیت ئی هم نه وی هم دغه ښځه په زید باندی په طلاق مغلظه سوه طلاقه سوه بغیر د حلالې اوس دوهم وار نکاح کولو ګنجائش هم نسته صریحة مالم یستعمل الافیه و یقع بها وان نوی خلا فها أولم ینو

شیئـًا الدر المختار علی الشامی ج۴ص۳۵۷ اول باب الصریح مطبوعة زکریا﴿مطبوعة کراچی ج۳:۲۳۷

لو قال الزوجة انت طالق طالق طلقت ثلاثا الاشباه والنظائر ص۲۱۹ الفن الاول القاعدة التاسعة اعمال الکلام اولی من اهماله بیان ما تفرع علیه من انه لوکرر الطلاق الخ .

سوال﴾

خالد درقیه سره نکاح وکړه دواده ورځ سوه او نکاح د خالد او رقیة تری نو درقیې اقرباء و خالد ته وویل چی تر کومه وخته پوری تا

وخلپی سابقې ښځی ته طلاق نه وی ورکړی موږ و تاته واده نه در کوو نو خالد مجبوره سو د مجبورۍ له وجی ځخه ئی داوویل بغیر د نیت د طلاق چی په ما باندی کلثوم طلاقه ده د خپلی ښځی نوم ئی بدل کو او د پلار نوم ئی صحیح واخستلې نو آیا اوس په خالد باندی خپله سابقه ښځه طلاقه سوه یا نه سوه طلاقه .

جواب ﴾

حامدا و مصليا

کچیری اجنبی ﴿یعنی پردی﴾ نوم واخلی او طلاق ورکی نو د ده په ښځه باندی طلاق نه واقع کیږی د وقوع طلاق د پاره د ښځی و طرفته نسبت او اضافت لازم دی ښائی چی نوم ئی واخلی یا اشاره ورته وکی ی ضمیر ورته راجع کی نو کوم وخت ئی د ښځو نوم واخیستی که ځه هم نسبت ئی صحیح بیان کی نو طلاق نه واقع کیږی نامهد غلط کیدو په صورت کی د نسبت صحت معتبر نه دی و فی المحيط الاصل انه متى و جدت النسبة و غير اسمها بغيره لا يقع لان التعريف لا يحصل با التسمية متى بدل اسمها لان بذلک الاسم تكون امراة اجنبية ولو بدل اسمها و اشار اليها يقع اه البحر الرائق ج٣ ص٢٥۴ باب الطلاق الصريح مطبوعة کوئٹه محيط برهانی ج۴ص۴۰۲

سوال ﴾

کچیری یو څوک و خپلی ښځی په داسی رنګه سره طلاق ورکی چی الفاظ د طلاق څوک نه واوری خالص د ږبی حرکت وی نو طلاق واقع کیږی یا نه ؟

جواب ﴾

حامدا و مصلیا

کچیری د ژبې څخه د طلاق لفظ پداسې رنګه ووائی چې نه واوریدلې سې خالص ژبه متحرکه سې نو په داسې صورت کې طلاق نه واقع کیږي

او اجر الطلاق علی قلبه وحرک لسانه من غیر تلفظ یسمع لا یقع مرا قی الفلاح علی الطحطاوی ص۱۷۷

سوال ﴾

کچیری یو څوک خیالي خبری دلته هلته خبری کوی او په دې خبرو کې اچانک بلا سو چې و خپله ښځې ته ئی هم طلاق ورکو او ودته هیڅ تصویر او خیال نسته چې زه اوس څه وایم او ددې به اثر څه وی د وینا څخه وروسته خیال ئی راغلی نو آیا طلاق سو یا نه سو واقع ؟

جواب ﴾

حامدا و مصلیا

کچیری ویل ئی نور څه لیکن په ژبه کې ئی نښتل راغلو او د ژبې څخه ئی لفظ د طلاق ووت نو دیانة طلاق نه واقع کیږي لیکن قضاء د طلاق حکم کیږي یعنی کچیری معامله و عدالت ته یا و شرعی پنچائیت ته ورسیږي او دغه څوک اووائی چې ما لفظ د طلاق نه ویل بلکه ما فلانی لفظ وایو بې اختیاره د خولې څخه لفظ د طلاق اووت نو ددغه چا قول نه دی معتبر او نه منل کیږي بلکه د طلاق حکم کیږي.

اراد التکلم بغیر الطلاق بان اراد ان یقول سبحان الله فجری علی لسانه

انت طالق تطلق لانه صريح لا يحتاج الى النية لكن فى القضاء الدر المختار مع الشامى ج۳ ج۴ص۴۴۸ كتاب الطلاق مطلب فى الحشيشة والافيون والبيج طبع زكريا ﴿و طبع كراچى ج۳ص ۲۴۱ .

الدر المنتقى مع مجمع الانهر ج۲ص۸ اول كتاب الطلاق مطبوعة دار الكتب العلمية بيروت .

هنديه ج۱ص۳۵۳ كتاب الطلاق الباب الاول فصل فيمن يقع طلاقه طبع كوئټه .

او كچيرى ښځى دغه لفظ د طلاق واوريدى نو هم شرعا دغه طلاق تصور كيږى .

لان المراة كالقاضى شامى ج۴ص۴۶۳ قول البحر ان الصريح يحتاج فى وقوعه الى النية طبع زكريا ﴿طبع كراچى ج۳ص ۲۵۱﴾

هنديه ج۱ص۳۵۴ الباب الثانى فى ايقاع الطلاق الفصل الاول طبع كوئټه .

بحر ج۳ص۲۵۷ باب الطلاق طبع كوئټه والله تعالى اعلم بالصواب

سوال ﴾

زيد او د خپلى ښځې په مابين كى انتهائى محبت دى يوه ورځ دوى دواړه د طاقت آزمودنه كوى ښځى و ر ، وويل كچيرى ما لاس خلاص كونو بيا تـه ما پريږدې ﴿يعنى طلاق راكوې﴾ او دغه انداز د طلاق اخستو نه وو بلكه د بهادرى د ښكاره كولو وو زيد ورته وويل چى هو منكو حې چى كوشش وكو لاس ئى خلاص كونو آيا اوس طلاق واقع سو يا نه سو واقع ؟

جواب ﴾

حامداو مصلیا

د زید د منکو چې طلاق نه دی سوی په صورت مسئوله کی زیات سې زیات وعده د طلاق کیدلای سی وقوع د طلاق هیڅ کله نه ده له دې وجی څخه بلا شکه هیڅ طلاق واقع نه دی ﴿په عالمګیری کی دی﴾

فقال الزوج اطلق طلاق می کنم طلاق می کنم فکر ره ثلاثا طلقت ثلاثا بخلاف قوله سا طلق طلاق کنم لانه استقبال فلم یکن تحقیما بالتشکیک عالمکیریه ج۱ص۳۸۴ الفصل السابع فی الطلاق بالا لفاظ الفارسیة مطبوعة رشیدیة کوئته المحیط البرهانی ج۵ص۲۴۵ کتاب الطلاق الفصل السابع والعشرون فی المتفرقات مطبوعة المجلس العلمی ډابهیل فتاوی التاتار خانیه ج۵۳ص۹۸ کتاب الطلاق الفصل الحاوی والثلاثون فی المتفرقات طبع کراچی والله تعالی اعلم بالصواب .

سوال ﴾

د بنځی ځور شته دارانو په خاوند باندی په جبر او زور سره دا ولیکل چی مسماة فلان بنت فلان و خپلی زوجې ته درې طلاقه ورکوم او د خپله زوجیت څخه ئی خار جکوم فقط بد سخط خاوند او خاوندیو حرف په ژبه سره نه دی ویلی نو آیا اوس طلاق واقع سو یا نه سو واقع ؟ .

جواب ﴾

حامداو مصلیا

کـچیـری دغـه تـحـریـر مـذکوره په جبر سره لیکلی وی او په ژبه سره ئی طـلاق نه وی ورکړی نو طلاق واقـع نه سو تحریری طلاق هغه وقت واقع کیږی چی خاوندئی پخپله خوښه سره او لیکی .

و فـی البـحـر ان المراء الاکراه علی التلفظ بالطلاق فلو اکره علی یکتب طـلاق امرأتـه فـکـتـب لا تـطـلـق لان الـکـتـابـه أقـیـمت مقام العبارة با عتبـار الحاجة ولا حاجة هنا کذا فی الخانیه ها مش رد المحتار ج۳ص۲۳٦ کتاب الطلاق طبع سعید کراتشی .

و قـال فـی الهـنـدیة رجـل اکـره بـالـضـرب والحبـس علی ان یکتب طلاق امـرأتـه فـلا نة بـنـت فلان بن فلان فکتب امرأة فلانه بنت فلان طا لق لا تطلق امراته کذا فی فتاوی قاضی خان .

الفتـاوی الهندیه ج۱ص۳۷۹ کتاب الطلاق الباب الثانی فی ایقاع الطلاق الـفـصـل السـادس فـی الطلاق با الکتا بة طبع ماجد به کوئـتـه والله تعالی اعلم بالصواب .

سوال ﴾

د زیـد د زوجې او د زید دوالدې تکرار او غصه وسوه کوم وخت چو زید و خپـلی والدې ته مخاطب سو او وئی ویل چی زه و خپلی زوجې ته انشـاء الله درې طـلاقـه ورکـوم د زیـد نیـت د طلاق رجعی دې او زید ښځه حاضره هم نه وه نو آیا اوس څو طلاقه واقع سو او که نه سو واقع ؟

جواب ﴾

حامدا و مصلیا

پـه سـوال کـی الـفـاظ د انشـاء الله درې طلاقـه ورکـوم موجود دی د لفظ د

انشاء الله سره چی کوم طلاق ورکی هغه نه واقع کیږی نو لهذا د زید په ښځه طلاق نه واقع کیږی.

اذا قال لامر أته انت طالق ان شاء الله تعالی متصلا لم یقع الطلاق لقوله علیه السلام من حلف بطلاق او عتاق و قال ان شاء الله تعالی متصلا به لا حنث علیه الهدایة ج۲ص۳۸۹.

کتاب الطلاق باب الایمان فی الطلاق فصل فی الا ستثناء طبع شرکة علمیه ملتان والله تعالی اعلم بالصواب.

سوال ﴾

زید په خپل مرض الموت کی نکاح وکړه او بیا ئی ۲۴ گهنټې د موت څخه مخکی و خپلی منکوحې ته طلاق ورکو چی دغه تحریر وجې ته نه دی رسیدلی نو اوس پوښتنه داده چی طلاق واقع سو یا نه سو واقع او زوجه مطلقه د میراث څخه حصه او میراث وړلی سی یا نه؟

جواب ﴾

حامدا و مصلیا

که چیری د زوجین په مابین کی وطی یا خلوت صحیحه سوی وی نو بیا ښځه میراث وړلی سی ځکه چی د خاوند انتقال په عدت کی دننه وسو.

رجل طلق امرأته رجعیا و هی فی العدة ورثت کان الطلاق فی الصحة فی المرض ﴿الفتاوی الخانیه﴾ علی هامش الهندیه ج۱ص۵۵۵ کتاب الطلاق باب العدة فصل فی المعتدة الی ترث طبع ماجدیه کوئټه

و قال فی الهندیة قال الخجندی الرجل اذا طلق امرأته طلاقا رجعیا فی حال الصحة او فی حال مرضه برضاها او بغیر رضاها ثم مات و هی فی

العدة فانهما یتوارثان بالاجماع الفتاوی الهندیة ج۱ص۴۶۲ کتاب الطلاق الباب الخامس فی طلاق المریض طبع ماجدیه کوئته .
لیکن که چیری د زوجین په مابین کی وطی یا د خلوت صحیحه نوبت او موقع نوی راغلی نو بیا وښځی ته میراث نه ورکیږی او د میراث حقداره نده قال الله تبارک و تعالی یا ایها الذین امنو اذا نکحتم المومنات ثم طلقتموهن من قبل ان تمسوهن فما لکم علیهن من عدة تعتدونها ﴿سورة الاحزاب رقم الایة . ۴۹﴾
دغه حکم د وقوع طلاق هغه وخت ده چی خاوند پخپله خوښی سره تحریر د طلاق کړی دی بغیر د جبر او داکراه و ښځی ته د تحریر یا خبر د طاق د رسیدو تعلق دوقوع طلاق سره نسته .
کتب الطلاق ان مستبینا علی نحو لوح وقع ان نوی وقیل مطلقا ولو علی نحو الماء فلا مطلقا ولو کتب علی وجه الرسالة والخطاب کان یکتب یا فلانه اذا اتاک کتابی هذا فانت طالق طلقت بوصول الکتب جوهره ﴿در مختار﴾ و قال فی الرد ثم المرسومة لا تخلو اما ان ارسل الطلاق بان کتب اما بعد فانت طالق فکما کتب هذا یقع الطلاق و تلزمه العدة من وقت الکتابه و ان علق طلاقها بمجئی الکتاب بان کتب اذا جاءک کتابی فانت طالق فجاءها الکتاب فقرائة او لم تقرا یقع الطلاق کذا فی الخلاصة هامش رد المحتار مع الدر المختار ج۲ص۲۴۶ . کتاب الطلاق مطبوعة سعید کراتشی او ددغه مریض چي په مرض الموت اخته دی د تحریر په وخت کی دده هوش او حواس به صحیح وی لا یقع طلاق المولی علی امراة عبده والمجنون والصبی والمعتوه

المبرسم الدر المختار مع هامش رد المحتار ج٣ص٢٤٣ كتاب الطلاق مطبوعة سعيد كراتشى . .

سوال :......

و غير مدخول بها ښځي ته په درې طلاق وركولو سره مغلظ طلاق كرځي يا نه؟

جواب :......

حامدًا و مصليًا . و غير مدخول بها ښځي ته درې طلاقه وركول په جدا جدا الفاظو سره مغلظ طلاق نه كرځي . خالص يو طلاق بائن واقع كيږي . او كه چيرې په يوو لفظ سره درې طلاقه وركړي مثلا و ښځي ته ووايي چي ته په درو طلاقو سره طلاقه يې نو مغلظ طلاق كيږي:

"قال فى التنوير : قال لزوجته غير المدخول بها انت طالق ثلاثاً وقعن : و ان فرق بانت بالاولىٰ ولم تقع الثانية ، و فى الشرح (بانت بالاولى) لا إلى عدة فلذا (لم تقع الثانية) بخلاف الموطؤة حيث يقع الكل "(رد المحتار / ج: ٢)

سوال :......

. لېوني طلاق واقع كيږي كه نه واقع كيږي؟

جواب :......

د لېوني طلاق نه واقع كيږي:

"قال فى العلائية واهله زوج عاقل بالغ مستيقظ ، و فى الشامية (قوله و أهله زوج عاقل الخ) احترز بالزوج عن سيد العبد و والد الصغير ـ و بالعاقل و لو حكماً عن المجنون و المعتوة الخ"(رد المحتار / ج: ٢ ـ احسن الفتاوى / ج: ٥ / ص: ١٣٠ كتاب الطلاق ـ طبع ايچ ايم سعيد كمپنى كراچى)

سوال :......

زيد د زينب سره نكاح وكړه په حالت كي د عدت د بل چا . بيايې و زينب ته طلاق وركړ په درې طلاقه سره، نو آيا د عدت څخه وروسته اوس زيد د زينب

سره نكاح كولى سي بغير د تحليله د زوج آخر يا يې نه سي كولى؟

جواب :......

اولـه نكاح فاسده وه او په فاسده نكاح كې حكم د متاركت يعني د پرېښولو دى، نـو طـلاق نـه واقـع كيـږي . نـو لهـذا د دې ښـځې سـره دوهـم وار نكـاح صحيح ده:

"قال فى الشامية : طـلـق المنكوحة فاسداً ثلاثاً له تزوجها بلا محلل الخ"(رد الـمحتار / ج: ۲ / ص: ۴۸ـ احسن الفتاوى / ج: ۵ / ص: ۱۳۷ ، كتاب النكاح ـ طبع ايچ ايم سعيد كمپنى كراچى)

ســوال :......

د نابالغ طلاق واقع كيږي او كه نه؟

جواب :......

د نابالغ طلاق نه واقع كيږي:

"كـمـا فـى شرح التنـويـر و أهله زوج عاقل بالغ مستيقظ و فى الشامية :(قوله و أهـلـه زوج عـاقـل الـخ) احترز بـالـزوج عن سيد العبد و والد الصغير و بالعاقل و لو حـكـمـاً عـن الـمـجـنـون والمعتوه والمد هوش و المبرسم و المغمى عليه بخلاف السكـران مضطراً او مـكـرهـاً ،و بالبالغ عن الصبى و لو مراهقًا ، و بالمستيقظ عن النائم الخ"(رد المختار / ج: ۲)

ســوال :......

پـه دې مسـئله كې د شريعت څه حكم دى چې زيد و خپلې ښځې ته وويل چې ته زما منكوحه نه يې نو آيا طلاق واقع سو يا نه سو واقع ؟

جواب :......

كـه چيـري زيـد د طـلاق پـه نيت سره دغه مذكوره الفاظ ويلي وي نو يو طلاق رجعي واقع كيږي . او كه چيري د طلاق په نيت سره يې نه وي ويلي نو بيا نه

واقع کیږي:

”کما فی الهندیة و لو قال لامرأته لست لی بامرأة او قال لها ما انا بزوجك او سئل فقیل له هل لك امرأة فقال لا ۔ فان قال اردت به الکذب یصدق فی الرضاء والغضب جمیعاً و ل یقع الطلاق ۔ و ان قال نویت الطلاق یقع الطلاق فی قول ابی حنیفةؒ و ایضا فیها لو قال ما انت لی بامرأة و لست لك بزوج یقع عند ابی حنیفةؒ و عندهما رحمهما الله تعالی لا یقع“(عالمگیریه / ج: ۲)

”و فی شرح التنویر لست لك بزوج او لست لی بامرأة او قالت له لست لی بزوج فقال صدقت طلاق ان نواه خلافا لهما۔ و فی الشامیة تحت (قوله طلاق ان نواه) و اشار بقوله طلاق إلی ان الواقع بهذه الکنایة رجعی ۔ کذا فی البحر من باب الکنایات (رد المحتار / ج: ۲)

سوال :......

یو سړي و خپلې ښځې ته وویل چې چیري دي خوښه وي دوهم خاوند پیدا کړه نو آیا طلاق واقع سو او که نه سو واقع؟

جواب :......

دغه مذکوره الفاظ که چیري په نیت د طلاق سره او یا په وخت د مذاکرې د طلاق کي ویلي وي نو طلاق بائن واقع سو او که چیري داسي نه وي نو بیا نه واقع کیږي:

”قال فی الهندیة و بابتغی الازواج تقع واحدة بائنة ان نواها او اثنتین و ثلاث ان نواها ۔ هکذا فی شرح الوقایة“(عالمگیری / ج: ۱ / ص: ۳۷۵ ، کتاب الطلاق الباب الخامس فی الکنایات ، طبع مکتبه رشیدیه کوئته)

سوال :......

د سندهـ په علاقې کي عام رواج دی چي کوم وخت و ښځي ته ثوک طلاق ورکوي نو درې لوټي د خاورو دي د طلاق په نیت سره ورکړي او دغه عمل

درې طلاقه بولي . شرعاً په داسي عمل سره طلاق واقع کیږي یا نه؟

جواب :......

بغیر د تلفظه د طلاق خالص د خاورو په لوټو ورکولو سره طلاق نه واقع کیږي :

"قال فی الشامیه تحت (قوله ورکنه لفظ مخصوص) و به ظهر ان من تشاجر مع زوجته فاعطاها ثلاثة احجار ینوی الطلاق و لم یذکر لفظاً لا صریحاً و لا کنایةً لایقع علیه کما افتی به الخیر الرملی و غیره الخ "(رد المحتار / ج: ۲ / ص: ۵۷٤)

سوال :......

خالد و خپلي ښځي ته دوه واره: ان دخلت الدار فانت طالق وویلو، د دې وروسته دخول د دار راغلی نو د خالد پر ښځه باندي څو طلاقه واقع سو؟

جواب :......

دوه طلاقه واقع سوي. هو، که چیري تکرار په نیت د تاکید وو نو بیا دیانةً یو طلاق واقع دی . او قضاءً دوه واقع دي:

"قال فی الدر (فروع) فی ایمان الفتح ما لفظه و قدعرف فی الطلاق انه لو قال ان دخلت الدار فانت طالق، ان دخلت الدار فانت طالق، ان دخلت الدار فانت طالق ، وقع الثلاث۔ و اقره المصنف ثمة و قال ابن عابدین رحمه اللّٰه تعالی (قوله وقع الثلاث) یعني بدخول واحد کما تدل علیه عبارة ایمان الفتح حیث قال: ولو قال لامرأته و اللّٰه لا اقربكِ ثم قال و اللّٰه لا أُقربكِ فقربها مرة لزمه کفارتان اهـ و الظاهر انه ان نوی التاکید یدین"(رد المحتار / ج: ۲ / ص: ۵۵۹)

سوال :......

تعلیق د درو (۳) طلاقو مثلاً : ان دخلت الدار فانت طالق ثلاثاً، یا د دې مثال په رنګه نور په دغه صورت کي د تعلیق د ختمېدو یو صورت جوړېدی سي چي دخول د دار هم راسي او طلاق هم نه سي واقع؟

جواب :......

د دغه مذكوره صورت تدبير دا دى چې خاوند دې و زوجې ته يو طلاق وركړي ، د عدت د تېرېدو وروسته ښځه دې و دار يعني و كور ته داخله سي . په دې سره به تعليق ختم سي ، بيا دې خاوند ددغې ښځې سره دوباره نكاح وكړي له دې وروسته بيا د دار په داخلېدو سره طلاق نه واقع كيږي:

"قال في العلائية و تنحل اليمين بعد وجود الشرط مطلقا لكن ان وجد في الملك طلقت و الا لا ـ فحيلة من علق الثلاث بدخول الدار ان يطلقها واحدة ثم بعد العدة تدخلها فتنحل اليمين فينكحها"(رد المحتار / ج: ٢ / ص: ٥٤٥)

سـوال :......

زيد و خپلي ښځي ته يو طلاق وركړ او بيا يې رجوع وكړه بيا يو څو ورځي وروسته په يوه خبره باندي بل طلاق رجعي يې وركړ او بيا د وينا او د اورېدو له وجهي ښځه يې بيرته رجوع وكړه ليكن بيا يې دريم وار بل طلاق رجعي وركړ نو اوس درې طلاقه واقع سو يا نه سو واقع ، او درې سره طلاقه جمع كيږي يا نه جمع كيږي؟

جواب :......

درې طلاقه واقع سو، د رجعي طلاقه وروسته په عدت كي دننه په رجوع كولو سره ښځه خو حلاله سوه ليكن په دغه رجوع سره د طلاق عدد نه سو باطل .

خلاصه دا ده چي دغه طلاق د درو طلاقو په مجموعه كي شماريږي نو له دې وجهي ښځه له دغه يوه طلاقه وروسته نور په دوو طلاقو وركولو سره دا ښځه مغلظه كرځي .

او دغه رنګه د رجعي طلاق د عدت د تېرېدو وروسته دوهم وار چي نكاح وكړي يا د بائن طلاق وروسته چي دوهم وار نكاح وكړي نو آئنده په دوو

طلاقو ورکولو سره مغلظه کرځي .

البته که چیري دغې ښځي د بل خاوند سره نکاح وکړه او هغه خاوند هم طلاق ورکړي یا هغه خاوند مړ سي او ښځي بیرته د اول خاوند سره نکاح وکړه نو اوس د نوي سره خاوند ته د درو طلاقو اختیار سته . په یوه یا دوو طلاقو سره مغلظه نه کرځي . (احسن الفتاوی / ج:٥ / ص:١٥٨، کتاب الطلاق، مطبع ایچ ایم سعید کمپنی کراتشي .

سوال :......

زید په یوه مهلکه بیماری اخته دی په دغه حالت کي بغیر د ښځي بل څوک د غمخوری نه لري او دغه رنګه د ښځي او د بچیانو دپاره سوا د زید بل څوک د پرورش ذریعه نسته او حال دا دی چي زید خپله ښځه په درو طلاقو سره طلاقه کړې ده نو لهذا په داسي صورت کي د سخت ضرورت له وجهي ښځه په یوه کور کي دوی اوسېدلی سي یا نه سي اوسېدلی؟

جواب :......

د عمر رسیده والي او د مرض په خاطر یو د بل سره تعاون او خدمت کول جائز دي . په دې شرط چي د خاوند او د ښځي رنګه معامله به نه کیږي . که چیري د یو ادنیٰ خطرې د ناجائزي معاملې احتمال وو نو بالکل جلاوالی اختیارول فرض دي . او په یوه مکان کي اوسېدل ناجائز دي:

”فی فصل الحداد من عدة العلائیة معزیاً إلی المجتبیٰ لهما ان یسکنا بعد الثلاث فی بیت واحد اذا لم یلتقیا التقاء الازواج و لم یکن فیه خوف فتنة ـ انتهی۔

وسئل شیخ الاسلام عن زوجین افترقا ولکل منهما ستون سنة و بینهما اولاد و تتعذر علیهما مفارقتهم فسکنان فی بیتهم و لا یجتمعان فی فراش۔ و لا یلتقیان التقاء الازواج هل لهما ذلك ؟ قال نعم و اقره المصنف ـ

وفي الشامية (وسئل شيخ الاسلام) حيث اطلقوه ينصرف إلى بكر المعروف بخواهر زاده۔ وكأنه اراد بنقل هذا تخصيص ما نقله عن المجتبىٰ بما إذا كانت السكنى معها لحاجة كوجود اولاد يخشى ضياعهم لو سكنوا معه او معها او كونهما كبيرين لا يجد هو من يعوله ۔ ولا هي مَنْ يشترى لها او نحو ذلك ۔ والظاهر ان التقييد يكون سنهما ستين سنة و بوجود الاولاد مبني على كونه كان كذلك في حادثة السؤال كما افاده۔"(رد المحتار / ج: ٢ / ص: ٦٧٥)

سـوال :......

زيد ديوې ښځې سره نکاح وکړه او د واده څلور مياشتې وروسته د خاوند او د ښځې په مابين کې جګړه او ناراضي راغله . د ښځې ورثه راغلو او د توپنچې په ذريعه يې د زيد څخه درې طلاقه په درو لفظو بغير د څه مال ځيني واخيستو، او خاوند د بيرې له وجهې څخه طلاق ورکړ ليکن نيت يې د رجعي کړی دی، او بيا يې د رجعت اعلان پنځلس ورځې وروسته هم وکړ نو آيا د زيد دغه رجوع صحيح ده او که نه ده صحيح؟

جواب :......

د مکره طلاق واقع کيږي نو له دې وجهې څخه دغه طلاق مغلظ کرځېدلی دی . او په طلاق مغلظ کې نيت د رجوع ته هيڅ اعتبار نسته . نو له دې وجهې څخه د زيد رجوع صحيح نه ده . د داسې ابتلاء په وخت کې داسې تدبير اختيارول په کار دي چې طلاق دې وليکې او په ژبه سره دې نه وايې په حالت د اکراه کې، په ليکلو سره طلاق نه واقع کيږي .

دوهم تدبير دا دی چې د لفظ د طلاق سره دې متصل انشاء الله ووايې نو طلاق نه واقع کيږي که څه هم ان شاء الله کرار ووايې ليکن په دې شرط چې آواز به خانته اوروي

او د کرخيّ په نزد داهم شرط نه دی:

"قال فی شرح التنویر و یقع طلاق كل زوج بالغ عاقل ولو تقديراً بدائع۔ ليدخل السكران و لو عبداً او مكرهاً ۔ فان طلاقه صحيح لا اقراره بالطلاق "(رد المحتار / ج: ٢ / ص: ٤٥٦)

و فی الشامية (قوله ان لم يطلق بائناً) هذا بيان لشرط الرجعة و لها شروط خمس تعلم بالتأمل(شرنبلاليه)

قلت هی ان لا يكون الطلاق ثلاثا فی الحرة او ثنتين فی الامة الخ (رد المحتار / ج: ٢ / ص: ٥٧٦)

سـوال :......

يـو سړی په طلاق ورکولو باندي خلقو مجبوره کړ نو دغه سړی د مجبوري له وجهي ښځـه د تېر ي سـوي زمانـې د درواغـو د طلاق اقراريې وکړ چي ما و خپلـي ښـځې تـه پـخـوا يعني مخکي طلاق ورکړی وو اوحال دا دی چي دغه سړي پـخـوا و ښـځي ته هيڅ طلاق نه وو ورکړی نو په دې صورت کي طلاق واقع کيږي يا نه واقع کيږي؟

جواب :......

د زور د اکـراه پـه صـورت کي د طلاق په ورکولو سره طلاق واقـع کـيږي لـيکن په اقرار طلاق سره نه واقع کيږي نو لهذا په صورت مسئوله کي طلاق نه سو واقع:

"قال فی التنوير : و يقع طلاق كل زوج بالغ عاقل و لو عبداً او مكرهاً۔و فی الشرح فان طلاقه صحيح لا اقراره بالطلاق"(رد المحتار / ج: ٢ / ص: ٤٥٧)

سـوال :......

يـو سـړي و خپـلـي ښـځـي ته وويل چي داسي ښځه و ما لره پکار نه ده . او له کوره يي وايستـه، په دې سره طلاق واقـع کـيږي يا نه واقع کـيږي؟

جواب :......

په دغو لفظو سره طلاق نه واقع کیږي:

"نقل فی الهندیة عن السراج الوهاج و لو قال لا حاجة لی فیك ینوی الطلاق فلیس بطلاق"(عالمگیریه / ج: ١ ص٣٧٥)

سـوال:......

یو چا و خپلي زوجې ته داسي وویل چي ته طلاق یې، ته طلاق یې، ته طلاق یې، نو آیا ښځه په خپل خاوند باندي حرامه سوه؟

جواب:......

دري طلاقه واقع سول او ښځه په خاوند باندي حرامه سوه:

"قال فی التنویر: وفی انت الطلاق أو طالق الطلاق أو أنت طالق طلاقاً یقع واحدة رجعیة ان لم ینوی شیئاً او نوی واحدة او ثنتین ...... فان نوی ثلاثا فثلاث"(رد المحتار / ج: ٢ / ص: ٤٦٨)

سـوال:......

زید د نکاح کولو مخکي وویل: ان دخلتُ الدار فامرأتی طالق. ددې وینا وروسته بیا یې نکاح وکړه نو آیا اوس په دخول ددار سره ښځه طلاقه کیږي یا نه؟

جواب:......

که چیري د زید دا نیت وي چي د کومي ښځي سره زه نکاح کوم هغه طلاقه ده نو په دې صورت کي اضافت إلی النکاح حکماً موجود دی نو لهذا طلاق واقع کیږي. که څه هم د الفاظو اضافت إلی الملک ته نه دی سوی. او که چیري د زید دغه مذکوره نیت نه وي بلکه په طریقه د هزل یې داسي وویل نو طلاق نه واقع کیږي:

"قال فی الهندیة فی الفصل الثامن من الباب الرابع لو قال کل امرأة لی طالقٌ ان فعلتُ کذا۔ و لیست له إمرأة و نوی إمرأة یتزوجها بعد ذلك صحت کما إذا قال کل إمرأة تکون لی و إلی هذا ذهب شمس الإسلام محمود رحمه

الله تعالی۔
وقال نجم الدین رحمه الله تعالی لا تصح وقال سید الامام رحمه الله تعالی بالقول الاول نأخذ ۔ کذا فی أصول الأستروشنی"(عالمگیریه / ج:١ / ص:٤١٩)

سوال :......
یو سړي خدا نخواسته شراب وڅښل او بیا یې و ښځې ته درې طلاقه ورکړل او د طلاق په دوران کې یې دخول څخه د شرابو بوی را تله . څه ساعت وروسته و ده ته ډېر سخت ندامت او پرېشاني وسوه، او دی ددې خبرې اعتراف کوي چې د طلاق ورکولو په وخت کې دی په هوش کې نه وو . نو آیا طلاق واقع سو یا نه سو واقع ؟

جواب :......
د نشې په حال کې هم طلاق واقع کېږي، له دې وجهې ددې سړي ښځه طلاقه سوه په درو طلاقو سره . او دغه سړی بغیر د تحلیل دوهم وار نکاح کولی نسي:
"قال فی التنویر : ویقع طلاق کل زوج بالغ عاقل ولو عبداً اومکرهاً او هازلاً او سفیهاً اوسکران ۔ وفی شرح تحت قوله عاقل ولو تقدیراً ۔ بدائع لیدخل السکران"(رد المحتار / ج:٢ / ص:٤٥٦)

سوال : .....
بکر خپلې ښځې ته دوېرولو او دهمکۍ ورکولو دپاره د طلاق لفظ استعمال کړو او د بکر د طلاق نیت هم نه دی، نو آیا په دې سره طلاق واقع کېږي یا نه واقع کېږي ؟

جواب :......
د طلاق په لفظ صریحی کې د نیت او ارادې کول او نه کول دواړه برابر دي . نو له دې وجهې څخه کوم وخت چې ښځې ته هم دا الفاظ استعمال کړي نو طلاق واقع کېږي:

”قال النبی ﷺ ثلاث جدهن جد و هزلهن جد النکاح ، والطلاق ، العتاق“(نصب الرایة / ج: ٣ / ص: ٢٩٣، کتاب الایمان)

و قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالیٰ: او هازلاً ... لا یقصد حقیقة کلامه ـ (الدر المختار علی هامش رد المحتار / ج: ٢ / ص: ٤٥٩ ، کتاب الطلاق ، مطلب فی المسائل التی تصح للاکراه ـ و مثله فی البحر الرائق / ج: ٣ / ص: ٢٤٤، کتاب الطلاق)

سوال:......

پلار د خپل نابالغ زوی نکاح دیوې بالغي انجلۍ سره وکړه اوس د دواړو خاوندانو په مابین کي تعلقات دومره خراب سوي دي چي د طلاق ورکولو ته خبره رسېدلې ده نو په دې صورت کي نابالغ هلک طلاق ورکولی سي یا د هلک پلار د هلک د طرفه ښځي ته طلاق ورکړي فارغه دي کړي؟

جواب:......

په داسي صورت کي نابالغ خاوند پخپله طلاق نسي ورکولی ولي چي د طلاق ورکولو دپاره د خاوند بلوغ والی شرط دی او نه نابالغ د خپله طرفه څوک وکیل مقرر کولی سي . پلار د نابالغ زوی نکاح کولی سي لیکن د نابالغ زوی د طرفه د طلاق ورکولو اهلیت نلري . نو په داسي صورت کي دي ښځه د خاوند تر بلوغه پوري دي انتظار وکړي . البته که چیري د عصمت نفس یا د ډوډۍ او د نفقې مسئله وه نو بیا ښځه د مجبوري له وجهي څخه د حاکم وقت په واسطه سره فسخ د نکاح کولی سي:

”قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی و لا یقع الطلاق الصبی و لو مراهقاً“(الدر المختار علی هامش رد المحتار / ج: ٢ / ص: ٤٦٢، کتاب الطلاق)

او د رسول الله ﷺ ارشاد گرامي دی:”الطلاق لمن اخذ الساق“(ابن ماجه / ص: ١٤٧ ، ابواب الطلاق)

و فی الهندیة: ولا یقع طلاق الصبیّ و ان کان یعقل۔(الفتاوی الهندیة / ج: ١ / ص: ٣٥٣، کتاب الطلاق ، فصل فیمن یقع طلاقه و فیمن لا یقع طلاقه۔ و مثله فی الهدایة و فتح القدیر / ج: ٣ / ص: ٣٤٣، کتاب الطلاق)

سوال :......

یو سړی دی و ده ته دا نه معلومیږي چي زه څه وایم عام طور بې ربطه او بې جوړه خبري کوي . نو که چیري دغه سړي و خپلي ښځي ته طلاق ورکړي نو آیا طلاق واقع کیږي یا نه واقع کیږي ؟

جواب :......

د طلاق ورکولو دپاره عاقل او بالغ کېدل ضروري دي . د صورت مسئوله مطابق و داسي انسان ته فقهاء کرام معتوه وایي چي د هغه طلاق شرعًا نه واقع کیږي:

"قال العلامة التمرتاشی رحمه الله تعالی و لا یقع طلاق الصبی و المعتوة۔ (تنویر الابصار علی هامش رد المحتار / ج: ٢ / ص: ٤٦٢، کتاب الطلاق تحت مطلب فی الحشیشة و الافیون الخ)

و فی الهندیة: و کذلك المعتود لا یقع طلاقه ۔(الفتاوی الهندیة / ج: ١ / ص: ٣٥٣۔ کتاب الطلاق فصل فیمن یقع طلاقه و فیمن لا یقع طلاقه ۔ و مثله فی فتح القدیر شرح الهدایة / ج: ٣ / ص: ٣٤٣ ، فصل و لا یقع طلاق الصبی الخ۔

سوال :......

پر زید باندي داسي حالت راشي چي حواس یې پورته سول او د شپې او ورځي تمیز یې ختم سو او وده ته دا علم نسبته چي زه څه وایم نو په داسي کیفیت کي که زید و خپلي ښځي ته طلاق ورکړي نو آیا طلاق یې واقع کیږي یا نه واقع کیږي ؟

جواب :......

د طلاق ورکولو په وخت کي د عقل او د حواس وجود ضروري دی . که چیري د یو سړي حواس د بې هوشي له وجهي څخه ختم سي نو دغه څوک په داسي حالت کي طلاق ورکړي نو ددې طلاق هیڅ اعتبار نسته:

"قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالی: لا يقع طلاق المولیٰ على امرأة عبده والمجنون و المدهوش (فتح)

و في القاموس: دهش الرجل تحير و دهش بالبناء للمفعول فهو مدهوش و ادهشه الله الخ(الدر المختار على هامش رد المحتار / ج: ٢ / ص: ٤٦٣، كتاب الطلاق، مطلب طلاق المدهوش)

و في الهندية: و لا يقع طلاق الصبيّ و ان كان يعقل والمجنون و النائم والمبرسم والمغمى عليه والمدهوش"(الفتاوى الهندية / ج: ١ / ص: ٣٥٣، كتاب الطلاق، فصل فيمن يقع طلاقه و فيمن لا يقع طلاقه۔ و مثله في البحر الرائق / ج: ٣ / ص: ٢٤٩، كتاب الطلاق)

سوال: ......

یو سړی د وسوې په بیماری باندي اخته دی او د یو کار د کولو او یا د نه کولو کي همېشه تردد او شک کوي او دېر ځله د یو کار د کولو اویا د نه کولو تعلق تر طلاق پوري ورکوي او بیا و ده ته په طلاق معلق کولو کي هم وسوسه او شک پیدا کیږي . کله گمان کوي چي ما طلاق ورکړی دی او کله بیا گمان کوي چي طلاق مي نه دی ورکړی حتی چي په یقیني توګه سره و ده ته معلومه نه ده چي طلاق یې ورکړی دی یا یې نه دی ورکړی نو د دا رنګه انسان د طلاق شرعاً څه حکم دئ؟

جواب: ......

دطلاق د وقوع دپاره قطع او یقین ضروري دی تر کومه وخته پوري چي و ده ته یقین نه وي د شک او د وسوسې په بناء باندي طلاق نه واقع کیږي .

"قال العلامهة الحصكفی رحمه اللّٰه تعالی علم انه حلف ولم يدر بطلاق او غيره ـ لغا كما لو شك اطلق ام لا (الدر المختار علی هامش رد المحتار / ج: ٢ / ص: ٤٩٢ ، باب طلاق غير مدخول بها)

قال العلامة ابن عابدين رحمه اللّٰه تعالی: سئل فی الرجل اذا شك انه طلق امرأته ام لا فهل لا يقع عليه الطلاق ـ الجواب: نعم لا يقع الطلاق " (تنقيح الحامدية / ج: ١ / ص: ٣٧ ـ كتاب الطلاق)

سوال:......

كه چيري يو سړي د يوې وجهي په خاطر و خپل پلار ته اذن د نكاح وركړ بيا د دې سړي دغه اجازت او خبره هېره سوې وه نو كوم وخت چي پلار د دې زوی دپاره نكاح وكړه نو بيا دغه زوی د لاعلمي له وجهي ښځه و ښځي ته طلاق وركړ او دا يې وويل چي زما ښځه طلاقه ده نو آيا طلاق واقع سو يا نه سو واقع ؟

جواب:......

داسي سړی د غافل په حكم كي داخل دی له دې وجهي چي دده طلاق نه واقع كيږي:

" قال العلامة الحصكفی رحمه اللّٰه تعالی: او مخطئاً بان اراد التكلم بغير الطلاق فجری علی لسانه الطلاق او تلفظ به غير عالم بمعناه او غافلاً او ساهياً و بالفاظ مصحفة ايقع قضاءً فقط بخلاف الهازل واللاعب فانه يقع قضاءً ا وديانةً"(الدر المحتار علی هامش رد المحتار / ج: ٢ / ص: ٤٦١ ، كتاب الطلاق)

و قال العلامة ابن نجيم المصری رحمه اللّٰه تعالی: و افاد ان الطلاق الهازل واللاعب والمخطئ واقع كما قدمناه لكنه فی القضاء و اما فيما بينه و بين اللّٰه تعالی فلا يقع علی المخطئ ـ (البحر الرائق / ج: ٣ / ص: ٢٥٨ ، باب الطلاق ای الفاظة فی اول الصحفة ـ و مثله فی فتح القدير شرح الهداية / ج: ٣ / ص: ٣٥٢ ، كتاب الطلاق)

سوال :......

ایا د نفاس په حالت کي و ښځي ته طلاق ورکول جاز دي یا نه دي جائز . او په داسي حالت کي چي طلاق ورکړي نو بیا به یې عدت څرنګه وي؟

جواب :......

د حیض رنګه د نفاس په حالت کي طلاق ورکول که څه هم صحیح نه دي لیکن طلاق واقع کیږي . نو که چیري څوک د نفاس په حالت کي طلاق ورکړي نو د نفاس ورځي یې په عدت کي نه شماریږي بلکه مستقل د درو حیضو عدت به تېروي:

"لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: و النفاس كالحيض ـ(الدر المختار على هامش رد المحتار / ج: ۱ / ص: ٤٢٠ ، كتاب الحيض)

و قال العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالى : ولما كان المنع منه فيه لتطويل العدة عليها كان النفاس كالحيض۔ (البحر الرائق / ج: ۳ / ص: ۲٤۳ ، كتاب الطلاق ـ ومثله في الهندية / ج: ۱ / ص: ۳٤۸ ، كتاب الطلاق ، مطلب تفسير الطلاقه و ركنه و شرطه)"

سوال :......

که چیري یو سړی و خپلي ښځي ته په لاس سره اشاره وکړه او طلاق یې ورکړ او په ژبه سره هیڅ نه وواېي نو آیا خالص په اشاره سره طلاق واقع کیږي یا نه واقع کیږي .

جواب :......

په اشاره سره هغه وخت طلاق واقع کیږي کوم وخت چي انسان په خبرو کولو باندي قدرت نه لري او که څوک په خبرو کولو باندي قدرت لري او ددې قدرت باوجود دی خالص په اشاره سره طلاق ورکړي نو دا طلاق نه واقع کیږي:

"لما فی الهندية : ويقع طلاق الاخرس بالاشارة۔(الفتاوى الهندية / ج: ١ / ص: ٣٥٤ ، كتاب الطلاق ، الباب الثانی ، فصل فيمن يقع طلاقه و فيمن لا يقع طلاقه)

قال الحصكفی رحمه الله تعالى ويقع طلاق الاخرش بالاشارة يريد به الذی ولد و هو اخرش او طرأ عليه ذلك و دام حتى صارت اشارته مفهومة و الا لم تعتبر۔ (الدر المختار على هامش رد المحتار / ج: ٣ / ص: ٢٣٩ ، كتاب الطلاق ، مطلب فی الحشيشة والافيون والبنج۔ و مثله فی الخانية على هامش الهندية / ج: ١ / ص: ٤٧٢ ، كتاب الطلاق ، فصل فی الطلاق بالكتابة)"

سوال :...... زيد د خپلو بچيانو سره ټوقي او خبري او مزاح كوي، په دې دوران كي زيد وويل چي ستاسو مور طلاقه ده او حال دا چي د زيد بالكلية د طلاق وركولو هيڅ اراده او قصد نسته، نو آيا په دې وينا سره د زيد ښځه طلاقه سوه يا نه سوه طلاقه ؟

جواب :...... د صريح طلاق په الفاظو كي د نيت او ارادې هيڅ ضرورت نسته . د نه ارادې باوجود په مسخرو او ټوقو سره هم طلاق واقع كيږي . نو په صورت مسئوله كي يو طلاق واقع سو، ځكه چي په دې كي د عدد ذكر نسته . او كه چيري يو چا په داسي حالت كي درې طلاقه وركړل نو منكوحه مطلقه مغلظه سوه:

"لما قال العلامة الحصكفی رحمه الله تعالى و يقع طلاق كل زوج عاقل ...... و لو هازلاً (الدر المختار على هامش رد المحتار / ج: ٢ / ص: ٤٥٩ ، كتاب الطلاق ، مطلب فی المسائل التی يقع مع الاكراه)

قال ابن نجيم رحمه الله تعالى : و لم يشترط ان يكون جاراً فيقع طلاق الهازل به واللاعب للحديث المعروف ـ ثلاث جدهن جدٌ و هزلهن جدٌ الح۔ (البحر الرائق / ج: ٣ / ص: ٢٤٤ ، كتاب الطلاق ، تحت قوله و يقع طلاق كل زوج عاقل بالغ ـ ومثله فی فتح القدير / ج: ٣ / ص: ٣٤٤ ، كتاب الطلاق ، فصل

فی ایقاع الطلاق)"

سوال :......

کـه چیـري یو سړی د درواغو قسم واخلي او داسي ووایي که به زه د فلاني کار په حق کي درواغ وایم او رښتیا به نه وایم نو زما ښځه دي پر ما طلاق وي . او بیـا وروستـه مـعـلـومـه سـوه چـي ده درواغ ویلي وو او هغـه کـار ذده د قسم اخیستـلـو مخکي متحقق سوی وو . نو اوس پر دغه سړي باندي ښځه طلاق کیږي یا نه؟

جواب :......

پـر دغـه سـړي بـانـدي ښځه طلاق سوه البته که چیري دغه سړي دغه الفاظ یـووار ویـلـي وو نـو یـو طـلاق واقـع سـو او کـه یـې دري واره ویلي وو نو دري طلاقه واقع سول:

"لـما فی الهندیة : و اما الحلف بالطلاق والعتاق و ما اشبه ذلك فما یكون علی امر فـی الـمستقبل فهـو كـالیـمیـن الـمعقودة و ما یكون علی امر فی الماضی فلا یتحقق اللغو والغموس و لكن إذا كان یعلم خلاف ذلك او لا یعلم فالطلاق واقع۔(الفتاوی الهندیة / ج: ۲ / ص: ۵۲ ، كتاب الایمان ، فی الباب الاول)

قال العلامة التمرتاشی رحمه الله تعالی : ان حلف علی كاذب عمداً كو الله ما فعلت كذا عالماً بفعله ...... و یأثم بها فتلزمه التوبة۔

و ثانیها لغـو : و قال العلامة الحصكفی رحمه الله تعالی تحت هذا القول : لا مؤاخذة فیها الا فی ثلاث طلاق و عتاق ونذر اشباه ۔(تنویر الابصار علی هامش رد الـمختار / ج: ۳ / ص: ۵۱ ، كتاب الایمان ، مطلب فی حكم الحلف بغیره تعالـی ۔ و مثلـه فـی الـفتاوی البزازیة علی هامش الهندیة / ج: ٤ / ص: ۲٦۵ ، كتاب الایمان ، فی الفصل الاول)"

سوال :......

که چیـري یـو سړي په طلاق نامه باندي د لاعلمي په حالت کي دستخط وکړ نو په دې سره طلاق واقع کيږي يا نه واقع کيږي؟

جـواب :...... پـه طـلاق بـالـكـتـابـة کي نيت او اراده ضروري ده نو لـه دې وجهي څخـه پـه طـلاق نـامـه بـانـدي د لاعـلـمي په صورت کي په دستخط کولو سره طلاق نه واقع کيږي:

"لـمـا فـي الهندية : كل كتاب لم يكتبه بخطه و لم يمله بنفسه لا يقع به الطلاق إذا لـم يـقـرانـه كـتـابـة۔ (الـفـتاوى الهندية ج ١ / ص: ٣٧٩ ، كتاب الطلاق ، الفصل السادس في الطلاق بالكتابة)

و قـال الـعـلامة ابـن عـابـدين رحمه الله تعالى : كل كتاب لم يكتبه بخطه و لم يـعـمـلـه بـنفسه لا يقع الطلاق ما لم يقرانه كتابه۔ (رد المحتار / ج: ٢ / ص: ٤٦٥ ، كتاب الطلاق مطلب في الطلاق بالكتابة ۔ ومثله في التاتارخانية / ج: ٤ / ص: ٤٨٠ ، كتاب الطلاق ، ايقاع الطلاق بالكتاب)"

سـوال :......

جنـاب مـفـتـي صـاحب سر سام يوداسي بيماري ده چي په دغـه بيماري کي پر مـريـض بـانـدي داسي کيفت طاري کيږي چي بيا د مريض څخه داسي حرکات صـادريـږي څـرنـګـه چي د لېـونيـانو څخه صادريږي نو که چيري ددغه مرض مبتلا انسان و خپلي ښځي ته طلاق ورکړي نو طلاق واقع کيږي يا نه؟

جواب :......

د سـرسـام زده انسـان د افـعـال او د اعـمـال حـکـم د مجنون او د معتوه رنګه دی ددغـه انسـان طـلاق پـه اتـفـاق د عـلـماؤ سره نه واقع کيږي . نو لهذا که چيري څـوک پـه داسـي حـالـت کـي طـلاق و زوجي ته ورکړي نو زوجه يې مطلقه نه کړځي:

" قال العلامة الـكـاسـانـي رحـمـه الله تعالى: فمنها ان يكون عاقلاً حقيقةً او

تقديراً فلا يقع طلاق المجنون والصبي الذى لا يعقل ، لأن العقل شرط اهلية التصرف لأن به يعرف كون التصرف مصلحة۔(بدائع الصنائع / ج: ٣ / ص: ٩٩، فصل شرائط الركن)

قال العلامة ابن الهمام رحمه الله تعالى : قوله لا يقع طلاق الصبى و ان كان يعقل والمجنون والنائم والمعتوه كالمجنون ...... لكن معلوم من كليات الشريعة التصرفات لا تنفذ الا ممن له اهلية التصرف ۔ و ادرنا ها بالعقل والبلوغ "(فتح القدير / ج: ٣ / ص: ٣٤٣ ، فصل و يقع طلاق كل زوج الخ۔ و مثله فى رد المحتار / ج: ٢ / ص: ٤٦٢ ، كتاب الطلاق ، مطلب تعريف السكرات)۔

سوال :......

زيد د خوب په حالت كي د خپلي ښځي نوم واخيستی او ويې ويل چي هنده طلاقه ده طلاقه ده طلاقه ده، نو آيا په دې وينا سره پر زيد باندي ښځه طلاقه سوه يا نه سوه طلاقه؟

جواب :...... د خوب په حالت كي پر انسان باندي داسي حالت وي چي ده ته د هيڅ شي علم نه وي او نه په دې پوهيږي چي دی څه وايي نو له دې وجهي څخه دا انسان شرعاً معذور بلل كېدای سي او دده ورکول سوی طلاق لغوه دی نو لهذا د زيد منكوحه نه سوه طلاقه:

"قال العلامة ابو بكر الكاسانى رحمه الله تعالى : و منها ان لا يكون معتوهاً و لا مدهوشاً و لا مبرسماً و لا مغمى عليه و لا نائماً فلا يقع طلاق هؤلاء ما قلنا فى المجنون۔(بدائع الصنائع / ج: ٣ / ص: ١٠٠ ، فصل شرائط الركن)

قال العلامة الحصكفى رحمه الله تعالى لا يقع طلاق المولى على امرأة عبده والصبى والمعتوه من العتة و هو اختلال فى العقل والمبرسم من البرسام والمغمى عليه ۔(رد المختار على هامش رد المحتار / ج: ٢ / ص: ٤٦٢ ، كتاب الطلاق۔ و مثله فى فتح القدير / ج: ٣ / ص: ٣٤٣ ، فصل و يقع طلاق كل زوج)

سـوال :......

دیـو سـړي دوې ښـځې دي نو ده و خپلو دواړو ښځو ته وویل چې په تاسو کې یوه طلاقه ده نو په دې سره کومه ښځه مطلقه متصور کیږي؟

جواب :......

د طـلاق وقـوع یـقیـنـي ده لیـکـن د تعیین اختیار خاوند ته حاصل دی چې په دواړو ښځو کې کومه یوه یې خوښه سي مطلقه دي وبولي:

" قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى ولو قال امرأتي طالق ، وله امرأتان او ثلاث تـطـلـق واحـدة منهن ، وله خيار التعيين.(الدر المختار على هامش رد المحتار / ج: ٢ / ص: ٤٩٧ ، كتاب الطلاق غير المدخول بها ، مطلب فيما لو قال امرأته طالق وله امرأتان او اكثر تطلق واحدة)

وفـي الهـنديـة : ولو قال امرأته طالق وله امرأتان كلتا هما معروفتان كان له أن يـصرف الـطـلاق إلـى أيتهمـا شـاء(الفتاوى الهندية / ج: ١ / ص: ٣٥٨ ، كتاب الطلاق ، الباب الثاني في ايقاع الطلاق ، فصل الاول في الطلاق الصريح. ومثله في خلاصة الفتاوى / ج: ٢ / ص: ٧٩ ، كتاب الطلاق ، فصل اول جنس آخر)"



سـوال :......

یـو سـړي خپـلـي ښـځې تـه درې طلاقه ورکړه او بیا یو ښار ته سفر وکړ او په هغه سفر کې پسې مړ سو ، اوس یې ښځې دعوه د میراث وکړه چې زه میراث اخیستلی سم ، آیا دا ښځه به اوس شاهدان دروي د خپل طلاق لپاره او کنه؟

جواب :...... "اذا أثبت وارث الـزوج طلاق الزوجة ثلاثا حال صحة الزوج لايكون لهـا مـيراث ولـو مـات فـي عـدتها ."(فتاوى المهدية / ج: ١ / ص: ١٥٢ ، ماده ١٢٦٥)

کـه چیري ثابت سو طلاق په شاهدانو سره په حالت د جوړتیا کې بیا میرث

نه سي وړاى .

ســوال :......

ديو سړي له سامان ځخه يوشی ورک سو نو دې سړي قسم واخيست په طلاق ثـلاثـه سره چې هغه شی دغي ښځي وړی دی معتمداً چې و يې کتل هغه شی د ښـځـي پــه سـامـان کـي د خـوابـنـي پــه کـور کـي پـيدا کـئ نو اوس طلاق واقع کيږي که يا؟

جواب :......

" لا يقع الطلاق على الرجل المذكور حيث لم يتحقق شرعاً عدم اخذها للمتاع المذكور والله تعالى اعلم"(فتاوى المهديه /ج: ١ / ص: ١٥٥ ، ماده ١٢٦٥)

نـو پـه دې سـره طلاق نه واقع کيږي پر دې سړي باندي ځکه چې په حقيقت کي دا ښځي دا شی نه دی اخيستی .

ســوال :......

يـو سـړي طلاق کړه د زوی ښځه په ساقطولو د مهر سره په وکيل د زوی سره او ده لره شاهدان هم وو ، تشهد له بالتوکيل بيا وروستـه له ډيري مودې منکر سو ، وکيل د زوی ، فهل لا يجاب لذلک و يقع الطلاق؟

جواب :......

"اذا ثبت تـوكيل الابـن أباه فـى طلاقـه زوجته و طلقها الاب وقع الطلاق و لا عبــــرة بانكار الابن التوكيل بعد ثبوته شرعا۔"(فتاوى مهديه / ج: ١ / ص: ١٥٥ ، ماده ١٢٦٥)

ســوال :......

يـوې ښـځـي وکـالـت ورکـئ يـو وکـيـل تـه په طلاق غوښتلو کي له مېړه ځخه وکيل طلب د طلاق وکئ مېړه ورتـه وويل : التزم ، وکـيـل وويل: التزمت ، شی يـې نـه کـئ مـعلـوم او نه يې و بل چا تـه معلوم کئ نو مېړه طلاق ورکئ ، بائنه

سوه له مېړه څخه، نه خلاصېږي، مېړه له صِداق څخه او مجبور کولی سي په صداق ورکولو سره و ښځي ته، اعتبار نسته و قول د وکیل ته چي دی وايي التزمت ځکه دا الفاظ مجهول دي؟

جواب :......

"یؤمر الروج بدفع مابذمته من الصداق لزوجته و لا یبرء عنه بمجرد ما ذکر۔"(فتاوی مهدیة / ج:١ / ص:١٥٦ ۔ ماده ١٢٦٥)

امر کوي به مېړه په ورکولو سره و ښځي ته په هغه صداق سره چي دده پر ذمه وو . نه خلاصېږي په هغه الفاظو مجهولو سره شرعاً .

سوال :......

یو سړي خپلي ښځي ته وویل چي : علی الطلاق الثلاثة چي ته زما څخه خلاص يې په داسي الفاظو سره څه شي واقع کیږي آیا طلاق واقع سو که نه؟

جواب :......

"یقع واحدة کما أفاده العلامة الطوری فی فتاواه حیث سئل عن رجل قال لزوجته علی الطلاق الثلاث انت طالق واحدة ما ذا یقع علیه فاجاب بانه یقع واحدة فقط لانه حلف بطلاق امرأته انه طلقها واحدة قال فی البحور روی عن فی رجل قال لامرئة انت طالق لودخلت الدار لطلقتك فهذا رجل حلف بطلاق امرأته لیطلقها ان دخلت الدار فاذا دخلت الدار لزمه ان یطلقها ولایقع الا بمت احدهما کقوله ان لم اٰت البصرة اهـ۔ من باب التعلیق اهـ، و مثله فی تنقیح الحامدیة والکل من کتاب الطلاق و اللّٰه تعالی اعلم۔ (فتاوی مهدیه / ج:١ / ص: ١٥٩ ۔ ماده ١٢٦٥"

فقط یو طلاق واقع کیږي .

سوال :......

یو سړي خپلي ښځي ته طلاق ورکړی رجعي طلاق چي دا حامله وه وروسته

سړی وفات سو د دې د عدې تر پوره کېدلو دمخه او بله ښځه چي د ده په ساتنه کي اوس معتده ښځه له هغي ښځي سره چي د سړي په ساتنه کي وه میراث وړای سي او کنه؟

جواب:......

"نعم للمعتدةمن الطلاق الرجعی الارث من زوجها إذا مات و هی فیها ـ"(فتاوی مهدیه / ص: ۱٦۰ / ج: ۱ ماده ۱۲٦۵)

معتده ښځي لره میراث سته چي مېړه يې مړ سي او دا په عده کي وي .

سوال:......

يو سړي خپلي ښځي ته وویل که تا خپل تی منع کی ته طلاق يې په طلاق ثلاث سره، فبحث علی طلاق زوجة الاولی، نو که دې ښځي تی ورکی آیا پر دوهمي ښځي طلاق واقع کيږي کنه؟

جواب:......"الطلاق المعلق علی وجود شیئ لا یقع قبل حصوله"(فتاوی مهدیه / ج: ۱ / ص: ۱٦۰ ـ ماده ۱۲٦۵)

طلاق معلق نه واقع کيږي له مخه تر حصوله د هغه شي .

سوال:......

يو ښځي خلاص کړ خپل مېړه له مؤخر صِداق څخه او له نفقه د عیده څخه نو مېړه ورته وویل دې ښځي ته که زه جوړ سوم ته طلاق يې ، آیا طلاق نه واقع کيږي و الحال هذا .

جواب:......

"نفقة العدة لا یصح الابراء عنها قبل الطلاق و الطلاق المعلق علی شیئین لا یقع قبل تحققهما ـ"(فتاوی مهدیه / ج: ۱ / ص: ۱٦۱ ـ ماده ۱۲٦۵)

دمخه تر طلاق د ښځي برأت نه صحیح کيږي د نفقي څخه ځکه معلق طلاق نه واقع کيږي دمخه تر ثبوت شیئ .

سوال :......

یو سړي خپلې ښځې مدخول بها ته وویل ته طلاق یې آیا دا سړی کولای سي چي رجوع وکړي تر څو پوري چي دا ښځه په عده کي وي:

جواب :......

"حیث کانت الطلقة الاولی"

او پر دې ښځه واجب ده وروسته له رجوع څخه اطاعت د مېړه کوم وخت چي دا ښځه منکر سوه د اطاعت د مېړه نو پر مېړه واجب نه ده نفقه او جامه د دې ښځي .

"اذا وقع طلاق الزوج رجعیا و راجع زوجته بعد ه فی العدة یجب علیها طاعته فان خرجت من بیته بغیر حق فلانفقة لها ما دامت ناشزة ـ"

هر وخت چي طلاق د مېړه رجعي واقع سو او رجوع وکړه خپلې ښځي وروسته له عدې اطاعت د مېړه واجب سو پر ښځه باندي که دا ښځه بې له اجازې د مېړه له کوره ووته . بیا نفقه نسته ځکه چي دا ښځه ناشزه ده .

سوال :......یو سړي ته عوارض و مصائب پېښ سوه و دهش عقله او دی خبر نه دی چي ده څه وکړه که چیري طلاق ځیني واقع سو په داسي حالت کي طلاق نه واقع کیږي؟

جواب :......" إذا زال العقل الرجل بما ذکر و طلق فی تلک الحال لا یکون طلاقه واقعاً ـ"

که چیري د یو سړي عقل زائل سو په دا وخت ي طلاق ځیني واقع سو دا طلاق نه واقع کیږي . (فتاوی مهدیه / ص: ۱۶۲ / ج: ۱ . ماده ۱۲۶۵)

سوال :......

یو سړي خپلې ښځي ته وویل که ته داخله سوې و کور ته : فانت خالصة ، که دا ښځه داخله سوه ، فهل لا تحل له الا بعقد جدید و إذا ادعی رجل علی آخر

بشیئ و احضر الشاهد لو لم یحضر من یزکیها لا یجوز للقاض الحکم بدون التزکیهة و یکـ ـن باطلا و الحاکم جاهلا؟

جواب:......

"یقع بلفظ خالصة الطلاق البائن وقد افتی شیخ مشائخ مفتی السلطنة العلیة علی الدوام بان الحکـ ـم بالشهادت قبل تزکیتها غیر نافذ لأن الحکام لیس لهم ان یحکموا مثل هذا الاحکام کـ ـا نقل عنه فی الفتاوی الرحمیة۔"(فتاوی مهدیة / ج: ١ / ص: ١٦٦۔ ماده ١٢٦٦)

په داسي الفاظو سره طلاق بائن واقع کیږي، مفتی به قول هم دا دی .

سـوال:......

دیو سړي له خپلي ښځي سره اختلاف راغلی ښځه یې طلاق کړه په طلاق واحد سره بیا یې رجوع وکړه بیا اختلاف راغلی، معها الثانیة فقالت ان لم تطلقنی ر الا قتلت نفسی، بیا دې مېړه ورته وویل و دې ښځي ته انت طالق بمحضر جماعة من المسلمین فهل له أن یراجعها قهرا عنها؟

جواب:......

"للزوج مراجعة زوجة المذکورة بدون رضاها ما دامت فی العدة حیث لم یثبت عیه ایقاع طلاق آخر"(فتاوی مهدیه / ج: ١ / ص: ١٦٧۔ ماده ١٢٦٦)

مېړه خپلي ښځي ته رجوع کولی سي بیله رضا د ښځي تر څو پوري چي ا بحه په عده کي وي نه ثابتیږي پر دا سړي باندي طلاق أخر .

سـوال:......

یو سړي اقرار وکړ په طلاق د خپلي ښځي سره طلاق باکراه او اقرار یې وکړ پر برأت له ذمې څخه او له مهر څخه بیا منکر سو له طلاق څخه، فهل إذا شهد رجلان علی اقراره یؤخذ به و یحکم علیه بوقوع الطلاق؟

جواب:......

"اذا ثبت اقرار الرجل المذکور طائعا بانه طلق مکرها حکم علیه به "(فتاوی مهدیه / ج: ۱ / ص: ۱۶۸ ـ ماده ۱۲۶۶)

کوم وخت چي اقرار د سړي مذکور ښکاره سو دا طلاق په زور سره سوی دی نو حکم به کوي پر ..ه باندي په طلاق سره .

جواب : دا مسئله مکرره سوه: إذا ثبت اقرار الرجل المذکور طائع بانه طلق مکرها حکم علیه به . (فتاوی مهدیه / ج: ۱ / ص: ۱۷۸ . ماده ۱۲۶۶)

سوال :......

یو سړي خپله ښځه طلاق کړه په طلاق بائن سره او دا ښځه یې خلاصه کړه له حقوقو د نکاح څخه: مرتین فهل . . که چیري ر د کړ صلاق اول څخه . والثانی بتجدید العقد علیها یسوغ له ذلک و یملک طلقة بعد ذلک حیث لم یتقدم منه ما یکمل عدد الطلاق و کان حرا .

جواب :......

"للزوج تجدید النکاح بشروطه والحال هذه ـ (فتاوی مهدیه / ج: ۱ / ص: ۱۶۸ ـ ماده ۱۲۶۶)"

دا سړی به تجدید وکړي بشروطه والحال هذه .

سوال :......

یو سړي خپلي ښځي ته طلاق ثلاثه ورکړی په جوړ حالت کي او ورکړه نفقه د تولي عدې او بیا مسافر سو بیا په دا سفر کي مړ سو له مخه د پوره کېدو د عدې . باثنی عشر یوما فهل ترثه .

جواب :......

"لا میراث للمعتدة المذکورة حیث طلقها زوجها ثلاثا فی صحته "(فتاوی مهدیه / ج: ۱ / ص: ۱۶۹ ـ ماده ۱۲۶۶)

میراث نسته هغې معتدې ښځي لره ځکه چي دا مېړه طلاق کړه په طلاق

ثلاثه سره په حالت د صحت کي .

سـوال :......

یـو سړي د خپـلـي ښځـي د طـلاق واحـده رجعیـه لپاره وکیـل ونیوی نو وکیـل طـلاق ورکـړ پـه درو طـلاقو سره : و کتب لها ورقة بذلک . آیا پر وکیـل د مېړه طلاق واحد رجعي واقع کیږي او که درې طلاقه واقع کیږي؟

جواب :......

"ان کـان الـواقـع مـا ذکـر لا یـقـع الثلاث و فی وقوع الواحدة خلاف فقال الامام بعدمه و قالا تقع کما فی الدر من المشیئة"(فتاوی مهدیه / ج: ۱ / ص: ۱۷۰ ـ ماده ۱۲۶۶)

نـو دا درې سره طـلاقـو سـه نـه واقـع کـیږي، په طلاق واحد کي اختـلاف دی: فـقال الامام نه واقع کیږي لکه څنګه چي ذکر سوي دي په الدر من المشیئة کي .

سـوال :......

یـو سړي قسـم وکـړی پـه طـلاق ثـلاثـه سـره، ان عـتبة فی بیتـه الاصلی . . . شاهدان راغـلـه شاهدي یې ورکړه په دې سره چي دی په کور د همسایه کي وو آیا طلاق واقع کیږي کنه؟

جواب :......

"اذا تبین و ظهر خلاف ما حلف علیه وقع الطلاق"(فتاوی مهدیه / ج: ۱ / ص: ۱۷۰ ـ ماده ۱۲۶۶)

کوم وخت چي ښکاره سو مخالف د قسم پر ده باندي نو واقع کیږي طلاق

سـوال :......

یـو سړي خپله ښځه طلاق کړه په طلاق رجعی سره او د دې ښځي د مېړه څخه یـو رضعي زوی وو، مېړه اراده د رجوع ورته وکړه د مدت د پوره کېدلو دمخه

، ښځي منع وکړه که چیري مدة پوره سوی نه وو نو دی کولای سي چي جبراً رجوع ورته وکړي او رجوع موقوف نه ده ددې تر رضا او اجازې پوري؟

جواب :......

"للزوج مرجعتا مطلقتا رجعیا ما دامت فی العدة و لا یشترط رضاء الزوجة"

په طلاق رجعي کي د مېړه پر رجوع باندي د زوجة رضا نه ده شرط کولای سي چي رجوع وکړي . (فتاوی مهدیه / ج: ۱ / ص: ۱۷۱ ماده ۱۲٦٦)

سوال :......

یو سړي خپلي ښځي ته طلاق رجعي ورکړی د ښځي د عدې د پوره کېدو له مخه مېړه مړ سو اوس ښځه میراث له مېړه څخه وړای سي کنه؟

جواب :......

"اذا طلق الرجل زوجته طلاقاً رجعیًا و مات قبل انقضاء عدتها کان لها المیراث"

مطلقه رجعیه چي مېړه یې دعدې د پوره کېدلو دمخه مړ سي میراث وړای سي . (فتاوی مهدیه / ص: ۱۷۱ / ج: ۱ . ماده ۱۲٦٦)

سوال :......

د یو سړي له خپلي ښځي سره اختلاف راغلی نو سړي ښځه طلاق کړه وروسته بیا دا سړی مړ سو نو ښځي دا اراده وکړه چي میراث یو سي له مال د سړي څخه . د سړي وارث دعوه وکړه چي دا ښځه طلاق سوې ده په درو طلاقو سره دا مېړه په حالت د صحت کي وو او شاهدان یې هم تېر کړه . ښځي دا دعوه وکړه چي زه یې طلاق کړې یم په حالت د مرض کي او شاهدان یې نه وو ، آیا دا ښځه میراث وړای سي که یا؟

جواب :......

"حیث ثبت بالبینة الشرعیة ان الطلاق المذکور کان فی الصحة لا یکون للمرأة المذکورة حق فی میراث زوجها و الحال هذه"

کـوم وخت چې طـلاق د زوج ثـابـت سـو په حالت د صحت کې په شاهدانو سـره نو ښځه په دې وخت کې میرا نه سي وړای . (فتـاوی مهدیه / ج: ۱ / ص: ۱۷۳ . ماده ۱۲٦٦)

سـوال :......

یو سړي خپله ښځه طلاق کړه په طلاق رجعي سره په حالت د مست والي کې یعني شراب یې چیښلي وو آیا طلاق واقع کیږي که نه؟

جواب :......

"طلاق سکران واقع"

طلاق په حالت د مست والي کې واقع کیږي . (فتاوی مهدیه / ج: ۱ / ص: ۱۷۵ . ماده ۱۲٦۷)

سـوال :......

یـوسړی متهـم سـو پـه غـلا سره نو دا سړي قسم واخیست په طلاق ثـلاثـه سره چې زه نـه پـه دا کـور کې وم او نه زه پـه خبر یم او نه دا شی ما اخیستی دی بیا ثـابتـه سـوه پـه شـاهـدانـو سـره چې داسـړی پـه دا کور کې وو او لـه دا کور څخه ووتی، آیا طلاق واقع کیږي که نه؟ والحال هذه .

جواب :......

"اذا وجد ماعلق علیه وقوع الطلاق الثلاثة وقع و الا فلا."

کـه مـوجـود سو هغه شی چې معلق وو طلاق ثـلاثـه ترهغه پوري بیا طلاق واقـع کیـږي کـه موجود نه وو بیا نه واقع کیږي . (فتاوی مهدیه / ج: ۱ / ص: ۱۷٦ . ماده ۱۲٦۷) .

سـوال :......

یـو سړی پـه مشتـرک کـور کې اوسېدی یعني مور او خور یې هم پـه دا کـور کې اوسېـدل . پـه داکور کې ډیري دروازې وې د سړي اختلاف راغلی لـه مور سره،

دا سړی قسم واخیست په طلاق ثلاثه سره که زه دغه دروازه خلاصه کړم . که چیري یو چا په دا مشترکه کور کي دروازه خلاصه کړه آیا پر دا سړي باندي طلاق واقع کیږي که نه؟

جواب :......

"في رجل له زوجتان ساكن بهما في بيت مشترك بينه و بين اخوته و امهم و للبيت ابواب متعددة فتشاجر مع امه من خصوص فتح باب من ابوابه و قال على الطلاق الثلاث اني لا افتح هذا الباب فهل إذا فتحه باقي الشركاء في البيت المذكور في غيبته و لم يفتحه هو لا يقع عليه الطلاق الثلاث حيث لم يفتحه هو بنفسه و لم يأمر بفتحه"

که چیري وه هغه واقع چي هغه مسطور وه نو طلاق نه واقع کیږي .

(فتاوی مهدیه / ج: ۱ / ص: ۱۷۷، ماده ۱۲۶۷)

سوال :......

یو سړي ته سخت مرض ورسیدی او په دا مرض کي يې خپله ښځه طلاق ثلاثه ورکړ، له وجهي د تیښتي له میراث څخه چي دا ښځه میراث یو نه سي، آیا که دا سړی مړ سو له مخه د عدې د پوره کېدو څخه دا ښځه میراث ورای سي کنه؟

جواب :......

"لو ابان المريض مرض الموت زوجته و هي من أهل الميراث طائعا بلا سوالها و مات فيه و هي في العدة و ورثت منه"

په داسي حالت کي دا ښځه نه سي منع کولای له میراث څخه، میراث ورای سي الخ . (فتاوی مهدیه / ج: ۱ / ص: ۱۷۹، ماده ۱۲۶۷)

سوال :......

دیو سړي له خپلي مور سره جنجال راغلی چي د سړي ښځي غلا کړې ده نو دا

سړي قسـم واخيسـت پـه درې طـلاقـه سـره چې دا ښځه به د ده په سرای کې نه کښېني، نو دا ښځه له سرای څخه ووته بيا څه وخت بعد بيرته راغله د مېړه کور ته، آيا پر دې ښځه درې طلاقه واقع کيږي او کنه؟

جواب:......

"حيث علق الزوج الطلاق على قعود زوجته في داره و وجد المعلق عليه و وقع و لا تحل له حتى تنكح زوجات غيره إذا كان مكملا لثلاث كما هو مذكور۔"

مېړه د طـلاق تـعلق تر قعود پوري ورکړی هغه معلق عليـه موجود سو نو طلاق واقع سو بې له زوج آخر نه روا کيږي . (ص ١٨٠ / ج: ١، ماده ١٢٨٧)

سـوال:......

يـو سړی مـريض سو بيا ولاړی په سفر باندي، له حجاز څخه ، کوم وخت چي دی ولاړی نـو مـرض ډېر زيـات سـو و داسـي حـالـت تـه ورسېدی چي عقل يې غـائـب سـو، پـه ځان نـه پـوهېدی حج ته يې ښکنځل کول، زوی ته يې کول، قريبانو ته يې کول آيا په دې وخت کي که طلاق واچوي واقع کيږي که يا؟

جواب:......

"اذا تحقق أن الطلاق المذكور كان في حال غبة العقل بسبب المرض لا يكون واقعاً"

کوم وخت چي عقل ولاړی په سبب د مرض سره نو طلاق د دا سړي نه واقع کيږي . (فتاوى مهديه / ج: ١ / ص: ١٨۴، ماده ١٢٦٨)

سـوال:......

د يـو سـړي جـنـجال راغلی له خپلي ښځي سره په سبب د څيښلو د شرابو نو دا سـړي قسـم واخيسـت پـه طـلاق ثـلاثـه سره چي زه بـه بـيـا شـراب نـه څيښم، وروسـتـه لـه يـو څـه وختـه بيا دوهم پلا يې بيا وڅيښل بيا جنجال راغلی، بيا يې خپله ښځه طلاق کړه، په طلاق ثلاثه سره په محضر د يو جماعت کي، آيا

طلاق واقع کیږي که نه؟
جواب:......
" نعم یقضی علی الرجل المذکور بالطلاق الثلاث بعد ثبوته علیه بالوجه الشرعی ولا تحل له زوجته والحال هذه الا بعد زوج آخر و طلاق المکره عندنا واقع"
په دې صورت کې طلاق واقع کیږي وروسته له ثبوته شرعي، دا ښځه نه ده روا او ده ته تر څو چې زوج آخر یې نه وي په نکاح کړی. (فتاوی مهدیه / ج: ۱ / ص: ۱۸۷، ماده ۱۲٦۸)
سوال:......
یو سړي قسم وکړ په دوو معلومو خلکو باندې په درې طلاقه سره چې زه به نه اوسیږم له دغه دوو نفرو سره، په یو منزل کې، که چیې دا سړي و اوسېدی له یوه له دا دوو نفرو څخه په منزل کې نو پر ده باندې درې طلاقه واقع کیږي که نه، او سره ددې چې د ده چاره نسته ددې سره د سکونت بغیر؟
جواب:......
"الطلاق المعلق علی شیئین لا یقع بوجود احدهما"
تر دوو شیانو معلق طلاق په وجود د یو شي سره نه واقع کیږي. (فتاوی مهدیه / ص: ۱۸۸ / ج: ۱ ماده ۱۲٦۸)
سوال:......
یو ښځې دعوه وکړه چې دا خپل مېړه طلاقه کړې ده نو د بل مېړه سره یې نکاح وکړه، مېړه یې حاضر سو او انکار یې وکړی چې ده نه ده طلاقه کړې، که چیري دا ښځې دعوه ثابته نه کړه په شاهدانو سره نو عقد ثاني باطل سو او قول د مېړه معتبر دی سره له یمین، نو دا پاته ده پر ساتني د زوج او دا زوج ثاني به جلا کوي؟
جواب:......

"حیث ثبت النكاح الزوج اول لا یكون النكاح الثانی صحیحاً الا إذا ثبت طلاق الزوج الاول و كان العقد الثانی بعد وفاء العدة"

كه چیري نكاح د زوج اول ثابته سوه نو دویمه نكاح د زوج ثاني سره نه ده صحیح، او كه چیري د زوج اول طلاق ثابت سو او د عدې د پوره كېدو وروسته نكاح د زوج ثاني سره صحیح ده. (فتاوی مهدیه / ص:۱۸۹ / ج: ۱، ماده ۱۲٦۸)

سوال:......

دیو سړي له خپلي ښځي سره جنجال راغلی ښځه یې وو هله بیا د ښځي كورني راغله له سړي څخه یې پوښتنه وكړه چي ولي دي وو هله؟ سړي ور ته وویل چي دې ښځي ماته ښكنځل وكړه بیا یې قسم وكړ په طلاق ثلاثه سره، چي دې ښځي ښكنځل وكړه، ښځي انكار وكړ چي ما ښكنځل نه دي كړي، آیا طلاق واقع كیږي كنه؟

جواب:......

" نعم لا یقع الطلاق المذكور والحال هذه والقول للزوج بیمینه فی ذلك ـ"

طلاق نه واقع كیږي په حالت مذكور كي او قول د مېړه معتبر ده سره له قسمه. (فتاوی مهدیه / ج:۱ / ص:۱۹۰، ماده ۱۲٦۸)

سوال:......

یو سړی مریض سو په مرض موت سره، بیا د دې مریض اشتها وسوه و مېوې ته، ده د خپلي ښځي څخه طلب وكړ د مېوې او ښځه یې و استوله د مېوې راوړلو لپاره، ښځي مېوه پخپل ښار كي نه كړه پیدا بل ښار ته یې واستوله د راوړلو لپاره زوج (مېړه) دویم وار طلب وكړی نو ښځي ور ته وویل چي نسته زوج ور ته وویل چي كه چیري تا رانه وړه نو ته په درې طلاقه سره طلاقه یې او یوې تږلۍ دې ته خبر وركړی چي دا خلاصه ده نو زوج مړ سو په

دغه ورځ باندي چي دې میوه راوړه د هغه ښار څخه چي زوج استولې وه نو څنګه سو تعلیق او شرط په مرض موت کي، دا د مېړه څخه میراث وړای سي او کنه؟

جواب:......

"اذا طلق الرجل زوجته فی مرض موته طلاقاً بائناً لا بسوالها و مات و هی فی عدته و کان لها المیراث"(فتاوی مهدیه / ص: ١٩٠ / ج: ١ ، ماده ١٢٦٩)

په عده کي د طلاق بائن میراث وړای سي .

ســوال:......

یو سړي قسم وکړی و خپلي خور ته په طلاق سره، که ته د فلانکي و کور ته داخله سوې یعني نه به داخلېږې په حضور کي د یو سړي او د دوو ښځو، وروسته بیا د ده خور داخله سوه و هغه کور ته چي ده قسم ورکړی وو نو که ثابت سو دا قسم سره له شاهدانو شرعي، نو که انکار وکړ دې سړي د طلاق څخه و دې انکار ته اعتبار نسته، طلاق واقع کیږي؟

جواب:......

" لا عبرة لانکار الزوج الطلاق بعد ثبوته علیه بالوجه الشرعی"

پــه دې مسئلــه کي د سړي طلاق واقع کیږي . د ده انکار تــه اعتبار نسته . (فتاوی مهدیه / ج: ١ / ص: ١٩٠)

ســوال:......

یو سړي جمع والی وکړ د طلاق ثلاثه په لفظ . ورته وویل خپلي ښځي ته: روحي، ته طلاق یې په طلاق ثلاثه سره، آیا واقع کیږي؟ په یوه واري سره نه ده روا دا ښځه دغه سړي ته تر څو چي بل سړي نه وي نکا ح کړې؟

جواب:......

"نعم یقع علیه الطلاق الثلاث ولا تحل له حتی تنکح زوجا غیره والحال هذه - و

الله تعالى اعلم"

طلاق ثلاثه واقع كيږي دا ښځه نه ده روا ده ته ترڅو چي يې بل مېړه په نكاح كړي . (فتاوى مهديه / ج:١ / ص:١٩٩، ماده ١٢٧٠)

سوال:......

يوه ښځه وته له اطاعت د مېړه څخه، امكان د راوستلو يې نه وو و محل د اطاعت ته نو دا ښځي اراده وكړه د طلاق غوښتلو له مېړه څخه، دا مېړه يې منع وكړه له طلاق څخه تر څو تفتدى منه او حال دا ده نه ده ثابته پر مېړه باندي ضرر رسول و دا ښځي ته . و الحال هذه . نو دا زوج به نه مجبور كوي پر طلاق وركولو باندي؟

جواب:......

"نعم لا يجبر الزوج المذكور على طلاق زوجته و عليه معاشرتها بالمعروف عليها طاعته "

مېړه نه سي مجبوره كولاى پر طلاق باندي و خپلي زوجي ته دى به ښه په نېكه طريقه سره ژوند كوي او ښځه به يې اطاعت او فرمانبرداري كوي . (فتاوى مهديه / ج:١ / ص:١٩٩ . ماده ١٢٠٧)

سوال:......

يوې ښځي د شيخ البلد څخه دمېړه د طلاق مطالبه وكړه چي د دې مېړه دي دا طلاقه كړي نو زوج منع وكړه او شيخ البلد تشدد (سختي) پر وكړه او اراده يې وكړه چي دى د خپل خادم سره و حاكم ته واستوئ نو مېړه وبېرېدى او و يې ويل چي دا طلاقه ده انشاء الله تعالى يې و وايه متصلا نو دا ښځه طلاقيږي او كه نه؟

جواب:......

"نعم لا يقع عليه الطلاق المعلق على المشيئة مع الاتصال ما لم يتحقق خلاف ما

ذکر بالطریق الشرعی"

که چیـري طـلاق مـعـلـق وي تـر مشیت (انشاء الله متصلًا) پوري طلاق نه واقـع کیـږي تـرڅـو د دا ذکـر سـوي شـرعي طریقې خلاف ثابت نه ي . (فتاوی مهدیه / ص: ۲۰۰ / ج: ۱ . ماده ۱۲۷۰)

سـوال :......

یـو سـړي خپـلـه ښـځـه طـلاقـه کـړه په طلاق ثلاثـه سره په حالت د صحت او د جـوړوالـي کـي وروسـتـه بیا له ښځلسـو ورځو دا سړی مریض او مړسو . "عن ورثة و عن مطلقة المذکورة و ترك ما یورث عنه شرعاً فهل والحال هذه"

هـر وخـت چـي ثـابـت سـو طـلاق بـائن له مړه ښخه دی جوړ وو په شاهدانو شـرعـیـه وو سره نو میراث نه سي وړای دا زوجه مطلقه له میراث ښخه حصه . ؟

جواب :......

"اذا تحقق بالوجه الشرعی أن الطلاق الثلاث صدرمن الزوج حال صحیح ثم مرض و مات لا ترث المرأة منه و لو مات فی عدتها ـ و الله اعلم"

هـر وخـت چـي ثابت سوپه وجه شرعیي سره دا طلاق ثلاثـه له زوج ښخه په حـالـت د صحت کي بیا مریض سو او مړ سو نو دا ښځه میراث نه سي وړای له میـت ښـخـه کـه ښه هم په عده کي وي . (فتاوی مهدیه / ج: ۱ / ص: ۲۰۱ . ماده ۱۲۷۰)

سـوال :......

یـو سړي خپلي ښځي ته وویل که چیري دا غلا سوی شی ستا سره ښکاره سو نـو تـه طـلاق یـې په طلاق ثلاثه سره نو دا غلا سوی شی ښکاره سو د دا ښځي له وروړ سره نه له دا ښځي سره، آیا طلاق واقع کیږي که نه؟

جواب :......

”اذا لم یتحقق وجود ماعلق علیه الطلاق لا یقع“
تـر څـو پوري چي دا غلا سوی شي ثابت سوی نه وي له دا ښځي سره طلاق نه واقع کیږی . (فتاوی مهدیه / ج: ۱ / ص: ۲۰۲ . ماده ۱۲۷۱)

سـوال :......
یو سړي خپله ښځه طلاق کړه نو دا ښځي نکا ح وکړه وروسته له عدې څخه لـه بـل مېړه سره، وروستـه لـه یـو څه مودې بیا دا اول مېړه منکر سوله طلاق څـخه نو دعوه یې شروع کړه، دا ښځه پر خپـل حالت باندي پاتـه ده که دا ښځي لـره شاهـدان وو او شـاهـدي یې ورکـړه پـر دې بـاندي چي دا ښځي وروسته له عـدې تیـرېـدو څـخه تزوج کړی دی له زوج آخر سره نو اعـتبار نشـتـه و انکار د زوج اول ته .

جواب :......
”نـعم إذا ثبـت الـطلاق بـالـوجـه الشرعی وکان تزوجها بعد انقضاء العدة من غیر مراجعة مـن الـزوج الاول لا عبـرة بـانکاره و یصح النکاح الثانی حیث استوفی شرائطه ـ“
نو کوم وخت چي ثابت سو طلاق په وجه شرعي سره چي نکا ح د ښځي ده ، وروستـه تـر عـدې تیـرېـدو نو انکار د زوج اول ته اعـتبار نشـتـه . نکا ح ثاني صحیح سوه . (فتاوی مهدیه / ج: ۱ / ص: ۲۰۲ . ماده ۱۲۷۱)

سـوال :......
یو سړي خپـله ښځه طلاق کړه په طلاق رجعیـه سره، و دفع لها ما لها له حقوق زوجیة ، بیا دا زوج مړ سو لـه مخه د تر پوره کېدو د عدې د دا ښځي . عن ابیها و امهـا فـقـط . آیا دا ښـځـه وړای سـي لـه میراث څخه او دا طلاق رجعیـه خو دا ښځه نسي منع کولای له میراث څخه؟

جواب :......

"الطلاق الرجعی لا تخرج المرأة عن الزوجية قبل انقضاء العدة فاذا ماتت وهی فی العدة ورثها الزوج ما لم يثبت عليه البائن بطريق شرعی" .

په طلاق رجعیه ښځه نه وزي لـه زوجیت څخه له مخه تر پوره کېدو د عدې تـر څو پوري چي ثـابـت سوی نه وي طلاق بـائن پـه طـریقـه شرعـی سره . (فتاوی مهديه / ج: ۱ / ص:۲۰۲، ماده ۱۲۷۱)

سـوال :......

يـو سړي خپلي ښځي ته قسم ورکړی په طلاق سره په مابين د جمعه کي چي تـه به نه ځې د خپل پلار کره په دغه جمعه کي نو دا ښځي دغه جمعه تېره کړه د زوج پـه كـور كـي دا بـلـه جـمـعـه بيا دا ښځه ولاړه د پلار کره په شپه د هفتې کي وروسته له اذان د ماښامه، آيا طلاق واقع كيږي كنه ؟

جواب :......

"اليمين إذا كان على المنع من الذهاب فی جمعة معينة وكان ابتداء الحلف فی اثناء هذه الجمعة انصرفت إلى ما بقى من تلك الجمعة فاذا لم يتحقق ذهابها انصرف اليمين اليه بل ذهبت بعد ذلك لا يحنث الزوج و الا حنث ـ"

قـسـم په دغه جمعه کي وو د جمعې په سر کي او دا غه جمعه تېره سوه دا نه ولاړه د پلار کره نو بيا طلاق نه واقع كيږي وروسته تر جمعې پروا نلري .

سـوال :......

يـو سـړي زيد پـه بل سړي عمر باندي دعوه وکړه چي ده زما څخه غلا کړې وه، هغـه سـړی عمر (مدعی علیه) منكر سو نو وروسته د زيد د عجز له شاهدانو څـخـه د عـمـر څخه يې طلب د قسم شرعي وكړی نو اودس يې وكړی او د قسم لپاره يې عرض ورته وكړی نو عمر منع وكړه او طلب يې ځيني وكړی چي ته قسم واخلـه پـه طلاق سره ده قسم وكړی په طلاق سره چي ما نه دی اخيستی نو ښځـي د عـمـر دعوه وكړه چي ده (عمر) اخيستی دی نو د عمر ښځي څخه

طلب وکړی د قسم چي تـه قسم واخله چي ما اخيستی دی نو ښځي شرعي قسم واخيست، فما الحكم فی ذلک؟

جواب :......

"ان أقر الزوج بأخذه ما ذكر أو قامت عليه بينه بذلك يحكم عليه بالطلاق والا فلا ـ"

که چيري عمر په اخيستلو سره اقرار وکړي يا ښځي پر عمر باندي شاهدان تېر کړي نو بياحکم د طلاق پر کيږي . که چيري اقرار و نه کړي او يا شاهدان پيش نـه سول طلاق نـه واقع کيږي .فتاوی مهديه / ج: ۱ / ص: ۲۰۴، ماده ۱۲۷۲)

سـوال :......

يـو سړی مريض سو په سخت مرض سره نو ښځه يې طلاق کړه په طلاق واحد سره او ښځي تـه يې ورکړه مؤخر د صداق او نفقه د عدې اودی وو په حالت د مـرض کي، وروستـه بيـا لـه درو شپـو څخـه دا سړی مړ سو لـه اولاد او لـه مـذکوري ښځي څخه، آيا دا ښځه اوس ميراث وړای سي چي هغه ثمن ده که نه سي وړای؟

جواب :......

"اذا كان الطلاق المذكور فی مرض الموت ومات الزوج فی عدتها ورثت منه سواء كان الطلاق رجعيا او بائن بغير سوالها"

کـه چيـريدا طـلاق مـذکـور په مرض موت کي وو اودا مېړه مړ سوی وو په عـده کي بيـادا ښځـه ميـراث وړای سـي بيـا کـه طـلاق رجـعـي او کـه بـائن وي . (فتاوی مهديه / ص: ۲۰٦، ماده ۱۲۷۲)

سـوال :......

يـو سړي خپـلـه مـدخول بها ښځه طلاق کړه . ثلاثا بيله سوال منها او دا سړی

مړ سو او دا ښځه په عده کي، کان الامر ما هو مسطور نو دا ښځه میراث وړای سي له ده څخه خامخا وهو صاحب فراش حتی مات من مرضه ذلک؟

جواب:......

"نعم ترث منه ان کان الواقع ما هو مسطور"

نو دا ښځه میراث وړای سي که چیري دا میړه مړ سوی وو او دا ښځه په عده کي وه. (فتاوی مهدیه / ج: ۱ / ص: ۲۱۰، ماده ۱۲۷۳)

سوال:......

یو سړي قسم وکړ په حرام سره له خپلي ښځي سره او بیا په قسم کي حانث سو، آیا په حرام سره طلاق بائن یا رجعي واقع کیږي که نه؟

جواب:......"الحرام طلاق بائن عندنا"

زموږ په مذهب کي په حرام سره طلاق بائن واقع کیږي. (فتاوی مهدیه / ج: ۱ / ص: ۲۱۰، ماده ۱۲۷۳)

سوال:......

یو ښځي طلب د طلاق وکړی له خپل میړه څخه ورته وویل: فان فعل والا نشرت و هو قائم بحقوقها الشرعیة، او میړه یې نه وو راضي، په دغه بیان سره، والحال هذه، نو هیچا ته داحق نسته چي میړه مجبور کړي په طلاق ورکولو باندي او مجبور کول د ښځي پر اطاعت د زوج باندي، تر څو پوري چي قائم په حقوق شرعیه وو وي؟

جواب:......

"نعم لا یجبر الزوج علی الطلاق ولا تقر الزوجة علی النشوز وهو الخروج عن طاعة زوجها بغیر حق اذ هو معصیة"

دا میړه به نه مجبوره کوي پر طلاق ورکولو باندي و زوجیته او دا ښځه به اقرار نه کوي پر نشوزت باندي. (فتاوی مهدیه / ج: ۱ / ص: ۱۲۱۳، ماده

(١٢٧۴)

سوال:......

يو سړي خپله ښځه طلاق کړه په طلاق واحد رجعيه سره او ورکړه يې مؤخر صداق د دا ښځي او نفقه د عدې د دا ښځي د درو مياشتو او دا وه له ذوات الحيض څخه، بيا وروسته څلو ښت شپې دا سړي رجوع ورته وکړه په حضور د شاهدانو کي، آيا دا رجوع صحيح کيږي: "حيث كانت في العدة ولم يسبق منه سوى ما ذكر وعليها طاعته حيث كان قائما بحقوقها الشرعى"

جواب:......"للزوج المطلق زوجة طلقة رجعية مراجعتها ما دامت فى العدة ولم تسبق بثنين والا فلا" (فتاوى مهديه / ج: ١ / ص: ٢١٣ ـ ماده ١٢٧٤)

سوال:......

يو سړي قسم وکړ خپلي ښځي ته په طلاق سره چي ته به نه ځې خپل کور ته بې له اجازې زما، ښځه ولاړه يوه پلا خپل کور ته د ده په اجازه نو اوس که چيري ده ښځي ته دا وويل چي زما تا ته اجازه ده هر وخت چي ځې ځه، نو اوس که چيري دا ښځه وروسته له دی قول ولاړه، آيا طلاق واقع کيږي که نه؟

جواب:......

"يشترط للبر فى مثل هذه اليمين الاذن لكل ذهاب ولو قال كلما ذهبت فقد أذنت لك سقط اذنه۔"

نو ده شرط ولګوی په دغه قسم . . . لپاره د خلاص والي د قسم د طلاق او بيا يې اذن عام ورته وکړی نو که چيري ويلي وای که هر وخت ولاړې نو ته طلاق يې بيا طلاق واقع کېدی اوس طلاق نه واقع کيږي . (فتاوی مهديه / ج: ١ / ص: ٢١۴ ،ماده ١٢٧۴)

سوال:......

يو سړي خپلي ښځي ته په حالت د صحت کي طلاق په طلاق واحده رجعيه

سـره ورکړ، مؤخر د صداق او نفقه د عدې وروستـه بیا دا زوج مذکور مړ سو له زوجیـه مـذکـوري څـخـه او لـه ورثـه څـخه فهل و الحال هذه، که چیري عده نه سوه تېره د زوجه مذکوري په درو حیضو سره نو دا ښځه میراث وړای سي له ترکې د زوج څخه او دا نو ر ورثه دانسي منعه کولی له میراث څخه ؟

جواب :......

"الـمطـلـقة رجعیا زوجة ما دامت فی العدة فاذا مات زوجها و هی فی عدته ترثه منه و الا فلا۔"

دا ښځـه مطلقه رجعیه تر څو پوري دا په عده کي وي او مېړه یې مړ سي نو بیـا دا میـراث وړای سي کـه چیـري پـه عـده کـي نـه وي بیـا میـراث نـه سي وړای . (فتاوی مهدیه / ج: ۱ / ص: ۲۱۴ ، ماده ۱۲۷۴)

سـوال :......

یـو سـړي خپـلي ښځه طلاق کړه په طلاق ثلاثه سره او دوه په مرض موت کي او دا طـلاق دښـځـي پـه سـوال سره نه وو بیا دا سړی مړ سو له مخه تر تېرېدو د عده د دې ښځي، آیا دا ښځه اوس میراث وړای سي که نه؟

جواب :......

"نعم ترثه و الحال هذه۔"

دا ښځه میراث وړای سي که چیري دا زوج مړ سوی وو له مخه تر تېرېدو د عدې د دې ښځي . (فتاوی مهدیه / ج: ۱ / ص: ۲۱۵ ، ماده ۱۲۷۵)

سـوال :......

یو سړي خپله ښځه طلاق کړه په طلاق ثلاثه سره او ورکړو بیدا ښځي ته هغه موجل صداق په حالت د صحت کي او دا ښځه یې بري کړه له نفقې دعده څخه بیـا دا سړی مړ سو له مخه تر وتلو دعدې، فهل ما ذکر إذا کان الطلاق فی حال الصحة بائنة لا شئ لها فی المیراث؟

جواب :......

"اذا ثبت وقوع الطلاق الثلاث فى صحة الزوج قبل مرض الموت ثم مات لا ترث منه المطلقه المذكورة و لو مات فى عدتها ـ"

کوم وخت چي ثابته سوه داوقوع د طلاق ثلاثه په حالت د جوړوالي کي له مخه تر مرض الموت نو دا ښځه میراث نه سي وړای که څه هم مړ سي په حالت د عدې کي . (فتاوی مهدیه / ج: ۱ / ص: ۲۱۸ . ماده ۱۲۷۸)

سـوال :......

یوسړي خپلي ښځي ته وویل که چیري تا زما له کور څخه یوشی بې له اجازې زما و ایستی نو ته پر ما طلاقه یې په طلاق ثلاثه سره . اوس دې ښځي هکی و ایستلې بې له اجازې د زوج ، آیا طلاق واقع کیږي که یا؟

جواب :......

"نعم يقع على الزوج المذكور والحال هذه الطلاق الثلاث باجراج زوجته البيض من بيت زوجها بغير اذنه لوجود شرط الحنث فى اليمين الاولى ـ"

طلاق ثلاثه واقع کیږي پر زوج باندي که چیري دې ښځي هکی ایستلې وې بې له اجازې د زوجه . (فتاوی مهدیه / ج: ۱ / ص: ۲۲۰)

سـوال :......

دیو سړي له خپل زوی سره جګړه راغله قسم یې وکړ په طلاق ثلاثه سره چي زه به تا سره خبر نه کوم تر څو پوري چي زه ژوندی یم نو وروسته بیا دا سړي د سفر اراده وکړه دا سړی له خپل زوی سره کښېنستی او خبري یې ورسره وکړې: فهل و هذه . نو کوم وخت چي ثابته سوه دغه ناستي له زوی سره، طلاق ثلاثه واقع کیږي او کوم وخت چي دا زوج مړ سو نو دا ښځه میراث نه سي وړای؟

جواب :......

"اذا ثبت تعليق الثلاث و وجود الشرط فی الصحة يقع الطلاق من وقت وجود الشرط و لا ترثه"

نو کوم وخت چي ثابته سو داتعليق د طلاق ثلاثه په وجود د شرط سره په صحت کي نو طلاق واقع کيږي له وخت د وجود د شرط ، اودا ښځه ميراث نه سي وړای . (فتاوی مهديه / ج: ۱ / ص: ۲۲۱، ماده ۱۲۸۴)

سـوال :......

يو سړي خپله ښځه طلاق کړه په حالت د صحت او سلامتيا کي په طلاق ثلاثه سره په حضور د شاهدانو کي او ورکړه دا ښځي ته موخر صداق بيا وروسته مړ سو فهل و الحال هذه، نو که دا ښځه منکره سوه له طلاق مذکور څخه او طلب د ميراث يې وکړ آيا دا ښځه ميراث وړای سي او کنه؟

جواب :......

"اذا ثبت بالبينة الشرعية ان الرجل المذكور طلق زوجته ثلاث فی صحة لاترث منه و لو مات فی عدتها فلا عبرة بانكارها الطلاق المذكور"

نو کوم وخت چي دا طلاق ثابت سو په شاهدانو سره چي دا ښځه سړي طلاق کړې ده په حالت د صحت کي نو دا ښځه ميراث نه سي وړای که څه هم دا سړی مړ سوی وي په حالت د عدې کي نو انکار د ښځي ته اعتبار نسته .

(فتاوی مهديه / ج: ۱ / ص: ۲۲۱ . ماده ۱۲۸۲)

سـوال :......

يو ښځي طلب وکئ له خپل مېړه څخه د تللو د قريبانو کره نو مېړه ورته وويل ته به نه وزې مګر مطلقه به وزې نو قصد يې هم په ان خرجت سره طلاق وو نو دا الفاظ يې مکرر وويل او بيا يې دا وويل و الله لا تخرج علی ذمتی الا خالصة فخرجت اثر الحلف فهل، آيا لازميږي په يمين بالله او په طلاق سره او په علی ذمتی الا خالصة سره طلاق بائن که رجعي؟

جواب :......"يقع على الزوج المذكور بقوله و الله لا تخرج الا مطلقة قاصدا بذلك انها انخرجت تكون مطلقة طلاق رجعي و بقوله ثانيا بعد تكرار الطلب و الله لا تخرج و هي على ذمتي الا خالصة طلاق بائن حيث خرجت اثر الحلف فهما طلاقان فلا تحل له الا بعقد جديد ان لم يسبق غيرها ۔ "

نو پر زوج باندي واقع كيږي په والله لا تخرج الا مطلقة او قصد يې هم په دې سره طلاق وي طلاق رجعي واقع كيږي او په قول ثاني سره طلاق بائن واقع كيږي نه ده روا دا زوج ته بې له تجديده نكاح له غير سره . (فتاوى مهديه / ج: ١ / ص: ٢٢٢ ، ماده٢ ١٢٨)

سوال :......يو سړي خپله ښځه بالطلقتين په دوو طلاقو سره، اول يې ورته وويل ته طلاق يې او بيا رجوع ورته وكړه او دا ښځه په عده كي وه دوهم پلا يې ورته وويل ښځي ته روحي خالصة من ذمتي يا فلانة نو تر دغه مخكي يې بل طلاق نه وو اخيستى . آيا دغه ښځه و دا زوج ته روا ده په عقد جديد سره او مهر جديد سره په رضا ددې، او باقي پاته كيږي سره له طلاق واحد . اى يملك عليها .

جواب :......

"اذا لم يقع من الزوج المذكور الا الطلقتان المذكورتان على هذا الوجه المذكور بهذا السؤال يكون للزوج العقد عليها بمهر جديد باذنها و رضاها و تبقى معه بطلقة واحدة ۔"

نو كوم وخت چي له زوجه دغه مذكور طلاقان واقع سوه نو زوج به عقد كوي په مهر جديد او رضا د زوجې سره او له زوج سره پاته د آئنده وخت لپاره يو طلاق پاته سو . (فتاوى مهديه / ج: ١ / ص: ٢٤٧ ، ماده ١٢٨٣)

سوال :......

يو سړى مريض سو په مرض الموت سره او خپله ښځه يې طلاق كړه په طلاق

ثـلاثـه سره په دغه مرض كي‌يې بې له طلب د طلاق د دا ښځي طلب د طلاق نه وو كړى بيا دغـه سړى مړ سو له مخه د پوره كېدو د عدې، د دا ښځي د طلاق څخـه . فهـل والحال هذه . نو دازوج مذكور وتښتېدى له ميراث څخه يعني چي دا ښځه ميراث يو نه سي نو اوس دا ښځه پس له مرګ څخه د زوج ميراث وړاى سي كنه؟

جواب :......

"نـعم ترث منه إذا كان الواقع ماهو مسطور بالسؤال من كون الطلاق في مرض الموت بغير سؤالها ومات في عدتها والا فلا ـ "

دابنځه ميراث وړاى سي . (فتاوى مهديه / ج: ۱ / ص: ۲۲۷، ماده ۱۲۸۳)

سـوال :......

يـو سـړي قسـم وكـړ پـه طـلاق ثـلاثـه سره چي زه به حاضروم ودغي ښځي ته دراهم په ورځ د هفتې كي هغه معلوم دراهم نو پر دا سړي حاضر وڼ د دراهمو ډېر سـخـت سول نو دا سړي دراهم نكړه حاضر ځكه چي كومه وظيفه ده كوله هـغـه مـلک ده تـه خپـل حق نـه وركړو نـو دغه ورځ د هفتې تېره سوه نو دا نه حـضـور د دراهـمـو عذر بلل كيږي كنه او په نه حضور د دراهموپه دغه ورځ د هفتې كي طلاق واقع كيږي كنه ؟

جواب :......

"لا يـكـون مـا ذكـر عـذرا فـي عـدم وقوع الطلاق الثلاث المذكور بل يحكم على الـزوج بـوقـوعـه خلافا لما بحثه صاحب البحر من عدم الوقوع في مثل ذلك وقد حـقـق هـذه الـمسئلة في الـدر المختار من باب التعليق وقول على الوقوع لا ن مستفـاد مـن عبارات الـفقهاء بل ذكر عن الخير الرملي انه نقل عن فتاوى صاحب البـحـر انـه افـتـى بـالـحـنـث في مثل ذلك مستند إلى امكان البرحقيقة وعادة مع الاعسار بهبة او تصدق اوارث اه ـ"

نو له مذكوره عبارت ځخه دامعلومه سوه چې دا نه حضور د دراهمو داعذر نـه بـلل كيږي حكم به كوي پر زوج باندي پروقوع د طلاق ثلاثه باندي يعني پـرزوج بـانـدي طلاق ثلاثه واقع كيږي الخ (فتاوى مهديه / ج: ۱ / ص: ۲۲۸، ماده ۱۲۸۴)

سـوآل:......

يو سړى مړ سو بيا يې يو كـاغذ پيدا كړ د ده په دفتر كي چې پر هغه كاغذ ليـكـلـي وو چـي: انـه طـلـق زوجتـه فهـل . اوس كـه يې وارثانو منع وكړه له وركولو د ميراث و ښځې ته او منع يې وكړه له مؤخر صداق ځخه .

جواب:......

دا خـالـص پـه مـوجـد والـي د كـاغـذ مـنع د ميراث ځخه نه كرزي بلكي ميراث وړاى سي . (فتاوى مهديه / ج: ۱ / ص: ۲۲۹، ماده ۱۲۸۵)

سـوال:......

يـو سړي خـلـع وكـړه لـه خپـلـي ښـځې سره على مؤخر صداق او پر نفقه يې د عـدې او پـرنـفـقـه د دوو لـورانـو بـانـدي بيـا وروسـتـه تر يوځـه مودې دا ښځـه مـذكوره مسكين سوه پر نفقې قدرت نه درلودى نو اوس د دا ښځي پلار زوج مـجبـور كولى سي پر نفقه وركولو باندي تر څو پوري چې دا ښځه مړه كيږي يا زوج ورته رجوع كوي او كنه ؟

جواب:......

"يجبر الاب علـى الانفاق علي بنتيه المذكورتين فهل والحال ما ذكروا له و هى معسرة الخ"

لـه مـذكـوره عبارت ځخه دا معلومه سوه چې دا زوج مجبوره كواى سي پر نـفـقـه وركولو باندي و ښځي ته او و دا دوو لورانو ته . (فتـاوى مهديـه / ج: ۱ / ص: ۲۲۹ . ماده ۱۲۸۵)

ســوال :......

یـو سـړي خپـلـه ښـځه طلاق کړه په مرض موت کي په طلاق ثلاثه سره بې له طلـب د ښځي پخپله طلاق کړه له وجهي د حرمان میراث . او داسړی مړ سو او دا ښـځـه په عده کي وه فهل و الحال لاتحرم من الـمیراث معاملة له بنقیض مقصود؟

جواب :......

" لا تـحـرم مـن الـمیـراث والـحـال ذکـر بـالسؤال ما لم یثبت ان الطلاق کان فی صحة او أن عدتها انقضت قبل الموت او کان الطلاق المذکور بسؤالها "

له دا مذکوره الفاظو څخه دا معلومه سوه چي دا ښځه نه سي محرم کېدلای لـه میـراث څـخـه بـلـکـي میراث وړای سي له زوج څخه . تر څو پوري چي دا ثـابت نه سي چي دا طلاق په حالت د صحت کي ووو او د عده قبل الموت پوره سـوې ده یـا دا طـلاق پـه سـوال د ښـځـي وه نـو دالـتـه یو هم نـه ده ثـابت نو اوس میـراث وړای سـي . والله تـعـالی اعلم . (فـتاوی مهدیه / ج: ۱ / ص: ۴۴۹، ماده ۱۲۸۵)

ســوال :......

د یـوې ښـځـي جـګـړه راغـلـه له خپـل مېړه سره چي دا مېړه مریض وو نو ښځي طـلـب د طـلاق وکـړی ډېـر واري لـه مېړه څـخـه پـه محضر د یو جماعت کي، بـقـولـهـا لـه خلصنی طلقنی لا اقعد معک، والحال انه لا یملک علیها الا الطلقة الـواحدة التـی طلبتـها منه بقولها المذکور، نو مېړه جواب ورکړ چي ته طلاق یـې پـه طـلاق ثـلاثـه سـره، فهل و الحال هذه . کوم وخت چي فیصله وکړه پر دغـه سـړي بـانـدي او مـړ سـو لـه مخه تر تېرېدو د عدې نو میراث نه سي وارې دغه ښځه ځکه چي د طلاق مذکرر بائن واقع سو په امر او په رضا د دا ښځي .

جواب :......

"صرحوا بان المريض مرض الموت لو أبانها بأمرها الا ترث منه قال في رد المختار يصدق بما إذا سألته واحدة بائنة فطلقها ثلاث إلى آخر ما ذكره اى فلا ميراث لها و من المعلوم ان طلب الزوجية الطلقة والواحدة من زوجها إذا كانت مكملة للطلاق الثلاث فطلقها ثلاث طلب للبائن فيدخل فيما لو سألته واحدة بائنة فطلقها ثلاث فلا ميراث لها على هذا إذا كان الواقع ما هو مسطور بالسؤال ۔"

اوس لـه مذكوره الفاظو څخه دا معلومه سوه چي په دغه صورت کي ښځه ميراث نه سي وړای له مېړه څخه . تفکر في هذه المسئلة . (فتاوی مهديه / ج: ۱ / ص: ۲۳۱ ، ماده ۱۲۸۸)

سوال :......

يو سړي طلاق ثلاثه معلق کړی تر فعل ديو شي او له مخه تر فعل د دا شي يې خلع وکړه لـه خپلي ښځي سره له وجهي د دې چي واقع نه سي په طلاق ثلاثه کي او فعل يې وکړی دا محلوف عليه وروسته تر مخالعة لـه مخه تر پوره کېدو د عدې او وروسته يې عقد وکړی له دا ښځي سره، آيا طلاق ثلاثه واقع کيږي که نه؟ او جلا والی به راولي د مېړه او د ماينې په مابين کي کنه ؟

جواب :......

"نعم يقع على الزوج المذكور الطلاق الثلاث المعلق حيث وجد المعلق عليه في عدة الخلع عندنا و يفرق بينهما ولا تحل له حتى تنكح زوجا غيره ان كان الواقع ما هو مسطور۔"

لـه مذكوره الفاظو څخه دا معلومه سوه چي پر زوج باندي طلاق ثلاثه واقع کيږي ځکه ده دا طلاق معلق کړی تر فعل پوري نو وجو د معلق راغلی طلاق واقع سو زموږ پر مذهب باندي نو جلاوالی به راولي ددوی په مابين کي دا ښځه نه ده روا و دا زوج ته څو پوري چي زوج آخر يې نه وي په نکاح کړی . (فتاوی مهديه / ج: ۱ / ص: ۲۲۲ ، ماده ۱۲۸۹)

سوال:......
يوې ښځي رشيده مكلفه جوړه بالغه طلب د طلاق وكړى له خپل مېړه مريض څخه نو مېړه خلع وكړه له خپلي ښځي سره په مؤخر صداق چي هغه معلوم وو وروسته تر يوڅه مودې مېړه مړ سو او دا ښځه په عده كي وه، آيا دا ښځه طلب د ميراث وكړي، اوس دا ښځه ميراث وړاى سي كنه؟
جواب:......
" إذا تحقق بالوجه شرعي ان الخلع الذى حصل من المريض مرض الموت مع زوجية المذكورة برضاها وطلبها وكان صححا موجبا للبينونة لا ترث منه و الا فلها الميراث ـ"
نو له مذكوره الفاظو څخه دامعلومه سوه چي كوم وخت دا ثابت سوه دا طلاق ثلاثه په وجه شرعي سره په رضا د ښځي سره نو اوس دا ښځه ميراث نسي واړى . (فتاوىٰ مهديه / ج:۱ / ص: ۲۳۳، ماده ۱۲۸۹)
سوال:......
يو سړي ښځه په نكاح كړه او دا ښځي ته يې وركړ مهر معلوم او حقوق شرعيه بيا دا ښځه ناشزه سوه له اطاعته د زوج بغير له حق، فهل والحال هذه . او دا ښځه اقرار نه كوي پر ناشيزت باندي نو اوس دا ښځه مجبور كولاى سي پر اطاعت د زوج باندي او پر حقوق شرعيه وو باندي كنه؟
جواب:......
"نعم لاتقر الزوجة المذكورة على النشوز و هو الخروج عن طاعة زوجها بغير حق و تؤمربطاعته لأن النشوز معصية فلا تقر عليها"
له مذكوره الفاظو څخه دا معلومه سوه چي دا ښځه مذكوره اقرار نه كوي په نشوزت باندي چي هغه خروج له اطاعته د زوج ده بې له حقه ځكه دا نشوزت گناه ده نو دا ښځه اقرار نه كوي نو دا ښځه مجبور كولاى سي پر

اطاعت د زوج باندي . (فتاوی مهدیه / ج: ۱ / ص: ۱۲۷، ماده ۱۲۹۱)
سـوال :.......
یـو سړي لـه ښـځـي سـره نکا ح وکړه چي دی به په دغـه ښار کي اوسیږي بیا دا سړي اراده وکړه چـي دا ښـځـه نقل کړي و بل ښار ته، نودا ښځه هم ولاړه له دا سړي سره وروستـه تـر یـوځـه مـودې رجوع وکړه پـه رضا د ښځي سره و هغه خپـل ښار ته نو کوم وخت چي هغه ثاني ښار ضرر ور ورسوي نو اوس بیا یې اراده وکړه و نـقـل ته د ثاني ښار نو ښځه منع وکړه چي زه نه ځم اوس دا ښځه مجبور کولای سي چي نقل سي که یا؟
جواب :.......
"نعم لا تجبر الزوجية المذكورة على الانتقال مع زوجها إلى تلك القرية والحال هذه"
لـه مـذکوره الفاظو څخه دا معلومه سوه چي داښځه نه سي مجبوره کولای ونقل ثاني ته . (فتاوی مهدیه / ج: ۱ / ص: ۱۲۷، ماده ۱۲۹۱)
سـوال :.......
دیـوې ښـځـي جـګـړه راغـلـه له خپله زوجه سره، چي هغه مریض وو په مرض مـوت سره او خلع یې وکړه په داسي حال کي چي دا زوج جوړ روغ وو پر نفقه د عـدې او ور یـې کـړه دې ښـځـي تـه مـؤخر صداق بیا وروسته له درو ورځو دا زوج مړ سـو لـه مـرض مذکوره څخه . آیا دا خلع صحیح کیږي کنه او میراث وړای سي کنه اودا خلع وه په رضا د دا ښځي؟
جواب :......"نعم لا میراث لها حیث اختلعت منه علی نفقة عدتها لرضاها بالبینونة"
له مذکوره الفاظو څخه دا معلومه سوه چي دا ښځي لره میراث نسـتـه ځکه چـي دازوج خـلـع وکړه له دې سره پر نفقه د عدې د دا ښځي په رضا د زوجیت په شاهدانو سره . (فتاوی مهدیه / ج: ۱ / ص: ۲۳۴، ماده ۱۲۸۹)

سوال :......

یو سړي اقرار وکړی په مرض موت کي په دې سره چي ما دا ښځه په طلاق ثلاثه سره له مخه تر مرضه طلاق کړې او دې ښځي انکار وکړی له طلاق څخه . او شاهدان هم نه وو ددې په مابین کي، عده هم نه وه تېره سوې له وخته دا اقرار څخه آیا قول د ښځي معتبر ده او که قول د زوج معتبر ده؟

جواب :......

"اذا أقر فی مرض موته انه کان طلقها ثلاث فی صحته و کذبته ولم تنقض عدتها من حین اقراره قبل موته ورثت منه لکونه فارا بالطلاق إذا لم تقم بینته علی صدور الطلاق المذکور فی صحته و الا فلا۔"

له دا مذکوره الفاظو څخه دا معلومه سوه چي کوم وخت زوج اقرار وکړی په مرض موت کي د طلاق چي ما طلاق ورکړی دی په صحت کي دا یې دروغ ویل او سره له دې چي عده نه ده تېره سوې له وخت د اقرار څه له مخه تر مرک، نو دا ښځه میراث وړای سي . (فتاوی مهدیه / ج: ۱۰ / ص: ۲۳۵، ماده ۱۲۹۰)

باب المهر

..حج کول په نکاح کي مهر جوړېدلای سي:

سوال: ...... زید و هندې ته د نکاح پیغام ولېږی، هنده کونډه وه، هندې ورته وویل چي زه په دې شرط درسره نکاح کوم چي ته په ما حج وکړه، نو نکاح یې وسوه، نو آیا دا نکاح صحیح ده او که نه، او آیا پر زید باندي یې حج لازم دی، مهر د دې ځخه پرته بل هیڅ نه دی مقرر سوی، حال دا چي د حج په قیمت کي کمي او زیاتوب ورځ په ورځ کیږي؟

جواب: ...... که چیري د حج کولو په شرط سره ورسره نکاح وکړل سي او ذغه حج مهر مقرر کړل سي نو دا نکاح صحیح ده او د مېړه پر ذمه باندي د حج قیمت دی، او د حج په قیمت کي پورته کښته مفسد تسمیه نه ده .

"قال في في الدر المختار و کذا یجب مهر المثل فیما إذا لم یسم مهرا و في الشامیة / ص: ۳٦۳ / ج: ۲ (قوله فیما إذا لم یسم) ای لم یسمه تسمیة صحیحة او سکت عنه نهر(الی قوله) و لیس منه ما لو تزوجها علی عبد الغیر او علی حجة لوجوب قیمة حجة وسط لا مهر المثل و الوسط برکوب الراحلة" والله اعلم بالصواب)

..د مهر مؤجل د ادا کولو له مخي د واده مطالبه:

سوال: ...... د مسمی صابر نکاح د فریدې سره وسوه، د نکاح په وخت کي حق مهر، پوخ سرای سره د غولي، نلکې، پنځه جریبه مځکه، زر چي قیمت یې درې سوه روپۍ وي کوم چي په نکاح نامې کي لیکلي سوي دي، مسمی صابر د حق مهر د اداء کولو څخه انکار کوي تقریباً یو کال یې کیږي مسمی عیسی خو واره ورته ویلي دي چي حق مهر به اول اداء کوي

بيا به واده دركوم، مگر صابر منكره دى اوس شرعاً څه حكم دى؟
جواب :......په صورت مسئوله كې صابر د حق مهر د في الفور اداء كولو له مخې خپل واده كولاى سي .
"ولم يذكر الوقت للمؤجل يقع ذلك على وقت وقوع الفرقة بالموت او بالطلاق"(عالمگيرى / ص: ۲۹۸ / ج: ۲. / ص: ۳۱۸ / ج: ۱)
..د زنا مزدوري مهر جوړول:
سوال :...... يو سړى كه يو ښځه په مزدوري راواخلي او زنا ورسره وكړي او بيا هم دغه مزدوري د دې مهر وټاكي نو شرعاً به ده ته حد وركول كيږي او كه نه؟ كه نه وركول كيږي چي نو داسي معلوميږي لكه داسي كول چي جائز وي، ولي چي كه ناجائزه كېدلاى نو شرعا به ده ته حد لگول سوى واى او همداسي آيا دا متعه نه ده؟
جواب :...... واضحه دي وي چي حد شرعاً هغه سزا ده كوم چي د الله تعالى له جانبه مقرره سوې وي، دغه سزا كله ناكله د شبهي پر بنياد باندي ساقطيږي يعني سل درې وهل، سنگسارول، د دې په ساقطېدو سره د سړي جرم نه ساقطيږي بلكي په دې كي حكومت اختيار مند دى چي د ده لپاره كومه سزا مناسبه وبولي جاري دي كړي .
د مثال په ډول يو بدمعاش سړى د يو حيوان سره بدفعلي كوي، او يا د هلك سره بدفعلي كوي، نو په دې صورت كي هم حد نسته بلكي د وخت حكومت اختيار مند دى چي هغه هر ډول سزا بندي كول، وهل، هر څه چي مناسب وگڼي ور دي كړي، او داسي سزا چي د حكومت په اختيار كي ده دې ته تعزير ويل كيږي . نو آيا د حد نه جاري كېدو په وجه به ته لواطت جائز بولې لكه څرنگه چي دغه دواړه افعال جائز نه دي نو همداسي د يوې ښځي سره او بيا مزدوري دا هم نه دي جائز، او متعه په شريعت كي حرامه ده .
همداسي واضحه دي وي چي ښځي ته پر زنا باندي په مزدوري د امام محمد

او امام ابو یوسف رحمهما الله په نزد حد لازم دی، د امام صاحبؒ په نزد دا سخته ګناه ده په دې کې حد لازم نه دی مګر تعزیر پر سته، یعني د حاکم په اختیار کې دي چې داسې نارینه او ښځینه ته چې کومه سزا مناسبه وبولي ور کولای یې سي نو په دې ډول په بحر الرائق شرح کنز الدقائق / ص:۱۹/ ج:۵ کې راغلي دي په تفصیل سره هلته سته و یې ګورئ . فقط و الله اعلم بالصواب.

.. که ښځه خپل خوشحالی خپل مهر وبخښي نو پلار ته پر دې هیڅ اعتراض نسته:

سوال:...... زید خپلې د ښځې حق مهر څلور زره روپۍ مقرر کړی، ښځې ذکر سوی مهر د ښځې د واده دوه کاله بعده د څلور شاهدانو په مخ کې پخپله خوښی وبخښی، اوس دواړه مېړه او مابینه د خوشحالی ژوند سره تېروي مګر پلار یې وایي چې مهر بخښل ښه کار نه دی مهر دې ور کړل سي اوس شرعاً څه حکم دی؟

جواب:...... په صورت مسئوله کې د صحت په شرط مهر بخښل سوی دی، اوس ښځه او یا د هغه هیڅ ولي د دې مهر غوښتنه نه سي کولای .

"للمرأة ان تهب مالها لزوجها من صداق دخل بها زوجها او لم يدخل و ليس لاحد من اوليائها اب و لا غيره الاعتراض عليها كذا فى شرح الطحاوى"(عالمگیری / ص: ۲۷ / ج: ۲)

..که پلار د مهر ضامن وي نو بیا هغه ته ور کول ضروري دي:

سوال:...... د زید نکاح وسوه په هغه وخت کې دېرش زره روپۍ او یوه مرله مځکه حق مهر مقرر سو، اوس خپل پلار عمر ته وایي چې یوه مرله مځکه حق مهر اداء کړه اوس د شریعت له مخې را ته ووایاست چې دا حق مهر زما د مېړه له خوا ضروري دی او که د خوسر له خوا، حال دا چې پلار هیڅ ډول دا اقرار نه دی کړی چې زه یې در کوم، البته په نکاح نامې کې یوه مرله

مځکه د پلار په اجازت ليکل سوې وه؟
(۲) زيد د خپل پلار څخه د جائيداد مطالبه کولای سي او که نه؟
جواب :...... د واقعې د صحيح کېدو په شرط په صورت مسئوله کي و پلار ته بې په کار دي چي د سرای څومره حصه چي د مهر پر ډول ليکل سوې ده يو ډول ضمانت دی او ولي شرعا د مهر ضامن جوړېدلای سي، په در مختار کي دي:
"وصح ضمان الولي مهرها ولو صغيرة وتطالب أيا شائت من زوجها البالغ او الولي الضامن الخ"(ص ۲۵۷ / ج: ۲)
(۲) تر څو پوري چي پلار ژوندی وي جائيداد د هغه ملکيت دی، د هلک او يا انجلۍ په هغه کي هيڅ حق نسته، نو د هلک د تقسيم جائيداد غوښتنه شرعا غلط کار دی .

..د مهر لږ تر لږه مقدار (۳۵) ګرامه سپين زر دي:

سوال :...... د مهر شرعاً اندازه لږ تر لږه (۱۰) درهمه ده نو په اوسني وخت کي (۱۰) درهمه د کيلو او ګرام په حساب سره څومره جوړېږي؟
جواب :......لس درهمه د وزن په اعتبار دوې تولې او اوه نيمي ماشې جوړېږي، او د ګرام په لحاظ ۲ ـ ۳۴ ګرام جوړېږي، که چيري لږ تر لږه مهر سره اينبوول کيږي نو هغه دي احتياطاً ۳۵ ګرامه سپين زر او يا د هغه قيمت کنبېښودل سي .

..د انجلۍ د ساز وسامان برابرولو لپاره
د مخه د مهر وصولول:

سوال :...... زموږ په سيمه کي د ډېر وخته دا رواج د واده او يا نکاح په مراسمو کي را روان دی چي د انجلۍ پلار او يا د هغې سرپرست د انجلۍ مهر د نکاح له مخه وصولوي، نو آيا شرعا دا ډول مهر د نکاح له مخي وصولول جائز دی؟
جواب :...... په صورت مسئوله کي د انجلۍ پلار او يا سرپرست هلک والا و

شخه پیسې د واده له مخه وصولولای سي، ولي چې ولي پر مهر باندې قبضه کولای سي .

"کما فی رد المحتار وفیها قبض الاب مهرها، وهی بالغة او لا وجهزها او قبض مکان المهر عینا لیس لها ان لا تجیز لان ولایة قبض المهر إلی الآباء وکذا التصرف فیه .... باب المهر الشامی (/ ص: ٤٠١ / ج: ۲)"

..د مال په بدل کې د طلاق اخیستونکې ښځې د مهر غوښتنه:

سوال: ...... یوې ښځې د خپل مېړه څخه د طلاق غوښتنه وکړه، نو مېړه وویل چې دوه نیم زره روپۍ راکړه طلاق درکوم، چې کله مېړه طلاق ورکړی او پیسو حاصلولو ته ورغلی نو هغې د مهر غوښتنه وکړه دا صحیح دي؟

جواب: ...... په پوښتل سوي مسئلې کې ښځه د مهر اخیستلو حقداره ده .

"وقیل الطلاق علی مال مسقط للمهر کالخلع والمعقد لا "(در مختار علی الشامیه / ص: ٥٦٧ / ج: ۲)

..که پلار مهر وبخښي نو ښځه یې غوښتنه کولای سي:

سوال: ...... که چیرې یو سړی د خپلې بالغې لور طلاق د هغې د مهر په بدل کې بې له اجازې او رضا او موجودګۍ حاصل کړي، او ضامن هم نه سي نو آیا په داسې صورت کې ښځه د خپل مهر د وصولولو اجازه لري، تا تحریرا ویلې وه چې پلار د انجلۍ له خوا وکیل دی د وصولولو اجازه نه لري نو عرض دا دی چې د الدر المختار او رد المحتار په / ص: ٦١٥ / ج: ۲ کې د مذکوره عبارت لاندې یې لیکلي دي:

"خلع الاب صغیرته بمالها اومهرها طلقت فی الاصح کما لو قبلت هی وهی ممیزة ولم یلزم المال لانه تبرع وکذا الکبیرة الخ فان خالعها الاب علی مال (مثل المهر) ضامنا له صح والمال علیه کالخلع مع الاجنبی فالاب اولی بلا سقوط مهر

ای (سواء کان الخلع علی المهر او علی ألف) لانه لم یدخل تحت ولایة انتهی"

د دې عبارا تو څخه او د احسن الفتاوی او دارالعلوم دیوبند او د جامعه اسلامیه کراچي د ذکر سوو مسئلو څخه د حاصل سوو فتاوی وو د ظاهري وکالت اعتبار نسته .

جواب :......لانه لم یدخل تحت ولایة الاب الخ، له تعلیله څخه ښکاري چي اصل مسئله همدغه ده چي و پلار ته د اسقاط مهر او داسي بل شي اصل مسئله هم دغه ده چي و پلار ته د اسقاط مهر او داسي بل شي اختیار نسته، په اوله مسئله کي چي کوم شی لیکل سوي وه هغه صورت د وکالت وو، زموږ په عرف او عادت کي داسي معاملې اکثره د انجلۍ خوا ته په کلي ډول تفویض وي او د وکیل طی کړل سوی او قبول سوي منظوره وي، په پوره دیانتداری سره دي فیما بینه و بین الله دي فکر وکړل سي او صورت د وکالت که چیري په صوري ډول هم پیدا کړل سي نو بیا دي هم پر پخوانۍ فتوی باندي عمل وکړل سي که نه پر دې بلې فتوی دي عمل وکړل سي . و الله اعلم .

.. د مهر معجل د وصولولو لپاره ښځه د میړه د غوښتني انکار کولای سي :

سوال :...... که چیري یو سړی مهر حق نه کړي اداء نو ښځه د میړه څخه طلاق اخیستلای سي او میړه د وطئ څخه منع کولای سي، او که چیري میړه طلاق ور کړي نو ښځي ته څه صورت اختیارول په کار دي؟

جواب :......داسي مهر که چیري میړه نه ادا کوي د کوم مهر اداء کول چي دستي لازم وي نو ښځي ته حق حاصل دی چي میړه خپل ځان د نژدې راتک څخه منع کړي .

"قال في الدر ولها منعه من الوطئ و دواعیه شرح مجمع و السفر بها و لو بعد وطئ و خلوة (فیها إلی ان قال) لاخذ ما بین تعجیله من ا لمهر کله او بعضه او اخذ قدر ما یعجل لمثلها عرفا به یفتی لان المعروف کالمشروط "(شامیة / ص: ٣٨٨ / ج:

(۲)
کـه چيـري پـه دې تنازعه د ښځي پر مطالبې باندي مېړه طلاق ور کړي نو دا طلاق قبـليـږي او مهـر د مېـړه پـر ذمه قرض دی ، و ښځي ته د هغه د حاصلولو پـوره اختيـار حـاصـل دی ، لـکـه څرنـګـه چـي د نورو قرضو د حاصلولو پوره اختيـار يې ورتـه حـاصـل دی تـر دې ځايه پوري چي د محکمې له لاري يې هم کولای سي .

.. کـه مهـر پـه يـو شرط سره وبخښـل سي او بيا هغه شرط پوره نه کړل سي نو هغه بخښنه يې هم ختميږي :

سوال : ...... مسـمـی زيـد خپـلـي ښـځي ته طلاق ورکول غوښتی ، ماينې يې چالاکي ورسره وکړه او ورته يې ويل چي ما ته طلاق مه راکوه ختمه به سي ، مېړه ورتـه وويـل چـي زه نـو بيـا حق مهر راوبخښـه ښځي ورتـه وويـل چي صـحيـح ده پـه دې شـرط چـي ته به ما ته طلاق نه راکوې ، څه موده وروسته مېړه طلاق ورکړي مېړه د مهـر پر بخښنې باندي دوه شاهدان پيش کړل د کـومـو د وينا حاصل چي هم بخښنه معلق ده ، نو آيا شرط يې وبخښـل سو او که نه ، و ښځي ته د مهر اخيستلو اختيار دی او که نه؟

جواب : ...... کـه چيـري واقـعتـاً هم مهر په دې شرط بخښل سوی وي نو د طلاق ورکولو په وجه هغه شرط هم ختم سو .

”ولـو وهبت مهرها بشرط فان وجد الشرط يجوز و ان لم يوجد يعد المهر كما كان ..... الخ “(عالمگيری / ص: ۲۷ / ج: ۲)

..چي کله يو وار مهر وبخښـل سي نو بيا يې د غوښتني حق نسته :

سوال : ...... حسـن جـانــه لـور د امـرالله خـان د مسـمـی حيات الله ولد موسی د نکاح وروستـه تقريبا اته کاله و اوسېدل ، دوه کناله مځکه پـه نامه د مسماة مذکوره ته د ورکولو وعده ورکول سوې وه ، او انتقال نمبر (۱۷۹۱) حصه په

نامه د مسماة مذکوري تصدیق سوې ده، وروسته مسماة حسن خان د محبت ولد اسم سره واده وکړی، د هغه واده دوولس کاله کیږي، اوس د وراثت اتمه حصه د وصولولو وروسته د مهر غوښتنه کوي او د شاهدانو په مخ کي یې پاته حصه بخښلې نو آیا اوس غوښتنه کولای سي . بینوا و توجروا .

جواب :...... که چیري واقعتاً مسماة حسن جان مهر بخښلی وي نو اوس د هغې د غوښتني حق نسته .

”للمرأة ان تهب مالها لزوجها من صداق دخل بها زوجها اولم یدخل ولیس لاحد من اولیائها ولا غیره الاعتراض علیها اھ“(عالمگیری / ص: ۲۷ / ج: ۲)

.. د کوم مهر چي د معجل او مؤجل خبره نه وي سوې:

سوال :...... کله نا کله د نکاح په وخت کي مهر مقرریږي مگر دا تصریح نه کیږي چي دا معجل دی او که مؤجل نو پر مېړه باندي څه وخت لازم دی؟

جواب :...... د کوم مهر چي د معجل او یا مؤجل کېدو هیڅ تصریح نه وي کړل سوی نو هغه پر عرف باندي محمول دی، که چیري هغه معجل وبلل سي معجل دی او که مؤجل وبلل سي مؤجل دی:

”قال فی التنویر ولها منعه من الوطئ والسفر ولو بعد وطئ وخلوة رضیتهما لاخذ ما بین تعجیله او قدر ما یعجل لمثلها عرفا ان لم یؤجل فی الشرح به یفتی لان المعروف کالمشروط “(در المختار / ص: ۳۹۵ / ج: ۲)

..د میراث تقسیمولو له مخي باید مهر اداء کړل سي :

سوال :...... مسمی زید وفات سو، هغه تر اوسه د خپلي کور والا مهر نه وو اداء کړی نو اوس پوښتنه دا ده چي د ده د میراث څخه دی اول مهر اداء کړل سي او که نه ، لکه څرنگه د ده د قرض دارانو څخه اول د هغه قرض اداء کیږي؟

جواب :...... حامداً و مصلیاً : مهر هم چونکه د مړي پر ذمه یو قرض دی لهذا تر

څو پوري چې يې ښځه و نه بخښي تر هغه وخته پوري نه بخښل کيږي، لهذا د مړي د ميراث څخه دي د قرض په شان او له مهر اداء کړل سي بيا دي ميراث تقسيم کړل سي لکه څرنګه چې په عالمکيري کې دي چې د خلوة صحيحه وروسته مهر پر سړي بانديلازميږي او د صاحب حق د بري کولو څخه ختميږي .

"و لا يسقط منه شيئ بعد ذلك الا بالابراء من صاحب الحق"(عالمگيرى / ص: ۳۰۳ / ج: ۱)

.. کومه ښځه چې د وطئ قابله نه وي د خلوت وروسته د هغې نيم مهر لازميږي:

سوال: ...... حيات شاه د راشدې سره واده وکړی نو اوله شپه چې کله د جماع کولو لپاره ورته نژدې سو نو خبر سو چې دا خو د جماع کولو قابله نه ده، مقام دخول يې ډېر تنګ وو، چې کله د ښځينه ډاکټري په ذريعه يې کتنه وسوه نو معلومه سوه چې دا د جماع قابله نه ده، د دې وجهې څخه حيات شاه طلاق ورکول غواړي نو اوس آيا حيات شاه به يې مهر هم اداء کوي؟

جواب: ...... په صورت مسئوله کې چې کله حيات شاه طلاق ورکوي نو نيم به ر کوي .

"والمهر يتأكد بأحد معان ثلاثة الدخول والخلوة الصحيحة و موت احد الزوجين سواء كان مسمى او مهر المثل حتى لا يسقط منه شيئ بعد ذلك الا بالابراء من صاحب الحق"(عالمگيرى / ص: ۳۰۳ / ج: ۱)

په ذکر سوې صورت کې خلوة صحيحه نه دی بلکې خلوة فاسده دی .

"والخلوة الصحيحة أن يجتمعا فى مكان ليس هناك مانع يمنعه لا يتمكن من الوطئ حقيقة كالمريض المذنف الذى لا يتمكن من الوطئ و مرضها و مرضه سواء هو الصحيح كذا فى الخلاصة "(عالمگيرى / ص: ۳۰٤ / ج: ۱)

.. که غوا او يا بزه مهر وګرځول سي نو څه به ورکوي:

سوال :...... مسمی محمد عبد الله خپلي کور والا رخسانه څخه مطلقا د دوو غواوو او څلورو بزو په بدل کي نکاح وکړه، اوس به مهر اداء کوي ولي چي غواوي او یا بزې نه وې متعینه سوې؟

جواب :...... محمد بن عبد الله ته اختیار دی که یې زړه غواړي د مینځني درجې دوې غواوي او څلور بزې دي ورکړي او یا دي د هغوی قیمت ورکړي .

"لو تزوجها علی عبد او فرس او بقرة او شاة او ثوب هروی یجب الوسط ان شاء ادی عینه و ان شاء ادی قیمته کذا فی الظهریة اه"(عالمگیری / ص: ۲۳ / ج: ۲)

.. که د مهر ذکر و نه کړل سي نود نکاح کولو حکم:

سوال :...... څه وایي علماء کرام ددې مسئلې په اړه چي د نابالغي انجلۍ پلار پخپله نکاح وویل ایجاب او قبول یې وکړی مگر د مهر ذکر یې و نه کړی نو آیا د نابالغه انجلۍ نکاح کېدای سي، همدا راز د مهر د تذکرې پرته نکاح کېدلای سي او که نه؟

(۲) اوس انجلۍ نابالغه ده نه یې مېړه طلاق ورکړی دیاو نه یې هم فسخ طلاق کړی دی، آیا اوس بل ځای د دې نکاح کېدلای سي او که نه؟

جواب :......(۱) د مور او پلار په ایجاب او قبول باندي نکاح وسوه . (۲) د مهر د ذکر کولو پرته هم نکاح صحیح کیږي، مگر په دې صورت کي به مهر مثل اداء کوي .

"و کذا یجب مهر المثل فیما إذا لم یسم مهرا او نفی "(درمختار / ص: ۱۹۸ / ج: ۲)

(۲) د دوهم ځای نکاح کولو لپاره د اول مېړه څخه د طلاق اخیستل ضروري دي .

(۳) پر نکاح باندي نکاح ویونکي چي تر څو پوري توبه و نه کاږي د هغه په اقتداء کي لمونځ کول صحیح نه دی .(فقط و الله اعلم)

.. چي ښځه تر دېري مودې پوري د پلار کنۍ کره وي

د هغې د مهر حکم:

سوال: ...... د زيد کور والا ځو ورځې د زيد سره وه، نو زيد د دې سره بد کول ښځه بد ګمانه سوه او د خپل پلار کنې کره ولاړه، تقريباً يو ولس کاله کيږي چي هغه پلار کنې کره ده، آيا اوس هغه د مهر غوښتنه کولای سي او که نه، زيد د دې وروسته دوه ودونه نور هم کړي دي؟

جواب: ...... د خلوت صحيحه وروسته مهر لازميږي، او اداء کول يې ضروري دي د نورو قرضو پـه شـان مهر هم يو قرض دى کوم چي لازمي دى، پـه نا اتـفـاقـى او نـه چلېدو سره قرض نه ساقطيږي د ښځو استحقاق خپل پر حال باقي پاته دى .

"و الـمهر يتأكد بأحد معان ثلثة الدخـول و الـخلوة الصحيحة و موت احد الزوجين سـواء كـان مسمـى اومهر الـمثل حتى لا يسقط منه شيئ بعد ذلك الا بالابراء من صاحب الحق اه"(عالمگيري / ص: ۳۰۳ / ج: ۱)

.. که چيري زيادتي د مېړه وي نو په خلع کي
مهر اخيستل مکروه دى:

سوال: ...... ښـځـه د خلعي غوښتنه کوي نو آيا مېړه خلع ورسره کولای سي، و په دې صورت کي د کوم مال غوښتنه سوې وي د هغه اخيستل جائز دي؟

اب: ......په درخواست کي مدعيه د خلع غوښتنه کړې ده که چيري مېړه هغه مل کـړي اوخـلـع ورسـره وکړي نو په دې سره طلاق بائنه واقع کيږي او کوم ـال چي د بدل پر ډول په خلع کي سره فيصله سوى دى، مېړه د هغه د اخيستلو حـقـداره دى، مـګـر هو کـه چيـري د مېړه د بـد کـولـو پـه وجه ښځـه د خلع پر اخيستلو مجبوره سوې وي نو مېړه د يو شي اخيستل ځندي مکروه دي .

"و كـره تـحـريما أخذ شيئ و يلحق به الابراء عما لها عليه ان نشزوا ان نشرت لا و لـو مـنـه نشوز ايضا و لو باكثر مما اعطاها على الا وجه فتح و صحيح الشمنى كراهة الزيادة و تعبير الملتقى لا بأس به يفيد أنها تنزيهية "(در مختار على الشاميه / ص:

۶۰۹ / ج: ۲)

..که ډېر زیات مهر مقرر سوی وي نو د اداء کولو حکم یې:

سوال: ...... د نکاح په وخت کي د مهر مقدار یو نیم لکه روپۍ اینبول سوی وي او دا ددې لپاره اینبول سوی دی چي د انسان حالات بدلیږي، که چیري ښځه طلاقه سي نو پاته ژوند به یې په آساني سره تېر سي نو آیا ټول مهر ورکول لازم دی، د نه ورکولو په صورت کي به په آخرت کي سزاوي او که نه؟

جواب: ......څومره چي مقرر سوی دی د هغو اداء کول لازمي دی مګر که یې چیري ماینه پخپله خوشحالي وبخښي.

"و تجب العشرة ان سماها او دونها و یجب الاکثر منها ان سمی الاکثر(در مختار) اقوله و یجب الاکثر) ای بالغا ما بلغ اهـ" (شامیه / ص: ۳۵۸ / ج: ۲)

..پاؤ بالا دوډېرش روپۍ مهر مقرر ول:

سوال: ...... مشهوره خبره ده چي مهر پاؤ بالا دوډېرش روپۍ مقرر وي آیا دا قول صحیح دی؟

جواب: ......پاؤ بالا دوډېرش روپۍ مهر شرعاً هیڅ اصلیت نلري، د مهر په مقدار کي اصل اعتبار دوزن دی، او هغه لس درهمه دی د لسو درهمو سپینو زرو مقدار د مروجه وزن په اعتبار دوې تولې اوه نیمي ماشې دي، دومره اندازه سپین زر او د دې په اندازه مالیت د مهر شرعي لږ تر لږ مقدار دی، د دې وجهي څخه تر دې زیات کمول شرعي صحیح کار دی، البته که د نرخو په لوړو او کښتو کېدو سره که چیري د پورته ذکر سوي اندازې سپین زر په پاؤ بالا دوډېرش روپۍ وي نو بیا هغه ته مهر شرعي ویل کېدلای سي که نه نو سي ورته ویل کېدلای.

"(اقله عشرة دراهم) لحدیث البیهقی وغیره "لا مهر اقل من عشرة دراهم" و روایة الاقل تحمل علی المعجل (فضة وزن سبعة) مثاقیل کما فی الزکاة (مضروبة

کانت او لا) ولو دینا او عرضا قیمته عشرة وقت العقد، اهـ "(در مختار)
(قوله لحدیث البیهقی وغیره) رواه البیهقی بسند ضعیف و رواه ابن ابی حاتم و قال الحافظ ابن حجر انه بهذا الاسناد حسن اهـ (شامیة / ص: ۳۵۷ / ج: ۲) فقط و الله اعلم۔

..که د مهر اعیان په صورت کې وي نو د ښځې بخښنې سره سره واجب الذمه نه پاته کیږي:

سوال: ...... که ښځه خپل حق مهر پخپل ملکیت کې د اخیستلو پرته وبخښې نو بخښل کیږي او که نه او که د ښځې په ملک کې یې راتلل ضروري دي؟

جواب: ......که مهر دین وي یعني د روپو او پیسو په شکل کې وي نو بې له قبض کولو هم بخښل کېدلای سي، او که اعیانو په شکل کې وي نو بخښل یې صحیح نه دي، یعني د دې سره سره واجب فی الذمه پاته کیږي .

"وصح حطها لکله او بعضه اهـ (در مختار) و فی الشامیة قیده فی البدائع بما إذا کان المهر دینا ای دراهم او دنانیر لان الحط فی الاعیان لا یصح اهـ "(شامیه / ص: ۳٦٦، ۳٦۷ / ج: ۲)

..د نامرد سړي ښځه د پوره مهر حقداره ده:

سوال: ...... د یو سړي واده د نن څخه اوه میاشتې مخکې پر (۱۷) مارچ سنه ۱۹۹۰ کې وسو، د واده وروسته ماینه د مېړه سره ده مګر مېړه د حقوق زوجیت پر اداء کولو باندې قدرت نلري، علاج او معالجه یې ډېره کړې ده مګر هیڅ فائده یې نه ده کړې، په دې حالت کې ماینه د خپل مېړه څخه د طلاق اخیستلو غوښتنه کولای سي، او د حق مهر حقداره ګرځي او که نه؟

جواب: ...... د واقعې د صحت په شرط که چیرې مېړه په مردانه ناجوړی اخته وي او د زوجیت پر حقوقو اداء کولو باندې قدرت نه لري نو ښځې ته د هغه څخه د طلاق اخیستلو غوښتنه صحیح ده، و مېړه ته په کار ده چې دې ښځې

ته طلاق ور کړي .

"فلو وجدته عنينا او مجبوبا و لم تخاصم زمانا لم يبطل حقها و كذا لو خاصمته ثم تركت مدة فلها المطالبة"(در مختار على الشامية / ص: ٦٤٧ / ج: ٢) او مذکوره ښځه د پوره حق مهر حقداره ده .

"والخلوة بلا مانع حسي كمريض لاحدهما يمنع الوطئ إلى قوله كالوطئ فيما يجئ ولو كان الزوج مجبوبا او عنينا او خصيا او خنثى ان ظهر حاله"(در مختار / ص: ۱۹۹ / ج: ۱)

..د مهر معجل غوښتنه ښځه هر وخت کولای سي :

سوال :...... د غیر معجل حق مهر پر مېړه باندي او یا د هغه د وفات وروسته د هغه پر وارثانو باندي چي کوم مهر واجب الاداء دی څه وخت د هغه اداء کول پر مېړه باندي لازمیږي، او که هر وخت چي ښځه خپل غیر م عجل مهر وغواړي اخیستلای یې سي؟

جواب :......د مهر معجل غوښتنه ښځه هر وخت کولای سي، او د غیر معجل غوښتنه ښځه د طلاق او یا د مرګ بعده کولای سي، نو د مهر مؤجل غوښتنه د مېړه په ژوندون کي بې له طلاقه ماینه نه سي کولای . (كذا فى فتاوى دار العلوم ديوبند / ص: ۱۱۴/ ج:۱۰)

..د نکاح وروسته په مهر کي د زیاتوب حکم :

سوال :...... د نابالغه انجلۍ نکاح د خاندان د یو هلک سره وسوه، د پلار په رضامندۍ یې مهر دودېرش روپۍ وټاکل سو اوس انجلۍ نابالغه ده هغه پر دې مهر باندي راضي نه ده بلکي هغه ۲۵۰۰۰ روپۍ زیاتول غواړي او نکاح رجسټرول غواړي، او د هلک والا د حق مهر پر زیاتولو باندي تیار نه دي نو شرعاً د دې څه حکم دی؟

جواب :...... که چیري مېړه او یا د هغه ولي د نکاح وروسته په مهر کي زیاتوب وکړي نو شرعا دا لازمیږي مګر ددې زیاتوب تاکید په دخول، خلوت

صحیحه او یا په مرګ په یوه سره کیږي لکه څرنګه چي په هندیه کي راغلي دي:

"فإذا ازادها فی المهر بعد العقد لزمته الزیادة ... سواء کانت من جنس المهر او لا من زوج او من ولی"(ص۳۱۲ / ج: ۱)

لږ مهر شرعا لس درهمه دی د کومو وزن چي دوې تولې او نیمي ماشې سپین زر دي د بازار د نرخ په حساب سره یې لګول په کار دي، دودېرش مهر شرعاً صحیح نه دی .

.. که یوې مایني ته حق مهر زیات ورکړل سي هغه بلي ته د اعتراض کولو حق نسته :

سوال :...... راز محمد اول درې نکاحوي کړي دي او د هغې حق مهر هم مقرر سوی دی، اوس رز محمد د څلورمي ښځي سره نکاح کول غواړي ددې حق مهر د اولو ښځو څخه زیات مقرروي آیا اوله ښځه پر ده باندي اعتراض کولای سي؟

جواب :......په صورت مسئوله کي که چیري هغه اولي درې ښځي د دې څلورمي ښځي په حسب او نسب کي سره برابري نه دي نو دوی ته د حق مهر پر زیاتوب د اعتراض حق نسته .

او که چیري په حسب او نسب کي سره برابري دي بیا هم و مېړه ته حق دی چي د یوې پر زیات مهر نکاح وکړي، برابري یوائي په ماکول او مشروب کي ضروري ده په مهر کي نه .

"کما یظهر مانقله صاحب البحر (ص۲۳٤ / ج: ۳) و فی البدائع یجب علیه التسویة بین الحرتین و الامتین فی المأکول والمشروب و الملبوس والسکنی والبیوتة"

..پلار د انجلۍ مهر اخیستلای سي :

سوال :...... زید د نکاح او واده څخه د مخه د خپلي لور مهر شل زره روپۍ د

خپل زوم څخه اخیستلای سي او د زید بنځه بالغه ده او بیا زید د خپلي لور په اجازه د خپل لور ددې شلو زرو د انجلۍ لپاره سازوسامان رانیسي، او په همدې پیسو کي د ورا خلکو تـه ډوډۍ ورکوي، دا ټوله د انجلۍ په رضامندۍ سره کیږي او زید ته ددې په جائز والي باندي دوه دلیلونه دي (۱) د حضرت علي ؓ څخه د حضور ﷺ د زرع په پیسو د حضرت فاطمې ؓ لپاره د واده سامان اخیستل.

(۲) د حضرت شعیب علیه السلام په حضرت موسی علیه السلام باندي لس کاله بزې کتل.

حاصل دا چي د انجلۍ په رضامندي د مهر پیسې او له اخیستل او هغه خرڅول جائز دي او که نه؟

جواب :.....د انجلۍ دپاره د مهر د پیسو اخیستل جائز دي، مګر پخپل استعمال کي دې نه راوړي او که چیري یې پخپل مصرف کي راوړي هغه به بیرته انجلۍ ته ورکوي:

"لا بی الصغیرة المطالبة بالمهر الخ قالا لعلامة تحت (قوله لابی) الصغیرة غیر قید ففی الهندیة للاب والجد والقاضی قبض صداق البکر صغیرة کانت او کبیرة الا إذا انهته و هی بالغة صح النهی و لیس لغیرهم ذلك "(رد المحتار / ص: ٤٠١ / ج: ٢)

نو که چیري پلار په دې پیسو کي د بالغي انجلۍ په اجازت و ورا والاؤ ته ډوډۍ ورکړي وي نو بیا د انجلۍ د هغو پیسو د بیرته غوښتلو مطالبه صحیح نه ده، البته څومره قدر پیسې چي د هغې په سامان اخیستلو کی خرڅي سوي وي هغه د دې ملکیت دی.

..مهر په یو شرط سره د بخښلو حکم:

سوال:...... مېره و ماینې ته وویل چي ته ما ته مهر را وبخښه کوم چي درې زره ورپې دي، میانې ورته وویل چي په دې شرط سره یې در بخښم چي هغه زیورات چي تا ما تـه راکړي دي هغه به زما په ملک کي وي او د هغه

زکـوۃ به ته اداء کوي‌مېږه دا خبره ورسره ومنل، د زرو مقدار اوه نیمي تولې او د سپینـو زرو مـقـدار یـو سیر وو، د مېږه یې دا خبره نه وه په یاد، او په دې وخت کـي ۲۲ کـالـه عـمـر تېر سو، مېږه یې زکوة نه کړی اداء او د ماینې یې دا کمـان وو چـي مېږه مـي زکـوۃ ورکـوي، نـو آیا پـه دې صورت کي یې مهر وبـخـبنـل سـو، . او دا جـائـز دی چـي د زرو مـالـکه بنځه وګرځي او زکوة دي مېږه هـمـیشـه اداء کـوي، هـمدا راز د زکوة حساب بـه یې پـه څـه ډول وي کـه چیـري ۲۲ کـالـه زکوة واجب وي نو آیا د هر کال حساب یې پوره راځي، د اول کال د زکوة په حساب به د نورو کلو حساب هم کیږي، په ۲۲ کالو کي د زرو مـخـتـلف قیمتونه راغلي دي په دې وخت کي څه زر خرڅ سوي هم دي او د څو هلکانو په واده کي هغه ورکول سوي هم دي مګر په دې وخت کي مقدار نصاب نه دی کم سوی؟

جواب:......په دې صورت کي مهر نه دی بخبنـل سوی .

"فـی رد الـمـحـتـار / ص: ۳۲۵ / ج: ٤ تـحت قول الماتن و الابراء عن الدین ما نصه ومن فـروعـه ما فی البحر عن المبسوط لو قال للخصم ان خلفت فانت برئ فهذا باطل لانه تعلیق البرأة بخطر وهی لا تحتمل التعلیق الخ"

د دې عبـارت څـخـه مـعـلـومـه سوه چـي د هر محتمل او تعلیق سره ابراء صـحـیـح او نافذه نه ده، او کوم ځایونه چي ترې جلا دي هغه د دې څخه نه دي او زکـوۃ د مـال د مـالک له خوا هر کال واجب او پـه دې صورت مسئـولـه کي د زکوة مقدار د رأس المال څخه محسوب او منها کیږي .

"فـلـوکـان لـه نـصـاب حـال علیه حولان ولم یزکه فیها لا زکوة علیه فی الحول الثانـی (الـی قـولـه) لا شتغـال خمسة منه بدین المستهلك الخ(تحت قول الماتن) فارغ عن دین له مطالب من جهة العباد سواء کان للّٰه"(شامیة / ص: ٥ / ج: ۲)

او پـه زکـوۃ جزء د مال واجب دی، مـګر په اداء کي یې هغه قیمت اداء کېدلای سي کوم چي زمانې اداء کړي دي .

"و فی المحیط یعتبر یوم الاداء بالاجماع و هو الاصح "(رد المحتار / ص: ۲٤ / ج: ۲ ، باب زکوة الغنم)

..په مهر کي چي کومه مځکه مقرره سوې وي
هغه ور کول ضروري ده:

سوال: ...... د زید نکا ح د خالدې سره وسوه، په حق مهر کي پنځه ایکړه د کنبت مځکه او ۱۵ زره نغدي روپۍ مقرري سوې، خالده دوه نیم کاله د زید په کور کي وه، په دې وخت کي خوسر ګنۍ هغه تکلیفوله، بالآخر ښځه د خپلي پلار ګنۍ کره راغله، تقریبا تر یوه کاله پوري انجلۍ خپل د پلار په کور کي وه، او د هغې د کورنۍ ځخه هیڅوک د بېولو لپاره نه پسي راغلی، پر ۱۱ تاریخ د۱۰ میاشتي په کال ۱۹۹٦ کي د جمعې په ورځ بې له قصوره درې طلاقونه په ژبه ورکړل، په دې صورت کي د لاندي حقوقو شرعي وضاحت وکړئ.

د لاندي مسئلو په باره کي علماء کرام څه وایي؟

(۱) خوسر ګنۍ یې وایي چي زید ۱۵۰۰۰ نغدي روپۍ یې په خالدې باندي بخښلي وې ولي چي اکثره د خوسر ګنۍ هم دا عادت وي چي نوې ناوې په یوه بهانه باندي خطاباسي او په هغې باندي مهر وبخښي نو آیا دا ډول بخښنه د قبولیت وړ ده او که نه؟ وضاحت یې وکړئ.

(۲) د ناوي د مور او پلار له خوا چي کوم زر و ناوي ته ورکول سوي وه خوسر ګنۍ هم ناوي ته زر ورکړي وه، په تحفه، هدیه او عطیه کي، آیا ناوي د خوسر ګنۍ د زرو شرعا مالکه کامله ګرځېدلای سي او که نه؟

(۳) د ناوي سامان خوسر ګنۍ استعمال کړی او د استعمال قابل یې نه دی پرې اینبسی، اوس د دې په بدل کي خالده د نوي سامان غوښتنه کولای سي او که نه؟

(۴) د پنځه ایکړ زرعي مځکي کوم چي یې په وخت د نکا ح کي د زید د

پلار پر نامه وه او د زيد پلار د دې اقرار کړی دی چې خالده د همدې مځکې د اخيستلو اجازه لري، او که خوسرګنۍ يې وواېي چې يا موږ يې دې ت په يو بل کلي کې اخلو د کوم قيمت چې د اصل رقبې په اندازه نه وي، نو خالده پخپله مرضۍ د پنځه ايکړه مځکې کوم د نکاح په وخت کې وه د غوښتنې حقداره ده او که نه ؟ جواب راکړئ .

جواب :...... که چيري واقعي ښځې ۱۵ زره نغدې پيسې وربخښلې وي نو هغه بخښنه صحيح ده اوس د هغه غوښتل صحيح نه دي .

"وفی الهداية و ان حطت عنه من مهرها صح الحط لان المهر حقها والحط يلاقيه حالة البقاء"(ص ۳۰۵ / ج: ۲)

(۲) که چيري ستاسې په خاندان کې د هلک والا وانجلۍ ته زر په طور د ملکيت او هبه ورکوي نو د دې زرو مالکه انجلۍ ده .

(۳) کوم سامان چې استعمالول سوی دی د هغه د خرابۍ هلک والا ذمه داره نه دي، البته اوس چې کوم سامان موجود دی هغه و انجلۍ والا ته بيرته ورکول لازمي دی .

(۴) که چيري په نکاح کې د دې خبري تعين کړل سوی وي چې پنځه ايکړه هغه مځکه چې د هلک د پلار پر نامه ده هغه به ورکوي، نو بيا خو هلک والا وو ته هم هغه ورکول ضروري ده ، او که چيري په وخت کې د نکاح تعين يې نه وکړل سي بلکه مطلق پنځه ايکړه مځکه ياده سوې وه، نو اوس به د درميانه قيمت پنځه ايکړه مځکه ورکوي او يا به د هم هغې مځکې قيمت ورکوي .

"کما فی الشامية ان المسمى إذا كان من غير المنقود بان كان عرضا او حيوانا اما أن يكون معينا باشارة او اضافة فيجب بعينه او لا يكون معينا(الى قوله) و ان علم نوعه و جهل وصفه (الى قوله) صحت التسمية و تخير بين الوسط او قيمته الخ "(ص ۳۷۸ / ج: ۲)

د فساد د مخنیوي په خاطر په مهر (ولور) کي تر مقرر حد د زیادت نه کولو پرېکړه:

سوال: ...... د لاندي مسئلو په باره کي علماء کرام څه وايي؟

(۱) زموږ په علاقه کي زياتره خلک د نجونو مهر دوه لکه يا يو نيم لک کلداري پر انجلۍ مصرفوي نوري پاته پيسي پخپله خوري، لهذا که څه هم دا تعين شرعي نه ده کړې ليکن د فساد د مخنيوي په خاطر زموږ د علاقې علماؤ او د قوم مخورو فيصله کړې چي تر پنځوس زره کلداري زيات مهر مقررول منع دی.

(۲) او دا فيصله يې هم کړې ده چي کوم چا چي خپلي لوڼي په دوه لکه يا يو نيم لک کلداري ورکړي دي هغه به هم تر پنځوس زره زياتي نه اخلي.

(۳) زموږ د علاقې خلک په لري فاصله کي سره واقع دي نو ديو نېک کار لپاره يا مثلاً د مذکوره مسائلو لپاره د خلکو د راجمع کولو لپاره ډول استعماليږي، او د ډول بغير خلک لږ راجمع کيږي، او د علاقې د رواج مطابق خلک ډاله ته ډېر اجمع کيږي، نو آيا په دې صورت کي د ډاله استعمال دائز دی او که نه؟

(۴) د مذکوره مسائلو پر پرېکړي د اتفاق باوجود که خلک او علماء داسي فيصله وکړي چي ک چا د دې فيصلې مخالفت وکړ هغه ته به سزا ورکول کيږي، نو که اوس يو عالم او ملا د دې فيصلې مخالفت وکړ آيا دې عالم ته سزا ورکول کېدلای سي او که نه؟

جواب: ...... د قوم مذکوره فيصله يو نېک او مستحسن کار دی، ځکه د حر انسان خرڅول حرام دي، او په مهر که څه هم زيادت خو مشروع دی مگر خو مطلوب شرعي نه دی، يعني فرض يا واجب يا مستحب کار نه دی، بلکي صرف مباح دی.

"اما المشروعية فلقوله تعالى: ﴿وَآتَيْتُمْ إِحْدَاهُنَّ قِنطَاراً فَلَا تَأْخُذُواْ مِنْهُ شَيْئاً

﴾(النسـاء: ۲۰) و اما عدم المطلوبية فلقول عمر رضی الله تعالی عنه : ألا لا تُغَالُوا بِصُدُقِ النِّسَاءِ فَإِنَّهَا لَـو كَانَتْ مَكْرُمَةً فِي الدُّنيَا أو تَقْوَى عِنْدَ اللّه لَكَانَ أَوْلَاكُمْ بِهَا النَّبِيُّ ﷺ (ترمذی / ص: ۱۷۹ ، باب مهور النساء)"

نـو كـلـه چي يـو مبا ح او غيـر مـطـلـوب شرعي كار د فساد ذريعه او سبب جـوړيږي نـو هغـه مـمـنـو ع دى . كما يشير اليه قوله تعالى : ﴿لَا تَقُولُواْ رَاعِنَا وَقُولُواْ انظُرْنَا﴾ (البقرة: ۱۰۴)

او د مهـر ډېروالـی زيـاتـره وخـت د استـمـنـا بـالـكف، لواطت، زنا او نورو فسادونو سبب جوړيږي .

د دوهـم سـوال جواب: په مذكوز صورت كي د ښځي يا ولي لپاره مناسبه ده چي تـر مـقـرره حـد زيـادت وانخلي، او زيادت مهر ښځه بخښلی سي ځكه په نكا ح كي چي كوم مهر مقرريږي دا يوازي د ښځي ملكيت دى .

د دريـم سـوال جـواب: كـوم ډول چي دواړي خـواوي يې بـنـدي وي لكـه اوس رواجي ډلـونـه چي دي د دې پـه آواز كي طرب او سرور سته نو ځكه ړغول يې ناجائز دی .

د دريم سوال جواب : له داسي عالم سره اړيكي پرې كول ضروري دي .

مـذكوره بالا فتوى بايد په ټولو مفتيانو تصديق سي او په ټولو شعبو كي د كتاب له حوالي سره درج سي .

د قـوم د مشـرانـو مذكوره فيصلې ته په دې وجه چي ديو آزاد انسان خرڅول حـرام دي د استـحسـان پـه نـظـر كتـل كيـږي پـه مهـر زيادت كه څه هم روا دی ليكن د رسول الله ﷺ پر سنتو او تكلاره تلونكی انسان حضرت عمر فاروق رضـی الله عـنـه لـه دې فرمان څخه: (ألا لا تُغَالُوا بِصُدُقِ النِّسَاءِ فَإِنَّهَا لَـو كَانَتْ مَكْرُمَةً فِي الدُّنيَا أو تَقْوَى عِنْدَ اللّه لَكَانَ أَوْلَاكُمْ بِهَا النَّبِيُّ ﷺ مَا أصدق رسول اللّه ﷺ امرأةً مِنْ نِسَائِهِ وَ لا أصدقَتْ امرأةٌ من بناتِهِ أكثرمن ثِنْتَيْ عَشْرَةَ أُوقِيَّةً) پـه ښـكـاره ډول مـعـلـوميږي چي زيـات مهر مقررول كوم ښک او ښه كار نه دی،

بلکي په نکاح کي چي څومره تکلفات کم وي هغه نکاح رسول الله ﷺ ډېره با برکته بللې ده .
(عن عائشة رضی الله عنها قالت: قال رسول الله ﷺ: أعظم النكاح بركة أيسرهُ مؤنة) (مشكوة / ج:۲ / ص: ۲۶۸) (خیر الفتاوی / ج: ۴ / ص: ۵۵۸)

توصیه :. محترمو ورونو مسلمانانو ته دا امر ضروري دی چي مهر زيات او زيات تر دري لکه (۳۰۰۰۰) کلداري زيات مقرر نکړي، ولي که زيادت مهر صرف جائز دی خو بهتر کم مهر دی چي تاسو ته په احاديثو کي تېره سوه او بلي خوا ته مفاسد ډېر دي هغه دا چي مور وينو چي په بلوچستان کي په پنځوس لکه (۵۰۰۰۰) کلداري مهر ښځه ورکړې ده د نامه او يا دريا لپاره او هغه پخپله وخوري ديو حر ازاد انسان روپۍ خوړل حرام دي، او يا ورته زر واخلي نو پر لوريې هم زکات او اضحيه لازم سي او بيا هغه نه زکات ورکوي او نه اضحيه کوي نو دايې دوهمه ګناه سوه دريم: مور وينو چي مسکين ښادي کوزده وکړي نو فقر کوي د مهر د ادا کېدو لپاره يا خو غريب ولاړ سي ايران ته په کوريزي او قاچاق، داسي پېښه سي چي هلته په کلو بندي وي يا د غربت ژوند تېروي، او يا اروپا او افريقا ته ولاړ سي او يا خو اسلامي ملک سعودي ته ولاړ سي هغه ورته د مرېيي يا غلام په ستر که کوري د ذلت او خوارۍ په مصيبت اِختـه وي څو خپل مهر ادا کړي بيا چي راسي خوسر خوښي هم غواړي هم يو لک يا دوه لکه غواړي، او يا به واده نکوي ولي د ولور قدرت يې نه وي بالآخر په زنا يا غلا اختـه سي يا پوډري او نشيي سي، نو محترمو مسلمانانو تاسي پر خپل زوم رحم وکړئ په لږ مهر لور ورکړئ هغه به مو شاکر هم وي او هم به مو د لور ژوند برابر وي .

لوړه فتوی چي د مولانا شيخ الحديث خير محمد جالندري او د پنجاب د علماؤ اتفاق پر پنځوس زره مهر راغلي دی او زمور د پښتنو مهر ډېر دی پنځوس زره د ځان لپاره پېغور بولي نو تر دوه لکه يا دري لکه زيات مهر

اخیستـل د مـذکـوره فتـوی پـر مطابق ښـه کار نه دی د احادیثو په روښنایي کي بـعـض روا شیـان د فسـاد د مخنیوي لپاره حرام کرزي لکه د راعنا لفظ ویل یو روا او جـائز کار وو لیکن چونکه کفارو بده معنا ځیني اخیستـه نو الله جل جلاله د دې لفظ له ویلو څخه منع وکړه پر ځای یې د انظرنا لفظ د ویلو حکم وکړ .
نوره فیصله ستاسو په لاس کي ده . و الله اعلم بالصواب .







﴿باب الظهار﴾

ســـوال :...... دیوې ښځي مېړه په غصه کي خپل ورور ته ووایي چي له ننه بعده زما ښځه پر ما باندي داسي ده لکه زما مور، آیا په دې خبره باندي طلاق واقع کیږي که نه؟

جواب :......"امرأتی علی کأمی "

دغه جمله کنایه ده له ظهاره څخه او د ظهار له صریح الفاظو څخه نه ده داسي جمله عام ده طلاق دپاره استعمالیږي .

توعرف عام کے پیش نظر اس شخص کی بیوی پرایک طلاق بائن واقع ہوگئی ہے حالت غضب اورعرف عام کے پیش نظر بدون نیت طلاق بائن کا حکم لگایا جائے گا۔ (کتاب الفتاوی / ج:۲ / ص:۱۰۲)

"اعلم ان الالفاظ التی یصیر بها المرأ مظاهراً علی نوعین صریح نجو انت علی کظهر امی او انت عندی کظهر امی و کنایةً نحو ان یقول انت علی کامی او مثل امی او نحوهما یعتبر فیه نیته فان اراد ظهاراً کان ظهار و ان لم ینو لا یصیر ظهار و عند محمد بن الحسنؒ هو ظهار و عند ابی یوسفؒ هو مثله ان کان فی الغضب و عنه ان یکون ایلاء وان نویٰ طلاقا بائناً الخ "(عمدة القاری / ج:۲ / ص: ۲۸۱)

ســوال :......

که سړی خپلي ښځي ته ووایي ستا لاس پر ماداسي دی لکه زما د مور لاس دا الفاظ ظهار دی کنه؟

جواب :......

پـه صورت مسـئوله کي تشبيه دلاس د مور له لاس سره سوې د ه او پـه دې سره ظهـار نـه راځـي ځـکـه ظهـار د هـغـو اعضاؤ پـه تشبيه سره راځي چي نظر کول ورته حرام وي، د لاس پښې يا گوتو پـه تشبيه سره ظهار نه راځي:

''کـمـا قـال ولـو قال يديك او رجلك او اصبعك لا يصير مظاهر عندنا و منها ان يـكون عضو لا يحل له النظر اليه من الظهر و البطن والفخذ و الفرج حتى لو شَبَّهَهَا برأس أمه اوبـوجهها او يـدهـا او رجـلها لا يصير مظاهراً لأن هذه الاعضا من أمه يحل له النظر اليها''(بدائع الصنائع / ج: ۳ / ص: ۳٤۹)

سـوال :......

که يو سړى ښځي ته ووايي ته پر ما داسي يې لکه ستا خور، آيا پـه دغـو الفاظو سره د ظهار حکم ثابتيږي کنه؟

جـواب :......پـه مسـئولـه صورت کي دا حکم نه ثابتيږي ځکه پـه مشبه به کي حرمت ابدي شرط دی:

''کـمـا قـال او تشبيه جزء شـائـع مـنها بمحرم عليه تأبيد بوصف لا يمكن زواله فخرج تشبيهه بأخت امرأته ''(رد المحتار / ج: ۲ / ص: ٦۲۲)

سـوال :...... د نابالغ او لېوني ظهار صحيح دی کنه؟

جواب :......د مذکوره کسـانو ظهار نه دی صحيح :

''کـمـا قال فلايصح ظهار المجنون والصبي والمعتوه و المدهوش والمبرسم و لـمغمَى عليه و النائم و يصح من السكران و المكره الخ''(فتاوى شيخ حسن جان مدنى / ج: ۳ / ص: ۳۳۵)

سـوال :......کـه يـو سـړى خپـلـي ښـځـي تـه ووايي چي ته پر ما داسي يې لکه شراب، آيا حرمت ثابتيږي کـه نه؟

جواب :...... هو، حرمت ثابتيږي :

''کـمـا قال و لو قال انت علی کالميتة او کالدم او کالخمر وکلحم الخنيز يرجع

إلى نيته ان نـوى الـطـلاق كان طلاقا و ان نوى التحريم اولا نية له يكون يمينا و يصير مـوليا و ان قـال عنيت به الكذب لم يكن شيئا و لا يصد فى نفى اليمين فى القضا "(بدائع الصنائع / ج: ٣ / ص: ٣٦٧)

سـوال :......

كـه سړى ظـاهراً يو داسي لفظ ووايي چي د ظهار په معنا كي نه وي مستعمل خو دده نيت د ظهار وي دا ظهار دى كه نه'

جواب :......

دا ظهار نه دى :

"لو قال لها انت امى لا يكون مظاهر "(الهندية ج ١/ ص: ٩٨)

و قال ابـن نجيم فعلم أنه لا بد فى كونه ظهار من التصريح بأداة التشبيه شرعا مثل قـولـه يا بـنتى يا اختى ونـحوه ـ(البحر الرائق / ج: ٢ باب الظهار مثله فى الشامى)

☆☆☆

باب دی په بیان دخلع کي

دخلع تعریف

سوال: خلع څه ته وائي ؟ ایا دخلع يوه معنا ده که دامام صاحب سره دخلع په باره کي اختلاف سته؟

جواب: دخلع لفظي معنیٰ ایستل دي ځنانچه کوم سړی له خپل ته څخه جامې يعني کالي وکاږي هغه ته په عربي کي خلع وائي .خلع ثوبه عن بدنه او په شريعت کي ښځه خاوند ته څه پيسي ورکړي يا ورته مهر معاف کړي او دنکاح رشته ورسره قطع کړي يا دهغه دقاميت دقيد څخه دځان خلاصولو اجازت شريعت ورکړی دی . خلع يو عقد دی کوم چي دنورو يقودو لکه بيع اجاره نکاح او داسي نور و غوندي ددواړ ح خواوو په کاملي خوښي او دتللو ضرورت نسته بلکه زوجين په خپل مينځ کي دخپل صوابديد په مناسبت دخلع دعوض يا بدل په ټاکلو سره يو له بله سره معامله کولی سي . چي هغه په هرڅو دوی دواړه فيصله وکړه هغه به نافذوي دعدت تر تيريدو وروسته ښځه په بل ځای کي نکاح کولای سي په دې باندي دمسلمه امت دټولو مجتهدينو رحمه الله اجماع ده چي خلع دخاوند او ښځي په خپل مينځ خوښي باندي موقوفه ده حاکم څوک په خلع باندي نه سي مجبوروالای په دې باندي له مذاهبو اربعه څخه پرته دظاهر دخاوندانو هم اتفاق دی ددغو مذاهبو تصريحات ملاحظه کړئ :

حنفي مذهب قال شمس الائمه اکسرخسي :فيحتمل الفسخ

بالتراضي ايضاً . وذالک بالخلع واعتبر هذالمعاوضه المحتملة للفسخ بالبيع والشراء فی جواز فسخها بالتراضي (مبسوط ج٢ ص ٢٧١ .وايضاً قال والخلع جائز عند السلطان وغيره لانه عقد يعتمد التراضي كسائر العقود (مبسوط ج٦ ص ١٧٣ .

قال الامام الكاسانی : واما ركنه فهو الايجاب والقبول لانه عقد فلی الطلاق بعوض فلا تقع الفرقة ولا يستحق العوض بدون القبول (بدائع الصنائع ج٣ ص١٤٥ .

قال الامام الزيلعی : اذلا ولاية لِاحدهما فی الزام صاحبه بدون رضاه (تبيين الحقائق ج٢ ص ٢٧١)

نقل العلامه ابن عابدين ايضاً عبارة الزيلعي المتقدمة تحت قول الشارح لانه تعويض (ردالمحتار ج٢ ص ٦١١ .

مالكي مذهب: ونجبر على الرجوع اليه ان لم يرد فراقها بخلع او غيره (المنتقي ج ٧ ص ٦١ .

قال العلامه ابن رشد: فان الجمهور على ان الخلع جائز مر التراضي اذا لم يكن سبب رضاها بما تعطيه اضراره بها (بداية المجتهد ج٢ ص ٢٨ .

شافعی مذهب:قال الامام الشافعي : وان قال لا افارقها ولا اعدال لها اجبر على القسم لها ولا يجبر على فراقها (كتاب الام ج٥ ص ١٨٩) وقال ايضاً وليس له (الحاكم) ان يأ مرهما (الحكمين) يفرقان ان لارأيا الا بامر الزوج ولا يعطيا من مال المأة الا باذنها (كتاب الام ج٥ ص١٩٤ .

حنبلي مذهب: قال العلامه ابن قدامه : ث ولانه معاوضه فلم يفتقر

الى السلطان كالبيع والنكاح ولانه قطع عقد بالتراضى اشبه الاقالة (المغنى ج٧ ص ٣٢٤ .

وقال الحافظ ابن قيم : الخلع فدية دليل على ان فيه معنى المعاوضة ولهذا اعتبر فيهر.ى الزوجين (زاد المعادج ٢ ص ٢٣٨ .

ظاهري مذهب: الخلع وهو الاقتداء اذاكرهت المرأة زوجها فخافت ان لا تو فيه حقه او خافت ان يبغضها فلا يوفيها حقها فلها ان تفتدى منه ويطلقها ان رضى هو،والا لم يجز هو ولا اجبرت هى انما يجوز بتراضيها ولا يحل الاقتداء الا باحد الوجهين المذكورين او باجتماعهما فان وقع بغيرهما فهو باطل ويرد عليها ما اخذ منها وهى امرأته كما كانت ويبطل طلاقه ويمنع من ظلمها فقط (المحلى لابن حزم ج١٠ ص ٢٣٥ (احسن الفتاوىٰ ج۴ ص ٥٠٦ .

په خلع کي ايجاب او قبول ته ضرورت سته

سوال: په خلع کي ايجاب او قبول ته ضرورت سته او که يوازي د ميړه يا مايني په خبره تاميږي؟

جواب: په خلع کي ايجاب او قبول دواړو ته ضرورت سته کما قال: واما ركنه فهو ايجاب والقبول لانه عقد على الطلاق بعوض (بدائع الصنائع ج٣ص ١۴٥

دخلع په صورت کی دتفرقې حکم

سوال: دمېړه او مايني په مابين کي چي کومه تفرقه دخلع په وجه راسي دغه تفرقه فسخ بلل کيږي که طلاق؟

جواب: په دې مسئله کي دفقهاء اختلاف دی په نزد خلع دطلاق

بائن پـه حـكـم كـي دى په داسي حال كي چي شوافع ئې دنكا ح فسخ كي حسـابوي كما قال: (وقع) طلاق (بائن فى الكلع رجعى فى غيره) قال ابن عـابدين تحت قوله (بائن ففي الخلع) لانه من الكنايات الدلالة على قطع الـوصلة فكان الواقع منه بائناً . (ردالمحتار ج۲ص ٦٠٩) قال الشيخ وهبه الـزحيـلى يقـع بـه طـلـقة بـائنة ولو بدون عوض او نية فى رأى الحنفية والـمـالـكية والشافعية فى الراجح واحمد فى رواية عنه (الفقه الاسلامى ج ۷ ص ۵۰۴ .

دخلع بدل

سـوال: دخلع په بدل كى ميړ ح دماينې ځخه څومره مال اخيستلاى سي يو مقرر اندازه لري او كه نه؟

جـواب: ده چي څـومره مهر ښځي ته وركړى وو پر هغه اندازه يا تر هغه كم اخيستلاى سي دمهر تر اندازې زيات اخيستل مكروه تنزيهى دى كما قـال :(وكـره)تـحـريـمـاً (اخذشئ) ويـلحق به الا براء عما لها (ان نشز وان نشـزت لا)ولـو مـنـه نشـوز ايـضـاً ولو باكثر مما اعطاها على انا وجه فتح وصـحـح الـسـمـنـىّ كـراهة الـزيـادة وتـعـبيـر الـمـلتقى لابأس بـه يفيد انها تنزيهية وبه يحصل التوفيق (رد المحتار ج۲ ص ٦٠٩ .

په خلع دحاكم دفيصلې ضرورت

سـوال: پـه خـلع كي دوخت دحاكم فـيـصلې ته ضرورت سته او كه يوازي دزوجينو رضامندي غواړي؟

جـواب: دحـاكـم دفيـصـلـې ضـرورت نستـه دزوجيـنو رضامندي كافي ده .كـمـا قـال : والخـلـع جائز عند السلطان وغيره لانه عقد يعتمد التراضى

کسائر العقود وهو بمنزلة الطلاق بعوض وللزوج لاية ايقاع الطلاق ولها ولاية التزام العوض فلا معنىٰ لاشتراط حضرة السلطان فی هذه العقد (المبسوط للسرخسي ج۵ ص ۲۰۲ .

كه دزوجينو دخلع په بدل كي اختلاف وي

سوال: كه ميړه او ښځه دواړه اقرار كوي چي زموږ په مينځ كي خلع سوې ده خو اختلاف په دې دی چي ميړ ح وائی دخلع بدل شل زره وو او ښځه وائی چي دخلع بدل لس زره وو اوس دكوم يوه قول معتبر دی ؟

جواب: دلته دښځي قول معتبر دی كه شاهدان دسړي نه وو كما قال: لو اختلفا فی جنس ماوقع عليه الخلع او نوعه او قدره او صفته فالقول قول المرأة وعلى الزوج البينة كذا فی البدائع)الهنديه ج ۱ ص ۵۰۰)

وكذلک لو قالت خلعتنی بغير شئ وقال الزوج بل بألف فالقول قولها والبينة بينة الزوج لما قلنا (المبسوط للسرخسي ج٦ ص ۲۱۴ .

په خلع كي دزوجينو اختلاف

سوال:

زيد وايي ما دخپلی ښځي هندې سره د دوه لكه كلدارو په مقابل كي خلع كړې ده خو ماينه ئې دخلع څخه انكار كوي اوس دده قول معتبر دی كه دماينې ؟كه دده قول معتبر وي‌بيا ئی پر ښځي هغه دوه لكه لازمي دي كه مه؟

جواب: په صورت مسئوله كي دزيد قول معتبر دی دا بائنه كرزي او زيد لره عوض نسته كما قال: وان قال الزوج طلقتک بكذا كألف فقالت بل طلقتنی مجاناً او لم طلقتنی بانت بقوله ولا عوض للزوج عليها ان حلفت على نفيه اما

البینونة فلا قراره واما عدم العوض فلان الاصل براءة ذمتها لکن لها النفقة والکسوة والسکني فی العدة (الفقه الاسلامی ج۷ ص۸۰۸ .

دخلع په صورت کي دعدې حکم

سوال: که میړه او ښځه خلع وکړي پر ښځه عده سته که نه؟

جواب: هو،عده پر ښځه لازمه ده کما قال: اذا طلق الرجل امرأته طلاقاً بائناً او رجعیاً او ثلاثاً او وقعت الفرقة بینهما بغیر طلاق وهی حرة ممن تحیض فعدتها ثلاثة اقراء سواء کانت الحرمة مسلمة او کتابیة کذا فی السراج الوهاج (الهندیة کتاب الطلاق الباب الثالث عشر فی العدة)

دا فصل په ایلاء کي دئ:

(۱) **مسئله** :

خاوند خپلي ښځي ته وویل هر وار که داخله شوې ته ودغه سرای ته نو قسم په الله دی چي ستا سره به کور والی نه کوم وروسته له هغه دغه ښځه سرای ته داخله سوه په یوه ورځ کي او په بله ورځ کي بیا دغه ښځه و دغه سرای ته داخله سوه او په بله ورځ کي بیا دغه ښځه و دغه سرای ته داخله سوه، اوس به کورو که چیري دغه سړی له دې سره کوروالی کړی وي نو یوه کفاره د قسم پر ده واجبیږي او که چیري ده داولي ورځي سره څلور میاشتي خالي له کوروالي څخه تېري شوي وي نو یو طلاق بائن پر دغي ښځي واقع کیږي په سبب د ایلا، که بله ورځ خالي له جماع تېره سوه نو په بل طلاق بائن طلاقه سوه که بله ورځ یعني که تر څلور میاشتي وروسته بله ورځ خالي له کور والي څخه تېره سوه نو دا په بل طلاق بائن طلاقه سوه:

"ومثال تعدد البر تعدد الایلاء واتحاد الیمین کلما دخلت هذا الدار فوالله لا اقربك فدخلتها فی یوم ثم دخلتها فی یوم اخر ثم دخلتها فی یوم آخر فان

قربها تجب كفارة واحدة و ان تركها بلا وطى أربعة اشهر من اليوم الاول لدخولها بانت بتطليقة فاذا مضى يوم آخر بانت باخرىٰ و إذا مضى يوم آخر بانت بالثلاثة بالطلقة الثالثة " (فتح القدير / ج: ٤ / ص: ٤٩) مكتبه كفايه۔

په بدائع کې داسې ذکر شوي دي که چيري دغه خاوند دغه سراى ته په ور ځ د جمعې مثلا داخل سو نو دا ايلاء له جمعې څخه شمېرل کيږي او مثلاً د شنبې په ور ځ بيا دغه سراى ته داخل سو نو دغه ايلا له شنبې څخه حسابيږي، حکم يې داسې دی که چيري له وخته څخه د اول تېر سو نو دغه ښځه په يوه طلاق بائن طلاقه سوه بيا له وخته د وهم داخلېدو و دغه سراى ته څلور مياشتې خالي له کور والي څخه تېري سوې نو دا په بل طلاق بائن طلاقه سوه اوس به ګورو که چيري ده له دې سره کور والی وکړنو يوه کفاره ده قسم پر ده واجبيږي . (بدائع / ج: ۲ / ص: ۱۷۸)

"ولو قال كلما دخلت هذه الدار فو الله لا اقربك او قال و الله لا اقربك كلما دخلت هذه الدار يصير موليا ايلاء ين فى حق البر و ايلاء (قسم) واحد فى حق الحنث و بعد الحنث كفارة واحدة فاذا دخل الزوج بدار دخلتين ينعقد الايلاء الاول عند الدخلة الاولى والثانى عند لدخلة الثانية حتى لو مضت أربعة اشهر من وقت الدخلة الاولى بانت بتطليقة بشرط عدم الوطى و إذا تمت أربعة اشهر خالية من الوطى من وقت الدخلة الثانية بانت بتطليقة اخر و لو قربها بعد الدخلتين لايلزمه الا كفارة واحدة لتعدد المدة (مدة الايلاء) و اتحاد اليمين فى حكم الحنث"(بدائع / ج: ٣ / ص: ١٧٨)

(۲) **مسئله**:

که خاوند خپلې ښځي ته وويل چي قسم په الله دي ستا سره به ابدي کور والی نه کوم او له هغه وروسته ده درې طلاقه ورکړو حکم يې داسې دی چي دغه ايلاء يعنې قسم اخيستل هيڅ تاثير نه لري که چيري دغې ښځي

وروستـه لـه نـكـا ح كـولـو لـه بـل خـاونـد سره بيرته له اول خاوند سره نكا ح وكړه او څلور مياشتي له كور والي څخه خالي تېري سوې نو دا طلاق نه بلل كيږي په سبب د ايلاء:

"وإذ الى الرجل من امرأته انه لا يقربها ابداء ثم طلقها ثلاثا بطل الايلاء عندنا خلافا لزفرؒ"(المبسوط للامام سرخسى / ج: ٤ / ص: ۲۹ جزء ۹)

(۳) **مسئله :**

كـه خـاونـد په مشهد كي وو ښځه يې په تهران كي وه او په مينځ كي ددغو دوو ښـارونـو مسـافـه لـږ تـر څـلور مياشتو وه د پياده سړي په تګ او دغه مېړه وويل قسم په الله دى نه داخليږم و تهران ته نو دغه مېړه ايلاء كوونكى نه بلل كيـږي پـه نـزد د إمام ابو حنيفهؒ باندي او د إمام مالكؒ او د إمام شافعيؒ او إمام احمد بن حنبلؒ په نزد كه څلور مياشتي خالي له كور والي تېري سوې نو دغه د ده ښځه طلاقه نه بلل كيږي .

"ان كـان بيـنهـمـا قـدر أربعة اشهر كان موليا على ما فرع قاضى وا لمرغينانى و ان كان بينهما اقل من ذلك (اقل من أربعة شهرٍ) لم يكن موليا عند الائمة الأربعةؒ الا فى رواية عن احمدؒ"(فتح القدير / ج: ٤ / ص: ٥٠ ـ ٥١ ـ ٥٣)

(۴) **مسئله :**

كـه يـو سـړى خپـلـي ښځي ته ووايي كه چيري مي ستا سره كور والى وكړ نـو پـر مـا بـانـدي حج د بيت الله دى يا يې وويل چي كه مي چيري ستا سره كور والـى وكـړ نو پر ما باندي عمره ده يا يې وويل چي كه مي چيري ستا سره كور والـى وكـړ نـو پـر مـا باندي بيت الله شريف ته تګ دى يا يې وويل كه مي چيري ستـا سـر ه كـور والـى وكړ نو پر ما باندي روژه نيول دي يو كال يا يې وويل كه مـي چيـري ستا سره كور والى وكړ نو پر ما باندي صدقه ده يا يې وويل كه مي چيـري ستا سره كور والى وكړ نو پر ما باندي آزادېدل د مريي دي يا يې وويل

چي كه چيري مي له تا سره كور والى وكړ نو پر ما باندي ستا بن يعني هغه بلـه ښځه طلاقه ده يا يې وويل چي كه مي چيري له تا سره كور والى وكړ نو ته طلاقه يې .حقير بنده وايي يعني كه يې كور والى وكړ نو ته طلاقه يې درې په دغه هر مثال كي دغه سړى ايلاء كونكى بلل كيږي او د دغه هر مثال ويل ايلاء بلل كيږي:

"قال ولو حلف بحج ان قربتك فعلى حج البيت او العمرة او المشى إلى بيت الله او بصوم بان قال ان قربتك فعلي صوم سنة او صدقة او عتق بان قال ان قربتك فعلى عتق رقبة او طلاق بان قال ان قربتك فضرتك طالق فهو مولٍ فى كل الصور المذكورة على ظاهر الرواية عن أصحابناً (نكاح هدايه / ص: ۳۸۱ بنايه / ج: ۵ / ص: ۲۹۷)

و الحلف بالطلاق ان يعلق بقربانها طلاقها او طلاق صاحبتها اى كل الاجزية المذكورة مانع من الوطؤ ـ البنايه اى العينى / ص: ۲۸۱ / ج: ۵ ، نكاح هدايه / ص: ۳۸۱)"

(۵) **مسئله**:

كه يو سړي خپلي ښځي ته وويل كه مي چيري ستا سره كور والى وكړ نو پر ما باندي روژه ده يا يې وويل پر ما باندي اعتكاف دى يا يې وويل پر ما باندي قسم دى يا يې وويل چي پر ما باندي سل ركعته لمونځ دى يا مثل ددغه تكليفي او د مشقت شى وي په عادت كي يا يې وويل چي پر ما باندي طعام دى يعني غلّه ، اوربشي وركول دي و مسكين ته يا يې وويل چي پر ما باندي ديوې ورځي روژه ده په دغو ټولو مثالونو كي دى ايلاء كونكى بلل كيږي . او ويل د دغه هر مثال ايلاء بلل كيږي:

"ولو حلف بان يقول ان قربتك فعلى حجة او عمرة او صدقة او صيام او هدى او اعتكاف او يمينٌ او كفارة يمين فهو مولٍ آه ـ و تجب صحة الايلاء فيما لو قال

فعلی مائة رکعة و نحوه مما یشق عادة آه و لو قال ان قربتك فعلی اطعام مسکین او صوم یوم فهو مولٍ بالاتفاق "(عالمگیری / ج: ۱ / ص: ٤٧٨)

(٦) **مسئله:**

که خاوند و ویل که مي چیري له تا سره کوروالی وکړه نو پر ماباندي د دوو رکعاتو کول دي، دی ایلاء کونکی نه دی:

"**ولو قال ان قربتك فعلی ان اصلی رکعتین فهو لیس بمولٍ** "(تتارخانیه / ج: ٤ / ص: ۲۲)

(٧) **مسئله:**

که خاوند و ویل که م چیري له تا سره کوروالی وکړ نو پر ما باندي روژه د دغي میاشتي ده نودی ایلاء کونکی نه دی:

"**بخلاف صوم هذا الشهر (فانه لیس بمولٍ) فلیراجع مسئلة البحرالرائق المارة قبل صفحة و قال فیها و اراد بالصوم غیر المعین لانه یمکنه قربانها بعد مضیة بلا شیئ یلزمه**"(فتح القدیر / ج: ٤ / ص: ٥١)

(٨) **مسئله:**

که خاوند و ویل پر ما باندي تګ د جنازې دی یا سجده تلاوت یا قرائت د قرآن مجید یا تسبیح ویل یا لمونځ په بیت المقدس کي دی، په دغه هر مثال کي دی ایلاء کونکی نه دی دغه ویل ایلاء نه بلل کیږي:

"**ولو قال فعلی اتباع جنازة او سجدة تلاوة او قرأة قرآن او تسبیح او الصلوة فی بیت المقدس لم یکن مولیا**"(رد المحتار / ج: ۲ / ص: ٥٤٨؛

☆☆☆

فصل عدت و رجعت

ســوال :......

د خپـل خـاونـد د وفـات عـده تېرونكې ښځـه ديـو قريب د تعزيت او فاتحې اخيستـلـو لپاره تلاى سي كه يا همدارنګه دغه ښځه د خپلو قريبانو په ښادي كې شركت كولاى سي كه يا ؟ زموږ مذهب په دغه مسئله كې څه وايي ؟

جواب :......

داسي ښځه چي په عده كې وي شرعاً نه د چا د غم او نه د چا د ښادي مراسمو ته تللاى سي ، ددې شراكت منع دى شرعًا:

"كما فى الثانى عن الفتح والحاصل ان مدار حل خروجها بسبب قيام شغل معشية فيتقرره"(رد المحتار / ج: ٢ / ص: ٤٧٤)

ســوال :......

د كـومـي حـامـلـې اميـدوارې ښـځـې خـاوند چي وفات سي د هغې عده د حمل زېږول دي او كـه چيـري ددې حـمل په نس كې وچ سي نو عده به څنګه دا پوره كوي ، شريعت څه جوابلري دغه مسئلې ته؟

جواب :......

كـله چي حمل د يوې حاملې ښځې په نس كې وچ سو نو دا شرعاً حامله نه بلل كيـږي عـده د دغـې ښـځې څلور مياشتې او لس ورځې ده د غير حاملې ښځې په شان به عده تېروي:

"قال والعدة للموت أربعة اشهر و عشر مطلقا الخ "(رد المحتار / ج: ٢ / ص: ٤٥٤ ، باب العدة)

ســوال :......

یوې طلاق سوي مېرمن ته یو حیض راغلی بیا د بل ناجائز تعلق د وجهي حامله سوه اوس ددغي ښځي عده د حیض په تېرولو سره ده او که د حمل په زېږولو سره ده او حال دا چي دغه ښځه اوس نکاح کول هم غواړي؟

جواب:......

د دغي ښځي عده اوس د حمل تر زېږولو پوري وځنډېده له هر کله چي يې حمل و زېږوی نو بیا ددې عده ختمه ده تر حمل زېږولو مخکي دې ته نکاح کول نه ده روا:

"کما فی رد المحتار و مثله ما لو کان الحمل فی العدة الخ و فی الحاوی إذا حبلت المعتدة وولدت تنقض به العدة الخ واعلم ان المعتدة لو حملت فی عدتها ذکر الکرخی ان عدتها وضع الحمل"(رد المحتار باب العدة / ج: ۲ / ص: ٦٥٥)

سوال:......

دیوې بالغي ښځي بې له واده کولو او خلوت کولو مېړه مړ سو په دغه صورت کي پر دغي ښځي عده لازمه ده که یا؟

جواب:......

په دغه صورت کي پر دغي ښځي عده لازمه ده او عده څلور میاشتي اولس ورځي ده:

"قال تعالی :﴿وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجاً يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْراً﴾ (بقرة: ٢٣٤)"(رد المحتار / ج: ۱ / ص: ٦٥٥ ، فتاوی دیوبند / ج: ۱ / ص: ۲۲۵)

سوال:......

یو کس خپلي ښځي ته په لیک کي لیکلی طلاق ورکړ، آیا پر دغه ښځي هم عده لازمه ده که یا؟ زموږ مذهب حنفي څه فرمایي؟

جواب :...... پر دغه ښځي هم عده لازمه ده، د طلاق له وخت څخه دي دري حیضونه تېر کړي وروسته بیا نکاح کولای سي:

"یقع الطلاق و تلزمها العدة من وقت الکتابة"(رد المختار ، کتاب الطلاق)

سوال :......

که چیري یوه ښځه چي د خپل خاوند د مرګ په عده کي ده د کرایې په سرای کي هستوګنه کوي او دا اوس د دغه سرای د کرایې وس او طاقت هم نلري او د خوراک او څیښاک د خرڅې وس هم نه لري، آیا دا د پلاره کره انتقال د دغه سرای څخه کولای سي که یا ؟

جواب :......

بل سرای ته په عده کي، دننه تللای سي شرعاً اجازه سته او که یې د کرایې وس او طاقت درلودی بیا یې تګ بل ځای ته منع دی:

"و تعتدان متعدة الطلاق والموت فی بیت وجبت فیه الخ الا ان تخرج او ینهدم المنزل او لا تجد کراء البیت و نحو ذلك من الضروریات"(رد المحتار باب العدة ، / ج: ۲ / ص: ٦٧٤)

سوال :......

یوې ښځي ته خپل نامرد (عنین) خاوند طلاق ورکړی، مهرمن اوس بل ځای نکاح کول غواړي په دغه صورت کي پر دغي ښځي عده تېرول لازمه ده که یا؟

جواب :......

که چیري دغه ښځي د دغه نامرده خاوند سره خلوت او یوازي والی کړی وي او تر خلوت وروسته یې طلاق ورکړی وي نو پر دغه ښځي باندي عده تېرول لازمه ده په عده کي دننه یې د بل چا سره نکاح نه ده روا:

"قال والخلوة کالوطی الخ و لو کان ا لزوج مجبوبا او عنینا"(الدر المختار

علی هامش الطحطاوی ، باب المهر)
ســوال :......
کـه چیـري یـو کـس ښځـه دین اسلام پرېږدي نو په دغـه صورت کي خو دا ښځه پر ده حرامه ده او نکا ح يې ماته سوه، آیا پر داسې ښځې شرعاً عده سته که یا؟
جواب :...... پر داسي ښځي هم عده تېرول واجب ده . په رد المختار کي دي چي پر دغي ښځي عده تېرول لازمه ده که يې خاوند مرتد سي يا داخپله مرتده سي :

”و افاد وجوب العدة سواء ارتد أو ارتدت بالحیض او بالاشهر لو صغیرة او آیسة او بوضع الحمل“(رد المختار باب نکاح الکافر / ج: ٢ / ص: ٤٢٥)
ســوال :......
یـو ښځـه ده عمر يې تر شلو کلو تېر سوی دی تر اوسه نه حیض ورته راغلی دی او نـه يـې تي را پورته سوي، خاوند يې وايي دا د نارینه وړ نه سي کېدلای، اوس کـه خـاونـد دې تـه طلاق ورکړي دا به عده څنګه تېروي، درې میاشتي او که تر هغه زیاتي او خاوند به څنګه د دې د خور سره نکا ح کوي؟
جـواب :......کـلـه چـي دغــه خـاونـد دغــه ښځـه طلاق کړي نو د عدې تر تېرېدو وروستـه د دې خور په نکا ح کولای سي او عـده ددغي ښځي تر څو چي د ایاس عـمـر تـه نـه وي رسېدلـي درې حیضـه دي او بـعضي فقهاء د إمام مالک پر مذهب د اړتیا د وجهي فتوی ورکړې ده د هغو په نزد چي د کومې مېرمن طهر اوږد سي د هغې عده په نهمه میاشته کي ختمیږي او ځیني وایي کال دی :
”والـعدة فی حق من لم تحیض لصغر او کبرا او بلغت بالسن الخ“(رد المختار / ج: ٢ / ص: ٦٥٣ ، فتاوی دیوبند / ج: ١ / ص: ٢٦٦)
ســوال :......
هـغـه مېرمـن او ښـځـه چـي د خپـل خـاونـد پـه ژوند کي بې پرده او بې ستره

کرځېده، آیا په عده کې پر دغې ښځې پر ده واجبه ده که یا؟

جواب:......

د داسې ښځې لپاره په پرده کې هستوګنه کول پکار دی او کونډه ښځه که د یو ضروري کار له امله بل کلي یا محلې ته د ورځې ولاړه سي نو صحیح ده د ضرورت او عذر په خاطر خو شپې ته دي بیرته کور ته راځې:

"الا تخرج معتدة رجعی و بائن بای فرقة کانت الخ لوحرة من بیتها الخ و تبیت اکثر اللیل فی منزلها"(الدر المختار علی هامش رد المختار، باب العدة / ج: ۲ / ص: ٦٧٣)

ســوال:......که چیري دیوې حاملې ښځې د مېړه تر وفات وروسته نیم ساعت وروسته د دغې حاملې ښځې بچې پیدا سي نو عده به څنګه تېروي؟

جواب:......د حاملې ښځې عده مطلقا د حمل زېږول دي که د خاوند تر وفات نیم ساعت وروسته یې وزېږوی یا نیم کال وروسته فرق نه لري . او که د خاوند تر وفات یې نیم ساعت مخکې بچی پیدا سو نو بیا یې عده څلور میاشتې او لس ورځې ده:

"و وضع جمیع حملها ای بلا تقدیر بمدة سواء ولدت بعد الطلاق او الموت بیوم او اقل"(رد المحتار / ج: ۲ / ص: ۲٥٦، باب العدة)



د ولايت او كفائت مسئلې

سوال؟

بې لمانځه د لمونځ گزاره كفو نه كيدلاى سي يو سړى د خپل نا بالغى اكا لور نكاح د خپل زوى سره وكړه خپل دغه سړى او هلك دومره مسكينان وه چى كه چيرى هغوى خپل ټول شيان خرڅ كړى واى نو بيا ددې انجلى مهر معجل نه سو كيدلاى انجلى يتيمه د ډېر لوى جائيداد مالكه وه يوزاى د مالى فائدې حاصلولو لپاره يى ددې انجلى نكاح خپل زوى سره وكړل كه چيرى ددې انجلى يتيمه سره په دې ډول باندى نكاح نه واى كړل سوې نو هيڅ كله به دوى دا نكاح نه واى كړې او نه يى هم اوس سوا له دې كولاى سى گذاره كوى په ماليت كى دا انجلى كفؤ نسته او كله نا كله هلك لمونځ هم پريږدى او د ډير وخته همداسى دى او انجلى په دا وخت كى نا بالغه وه د كوم چى په عدالت كى د تك هيڅ سوال نه پيدا كيږى د صغر سنى څخه تر اوسه پورى انكار كوى اوس شرعاددې څه حكم دى صحيح ده او كه نه؟ او ايا انجلى دوهم ځاى نكاح كولاى سى او كه نه؟

جواب: باسمه تعالى په سوال كى يوازى څلور نكتې دى (۱) عدل قدرت بر نقته (۲) قدم قدرت بر مهر معجل (۳) انكا منكوحه (۳) نكاح ثانى.

(۱) كفائت: د مالى كفائت لپاره صرف دومره ضرورى ده چى تر يوې مياشتى پورى نفقه ولرى لكه څرنگه چى د فقهې په هر كتاب ددې

وضاحت ستـه نو بيا ضروري ده چي انجلي د جماع كولو طاقت ولري نو چونكي په دې صورت كي انجلي صغير ده او د جماع طاقت نه لري مگر بيا پـه دې صـورت كـي د يوې مياشتـي نفقـه ضروري نـه ده نو مذكوره نـكا ح پـه دې اعتبار صحيح ده كوم چي په لاندي عبارت سره وضاحت معلوميږي

(شامي ص ٣٤٥ ج٢) قـولـه لـو تـطيـق الـجماع فلو صغيرة لا تطيقه فهو كفء و ان لم يقدر على النفقة لانه لا نفقة لها فتح و مثله في الذخيرة هذا في الكبيرة اما صغيرة التي لا تطيق الوطى فالعاجز عن النفقة كفو لها لا نهـا لا نـقتة لهـا و كـذا لـو كان يجد نفقتها ولا يجد نفقة نفسه يكون كفو لها شمني (و في مجمع الانهر ص ٣٤١ ج١) ولو كانت الزوجة صغيرة لا تطيق الجماع فهو كفؤ و ان لم يقدر على انفقة و كذا لو كان يجد نفقتها ولا يجد نفقة نفسه يكون كفؤا لها كما في الشمني.

دا خـو مـعـلـومـه سوه چي پر مهر معجل باندي قدرت د نكا ح په وخت كي ضروري دى نه مهر مؤجل كه څه هم ټول مهر حالا نه و.

كـمـا فـي الـفتـح الـقـديـرو بيـن ان الـمراد من المهر ملك ما تعارفوا تعجيلـه و ان كان كله حالا او كه چيري په عرف كي ټول مهر مؤجل وئ نو هلته د هيڅ ډول قدرت ضرورت نسته.

كما في الفتـح القـديـر و فـي الـمجبتى قيل في عرف اهل خوارزم كلـه مؤجل فلا تعتبر القدرة عليه.

او پـه صورت مسؤلـه عنها كي ټولـه مهر مؤجل دى او عرفا هم او شرعا هم ددې وجهي څخه انجلي صغيره يتيمه ده او د صغيره مهر پرته له پلاره

نیکه او وصی هیڅ څوک نه سی حاصلولی.

کما فی فتاوی تنقیح الحامدیة و لیس لغیر الاب والجد من الاولیاء قبض المهر الا ان یکون وصیاء؟من ادب الاوصیاء)

او په شامی جلد ثانی کی راغلی دی للاب والجد والقاضی قبض صداق صغیرة کانت او کبیرة الا اذا نهته و هی بالغة صح النهی و لیس لغیر هم ذالک و شمل قوله لیس لغیر هم الام فلیس لها القبض الا اذا کانت وصیة فقد علم ان مهر تلک المراة المسؤلة عنها مؤجل شرعا حتی البلوغ (شامیه ص۴۰۲ ج۲)

لعدم وجود الاب والجد والوصی و کذا مؤجل عرفا ایضا لان عرف بلدتها هکذا

او کوم چی د شیرینی ویشلو رواج دی هغه ناکح مذکوره هم ادا کړی دی نو د مذکورې صغیرې مهر شرعا هم مؤجل دی او عرفا هم او په عمدة الرعایة کی راغلی دی.

قوله واحترز به عن المؤجل فان العجز عن اداء فی الکفارة و کذا فی الفتح القدیر نو ثابته سوه چی مذکوره انجلی د مذکوره هلک کفؤ ده او نکاح یی د شریعت محمدیؐ او د شریعت له مخی بالکل صحیح ده او پاته سو انکار او فسخ د نکاح په خیار د بلوغ.

(۳) انکار د منکوحې غیر معتبر دی هو هغې ته خیار بلوغ سته لیکن په شرط د غیر القضاء.

(۴) دو هم ځای دنکاح کول ددې ښځې لپاره جائز نه دي ولي چي اوله نکاح ئی صحیح سوې ده فقط والله اعلم بالصواب .جواب مذکوره

جواب بالكل غلط دى او زموږ پردې اتفاق نه دى خو په دې وجه چې دغه هلك بيلمانځه فاسق دى او فقهاؤ تصريح كړې ده الفاسق لايكون كفؤ الصالحة (شامي ج٣ ص٣٢٠) او نجلۍ نابالغه ده دكومې په صالحتوب كې خو هيڅ شبهه نشته پرته له دې خو په سوال كې ددې تصريح نشته چې نجلۍ دومره كوچنۍ ده كوم چې لاتطيق الجماع ده كه نجلۍ مراهقه تطيق الجماع وي بيا ميره دهغې په وجه دعدم قدر النفقه هم غير كفؤ كرځي لهذا دذكر سوي نجلۍ نكاح دغير كفؤ له وجهې غير صحيح ده .(فقط والله اعلم بالصواب)

ولد الزنا د صحيح النسب كفؤ نه دى .

سوال؟

څه وايي علماء كرام ددې مسئلې په اړه چې دوې ښځې د كومو تعلق چې د بازارحسن سره دى دوى دواړو توبه كښلى ده او د بازار حسن څخه يې مكمله توبه كښلې ده او دواړه نكاح كړې ده ددوې څخه ديوې درې هلوكان دى او د دوهمې اولاد نشته او دا درې سره هلوكان په بازار حسن كې پيدا سوى دى د هغوى د پلار هيڅ درك نشته چې څوك دى د دوهمې خورېي لور پيدا سوې ده د كتاب او سنت له مخې ځواب راكړې چې دا نكاح صحيح ده او كه نه؟

(٢) د دوهم هلك نكاح د بازار حسن د يوې ښځې د لور سره سوى ده ددې انجلۍ د پلار هم هيڅ سرك نشته چې څوك دى ددې دواړو څخه چې كوم اولاد پيدا سى آيا يو شريف سړى ددوى سره نكاح كولاى سى او كه نه؟

(٣) يو سړى خپل ماينې ته په وار وار طلاق وركړى وى وروسته بيا هغه

رجوع هم کوی حال دا چی هغه ځلور پنځه واره داسی کړی دی د طلاق ددمخه اولاد سره یی سړی نکاح کولای سی او که نه او د طلاقولو وروسته والا اولاد سره یی د نکاح څه حکم دی؟

جواب: په صورت مسؤله کی د ابن الزنا نکاح د صحیح النسب انجلی سره جائز ده په دې شرط چی هغه انجلی او دهغې ولی پر دې نکاح راضی وی (امداد الفتاوی ص۳۲۷ ج۱)

مگر ابن الزنا د صحیح النسب انجلی کفؤ نه دی (فتاوی دار العلوم دیوبند عزیز الفتاوی مکملص۲۹۰ ج۲)

(۲) صورت کی د ابن الزنا او بنت الزنا تر مینځ نکاح سوې ده او ددوی چی کوم اولاد وسی د هغوی سره نکاح صیح ده

(۳) په ذکر سوی صورت کی کوم اولاد چی د طلاق څخه د مخه دی هغه ثابت النسب دی لهذا دا د صحیح النسب کفؤ دی او د هغوی سره نکاخ کول هم جائز ده او کوم اولاد چی یی طلاق وروسته پیدا سوی دی د هغوی سره نکاح کول خو جائز دی مگر د صحیح النسب کفؤ نه دی ولی چی دا زنا اولادونه دی (فقط والله اعلم بالصواب)

د خاندانی مسلمانی انجلی د نوی مسلمان سړی سره د نکاح حکم

سوال؟

یوه مسلمانه انجلی چی عاقله بالغه شپاړسم پاس حنفی العقیده اد اهل السنت والجماعت وی د هغې د یو عیسائی هلک سره نا جائزه اړیکی وی

او هغه انجلی و دې عیسائی هلک د مسلمانیدو و وایی او هغه مسلمان سی نو دغه انجلی بیله د مور او پلار د رضا مندی په محکمه کی واده ورسره و کړی حال دا چی هلک یوازی د نکا ح لپاره مسلمانید و د عیسائی مور او پلار دغه انجلی ددې هلک سره د واده لپاره پریښولای سی په شرعی او قانونی حکم سره مو خبر کړی سیاق او سباق سره که چیری بیا عدالت ته قصه ولاړه سی نو به آسانی وی

جواب: په صورت مسؤله کی د احنافو په نیز مفتی به قول دادی چی دا نکا ح نه ده سوې انجلی پر خپل حال آزاده ده ولی چی که چیری ښځه د مور او پلار د رضا مندی پرته په غیر کفؤ کی نکا ح وکړی نو نکا ح یی نه صحیح کیږی او نوی سوی مسلمانی کورنی کفؤ نه دی همدا راز فاسق د نیک او د نیکیانو د کورنی کفؤ نه سی گرځیدلای .

”و اما العجم فتعتبر حرية و اسلاما فمسلم بنفسه او معتق غير كفء لمن ابو ها مسلم اه (الدر المختار علی الشامیه ص۳۴۶ ج۲)

و تعتبر في العرب والعجم ديانة ای تقوی فليس فاسق كفوا لصالحة اه (در مختار) والظاهر ان الصلا ح منها او من آبا ئها كاف لعدم كو ن الفاسق كفؤا لها اه (شامیه ص۳۴۷ ج۲) ففی العالمگیریه و منها اسلام لا يكو ن كفوا لمن له اب واحد في الاسلام كذا في فتاوی قاضی خان .

مغل او اعوان تقریبا هم کفؤ دی

سوال؟یوې کونډې ښځی د خپل ورور بیله اجازې په غیر کفؤ کی نکا ح کړې ده ددې ښځی پلار مړ سوی دی او دوه درې کاله د خپل میړه په کور

کی آباد وه بیا دیو جنجال په وجه د خپل ورور کره بیرته راغلل درې کاله بعد یو مولوی صاحب بیله کفؤ او بیله اجازت د ولی د نکاح پر باطل والی یی فتویٰ حاصله که بیل طلاقه یی ددې کونډې مذکوری نکاح ددې فتوی له وجهی وکړل اوس هغه ښځه ددې حامل رقعی سره ده او فتوی هم حاضره ده:

ایما امر نکحت بغیر أذن ولیها فنکاحها باطل باطل باطل الحدیث

دې مولوی څه لیکلی دی ویی وګوری او ځواب راکړی چی شرعا څه حکم دی او همدا راز کونډه د مغل خاندان ښخه ده او اوس چی یی د چا سره نکاح کړې ده هغه د اعوان خاندان سره تعلق لری؟

جواب:د مذکوری ښځی نکاح ثانی جائز نه ده د میره ښخه یی طلاق اخستل ضروری دی مغل او اعوان خاندان تقریبا هم کفؤ دی ښه خبره داده چی نکاح یی ولی ورلره وکړی مګر بیا هم که چیری ښځه بیله اجازې د ولی نکاح وکړی نکاح یی صحیح ده۔

ینعقد نکاح الحرة العاقله البالغه برضائها و ان لم ینعقد علیها ولی بکرا کانت او ثیبا . . الخ (هدایه ص ۳۹۲ ج۲) فقط والله اعلم بالصواب .

ډولزن دعالم کفو نه دی .

سوال؟ د مسماة جعفری خانم پلار وفات سو هغه انجلی عاقله بالغه ده د هغې حقیقی ورور هم سته کوم چی تر دې مشر دی هغه هم عاقل بالغ دی دغه هلک او انجلی د مسلم راجپوت قبیلې ښخه دی دغه همسایه یو قصایې یعنی د قصابی ذات سره یی تعلق دی دغه قصای هلک جعفری خانم پخپل چم او چالبازی کی راوستلی او د هغې ..ره یی په پټه

رجسټری نکاح کړې ده کله چې د انجلی ورور او مور خبر سول هغوی په سختی سره دا کار بد وګڼی او انجلی یی پخپله قبضه کی واخسته ولی چی دغه نکاح قصایی هلک بیله اجازې د ولی کړی وه دا نکاح منعقد نه سو قصائی او راجپوت دپنجابي اقوامو شخه دیلکه څرنګه چی به بهشت زیور شلور می حصی کی د ولی په بیان کی په مسئله نمبر (۲) دریمی کی داسی ذکر دی (بالغ یعنی ځوانه انجلی خود مختاره ده که نکاح کوی او که یی نه کوی که چیری خپله نکاح یو ځای وکړی نو نکاح یی صحیح ده که ولی په خبر وی او که نه وی او ولی په خوشحاله وی او که نه وی په هر ډول یی نکاح صحیح ده البته که چیری یی نکاح د خپل ذات شخه په کښتی خلکو کی کړی وی اوولی په دې سره نه وی خوشحاله نو بیا فتوی پر دې ده چی نکاح یی نه کیږی په حواله د عالمګیری ص۳۰ ج۲ راجپوت ذات غټ او قصایی ذات کوچنی شمیرل سوی دی په دې صورت کی د راجپوت انجلی نکاح د قصایی هلک سره بیله د ولی د رضا مندی نه سی کیدلای آیا دا صحیح دی د نکاح وروسته یی هیڅ آواز وانه وریدل سو .

جواب: د واقعی د صحت په صورت کی د مسماة جعفری او عبد القدیر تر مینځ نکاح شرعا نه ده منعقده سوې ولی چی عبد القدیر د جعفری هم کفؤ نه دی په هندیی کی راغلی دی روی الحسن عن ابی حنیفة ان النکاح لا ینعقعد و به اخذ کثیر من مشائخنا کذا فی المحیط والمختار فی زماننا للفتوی روایة الحسن ص۲۹۳ ج۱) لهذا د طلاق اخستلو پر ته بل ځای د نکاح کولو حقداره ده .

.. د کومي ښځي چي هيڅ ولي نه وي د هغي هم په خپل غير کفو کي

نکاح کول صحیح ده:

سوال:......
یوه ښځه سیده، هاشمیه ،عاقله، بالغه عمر ۲۵ کاله، خپله نکاح یې د غیر سید سني مسلمان سره وکړه، د ښځې پلار او ټوله خاندان شمسي شیعه ګان دي کوم چې حضرت علي ؓ ته د خدای درجه ورکوي هغه پر دې نکاح باندي راضي نه دي آیا دا نکاح صحیح ده؟

جواب:......دمذکوري ښځې اولیاء که چیري واقعتاً کافران دي نو هغوی ته پر دې ښځې ولایت حاصل نه دی او د سیدې ښځې نکاح د غیري سید هلک سره جائز ده، لکه څرنګه چې د حضرت عمر ؓ نکاح د حضرت فاطمې ؓ د لور ام کلثوم سره وسوه، د کوم ثبوت چې د شیعه سني په ټولو کتابو کې موجود دی ، لهذا مذکور بالا نکاح صحیح سوه .

"وقد مر اول الباب ان من الاولی لها فنکاحها صحیح نافذ مطلقا و لو من غیر کفه .... او بدون مهر المثل" (فقط و الله اعلم بالصواب)

..تر ډېري مودې د پوښتني په نه کولو ولایت نه ختمیږي:

سوال:...... یو سړی د کورني جنجال په وجه خپله ماینه، زوی او لور د کوره و ایستل، او تر اولس کالو پوري یې پر هغوی هیڅ پوښتنه و نه کړه، او نه یې هم طلاق ور کړی او چې کله یې دوهم واده وکړی هغه خپل د نابالغي انجلۍ نکاح یو ځای وکړه چې کله محکمې ته رجوع وکړل سوه محکمې هغه نکاح باطله و بلله آیا داسي کول صحیح دي؟

جواب:......دومره اوږده موده د اولاد پوښتنه نه کول سخته ګناه ده، د دې سره سره بیا هم د پلار د ولایت حق نه ختمیږي، لهذا ده چې د کوچني والي په حال کې کومه نکاح ددې نابالغي انجلۍ کړې ده هغه بالکل صحیح ده او منعقده او لازمه ده، د پلار په ورکړل سوي نکاح کې خیار بلوغ هم نسته لهذا د عدالت ختمول د نکاح معتبر قول نه دی .

"ويجوز النكاح صغير والصغيرة او ثيبا(إلى قوله) فان زوجها الاب اوالجد فلا خيار لهما بعد البلوغ "(هدايه / ص: ۲۹٦ /ج: ۲)

..له سيده مسئيو سره بې له اجازت داولياؤ دنكاح حكم:

سوال: ...... مسمى اختر محمد مسئو ساكن نيو ملتان پر ويزيټ ويزه امريكې ته تللى وو، هغه يې د مسماة خرم شاه سره ياري سوه كله چي د اختر محمد يو ملګري په دې قصه خبر سو، نو هغه اختر محمد د ګناه څخه د ساتني په غرض څلور ګواهان خپل دځان سره بو تلل او اختر محمد او خرم شاه يې هم دځان سره بوتلل د مسجد ملا ته ولاړل او په شرعي ډول يې د دوى نكاح سره وكړه حال دا چي د اختر محمد عمر (۱۹) كاله وو او د خرم شاه عمر (۱۷ كاله وو مګر د مولوي صاحب او څلور ګواهانو او زوجينو پر ته هيڅ چا ته دواده كېدو علم نسته، تر دې ځايه چي د زوجينو مور او پلار هم په دې نه دي خبر او بيا چي كله داختر محمد مور او پلار په دې خبر سول نو هغه خوابدي سوه او د انجلۍ پلار ته يې هم وويل د انجلۍ پلار وويل چي صحيح ده چي نكاح يې سوې ده نو زما انجلۍ شپږ مياشتي بعده فارغه كيږي نو هغه خپل كور (پاكستان) ته بوزه، اوس هلك محمد اختر چي كله پاكستان ته بيرته راتلى نو هغه خپلي كور والا ته وويل چي كه چيري ته پاكستان ته راتلل غواړي نو دلته زما ورور دى و هغه ته ووايه هغه به تا پاكستان ته راورسوي ، اوس اختر محمد پاكستان ته راغلى او انجلۍ په امريكه كي ده، همدا راز په نكاح كي پنځوس زره ډالره(۵۰۰۰۰) مهر مقرر سوى وو ، مګر اختر محمد پخپلي كور والا باندي ټوله مهر بخښلى وو او د حاصلولو دستخط يې په كړى وو چي خرم شاه مهر وصول كړى دى، اوس انجلۍ (خرم شاه) په امريكه كي ديو مفتي څخه پوښتنه كړې هغه وايي چي نكاح مو صحيح نه ده، تا ګناه كړې ده لهذا توبه او استغفار وكړه او بل ځاى نكاح كولاى سې اوس پوښتنه دا ده چي شرعا په

ذکر سوي صورت کي نکاح سوې ده او که نه ؟ نيز په امريکه کي د موجود
مفتي صاحب فتوی هم ستا په خدمت کي درلېږم هغه هم وواياست چي
صحيح ده او که نه؟ جواب راکړئ او ثواب تر لاسه کړئ .
جواب :......په دې صورت مسئوله کي د راکړل سوې نکاح نامې مطابق
چونکي انجلۍ سيده ده او هلک د کمي درجې د قوم دی لهذد مفتی به قول
مطابق دا نکاح نه ده سوې، وروسته د وليانو په اجازه هم نه سوه صحيح
ولي چي نکاح د سره منعقد سوې نه وه، ولي چي اجازه د موقوف لپاره
کېدلای سي د غير منعقد لپاره نه:
" ثم المرأة إذا زوجت نفسها من غير کفء صح النكاح فی ظاهر الرواية عن ابی
حنيفة رحمه الله تعالی وهو قول ابی يوسف رحمه الله تعالی آخرا و قول
محمد رحمه الله تعالی آخراً ايضا حتی أن قبل التفريق يثبت فيه حكم الطلاق و
الظهار و الايلاء والتوارث و غير ذلك ولكن للأولياء حق الاعتراض و روی الحسن
عن ابی حنيفة رحمه الله تعالی أن النكاح لا ينعقد و به أخذ كثير من مشايخنا
رحمهم الله تعالی فی المحيط المختار فی زماننا للفتوی رواية الحسن"(هنديه /
ص: ۲۹۲ / ج: ۱ ، الباب الخامس فی الاکفاء)

..د عصبات په موجوديت کي و نيکه ته ولايت حق نسته :

سوال: ..... څه وايي علماء کرام د دې مسئلې په اړه چي غلام محمد و غلام
سرور دواړه د اکا زامن دي غلام محمد مړ سو نو يې يوه نابالغه لور مسماة
راجن مائي پرېښول د کومي عمر چي تقريباً ٦ کاله وو، د غلام محمد
کونډي (رحمت مائي) او خوسرېې د انجلۍ نکاح د ولي حقيقي غلام
سرور د اجازې پرته کړې ده، د نکاح په وخت کي غلام سرور شپږ ميله
ليري وو هغه چي کله په دې باندي خبر سو نو څو خلک يې له ځان سره
بوتلل او د انجلۍ مور او نيکه ته يې وويل چي دغه نکاح زما نه ده خوښه
او نه مي هم اجازه ده، نو اوس آيا د غلام محمد د اجازې پرته دا نکاح شرعاً

جائز ده او که نه؟

جواب :...... د عصباتو د موجودیت په وخت کې و مور او نیکه ته د ولایت نکاح حق حاصل نه دی نو لهذا د وی کړل شوې نکاح موقوفه ده د غلام سرور پر اجازت باندې، د هغه پر ردولو سره ختمیږي:

"فلوزوج الا بعد حال قیام الاقرب توقف علی اجازته"(الدر المختار علی الشامیة / ص: ۳٤۰ / ج: ۲)

..د زنا ځخه د پیدا سوې انجلۍ ولي زاني نه سي کېدلای:

سوال :...... څه وایي علماء کرام د دې مسئلې په اړه چې یوه ښځه طوائفه (زانیه) ده، د دې ښځې ناجائزه تعلقات د دې ښځې سره وه، د زید ځخه یې حمل پیدا سو بیا زید د دې ښځې سره تعلقات و شکول، ښځې بیا ناجائز تعلقات ورسره شروع کړه، د ښځې ځخه یوه حرامي انجلۍ پیدا سوه، د کوچني والي په وخت بکر د طمع نفساني په وجه د هغې د مور د نه منلو دغه انجلۍ و عمر ته په نکاح ورکړه، خو اوس انجلۍ ځوانه سوې ده، اوس نه انجلۍ پر دې نکاح باندې رضامنده ده او نه هم د هغې مور کوم چې د مخه لا هم نه وه راضي آیا په داسې صورت کې د بکر ولایت جائز بلل کېدلای سي نکاح یې صحیح کېدلای سي او که نه ؟

جواب :...... مذکوره سړی د دې مذکورې انجلۍ د نکاح متولي وو نه د دې وجهې د ده کړل سوې نکاح لازمه نه ده، لهذا دغه انجلۍ او د هغې مور د خپل فکر موافق د دې انجلۍ نکاح په یو بنه ځای کې کولای سي .

..آیا په ولایت کې مشر او کشر ورور سره برابر دي:

سوال :...... څه وایي علماء کرم د دې مسئلې په اړه چې یوه نابالغه انجلۍ ده د هغې دوه ورونه دي، د مشر ورور په غیر موجودیت کې یې د دې انجلۍ نکاح کړې ده، اوس یې مشر ورور په دې نکاح نه دی راضي، آیا شرعا کوچنی او مشر ورور په ولایت کې سره برابر دي او که نه؟

جواب :..... دانجلۍ وروړ کوم چي په نکاح کي شامل وو که چیري هغه په دې وخت کي عاقل او بالغ وو نو بیا دا نکاح وشوه، ولي چي کوچنی او مشر وروړ په ولایت کي سره برابر دي .

هکذا مفهوم من کتب الفقه لهذا بې له طلاق حاصلولو د دې انجلۍ نکاح بل ځای کول صحیح نه ده .

..که چیري یو عصبه نه وي نو د ولایت حق چا ته دی:

سوال :...... محمد بخش ولد الله بخش کوم چي د الله یار مرحوم د خالد د لور زوی دی، هغه د الله یار مرحوم د نابالغي لور مسماة منظور الهي نکاح د محمد بخش ولد خدا بخش سره وکړه، د نکاح په وخت کي یې چي کله و مور ته وویل سوه نو هغې وویل چي که چیري زما مشره لور او زما مشر زوم پر دې راضي سي نو زه هم راضي یم، مګر محمد بخش ولد الله بخش هغوی په راضي کولو کي ناکامه سو، د دې وجهي څخه د الله بخش کور والا نه د نکاح په وخت راضي وه او نه هم وروسته، مګر نکاح یې په زوره وکړل سوه، او د انجلۍ مور یې په وهلو ټکولو په ویوه خونه کي بنده کړه، د انجلۍ مور کرم خاتو وایي چي زه نه د نکاح په وخت کي راضي وم او نه هم اوس راضي یم ، او نه هم خپله لور ورکول غواړم او نه یې هم اوس غواړم او نه یې هم هیڅ کله ورکوم همدا سي د منظور الهي وروړ کوم چي د نکاح په وخت نابالغه وو او اوس هغه بالغه دی هغه هم پر دې نکاح باندي نه دی راضي شرعاً دا نکاح سوې ده او که نه ؟ او دغه انجلۍ اوس یو بل ځای نکاح کولای سي او که نه ؟

جواب :......محمد بخش ولد الله بخش ته د مسماة منظور الهي د نابالغي د نکاح ولایت حاصل نه وو ، بلکي د نکاح شرعي حق یې و مور ته وو ، لهذا د محمد بخش ورکړل سوې نکاح د انجلۍ د مور پر اجازې باندي موقوفه وه، نو چي کله هغې رد کړل دا نکاح باطله سوه پس په صورت مسئوله کي د

صحیح کېدو په شرط و انجلۍ ته دا حق حاصل دی چي دوهم ځای چي چیري يې زړه غواړي نکاح دي وکړي، مخکنۍ نکاح باطله ده.
"قال فی الدر المختار فان لم یکن عصبة فالولایة للام .... الخ(ص ٢٤٩ / ج: ٢)
و نکاح عبد و امة بغیر اذن السید موقوف علی الاجازة کنکاح الفضولی سیجئ فی البیوع توقف عقود کلها ان لها مجیز حالة العقد و الا تبطل (ص ٤٤٩ / ج: ٢)"
په کفائت کي یوازي د اسلام اعتبار دی او که د نورو امورو هم له کفوي څخه څه مراد دي او د مهر مثل څخه څه مراد دي، زید د کفؤ تفسیر په دې ډول کوي چي کفؤ مشتق ده د کفائة څخه بالفتح په معنی د مساوات او وایي چي "الکفاءة معتبرة فی النکاح قال علیه السلام الا لا یزوج النساء الا الاولیاء و لا یزوجن الا من الاکفاء (هدایة اولین / ص: ٣٥)
و إذا تزوجت المرأة نفسها من غیر کفؤ فللاولیاء ان یفرقوا بینهما(اهـ) و الاصل فیه قوله علیه السلام قریش بعضهم اکفاء بعض بطن الخ" نو زید وویل چي کم قوم والا د اعلی قوم والا هم نسب نه دی، لکه غیر هاشمي د هاشمي، کفؤ نه دي البته که چیري ښځه کښته قوم والا وي او نارینه پورته قوم والا وي نو دا صورت د کفؤ څخه هم لوړ دی، د دې وجهي څخه دا جائز دی مګر بکر وایي چي د کفؤ او غیر کفؤ الفاظ چي چیري راځي هلته د اسلام او غیر اسلام فرق دی، مسلمانان ټول یو تر بله سره کفؤ دي، مګر زید وایي چي د کفؤ او غیر کفؤ ذکر د مسلمان په اعتبار سره دی ځرنګه قول صحیح دی، همدا راز زید وایي چي د مهر مثل تشریح هدایه والا داسي کوي "مهر مثلها یعتبر باخواتها و عماتها و بنات و اعمامها الخ" صحیح دي، مګر بکر وایي چي دا صحیح نه دي مګر مهر پر هستۍ طاقت باندي دی، زید وایي صحیح دی مګر د لسو درهمو سپینو زرو څخه باید کم نه وي د چا قول صحیح دی؟
جواب: په دواړو امورو کي د زید قول صحیح دی. (فقط و الله اعلم بالصواب)
..عالم باعمل د سید زادې کفو دی:

سوال:...... واضحه دې سي که چیرې یو سید زاده ښځه د بدکارۍ څخه د ځان ساتنې په غرض پخپل خواهش د یو امي سره واده وکړي، نو په شرع شریفې کې خو به یو بندیز نه وي، نو اوس د هغې نکاح دې وکړل سي او که نه؟

جواب:......که چیرې هغه غیر سید عالم باعمل دی نو بی ددې سید زاد کفؤ کرځې او د دې نکاح د دیسرې سره کېدلای سي، او په وارثانو کې هیڅ چا ته هم د اعتراض حق حاصل نه دی.

او که چیرې هغه عالم نه وي نو بیا هغه د دې سید زادې کفؤ خو نه دی مګر نکاح یې بیا هم د دې سړي سره صحیح ده، مګر په دې صورت کې د وارثانو رضامندي ضروري ده که چیرې د دې سړي سره وارث د نکاح پر کولو باندې راضي نه وي، نو بیا یې نکاح نه صحیح کیږي.

"کما فی الشامی / ص: ۳۲۳ / ج: ۲: فالعالم العجمی یکون کفؤ للجاهل العربی و العلویة لان شرف العلم فوق شرف النسب فقط و الله اعلم بالصواب"

..که په غیر کفؤ کې قریبان خوابدي وي نو هم یې نکاح کولای سي:

سوال:...... زید د خپلې لور واده په غیر قوم کې د دې وجهې کوي چې پخپل قوم کې یې یو ذي علم او ښه سړی نسته، په دې خبره کې د زید سکه ورور او خور هم د ده سره موافق دي مګر سکه اکا په دې خوابدی کیږي او قطع رحمي اختیاروي او مطلب یې محضې دنیوي غرض دی، پوښتنه دا ده چې زید خو به په داسې کولو سره ګناهګاره کیږي نه؟

جواب:......"ولو زوج ولده الصغیر من غیر کفؤ بان زوج: ابنته امه او ابنته عبدا جاز وهذا عند ابی حنیفة کذا فی التبیین هندیه (ص ۱۵ / ج: ۲)"

له دې وجهې څخه و پلار ته حق حاصل دی چې هغه خپل د لور نکاح په غیر کفؤ کې وکړي او د پلار دغه حق د یو بل قریب په رضامندۍ پورې اړه نه لري، لکه څرنګه چې د جزي خبرو څخه ښکاري، نو د پلار دغه کار

پـه هيـڅ صورت کي ګناه نه ده، نو په داسي صورت که چيري يو قريب او يا اکـا قـطـع تعلق وکړي نو دا قطع تعلق د هغه لخوا بلل کيږي د زيد لخوا نه، مـګر زيد تـه په کار ده چي د دې قريب په تعلقات د ښخوا په شان و اوسي او په دې کي کمي را نه وړي .

"قال عليه السلام صل، من قطعك (الحديث)" معلومه دي وي چي د هر غير قوم کېدو غير کفؤ والی ضروري نه دی . فقط و الله اعلم بالصواب .

..فاسق ، فاسقه د بنت صالح کفو نه سي جوړېدلای :

سوال :...... کـه د يو شريفي کورنۍ ښځه د خپل پلار ګنۍ د اجازې پرته په يو جاهلي او رذيلي کورنۍ کي نکاح وکړي، نوشريعت مطهره دغه نکاح چي پـه غيـر کـفـؤ کـي يې کړې ده جائز بولي، او که نه؟ حال دا چي د ښځي خـانـدان عـلـمـي خـلک او د هره لحاظ لوړه کورنۍ بلل کيږي، مګر د ښځي چال چلن او داسي نور صحيح نه دي او د دين د احکامو پابندي هم نه کوي؟

جواب :...... پـه صـورت مسـئـولـه کي دغه نکاح په وجه د خيار کفائت قابل د فسـخـي نـه ده، ولـي چـي دغـه ښځه پخپله هم فاسقه ده او فاسقه بنت صالح د فـاسـق سـړي کـفـؤ ده، پس د دې مذکوره سړي او مذکوري انجلۍ خپل مينځي نکاح کفؤ ده .

"والـدليـل عـليـه مـا فـي الشامية قـلـت والحاصل ان المفهوم من كلامهم اعتبار صلاح الكل و ان اقتصر على صلاحها او صلاح آبائها نظر إلى الغالب من ان صلاح لـولـد والـوالـد متلازمـان فعلى هذا فالفاسق لا يكون كفؤاً لصالحة بنت صالح بل سكـون كفؤا لفاسقة بنت فاسق و كذا الفاسقة بنت صالح كما نقله في اليعقوبية فليس لابيها حق الاعتراض لان ما يلحقه من العار ببنته اكثر من العار بصهره"(باب الكفارة / ص: ٣٤٨ / ج: ٢)

..نېک عالم سړی د ښه خاندان کفو دی :

سوال :...... يـوې کـونـډي خپـلـه نکاح د يو ديندار او عـالـم سـړي سره کړې ده،

کونډه وایي چي دغه نکاح زما د ولیانو څخه پټه وساتئ، ولي چي هغه د یو دنیاداره سره زما نکاح کول غواړي، په دې ډول به زما د اولادو راتلونکي خراب سي، د دې عالم تعلق د یو ښې کورنۍ سره دی، حال د اچي د کونډې د کورنۍ څو ښځي د دې عالم دین په کور کي ورکول سوي دي، او هم دا چي ډېر خلک د ښځي خاندان د قریشي تسلیمولو څخه ځان ساتي، د دې عالم دین جائیداد هم تر دې کونډې زیات دی د دې نکاح څه حکم دی؟

جواب:......په صورت مسئوله کي دغه نکاح لازمه سوې ده، او صحیح سوې ده، د ښځي ولیان هغه نه سي ختمولای، ولي چي دا په کفؤ کي سوې ده.

"فی الجامع قاضی خان الحسب یکون کفؤ للنسیب فالعالم العجمی یکون کفؤا للجاهل العربی إلی انقال و زادوا لعالم الفقیه یکون کفؤا للغنی الجاهل و الوجه فیه ظاهر لان شرف العلم فوق شرف النسب فشرف المال اولی"

.. که یو شیعه سړی خپل ځان سني وښیي او بیا یې په شیعیت سړی خبر سي نو ولیان دا نکاح فسخ کولای سي:

سوال:...... یو سړی د خپل لور د ورکولو په وخت کي په دې انکار وکړی چي هغه سړی شیعه وو، مګر نکاح کونکي سړي د څو کسانو مخ ته دا اقرار وکړی چي زه نه یم شیعه، د دې اقرار وروسته هغه دوستي ورسره وکړه، له دواړو خواوو نکاح وسوه یعني دوستي کونکو خپل د نابالغي لور نکاح دوی ته ورکړه، څه وخت وروسته هغه کور والا د خپلي پلار کنۍ سره د ملاوېدو په غرض بوتله او بیا یې ښځه هلته بندي کړه او پر شیعیت باندي یې هم مجبوره کړه، او تولو پر صحابه کرامو باندي بدي بدي خبري کول شروع کړې، او ماینې ته یې وویل چي ته هم صحابه کرامو ته بد او رد ووایه، چونکي هغه اهل سنت والجماعت ښځه وه نو هغې انکار کوی، هغه انجلۍ د خپلي پلرګنۍ کره هم نه پرېښوله د ډېرو کوششو وروسته

دغه انجلۍ خپل پلار کور ته راوستله چونکي لور د ده وه نو په زوره يې ځيني راوستله، اوس ښځه و هغه کور ته ورتلل نه غوړي او نه يې هم پلار د شيعيت په ور استوي نو شرعاً جواب راکړئ؟

جواب:...... په صورت مسئوله کي هلک خپل ځان د سني توب په حال کي ښکاره کړی او نکاح يې کړې ده او د انجلۍ پلار کښې د ده پر شيعيت بالکل علم نه درلودی بلکي هغه قسماً ويلي وو چي زه سني يم، لهذا دغه نکاح په غير کفؤ کي د کېدلو له وجهي فسخ کېدلای سي، هر هغه حاکم، مجسټريټ، يا قاضي چي مسلمان وي د دوی نکاح فسخ کولای سي، د دې ډول مضمون ورکول د انجلۍ د پلار له خوا لازم دی بې له قضاء د قاضي نه سي کېدلای.

"وفی الدر المختار: ولو زوجوها برضاها ولم يعلموا بعدم الكفائة ثم علموا لاخيار لاحد الا إذا اشرطوا الكفاءة او أخبرهم بها وقت العقد فزوجها على ذلك ثم ظهر أنه غير كف كان لهم الخيار"(شامی / ص: ۳٤٥)





فصل فیما تحل به المطلقة

سوال: كه یوه سړي ښځه طلاقه كړه په طلاق بائن سره بیاكه چي ری دغه سړي بیرته په نكا ح كولای سي كنه؟

جواب: كـه طـلاق بـائـن وه پـه نـكـا ح كـولای ئـې سي پـه عدت كي او وروستـه تـر تیـریـدلـو دعـدې ځـكـه حلال والی دمحیلـه پاتـه دی تر دریم طـلاقـه پـوري مـخ كـي تـر دغـه مـعدوم دی او په عده كي غیر منع ده ځكه اشتباه دنسب نستـه .واذا كان الطلاق بائناً دو ن الثلاث فله ان یتزوجه فی العدة وبعد القضائها روایة مع شر ح الهدایة فتح القدیر ص٣٠ .

سوال:

كه چیري ثلاثـه وه بیا تزوج په نكا ح كول او سړي ته روا ده او كه نه؟

جـواب: بیـا واول زوج ته نه روا كیږي تر هغو چیدې بل میړه نه وي كړی او هغه سړی دخول ونه كړي بیا ئې وروستـه طلاقه كړي یا مړ سي .

كـمـا فـي الـهدایة ج٢ وان كان الطلاق ثلاثا فی المرة او ثنتین فی الامة لم تـحـل لـه حتـیٰ تـنـكح زوجاً غیره نكاحاً صحیحاً ویدخل بها ثم یطلقها او یموت عنهما فتح القدیر شر ح هدایة ج۴ ص ٣١ .

سوال:

دزوج آخر لپـاره یواځي عقد نكا ح كول كافي دی او كه دخول هم غواړي ؟

جواب:

باب الحلالة

سوال: که چیري یو چا په حلاله کي دقوم لوط فعل وکړ یعني دشا په طرف کی ئې دخول وکړ نو واول میړ ح ته بیا حلالیږي که نه ؟

جواب: دشرعي حلالې دپاره دا ضروري ده چي جماع به دمخ له خوا ورسره کوي دشا له خوا جماع کافي نه ده . دحلالې دپاره دا کافی نه ده او دا کبیره ګناه ده . اذا آتاها فی دبر ها لاتحل للاول (الفتاوىٰ القنية ص۷۳ کتاب الطلاق .

سوال:

که یوې دوهم میړه وکړ له نکاح وروسته دوهم میړه مړ سو او جماع ئې نه ورسره وکړه اوس دا ښځه واول میړ ح ته حلاله ده او که نه؟

جواب: دحلالې دپاره ددوهم میړه له خپلې منکوحې سره جماغ ضروري ده چي ادخال هم وکړي مګر دجماغ قائم مقام نه ده .قال العلامه ابن عابدين ولو مات عنها قبل الوطی لا يحلها للاول لاذا شرط هنا الوطئه ردالمحتار ج٦ ص ٥٣٢ کتاب الطلاق .

سوال: که سړي ښځه طلاقه کړه په طلاق ثلاثه سره بیا ښځه ولاړه دپلار کورته یو کال ئې تیر کړی بیا ئې خپل میړه ته حال واستوی چي ما حلاله کړې ده زه غواړ چي بیرته له تا سره نکاح وکړم په دې وینا سره نکاح صحیح ده او که نه؟

جواب: دښځي له خوا ددې خبري چي ما حلاله کړیده داول میړ ح دپاره کافي نه ده تر هغو چي پوره تحقیق ونه کړي او له ټولو کیفیاتو او حالاتو ځان خبر نه کړي کم وخت چي پوره حالات ورته مغلوم سو چي رښتیا ئې

حلالـه کړې ده داول میـړه لپـاره بیا ئې نکا ح جائز ده . لو قالت حلت لأ او قال حلالـه کـردم لا یـحـل لـه التزوج مالا یستفسر ها لاختلاف الناس فی کیفیة التحلیل وهو الصواب (القنیة ص۸۴ کتاب الطلاق

سوال:

کـه دحـلالـې دپـاره دوهـم سـړي پـه وخـت دجماع کې پر ذکر باندي یو شی وپیچی او بیا ئې جماع ورسره وکړه واول میړ ح ته روا ده او که نه ؟

جواب: دحـلالـې دپـاره پـه نـکـا ح کـې دمشتهـیٰ سـړي دذکـر داخلول ضروري دی تـر څـو چـې لـذت هـاصلیـدی شي انزال ضروري نه ده چي په دغـه وخـت کـې لـه لـذت حـاصـل وه بیـا رواده کـه نـه وه بیا نه ده روا . وفی الهـدایة اذا الف زکـره بـخـرفة وادخـل فـرجهـا فان وجد الحرارة تحل والا لا . ج۱ص۴۷۳

باب حقوق الزوجین

سـوال، پـه شـریـعـت مـطـهـره کـې دښـځـې او میړه په مابین کې کوم کوم حقوق دي ؟

جواب: دخاوند او میـړه پـه مـابین کې ډیر حقونه دي چي اداکول ئې لازمي دي بـعـضـې یـوازې پـه ښـځـې پوري تعلق لري دښـځـې حقوق دي چي مـثلاً . . . . نـفـقـه کـسوة مـکـان اعفاف الزوجه عدل انصاف او داسي نور بعضي یـواځې په خاوند پوری اړه لري دخاوند حقوق دي مـثلاً پـه جائزو امورو کې دخـاونـد اطـاعـت دخـاونـد دامـانـت ساتـل دخاوند داولاد او مال ساتنه وخپل خـاونـد تـه دتأدیب حق او . . . .لره دحیضه او نفاسه څخه په پاکیدو باندي دجـنـابـت لـپـاره غـسـل او نـور او بـعـض دښـځـې او خـاونـد پـه مـابین کې

مشتـر ک دي چـي ادا کـول ئـې پـر دوارو باندي مثلاً یو له بل سره ښه ژوند تیـرول او پـه نرمي سره سلوک کول او یو دبل تکلیف برداشتول هم داسي نـور حقـوق خـو مشتـر ک دي مګر دخاوند دذمه واری له وجهی دده حقوق زیات دي .قـال فـی الهـنـدیة فـی کـل مـوضـع کان للقاضي ان یقضیٰ لها بـالـنفقة فلما ان تأخذ من مال الزوج ما یکفیها بالمعروف بغیر قضاء ج۱ ص ۵۵۰ .

سـوال: کـه دیـوه سـړی دوې یا درې یا څلور ښځي وي او پـه هغـو کي ئې له یـوې سـره مینـه او محبت زیات وي او پـه نورو حقـوقـو کـي ئې یو ډول چلن وو بیا دنورو ښځو دحقوقو تر پښو لاندي کیدل راځي او که نه ؟

جـواب: ددې سړي چي دیوې سره ئې مینه او محبت زیات وي او پـه نورو حقـوقـو کي عادل وي پـه شریعت مطهره کي ئې مواخذه نستـه ځکـه خاوند پـه داسي حقـوقـو کي مـکلف دې چي دده پـه اختیار کي وي قلبي محبت دده پـه اختیـار کي نه دی . نه دده پـه قدرت کي راځي نو مکلف نه دی .

ومـمـا یـحـب عـلـی الازواج لـلـنسـاء العدل والتسویة بینهن فیما یـملـکـه والبیـوتة عـنـدهـا لـلـصـحـة وللموالاة لا فـیـمـا لا یملک وهو الحب والـجـمـاع الفتاویٰ الهندیة جلد ۱ ص ۵۴۴ الباب السابع عشع فی النفقات .قال العلامة الکاساني وروی عن ابی قلابة ان النبی ﷺ کان یعدل بین نسـائـه والـقـسـمة ویقول اللهم هذه قسمین فیما املا فلا تواخذ فیما تملا ولا املا بدائع الصـنائع ج۲ ص ۳۳۲ باب النفقات .

سوال

: کـه ښـځي دخاوند له مور او پلار سره یو ځی ژوند نه کاوه بیا دخاوند دا

ذمه واره سته چي و ښځي ته جلا کور جوړ کي که نسته ؟
جواب: که ښځي له يوې وجهی په کور کي ګزاره نه کوله بيا دي خاوند په کور دننه کي يو ځای ورته جلا کي چي څوک کار نه ورسره لري بيا هم ذنه واري پوره کيږي بل ځای دکور جوړولو ضرورت نسته .
قال ابن عابدين الشامي وكذا تجب لها السكنى فى بيت خال عن اهله السوىٰ طفله الذى لايفهم الجماع وامته وام ولدها من غير الدر المختار على صدر ردالمحتار ج۲ ص ۷۱۹ ومثله فى الهنيه ج۱ ص ۵۵٦ الباب السابع فى النفقات .
سوال :
ديوه هلک او نجلۍ نکاح سوې ده هلک ديوه ملک اوسيدونکی او نجلۍ دبل ملک اوسيدونکې ده .هلک غواړي چي نجلۍ خپل ملک ته بوزي دنجلۍ مور او پلار نه غواړي چي نجلۍ ورسره ولاړ سي ايا هلک کولای سي چي نجلۍ په زور ورسره بوزي که نه ؟
جواب: که چيري نجلۍ او مور او پلار يې راضي نه وي بيا هلک جبراً نه سی کولای چي نجلۍ بوزي .
وكثير من المتائغ على انه للزوج ان يسافر بها فى نصابتا وان اوفاها المهد ولكن نبقلها الى القرىٰ فتاوىٰ الهندية ج۱ ص ۳۱۷ الفصل الحادى عشر فى منع المرءة نفسها اجب و عليه الفتوىٰ .
سوال: آيا له ښځي سره دجماع کوم مخصوص وقتونه سته که نه په شريعت کي؟
جواب: يا دشرعي موانعو (حيض نفاس څخه ماسوا دجماع لپاره

مخصوص اوقاتو تعین او په نورو اوقاتو کي ممانعت هيڅ شرعي دليل نلري .قال الله تعالیٰ :نسائکم حرثکم فأتوا حرثکم انی شئتم (ابقرة آیت ۲۲۳) وللزوج ان يطالبها متی شاء الا عذر اعتراض مانعه من الوطئه کالحیض والنفاس والظهار والاحرام وغیر ذلک بدائع الصنائع ج۲ ص ۳۳۱ .

سوال:

که ښځه ناجوړه وي له واده وروسته والدين ئی دخرڅه دخاوند اخلي که ئې خپله کوي ؟

جواب: دښځي علاج شرعاً پر خاوند نه ده که بيا په وکي ثواب ئې سته . ولا يجب الدوا للمرض ولا اجرة الطبيب ولا الفصد والحجامة . الفتاویٰ هندية ج۱ ص ۵۹۴ .

قال ابن عابدین الشامي وعليه ما تقطع به الصنان لا الدواء المرض ولا اجرة الطبيب ولا الفصاد ولا الحجامة (ردالمحتار ج۲ ص ۷۰۴ باب النفقة .

سوال:

که نجلۍ نابالغه وي خاوند ته دجماع کولو حق سته که نه ؟

جواب: له ښځي سره دجماع کولو دعمر کم خاص قيد نسته که منکوحة دجماع طاقت نه لري او دجماع په وخت کي مريضی ورته پيدا کيږي جماع ورسره جائزه ده او بعد له بلوغح هم که تکليف ورته پيدا کيدی جماع ورسره کول جائز نه ده . واکثر المشائخ على انه لاعبرة للنساء فی هذا الباب . وانما العبرة للطاقة ان کانت فحمية مسمية تطيق

الرجال ولايخاف عليها المرض من ذلک کان للزوج ان يدخل بها وان يدخل بها وان يدخل بها وان كبر سنها .الفتاویٰ الهندية ج۱ ص ۲۸۷ الباب الرابع فی الاولياء ومثله فی رد المحتار ج۲ ص ۳۲۹ باب الاولياء والاکفاء .

سوال:

دحيض په حالت كي خاوند له جماع ماسوا نوری استمتاعي اخيستلای سي كه نه ؟

جواب: دحيض او نفاس په حالت كي خاوند له جماع پرته مافوق الازار هدرقم نفعه اخيستلای سي خو چي دجماع خطره په كي نه وي كه دجماع خطره وي بيا پرهيز كول بهتر دي وله ان يقبلها ويضاجعها ويستمتع لجميع بنها ما خلا بين السرة والركبة فتاویٰ الهندية ج۱ ص ۳۹ الفصل الرابع فی احکام الحيض والنفاس .

سوال: آيا له خپلي ښځي سره په وخت دمل كی جماع جائز ده كه نه ؟

جواب: كه چيري وښځي ته ضرر يا تكليف نه وي بيا جائز ده څه مانع پكي نسته .

سوال: آيا خاوند دجماع په وخت كي يا په بل وخت كي له جماع پرته دخپلي ښځي ولڅ بدن ته كتلی سي كه نه ؟

جواب: وفرج ته كتل فقهاء كرامو اجتناب غوره كړی دی نور كم حرج نسته ددې تر مابين .وينظر الى فرج امته وزوجته يعنی عن شهوة وغير شهوة قال عليه السلام غضبصرک الا عن زوجک وامتلاء (البحر الرائق ج۸ ص ۱۹۳ کتاب الكراهة فصل فی النظر .

فصل فی نسب والحضانة والنفقات:

سوال:......

له زنا څخه پیدا کړل سوې انجلۍ سره شرعاً نکاح صحیح ده که یا، او د مور د قوم څخه وي که د پلار د قوم څخه یعني د اولاد نسب د پلار په قوم پسي ځي که د مور؟

جواب:......

د ولد الزنا انجلۍ سره نکاح صحیح ده شرعاً او د نسب اعتبار د پلار څخه وي نو که پلار یې د شریفي او عزتمندي کورنۍ وي او اصل خلک وي نو د اولاد په نسب کي یې هیڅ تغیر نه راځي:

"وعلى المولودله رزقهن الاية سبق لا ثباته النفقة وفى ذكر المولودله اشارة إلى ان النسب للأباء"(حاشية رد المختار / ج: ١ / ص: ٢١٩ - باب ثبوت النسب)

سوال:......

یو کس په کلو کلو دخپله کوره څخه مسافر وو او خپلي ښځي ته یې خرڅ رالېږله، د دې ښځي د زنا په وجه د بل چا څخه هلک پیدا سو هغه اصلي خاوند اوس راغلی، دغه ښځه څنګه له ځان سره ساتي او ددې هلک نسب د چا څخه ثابت دی، د پلاره څخه او که د دغه زناکاره څخه؟

جواب:......

حدیث شریف کي راځي: الولد للفراش و للعاهر الحجر. (الحدیث) کوچنی د هغه چا دی د چا چي فراش وي یعني د چا په نکاح کي چي دا ښځه وي او د زاني لپاره ډبره ده یعني هغه محروم دی، سزا به ورکول کیږي. لهذا د کوچني نسب د دغي ښځي د اصلي خاوند څخه ثابت دی. دغه د إمام

صاحبؒ فيصله ده چي خاوند هر ځاى وي د كوچني نسب ځيني ثابتيږي كه څه هم په حقيقت كي دغه كوچنى ولد الزنا وي مگر موږ ته حكم دا دى چي و ده ته حرام و نه وايو :

''ان الفراش على أربع مراتب وقد اكتفوا بقيام الفراش بلا دخول كتزوج المغربى لمشرقيه بينهما ستة فولدت لستة اشهر الخ ''(در المحتار باب ثبوت النسب ، فتاوى ديوبند / ج: ١١ / ص: ١٤)

سـوال :......

يو كس د داسي ښځي سره واده وكړى چي هغه په عده كي وه عده يې لا نه وه ختم سوې او په دې دوران كي يې كوچنى او حمل په نس سو ، آيا دا نكاح جائز ده كه يا؟

جواب :......

دغه مذكوره نكاح ناجائز او باطله ده او نسب د اولاد يې ثابت دى د ده څخه، حرامي به نه ورته وايو :

''ومثل له فى البحر هناك بالتزوج بلا شهود وتزوج الاختين معا او الاخت فى عدة و نكاح المعتدة لأن الدخول فى النكاح الفاسدة موجب للعدة وثبوت النسب''(رد المحتار / ج: ٢ / ص: ٦٥٩)

سـوال :......

يو كس واده وكړى پنځمه مياشت يې لور پيدا سوه، آيا دغه نكاح ماته ده كه نه ده ماته او ددغي انجلۍ نسب له خپلي مور د اصلي مېړه څخه ثابت دى كه نه دى؟

جواب :......

نكاح شرعاً صحيح او بر قرار ده په نكاح كي هيڅ فرق نه راځي ليكن دغه انجلۍ چي تر شپږو مياشتو كمه او اقله موده كي پيدا سوې ده دخپلي مور د

مېړه څخه یې نسب ن ه ذی ثابت بلکې دا د هغه چا څخه ده چې د هغه د نطفې څخه پیدا ده او ددغه پلار میراث هم نه سي وړای :
"اکثر مدة الحمل سنتان و اقلها ستة اشهر اجماعا"(در مختار باب ثبوت النسب / ج: ۲ / ص: ٦٧٦)

سـوال :......

یو کس د یوې ښځې سره ناجائز تعلقات درلودل هغه د ده څخه حامله سوه او بیا یې وروسته دغه ښځه په نکاح واخیسته په دغه صورت کې دا کوچنی حلال سو که حرام او دغه ده زنا او نکاح څخه کډ پیدا سوی ماشوم ددغه پلار په میراث شریک دی که یا ؟ شریعت مطهره څه حکم لري؟

جواب :......

د دغه سړي نکاح د دغې حاملې ښځې سره صحیح ده لیکن کوم حمل چې د نکاح څخه مخکې وو هغه ثابت النسب نه دی او کوم کوچنی چې پیدا سو هغه ولد الحرام دی او وارث نه دی حدیث شریف دی چې ماشوم د مور دی او زاني لره ډبره یعني سزا ده . (مشکوة شریف، باب اللعان ، الفصل الاول، فتاوی دیوبند / ج: ۱۱ / ص: ۲۵)

سـوال :......

د ماشوم شیدې پر چا دي، د پلار ذمه داري ده که د مور او که دوی غریبان اومسکینان وي؟

جواب :......

شیدې ورکول د پلار ذمه داري ده یعني که چیري مور تی نه ورکوي نو پلار به شیدې ورکونکي ورته مقرروي چې هغه یې د مور سره ورسره وي او تی به ورکوي لیکن که پلار مسکین وي او مور یې څه عذر هم نه لري نو بیا د مور لپاره و کوچني ته تی ورکول ضروري دي:

"وكم يأخذ ثدى غيرها اولم يكن للاب و لا للصغير مال به يفتى"(الدر المختار على هامش رد المحتار / ج: ۲ / ص: ٦٩٠ ، باب الحضانة)

سـوال :......
د مور څخه وروسته د ماشومانو د پالنې او تربيې او روزنې حق چا ته حاصل وي په شريعت کې، انا ته که خاله ته؟

جواب :...... د ماشومانو د پالنې او تربيې او روزنې حق تر مور وروسته و انا ته حاصل دی په شريعت کې يعني د مور مور که هغه نه وه بيا د پلار مور ده او بيا حق د خاله دی که هغه نه وه بيا حق د عمه دی:

"ثم بعد الام بان ماتت اولم تقبل الخ أم الام وان علت الد"(الدر المحتار / ج: ۲ / ص: ٦٩٢ ، فتاوى ديوبند / ج: ۱۱ / ص: ٦٨)

سـوال :...... يوه انجلۍ چې د خپلې انا سره اوسيږي تر حايضه کېدو مخکې مخکې بې د دې د رضا او خوښې يو بل قريب لکه ماما دغه انجلۍ بېولای سي څې که يا؟

جواب :......دغه انجلۍ تر هغه وخته څوک نسي بېولای د دې له انا څخه تر کومه وخته چې د حيض د مودې وخت ته نه وي رسېدلې:

"فان لم تكن له أم فام الام اولى من أم الاب و الام و الجدة لام او لاب احق بالجارية حتى تحيض "(هدايه باب حضانة الولد / ص: ٤١٣)

سـوال :......
د يوې نابالغې انجلۍ مور اوپلار مړه دي، يوازې يې خاله او اکا سته په دغه صورت کې د دغې انجلۍ د پالنې حق د چا دی، شريعت څه فرمايي؟

جواب :......
په دغه صورت کې د نابالغې د پالنې حق د خاله دی او د نکاح ولي يې اکا دی يعني د نکاح سرپرستي يې د اکا سره ده . (فتاوى ديوبند / ج: ۱۱ / ص: ۷۱)

ســوال :......

د نـابالغه ماشومانو د پالني موده د مور سره څومره ده او څومره موده وروسته پلار خپل بچي اخيستی سي د مور څخه چي هغې ته يې طلاق ور کړی وي؟

جواب :......

د پـالـنـي حق د هلک دا اوه کاله او د انجلۍ دا د حيض تر راتلو پوري دی، دذکر سوې مودې وروسته پلار خپل بچي اخيستلای سي:

”والحاضنة احق بالغلام حتى يستغنى عن النساء و قدر بسبع و به يفتى و بالصغيرة حتى تحيض فى ظاهر الروية ۔“(الدر المحتار على هامش رد المحتار / ج: ۲ / ص: ۶۹۵)

ســوال :......

څـه فرمايي علماء دين د دې مسئلې په باره کي چي د خاوند او ښځي په مينځ کي جدايي راغله او د دوی دوه بچيان دي مطلقې وروسته په غير خاندان کي نکاح وکړه، په دې صورت کي د بچو د پرورش حق چا ته دی، حالانکه د پلار نه علاوه د بچو د صحيح پرورش کولو والا څوک نسته، شرعي طور باندي په پلار يا مطلقه کي څوک دی چي ددې بچو د پرورش حق لري؟

جواب :......

د غير محرم سره نکاح کولو سره حق حضانة ساقط کيږي:

”لما فى الدر المختار اومتزوجة بغيرمحرم الصغر و بمعناه فى جميع كتب الفتاوى“

لهذا دا بچيان به نيکه يا ترور وغيره ته حواله کولای سي او کهچير ته په ښځو کي څوک ملاو نه سي نو د پلار په حواله ور کولای سي:

”و إذا وجب الانتزاع من النساء ولم يكن للصبى امرأة من اهله يدفعه إلى العصبه فيقدم الاب“(فتاوى عالمگيرى / ج: ۱ ، باب السادس عشرفى الحضانة)

سـوال:......

څـه فـرمايـي عـلـمـاء ديـن دې مـسـئلې باره کي چې ښځه خاوند په خلع باندي راضـي سـول مـکـر اوس د بـچـو معامله ده چې هغه به د مور سره اوسيږي يا د پلا سره، په دې باره کي شرعي حکم څه دئ؟

جواب:......

مـور د دې بـچـو د پـرورش مـسـتحقه ده تر دې چې دا بچې د اوو کالو سي، ددې نـه پـس بـه دا بچې پلاز ته حواله کولى سي ددې پلار او مور د مرضى نه بغير داحق د دوى نـه څـوک نـه سي اخيسـتـلاى. (الـدر الـمـخـتـار على هامـش، رد المختار باب الحضانة)

سـوال:......

څـه فـرمايي علماء دين دې مسئلې باره کي چې کومه لور د حرام حمل يعني د زنا څخه پيدا شوې وي د هغې د پرورش ذمه وار زاني ى که مزنيه؟

جواب:......

د غير ثابت النسب (ولد حرام) بچي نسبت د مور طرفته کيږي:

"اذا زنـى رجـل بـامـرأة فـجـائـت بـولـد فـادعـاه الزاني لم يثبت نسبه منه امـا الـمـرأة فيثبت نسبه منها"(فتاوى عالمگيرى ، کتاب الدعوى الفصل الثامن في دعوة الولد من الزنا / ص: ۱٤٧)

الاســــــتفتاء:......

اهـم مـسـئـلـه: مـفـتـي صـاحـب السلام عليکم ورحمة الله و برکاته، و بعد: زمـوږ پـه ښـارو کـي اکـثـره ځـايـونـه داسـي بـزرګـان ليـدل کيږي چي خلکو تـه تـعـويـذونـه هـم ورکـوي او نـامحرمه ښځو ته هم تعويذونه ورکوي خو په دې ښـځـو کـي ځـواناني هم وي اوسپين سري هم وي، خو دا ښځي هره يوه دې پير يـابـزرګ يـامولانا صاحب ته خپله مريضي ښکاره کوي، خو کله داسي وخت

هـم وي چې دا بـرزګ يا دا پير صاحب يامولانا صاحب د دې ځواني ښځې لاس پـه خپـل لاس کې ونيسـي، او کلـه يـې ددې ښـځې پر نـس يا پر نورو اندامو بانـدې دا پير صاحب يا بزرګ يا مولانا صاحب خپل لاس د دې نامحرمو ښځو پر اندامـو بـاندې تېروي يا مسح کوي، آيا د پير يا بزرګ يا مولاناصاحب ته دا جواز لري او که نه ؟ يا لکه يوازې ورسره ناست وي؟

جواب :......

(حكم الخلوة بالمرأة الاجنبية)

"والخلـوة بالأجنبية الحرة فى بيت واحد، أى غرفة واحدة ،مكروه تحريمًا (الحديث البخارى ومسلم) لا يخلون احدكم بامرأة أى أجنبية الا مع ذات محرم، أى كأخته اوزوجته او بنته او أمه اوعمته ـ وفى شرح الطريقة المحمديه لسيدى عبد الغنى النابلسى رحمه الله: وحديث لا يخلون رجل بامرأة الا كان ثالثها الشيطان اهـ من كتاب الترغيب والترهيب الا إذا كان حائل، قال فى القنية: سكن رجل فى بيت من دار و امرأة فى بيت آخر منها، ولكل واحد غلق على حدة لكن باب الدار واحد لا يكره، اوكان ثقة اوكان محرم، او امرأة عجوز ثقة، لا يجامع مثلها قادرة على المنع، اوكانت المختلى بها عجوزا شوهاء او لملازمة مديونة هربت، ودخلت خربة ـ والخلوة بالمحرم مباحة، الا الاخت رضاعاً والصهرة الشابة (ام الزوجة) وبنت الزوجة، ونحوها: قال رسول الله ﷺ: اياكم والدخول على النساء، فقال رجل من الانصار: أفرأيت الحم ؟ قال الحم الموت: (رواه البخارى ومسلم ،معنى (الحم) أبو الزوج، ومن هو أولى به كالأخ والعم الخ ومعنى الموت فليمت، ولا يفعل ذلك"(هدية العلائية / ص: ۲۸۱، ط ـ بيروت)

نـو د مـذکوره عباراتو څخه دا ثابتـه سوه چې نامحرمـه سره په يوه خونه کې

مـكـروه تـحـريـمـي دی . پـه حـديث كـي د بخاري او د مسلم شريف هم داسي روايت راغلی دی . عليـه السلام مبارک فرمايي چي خاليوالی دي نه کوي يو لـه تـاسـي څـخـه د نامحرمه ښځو سره مگر که يې خور ددې پير يا بزرگ سره ناسـتـه وه يـا يـې مور ورسره ناسته وه يا يې لور ورسره ناسته وه او يا يې عمه ورسـره نـاسـتــه وه ددې بـزرگ بـيـا مبا ح ده . اوبل دا چي دا پـيـر يـا بـزرگ د نـامـحـرمـه ښـځـو پـر نـسـو باندي لاس تېروي او يا د دوی لاسونه په خپل لاس کـي نيـسـي دا جواز نلري داهم مکروه تحريمي يعني حرام دی نو دا کوم کسان چي په بازارو کي ليدل کيږي يا د پيرانو په جامو کي د بزرگانو په جامو کي يا بـعـضـي مـلايـان چي دنيا پرسته وي نو هغه داسي فعلونه کوي چي له پرديو نـامـحـرمـه ښځو سره يو ځای يوزاي ناست وي بيا نو په خندا ورسره خبري هم کـوي او مـسـخرې هم ورسره کوي نو ددې نامحرمه ښځو لاسونه يې هم پخپل لاس کـي نيولي وي او بيا ددې نامحرمه ښځو پر نسو يا پر نورو اندامو باندي خپـل لاس تـېـروي .بيـا نو د غيبو څخه هم ورته ګډيږي چي تا باندي فلانکی کـوډي کـړي يـا پـه تـا بـانـدي نـامـعـلـومـه خلکو د خوا څخه کوډي سوي دي يا ستـاسـي پـه کـور کـي فلانکی رنګ ښځي په تا باندي کوډي کړي دي نو داپير يا بزرگ يا مولانا صاحب دا ښځه پخپـل کور کي هم په جنجال سره اخته کړي نو دا پير يا بزرگ يا مولانا کله د دې ښځي څخه بزه په شکرانه کي غواړي کله بيـا پـسـه ځـيـنـي غـواړي کـلـه بيـا پيسـې ځيني غواړي، کله بيا ډيري پيسې ځـيـنـي غـواړي دا د دې پيـر يا بزرگ يا مولانا چي دنيا پرسته وي نو د دويدغه مسـلـک او خـواري ده نـو بـايد څوک دغسي پير يا بزرگ يا مولا ته ور نسي که څـه هـم د دوی مُـلا وي يـا د دوی د کلي بزرگ وي ځکه په جنجال يې سره اخته کـوي او اصل خدای پرسته بزرگ يا خدای پرسته پير يا خدای پرسته ملا هغه داغسي افعال نه کوي .

او چا ته نه وايي چې زه په غيبو خبر يم او نه د غيبو دعوه کوي او نه و چا ته کوډي ورکوي او نه د خلکو څخه دوندي درنه شکرانه غواړي او نه خلکو ته د غيبو خبري کوي او نه خلک په خپل کور کي په جنجال سر اخته کوي او نه د نامحرمه ښځو سره يوازي کښېني او نه ورسره مسخرې کوي او نه ورسره خاندي او نه يې لاسونه مسح کوي او نه يې پر نسو باندي خپل لاسونه تېروي او ښه په شرعي طريقه سره تعويذ ورکوي .



﴿باب الحضانة﴾

مور تر څه وخته د تربيې حق لري؟

سوال :……

د کوچني د تربيې حق داره تر ټولو دمخه مور ده پوښتنه دا ده چې دغه د مور حق تر څه وخته پوري دی د کوچني تر بلوغه، تر خبرو، تر ولاړي؟

جواب :……

د ماشوم حق پر مور تر استغناء پوري دی يعني چې خوراک کولای سي، يوائې چښاک کولای سي يوائې کالي اغوستلای سي، او انجلۍ حقداره ده تر ځوچې وخت ته رسيږي:

" اما وقت الحضانة التى من قبيل النساء فالأم والجدتان احق بالغلام حتى يستغنى عنهن فيأكل وحده و يشرب وحده و يلبس وحده كذا ذكر فى ظاهر الرواية و ذكر الخصاف سبع سنين او ثمان سنين او نحو ذلك اما الجارية فهى احق بها حتى تحيض كذا ذكر فى ظاهر الرواية و حكى هشام عن محمد حتى تبلغ او تشتهر "(بدائع الصنائع / ج: ۳ / ص: ۲۵۹)۔

د کوچني د تربيې مصارف

ســوال :...... د کوچني د تربيې حق خو تر ټولو اول د مور دی، آيا پر تربيت چي د موره څخه کوم مصرف کول کيږي هغه هم پر مور دی که به هغه د پلار ذمه واري وي؟

جواب :...... اجرت د حضانت پر پلار باندي واجب الاداء دیٰ:

"اتفق الفقهاء ايضا على أن مونة الحضانة تكون فى مال المحضون فان لم يكن له مال فعلى الاب اومن تلزمه نفقة لأنها من اسباب الكفاية والحفظ والانجاء من المهالك و إذا وجبت أجرة الحضانة فتكون دينا لا يسقط بمضى المدة و لا يموت المكلف بها او موت المحضون او موت الحضانة"(فقه الاسلامى / ص: ٧٣٦ / ج:٧)

که مور د کوچني تربيه نه کوي؟

ســوال :......يوه ښځه د خپل مېړه په کور کي د خپلو وړو بچيانو سمه پالنه نه کوي د صفايي خيال يې نه ساتي د شيدو ورکولو يې چنداني پابنده نه ده، آيا مېړه يې د کوچني پر صحيح تربيه مجبوره کولای سي که نه؟ په داسي حال کي چي د دغه کوچني بل څوک د تربيې هم نه وي؟

جواب :......

که چيري نوري ښځي وي چي تی يې ورکاوه نو مور دې نه مجبور کوي او مستحب کار دی چي مور يې ورکړي او که يې نوري ښځي نه وي نو بيا واجب ده چي مور يې ورکړي او مور پر مجبوره کيږي چي صيانت راشي له ضياع څخه:

"كما قال و نفقة الاولاد الصغار على الاب لا يشاركه فيها احد كما لا يشاركه فى نفقة الزوجة لقوله تعالى (و على المولود له رزقهن) و المولود له هو الاب و ان

كان الصغير رضعيا فليس على امه ان ترضعه لما بينا ان الكفاية على الاب واجرة الرضاع كالنفقة و لانها عساها لا تقدر عليه لعذبها فلا معنى للجبر عليه و قيل فی تأويل قوله تعالى(و لا تضار والده بولدها) بالزامها الارضاع مع كراهتها و هذا الذی ذكرنا بيان الحكم و ذلك إذا كان يوجد من ترضعه اما إذا كان لا توجد من ترضعه تجبر الام على الارضاع صيانة للصبى عن الضياع و على هذا الفتوى(و قال السرخسی و هو الاصوب)(هدايه / ج:٢ / ص: ٤٢٣ و فتح القدير / ج: ٤ص ٢١٨)۔“

د خاله او ماما په مينځ کي د تربيې حق

سوال :......

د کوچي خاله او ماما سته بل ولي نه لري حق د تربيې يې چالره دئ؟

جواب :...... په صورت مسئوله کي د تربيې حق د خاله دئ:

”كذا فی تنقيح الحامدية : النساء اقدر على تربية الاطفال من الرجال إلى أن يستغنوا عنهن فينتقل الحق إلى الرجال ليؤدبوهم و يعلموهم لأن الرجال أقدر على ذلك من النساء“(الفتاوى الحامديه / ج: ١ / ص: ٦٤ ، مكتبه رشيديه)

سکه انا، او مېره کومه يوه حق د حضانت لري؟

سوال :...... د کوچني يوه سکه انا سته او يوه يې مېره ده، د کوچني د تربيې حق د کومي يوې دئ؟

جواب :...... د تربيې حق يې د مور د مور دئ:

''کما قال فی البحر: احق بالولد امه قبل الفرقة و بعدها ثم أم الأم ثم أم الأب ثم الأخت لأب و أم ثم لأم ثم لأب ثم الخالات کذلك ثم العمات کذلك (قوله) ثم أم الأم یعنی بعد الأم الأحق أمها وهو شامل لما إذا کانت الأم میتة او لیست أهلا للحضانة ففی کل منهما ینتقل الحق إلی أم الأم''(البحر / ص: ۲۸۳ / ج: ٤)

پر بیت المال د لاوارثه کوچني د تربیت حق

سـوال :......

یـو کـوچنی لا وارثه دی یو قریب هم نلري، آیا پر بیت المال یې تربیه لازمه ده که نه؟

جواب :......

پر بیت المال د لاوارثه کوچني تربیت لازمی دی:

''کماقال صاحب الهدایة : و نفقته فی بیت المال هو المروی عن عمر و علی و لانه مسلم عاجز عن التکسب و ماله و لا قرابة فاشبه المقعد الذی لا مال له و لأن میراثه لبیت المال والخراج بالضمان و لهذا کانت جنایة فیه / ج: ۲ / ص: ۵۸۷ ـ قال کیسانی و منها ان ولیه السلطان له الولایة فی ماله و نفسه لقوله علیه السلام السلطان ولی من لا ولی له و روی عنه علیه السلام انه قال اللّٰه و رسوله ولی من لا ولی له و الخال وارث من لا وارث له والسلطان نائب اللّٰه و رسوله ''(بدائع / ج: ۵ / ص: ۲۹۲ ـ خلاصة الفتاوی / ج: ٤ / ص: ٤۳٤ ـ مجمع الانهر / ج: ۲ / ص: ۵۲۰)

په خاله او مېره کي حق د حضانت

سـوال:......
د کـوچـنـي د تـربيـې حق چي مور او نور قريبان نه لري اول د خاله دی او که د مېرې؟

جواب:......
په صورت مسئوله کي خاله حقداره په حضانت د کوچني کي ده ځکه د هغې قرابت د مور له طرفه دی:

"کـمـا قـال فـی الـمبسـوط / ج: ۵ / ص: ۲۱۱: والأم فی حق الحضانة مقدمة عـلـی الأب فـکـذلك مـن یـدلـی بـقـرابة الأم یـکـون مـقدما علی من یدلی بقرابة الأب"(الفقه الاسلامی / ج: ۷ / ص: ۷۲۱)

که کونډه د کوچني د رضاعي اکا سره نکاح وکړي؟

سـوال:......
کـه کـونـډه د خپـلـو بـچيانو د رضاعي اکا سره نکاح وکړي د حضانت حق يې ساقطيږي که نه؟

جواب:......
ساقطيږي:

''کما قال العلامة ابن نجیم مصری: (قوله و من نکحت غیر محرم سقط حقها) ای : غیر محرم من الصغیر کالأم إذا تزوجت بأجنبی منه لقوله علیه السلام أنت أحق به ما لم تتزوجی ، و لأن زوج الأم إذا کان أجنبیا یعطیه نزرا و ینظر الیه شزرا فلا نظر له و النزر الشیئ القلیل والشزر نظر البغض و لذا قال فی القنیة الأم إذا تزوجت بزوج آخر و تمسك الصغیر معها أم الأم فی بیت الأب فللأب أن یأخذه منها اهـ

فعلی هذا تسقط الحضانة اما بتزوج غیر المحرم أو بسکناها عند المبغض له قول المصنف و من نکحت غیر محرم سقط حقها) قال الرملی یعنی محرمه النسبی لا الرضاعی فانه کالأجنبی فی سقوط حضانتها به فکان ینبغی أن یقول غیر محرمه الرحم تأمل''(البحر / ص: ۲۸۵ / ج: ٤ ، هکذا فی شامی / ص: ۲۷۱ / ج: ٥)

په انا او خور کي د تربيت حق

سوال :......

په انا او خور کي د حضانت حق کومه يوه لري؟

جواب :......

په صورت مسئوله کي د انا حق دی:

''کما فی الفقه الاسلامی الأم ، ثم أم الأم ، ثم أم الأب ثم الأخوات ثم الخالات ثم بنات الأخت ثم بنات الأخ ثم العمات ثم العصبات بترتیب الارث''(الفقه الاسلامی / ج: ۷ / ص: ۷۲۲)

په مور او پلار کي کوم یو حق د حضانت لري؟

سوال :......

په مور او پلار کي کوم یو اول حق د حضانت لري؟

جواب :......

اول حق داره چي ده هغه مور ده تر پلار مخته :

"كما قال واذا وقعت الفرقة فالام احق بالولد لما روى فى سنن ابى داؤد من حديث عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده عبد الله بن عمرو ان امرأة قالت يا رسول الله ان ابنى هذا كان بطنى له وعاء و ثدى له جواء و ان اباه طلقنى و اراد اباه ان ينزعه منى و قال لها رسول الله ﷺ انت احق به ما لم تنكحى رواه الحاكم و صححه اهـ.

و لان الام اشفق عليه) ابداء لحكمة خصوص هذا الشرع و انما كانت اشفق عليه لانه كان جزأ لها حقيقة حتى قد يقرض بالمقراض و اقدر على الحضانة لتبلها بمصالحة والرجل اقدر على الاكتساب فلذا جعلت نفقته عليه إذا لم يكن هو له قال و جعل عندها(و قوله و اليه شار الصديق الخ) "(فتح القدير / ج: ٤ / ص: ١٨٤)۔

په اناکانو کي حق د تربیت

سوال :......

د یوه کوچني د مور مور هم ژوندۍ ده او د پلار مور یې هم ژوندۍ ده حق د تربیې یې کومي یوې لره دئ؟

جواب :......

په صورت مسئوله کي د مور له خوا انا يې حقداره ده:

"كما قال فى الدر المختار على هامش رد المختار / ص: ٦٩٢ / ج: ٢: ثم اى بعد الام بان ماتت اولم تقبل او اسقطت حقها او تزوجت باجنى أم الام و ان علت عند عدم أهية القربى ثم أم الاب و ان علت بالشرط المذكور الخ۔

وفى الفقه الاسلامى / ج: ٧ / ص: ٧٢٢ الام ثم الام الام ثم أم الاب ثم الاخوات ثم الخالات ثم بنات الاخت ثم بنات الاخ ثم العمات ثم العصبات بترتيب الارث۔"

په خاله او عمه کي کومه يوه حق د حضانت لري:

سوال :......

زيد کوچنى دى يوه يې خاله پاته ده يوه يې عمه سته حق د حضانت يې د کومي يوې دى؟

جواب :......

خاله يې حقداره ده:

"كما قال الامام علاء الدين اختلفت الروايةعن ابى حنيفة فى الاخت لاب مع الخالة ايتهما اولى روى عنه فى كتاب النكاح ان الاخت لاب اولى وجه الرواية الاولى ما روى ان بنت حمزه لما رأت عليا ، تمسكت به و قالت ابن عمى فاخذها فاختصم فيها على و جعفر و زيد بن حارثه ، فقال بنتعمى و قال جعفر بنت وخالتها عندى و قال زيد بن حارثه بنت اخى اخيت بينى و بين حمزه يا رسول الله فقضى رسول الله لخالتها و قال الخالة والدة فقد سمى الخالة و الدة فكانت اولى(بدائع الصنائع / ج: ٣ / ص: ٤٥٧) فكل ما كان من قبل الام فهو الاولى

ممن هو من قبل لاب و لهذ فان الخالات مقدمات على العمات / ج: ۲ / ص: ۲۱۲، هندیه / ج: ۲ / ص: ٤١٣، هندیه / ج: ۱ / ص: ٥٤١)"

په پلار او انا کي حق د تربیې

سوال:......

که د کوچني پلار ژوندی وي او د مور مور یې هم ژوندۍ وي د تربیې حق یې چا لره دئ؟

جواب:......

د تربیې حق یې د مور د مور دئ:

"كما قال في البحر: احق بالولد امه قبل الفرقة و بعدها ثم أم الام ثم أم الاب ثم الاخت لاب و أم ثم لام ثم لاب ثم الخالات كذلك ثم العمات كذلك ـ

قال العلامة ابن نجيم مصري رحمه الله: قوله ثم أم الام يعنى بعد الام الاحق امها و هو شامل لما إذا كانت الام ميتة او ليست اهلا للحضانة ففى كل منهما ينتقل الحق إلى أم الام لأن هذه الولاية مستفادة من قبل الامهات فكانت التى هى من قبلها اولى و ان علت فالجدة من قبل الام اولى من أم الاب و من الخالة و صححه الولوالجى الخ ـ"(بحر الرائق / ص: ۲۸۳ / ج: ٤ ـ هكذا فى شامى / ص: ٢٦٩ / ج: ٥)

قوله: (ثم العصاب لترتيبهم) يعنى ان لم يكن للصغير احد من محارمه من النساء و اختصم فيه الرجال فاولاهم به اقربهم تعصبا لأن الولاية للأقرب فيقدم الاب ثم الجد أب الاب و ان علا ـ(البحر / ص: ٢٨٦ / ج: ٤)

په ناسکه خور او خاله کي د تربیې حق:

سوال:......

په ناسکه خور او سکنۍ خاله کي حق د تربیت کومه یوه لري؟

جواب :......

په صورت مذکوره کي حق د تربيې و دې غير حقيقي خور ته حاصل دی و خاله ته نه دی حاصل:

"(۱) کما فی الدر المختار تثبت الام ...... ثم أم الام ثم أم الاب و ان علت ثم الاخت لاب و أم ثم الام ثم لاب ثم الخالات كذلك الخ "(رد محتار / ص: ۲۵۹ / ج: ۵) ۲۲ جلد۔

سـوال :......

په ډيرو علاقوکي چي نکاح تړي نو دوه نفره واستوي چي ورسئ تاسو د وکالت شاهدان سئ چي فلانی ښځي فلانی سړی وکيل کړي، آيا د شاهدانو ضرورت سته کنه؟

جواب :......

شاهدان ضروري نه دي له شاهدانو پرته هم وکالت صحيح دی:

"يصح التوكيل بالنكاح وان لم يحضر الشهود ، كذا فی التتارخانية "(عالمگیری / ص: ۲۹٤ / ج: ۱)

سـوال :......

که يو پلار د خپل بالغ زوی يالور نکاح نه کوي او هغه په دې سبب په زنا اخته سي نو پر پلار يې گناه سته کنه؟

جواب :...... هو، پر پلار يې گناه سته لکه ځيني ظالمان پلرونه چي لوني نه ورکوي پيسو په خاطر يې بندي کړي وي:

"عن عمر بن خطاب ابن مالك عن رسول الله ﷺ قال مكتوب فی التورات من بلغت ابنته اثنا عشرة سنة و لم يزوجها فاصابت اثما فاثم ذلك عليه"(مشکوة / ص: ۲۸۱ / ج: ۲)

سـوال :......

کوچنی هلک د نکاح خطبه ویلای سي کنه؟

جواب :......

د کوچني ممیز اذان صحیح دی نو خطبه د نکاح يې هم جائز ده:

"اذان الصبی العاقل صح من غیر کراهیة فی ظاهر الروایة لکن اذان البالغ افضل"(هندیه / ص: ٥٤ / ج: ١)

سـوال :......

پـه حـضـور د دوو شاهدانو کي پټه نکاح تړل چي نور څوک خبر نشي روا ده کنه؟

جواب :......

پـه داسـي طـریـقه نکاح تړل چي پر شاهدانو دا قید کښېږدي چي څوک به نه خبروئ دا نه ده روا ، که څه هم د حیا او شرم په وجه وي:

"و لا یـجـوز نـکاح السر صورته ان ینکح امرأة سرا بحضورشاهدین و یمنعهما عـن الاعـلان لـلاستحیاء لانها لا ترضی بالاظهار خوفا او عارا کما تفعله بعض النساء فان هذا النکاح غیر جائز و هما زانیان ابدا"(فتاوی نور الهدی / ص: ٨٤)

سـوال :......

د نـکـاح پـه وخت کـي هـار پـه غـاړه کـول چي شادي مبارک پر لیکلي وي یا حـاجـي تـه د حج څخه د راتک په وخت کي هار ور په غاړه کول چي حج مبارک پر لیکلي وي دا روا دي کنه؟

جواب :......

دا د هندوانو او کبرانو کار دی جائز نه دی . (مسائل أربعین / ص:١٦)

سـوال :......

د نکاح په وخت کي شیریني تقسیمول جائز ده کنه ؟

جـواب :...... هـو ، جائز ده په دې باره کي حدیث په (اعلاء السنن / ص: ١١ / ج: ١

کې وکورئ .

ســوال :......

په ځينو علاقو کې داسې رواج دی چې د نکاح تړلو په وخت کې خلک د زوم ملا ور تړي او د زوم قريبان و ملا تړونکي ته پيسې ورکوي دا جائز دی کنه؟

جواب :......

نه دی جائز:

"ما ياخذ المهر من الختن لطيب نفسه من السحت"(أربعين / ص: ١٦)

ســوال :......

که پلار مهر معاف کړي لور مطالبه کولای سي کنه؟

جواب :......

هو، کولای يې سي ځکه پلار دا حق نلري چې د لور مهر هبه کړي:

"وليس للاب ان يهب مهر ابنة عند عامة العلماء كذا فى البدائع"(عالمگيرى / ص: ٣١٦ / ج: ٢)



﴿باب الرضاع﴾

سوال:......
د رضاع لغوي معنى څه ده؟
جواب:......
په لغت کي مطلق زېښنل د تيو ته ويل کيږي. (بفتح و کسر) (رد المختار على الرد المحتار / ج:۲ / ص:۴۳۷)
سوال:......
رضاع په شرع کي څه شي ته وايي؟
جواب:......
په شرع کي زېښنل د تيو د ښځي ته وايي که څه هم پېغله يا مړه وي يا آبسه وي:
"وشرعاً مص من ثدى آديمة ولو بكرا اوميتة او آبسة والحق بالمص الوجود"(سابقه حواله)
سوال:......
ايا رضاع وخت غواړي او که يې نه غواړي هر وخت حرمت راځي کنه؟
جواب:......
يا، هر وخت حرمت نه راولي خپل وخت معلوم غواړي:
"هو فى الشرع عبارة عن مص شخصٍ مخصوص اى الطفل من ثدى مخصوص اى ثدى الآدمية فى وقت مخصوص على حسب اختلف فيه"(الكفاية على هامش الفتح القدير / ج: ۳ / ص: ۳۰۴ ـ ومثله در المختار على الدر

المحتار، و یثبت التحریم فی المدة فقط / ج: ۲ / ص: ٤٣٧) و لو بعد الفطام علی ظاهر المذهب و علیه الفتوی۔

سوال:......

تی رودل لږ یا ډېر فرق لري کنه په حراموالي کې ؟

جواب:......

لږ او ډېر په تي رودلو کې زموږ پر مذهب سره برابر دي:

"قلیل الرضاع و کثیره سواء إذا حصل فی مدة الرضاع تعلق به التحریم خلاف للشافعی رحمه الله، ولنا قوله تعالی :(امهاتکم الاتی ارضعنکم) (الایة) و قوله علیه السلام یحرم من الرضاع ما یحرم من النسب من غیر فصل "(هدایه۔فتح القدیر ۔ و الکفایه والعنایة / ج: ۳ / ص: ۳۰۷ ۔ و مثله فی الهندیه / ج: ۲ / ص: ۳٤۲)

سوال:......

درضاع وخت څونه دی، مفتی به قول کوم یو دی؟

جواب:......

مفتی به قول دا دی چې دوه نیم کاله د رضاع لپاره دي:

"ثم مدة الرضاع ثلاثون شهراً عند ابی حنیفه رحمه و قال سنتان"(هدایه ۔ فتح القدیر / ج: ۳ / ص: ۳۰۷ ۔ و مثله فی الدر المختار علی هامش رد المحتار / ج: ۲ / ص: ٤٣٧)

هو حولان و نصفه عنه و حولان فقط عندهما و هو الاصح و به یفتی لکن فی الجوهرة انه فی الحولین و نصف ولو بعد الفطام محرم و علیه الفتوی و استدلوا لقول الامام بقوله تعالی و حمله و فصاله ثلاثون شهراً ای مدة کل منهما ۔(و مثله فی الهندیه / ج: ۱ / ص: ۳٤۲)

سوال:......

آيا وروسته د رضاع له وخته بيا رضاع تی ورکول تی ورکول روا دی که نه؟
جواب :......
بيا وروسته تروخته د تي ورکول روا نه دی ځکه دا جزء د انسان .
”ولم يبيح الارضاع بعد مدته لانه جزء آدمی الانتفاع به لغير ضرورة حرام على الصحيح“(درالمختار على هامش رد المحتار / ج: ٢ / ص: ٤٣٨۔ وكذا فی الهداية ۔ فتح القدير / ج: ٣ / ص: ٣١٠)
سـوال :......
آيا وروسته له وخته درضاع بيا تی رودل تحريم راولي كنه؟
جواب :......
يا بيا تی رودل تحريم نه راولي تروخت وروسته:
”واذا مضت مدة الرضاع لم يتعلق بالرضاع تحريم لقوله عليه السلام لا رضاع بعد الفصال“(هدايه ۔ فتاوى فتح القدير / ج: ٣ / ص: ٣٩٠ ۔ وكذا فی الهندية / ج: ١ / ص: ٣٤٣)
سـوال :......
آيا سړي ته داسته چي مينځه مجبوره کړي په تي ورکولو وکوچني ته او يا په مړولو کوچني ته؟
جواب :......
يا دانسته وزوج لره مګر كه كوچني د بل چا تی نه رودی يا د كوچني مال نه وو يا كوچنی له تي پرې سوی وو بيا د مينځي اجبار نسته خورک به ورکوي ځکه يې رودل ورته حرام دي:
”وللاب اجبار امته علا فطام ولدها منه قبل الحولين ان لم يضره ای الولد الفطام لما له ايضا اجبار ها ای امته على الارضاع وليس له ذلك يعنی الاجبار بنوعيه مع زوجته الحرة ولد قبلهما لأن حق التربية لها“(در المختار على هامش

رد المحتار / ج: ۲ / ص: ٤٣٨)

سوال:......

که کوچنی خوراک کاوه بیا یې تی ورکی، په همدغه وخت کې تحریم راولي که نه؟

جواب:...... هو، تحریم راولي که څه هم کوچنی خوراک کوي په مده د رضاع کې:

"لو فطم الرضيع في مدة الرضاع ثم سقي بعد ذلك في المدة فهو رضاع على قول من يرى الرضاع في تلك المدة لوجود الارضاع في المدة و هو الظاهر في المذهب ـ كذا في المحيط في ـــ وعليه الفتوى ـ فتاوى الهندية / ج: ۱ / ص: ۳٤۳)"

سوال:......

که ښځه لېونۍ وه بیا یې قریبان په ورکولو مجبوره کولای سي کنه؟

جواب:...... هر مجبور کولای سی چې خپل بچې ته تی ورکی



﴿باب الحرمت من الرضاع﴾

سوال:......

آیا رضعت تحریم یواځې د مور له خوا راولي او که د پلار له خوا یې هم راولي؟

جواب:......

رضعت تی رودل د مور او پلار دواړو له خوا تحریم راولي:

"و هذه الحرمة كما تثبت في جانب الام تثبت في جانب الاب و هو الفحل الذي نزل بوطئه كذا في الظهرية"(فتاوى الهندية / ج: ۱ / ص: ۳٤۳)

سوال:......

که یو کوچني تی ررودی دیوې ښځي د هغې اولاد پر ده باندي حرام دی کنه؟

جواب :......

هو! هغه یې مور بلله کیږي د هغې میړه یې پلار او اولاد یې ورونه خوندي:

" یحرم علی الرضیع ابواه من الرضاع واصولهما و فروعهما من النسب و الرضاع جمیعاً حتی ان المرضیعة لوولدت من هذا الرجل او غیره قبل هذا لارضاع اوبعده او ارضعت امرأة من لبنه رضیعاً فالکل اخوة الرضیع واخواته و اولادهم اولاد اخوته و اخوانه و اخو الرجل عمه و اخته عمته واخو المرضیعة خاله و اختها خالته وکذا فی الجد و الجدة و تثبت حرمة المصاهرة فی الرضاع حتی ان امرأة الرجل حرام علی الرضیع و امرأة الرضیع حرام علی الرجل و علی هذا القیاس "(فتاوی الهندیة / ج: ۱ / ص: ۳۴۳)

سـوال :......

درضاع او د نسب په حرمت کي په کومو مسئلو کي فرق دی؟

جواب :......

فرق یې په دوو مسئلو کي سته چي په غو کي تحریم په نسب کي راولي نه په رضاع:

(۱) "الا فی المسئلتین احدیهما ان لایجوز للرجلٰ انیتزوج اخت ابنه من النسب و یجوز فی الرضاع لأن اخت ابنه من النسب ان کانت منه فهی ابنته و ان لم تکن منه فهی ربیبة و هذا المعنی لا یاتیٰ فی الرضاع حتی ان فی النسب لو لم یوجد احد هذین ..... بان کانت جاریة بین الشرکین جاء ت بولد فادعیاه حتی تثبت النسب منهما و لکل واحدٍ منهما بنت من امرأة اخریٰ جاء لکل واحد من المولیین أن یتزوج بابنة شریکه وان حصل کل واحدٍ من المولیین متروجاً باخت ابنة من النسب۔"

(۲) والمسئلة الثانیة لا یجوز لرجل أن یتزوج أم أخته من النسب ویجوز فی

الرضاع لأن فی النسب ان کانا أخوین من أم فام الاخ امه وان کانا اخوین لاب فام الاخ امرأة ابیه و هذا المعنی معدوم فی الرضاع کذا فی المحیط (فتاوی الهندیة / ج: ۱ / ص: ۳۴۳)

سـوال :......

ایا رضاع هم داسي حرمت راولي لکه نسب او که یا؟

جواب :......

هو، رضاع تی رودل هم دغسي حرمت راولي لکه نسب:

"و یحرم من الرضاع ما یجرم من النسب (الحدیث) یحرم من الرضاع ما یحرم من النسب الا صورتین"(فتح القدیر و عنایه والهدایة / ج: ۳ / ص: ۳۱۱)

سـوال :......

دوه یا دري صورتونه چي فرق د نسب او د رضاع کي سته کوم دي؟

جواب :......

یو دا دی چي مور د رضعي خور روا ده او مور د نسبي خور نه ده روا:

"الا أم اخته من الرضاع فانه یجوز أن یتزوجها ولا یجوز أن یتزوج أم اخته من النسب لانها تکون امه او موطئوة ابیه بخلاف الرضاع"(هدایه ـ فتح القدیر / ج: ۳ / ص: ۳۱۱)

سـوال :......

دوهم صورت د جواز چي په نسب کي روا نه دی کوم دی؟

جواب :......

دوهم صورت دا دی چي د رضعي زوی خور روا ده او د نسبي دا روا نه ده:

"ویجوز أن یتزوج اخت ابنه من الرضاع ولا یجوز ذلك من النسب لانه کما وطئ امها حرمت علیه و لم یوجد هذا المعنی فی الرضاع "(سابقه حواله)

سـوال :......

آیا د رضعي پلار او یارضعي زوی ښځه روا ده کنه؟

جواب :...... یا نه ده روا لکه د نسبي پلار اوزوی دا چي نه ده روا:

”و امرأة ابیه اوامرة ابنه من الرضاع لا یجوز ان یتزوجها کما لایجوز ذلك من النسب“(هدایه ۔ فتح القدیر / ج: ۳ / ص: ۳۱۲)

سـوال :......

کـه یوې ښـځي و انـجلۍ ته تی ورکړ بیا دغه انجلۍ د هغې ښځي میړه په نکا ح کولای سي که نه؟

جواب :......

یـا دغـه سړي ددغـي انـجلۍ پلار وګرزېدی ځکه د ده په سبب شیدې له دغي ښځي راغلي نودی یې پلار او دده ورور یې اکا، د ده پلار یې نیکه سو:

”ولبن الفحل یتعلق به التحریم و هو أن ترضیعه المرأة صبیة فتحرم هذه الصبیة علی زوجها و علی آبائه و ابنائه و یصیر الزوج الذی نزل لها منه اللبن آباء للمرضیعة و قال علیه السلام لعائشة رضی الله عنها لیلج علیك أفلح فانه عمك من الرضاعة (الحدیث) ارتضعت من امرأة ابی القعیس و کان افلح اسم اخی ابی قعیس افلج ۔۔۔۔“(هدایه عنایه فتح القدیر / ج: ۱ / ص: ۳۱۳)

سـوال :......

آیا یوه ورور ته روا ده چي د بل ورور رضعي خور په نکا ح کړي که نه؟

جواب :......

هو، روا ده چي یو رضعي ورور د بل رضعي ورور خور په نکا ح کړي:

”و یجوز أن یتزوج الرجل باخت اخیه من الرضاع لانه یجوز ان یتزوج باخت اخیه من النسب و ذلك مثل الاخ من الاب إذا کانت له اخت من امه جاز لاخیه من ابیه أن یتزوجها “(ومثله فی الهندیة / ج: ۱ / ص: ۳٤۳ ۔ هدایه ، فتح القدیر / ج: ۳ / ص: ۳۱٤)

سـوال :......
کـه دوو کـوچـنیـانـو یوه انجلۍ اوبل هلک دیوې مور تی ورودی بیا ددې دوو نکاح سره روا ده کنه، ایامشر کشر په هغو کې سره یو دي که نه؟
جواب :......
کـه دوو کـوچـنیـانـو دیـوې ښځې تی ورودی نو دوی دواړه سره وروڼه دي او هغه یې مور ده:
"وکـل صبیـن اجتـمعا علی ثدی واحدة لم یجز لاحدهما ان یتزوج بالاخری هـذا هـو الاصل لأن امهما واحد فهما اخ و اخت"(هدایه ـ حواله سابقه) ـ وفی الهـدایـه و لا یتزوج المرضعة احد من ولد التی ارضعت لانه اخوها و لا ولد ولدها لانـه ولـد اخیـه ـ و لا یتزوج الـصبی الـمرضع اخت زوج المرضعة لانها عمته من الرضاعة) (فتح القدیر / ج: ٣ / ص: ٣١٥)



﴿باب اختلاط اللبن﴾

سـوال :......
که اوبه اوشیدې سره ګډې وې بیا تحریم راولي که یا؟
جواب :......
پـه وخـت د اختـلاط کـې، کـه اوبـه ډیري وې بیا تحریم نه راولي، او که شیدې ډیري وې بیا یې راولي:
"و اذااختـلـط الـلبـن بالماء واللبن هو الغالب تعلق به التحریم وان غلب الماء لـم یتـعـلـق بـه التـحـریـم لأن الـمغلوب غیر موجود حکماً حتی لا یظهر فی مقابلة الـغـالـب کـمـا فـی الیـمـیـن"(هـدایة ـ فتح القدیر / ج: ٤ / ص: ٣١٥ ـ وکذا فی فتاوی الهندیة / ج: ١ / ص: ٣٤٤) إذا قال علی ان لا یشرب لبنا فانه القیاس علی

اليمين يحنث بشربة مغلوباً بالماء لأن ... حكم الغالب۔

سـوال :......

كه شيدې كډي سوې په ډوډۍ بيا تحريم راولي كنه؟

جواب :......

تحريم نه راولي ځكه اصل ډوډۍ ده شيدې تابع دي كه څه هم شيدې ترڅاڅي:

"و ان اختلط بالطعام لم يتعلق به التحريم و ان كان اللبن غالباً عند ابى حنيفة و قالا إذا كان اللبن غالباً يتعلق به التحريم قال رضى الله عنه قولهما فيما ذا لم قسمه النار حتى لو طبخ بهما لا يتعلق به التحريم فى قولهم جميعاً لهما انه العبرة للغالب كما فى الماء إذا لم يغيره شيئ عن حاله و لابى حنيفة رحمه الله الطعام اصل واللبن تابع له فى حق المقصود فصار كالمغلوب ولا ... يتقاطر اللبن من الطعام عنده هو الصحيح لأن التغذىٰ بالطعام إذا هو الاصل "(هدايه ـ نهايه ـ عنايه ـ فتح القدير / ج:۳ / ص:۳۱٦)

سـوال :......

كه يو ښځي اولاد نه درلودى بيا يې شيدې تر تيو راغلې او هغه كوچني وروډلې، آيا په دې سره رضاع راځي او حرمت ثابتيږي كنه ؟

جواب :......

په دې مسئله كي رضاع له ښځي ثابتيږي نه له زوج څخه، كه د زوج اولاد وو له بلي ښځي پر دغه كوچني باندي نه حراميږي ماسوا له ښځي:

"رجل تزوج امرأة و لم تلد منه قط نزل لها لبن فارضعت صبياً كان الرضاع من المرأة دون زوجها حتى لا يحرم على الصبى اولاد هذا الرجل من غير هذه المرأة"(فتاوى هنديه / ج:۱ / ص:۳٤۳)

سـوال :......

كه سړي زنا وكړه بيا يې اولاد ځيني پيدا سو و دغه زاني يا پلار يا اولاد د دغي

انجلۍ سره روا ده او که نه ده روا؟

جواب :......

نه ده روا او دغه زاني ته نکاح ددې نه و پلار د ده نه اولاد د ده ته:

"رجل زنیٰ بامرأة فولدت منه فارضعت بهذا اللبن صغيرة لا يجوز لهذا الزانی و لا لاحدٍ من آبائه و اولاده نكاح هذه الصبية كذا فی قاضی خان ـ اخری و لو وطئ امرأة بشبهةٍ فحبلت منه فارضعت صبياً فهو ابن الواطئ من الرضاع و علی هذا كل من ثبت نسبه من الواطئ ثبت منه الرضاع و فی كل موضع لا يثبت نسب الولد منه ثبت الرضاع من الام "(فتاوی هنديه / ج: ۱ / ص: ۳۴۳)

سـوال :......

که د پېغلې تر تي شيد راغلی او مېره يې نه وو کړی تحريم راولي کنه؟

جواب :......

هو ! راولي يې تحريم او ثابتيږي ټول احکام د رضاع د دوی په مابين کي:

"بكر لم تتزوج لو نزل لها لبن فارضعت صبياً صارت أمًا للصبی و تثبت جميع احكام الرضاع بينهم حتی لو تزوجت البكر رجلاً ثم طلقها قبل الدخول بما كان لهذا الزوج أن يتزوج لصبية و ان طلقها بعد الدخول لا يكون له أن يتزوجها ـ كذا فی خزانة المتقين"(فتاوی الهندية / ج: ۱ / ص: ۳۴۴ ـ ومثله كذا فی الهداية والكفاية ـ و فتح القدير / ج: ۳ / ص: ۳۱۷)

سـوال :......

که شيدې د ښځي کړي سوې په دوا بيا تحريم راولي کنه؟

جواب :......

که شيدې غالبي وې بيا يې راولي او که غالبي نه وې بيا يې نه راولي:

"و ان اختلط بالدواء و اللبن غالب تعلق به التحريم لأن اللبن يبقی مقصوداً فيه اذ الدوآء لتقوية علی الوصول ـ غالب او غير غالب هو و ان لم يغير اللدواء

اللبن تثبت الحرمة وان غيره لا تثبت"(هنديه / ج: ١ / ص: ٣٤٤ ـ فتاوى فتح القدير / ج: ٣ / ص: ٣١٦ ـ و الهدايه ـ والكفاية)

سـوال :......

که د ښځي شیدې د حیوان له شیدو سره ګډې سوې تحریم راولي کنه؟

جواب :......

کـه شیدې د ښـځـي ډیري وې بیا تحریم راولي که د حیوان دا ډیري وې بیا یې نه راولي:

"و إذا اختـلـط الـلـبـن بـلـبـن الشاة و هو الغالب تعلق به التحريم و ان غلب لبن الشـاة لم يتعلق به التحريم "(هداية ـ فتاوى فتح القدير ـ و الكفاية و العناية / ج: ٣ / ص: ٣١٧ـ و كذا فى الهنديه / ج: ١ / ص: ٣٤٤)

سـوال :......

که د مړې ښځي شیدې ولوشلې بیا کوچني وخوړې تحریم راولي که نه ؟

جواب :......

هو، تحریم راولي :

"و هـذه الـعـبـارات و إذا حـلـب لـبـن الـمـرأة بـعد موتها فاوجر الصبى تعلق به التحريم"(فتح القدير و الهداية / ج: ٣ / ص: ٣١٧)

سـوال :......

کـه د ښـځـي شـیـدې د کـوچـنـي پـه ذکر یا دبر یا غوږو یا بل ځای لاندي تـحـریـم راولي که نه؟

جواب :......

یا بیا تحریم نه راولي ځکه غذا له پورته خوا څخه کیږي نه له لاندي خوا:

"و إذا احتقن الصبى باللبن لم يتعلق به التحريم"(هدايه ـ والكفاية ـ و كذا لا يثبت بـالاقـطار فى الاحليل و الاذن والجائفة و الآمه ـ فتاوى فتح القدير / ج: ٣

/ ص: ۳۱۹۔ و کذا فی الهندية / ج: ۱ / ص: ۳٤٤ ۔ و عند محمد يثبت بالحقنة كذا فی التهذيب)



باب التحريم الرضاع من الرجل

سوال :......

كه د نارينه تر تيو شيدې راغلې بای كوچني وخوړې تحريم راولي كه نه؟

جواب :......

يا تحريم نه راولي ځكه دا شيدې نه بللي كيږي:

"او إذا نزل الرجل لبن فارضع به صبياً لم يتعلق به التحريم لانه ليس بلبن على التحقيق فلا يتعلق به النشو والنمو"(هدايه ۔ و مثله عناية۔)

ان الله تعالى خلق اللبن فی الاصل لغذاء الولد لعدم احتماله لسائر الاطعمة والاشربة فی ابتداء حاله ليقوم مقام الطعام و الشراب فلهذا اختص اللبن على التحقيق بمن يتصور منه الولادة كذا فی النهاية و هذا لا يفيد الاختصاص بمن يتصور منه الولادة إذا تأملت لكن بالانثى الولود من الحيوان و هو الذی يكون أذوناً صموخاً فی غير الآدمی مما هو ثابت باستقراء۔(الكفاية ۔ هدايه۔ عنايه ۔ نعماية ۔ فتح القدير / ج: ۔ / ص: ۳۱۹) و كذا فی فتاوی هندية / ج: ۱ / ص: ۳٤٤۔

سوال :......كه داسې خبره وي چې تحريم نه راولي، آيا دا امكان لري چې د نارينه له تيو شيدې راسي؟

جواب :...... هو، بعض حكاياتو كي راغلي دي چي نارينه ته كله كله داسي پېښيږي:

"و قد يذكر فی بعض الحكايات انه اتفق لرجل ارضاع صغير فان صح فهو من

خوارق العادات لا يبنى الفقه باعتباره و على هذا يلزم انه لو نزل لبكر لم تبلغ عن البلوغ لبن لا يتعلق به التحريم و يحكم بانه ليس لبناً"(الكفاية ـ فتح القدير / ج: ٣ / ص: ٣١٩)



باب الرضاع من صغيرة

سـوال :...... كه انجلۍ تر نهه كاله كمه وه تر تيو يې شيدې راغلې تحريم راولي كه نه؟

جواب :...... كه تر نهه كاله كمه وه بيا تحريم نه راولي د نهو كالو وه يا زياته بيا يې راولي:

"ولو أن صبية لم تبلغ تسع سنين نزل لها اللبن فارضعت به صبياً لم يتعلق به تحريم و انما يتعلق التحريم به إذا حصل من بنت تسع سنين ۔۔" وكذا لو نزل للبكر ماء اصفر لا يثبت من ارضاعه تحريم۔ (فتاوى الهنديه / ج: ١ / ص: ٣٤٤)

سـوال :......

د نرښځي تر تيو كه شيدې راغلې تحريم راولي كه نه؟

جواب :......

كه چيري معلومه سوه چي ښځه ده بيا تحريم راولي او كه معلومه سوه چي نر دى بيا يې نه راولي او كه مشكله وه بيا به ښځي كوري كه د نر حكم وكئ بيا يې نه راولي كه د ښځي حكم وكئ بيا يې راولي:

"و إذا نزل للخنثى لبن ان علم انه امرأة تعلق به التحريم و ان علمه انه رجل لم يتعلق به التحريم و ان اشكل ان قالت النساء انه لا يكون على غزاته الا للمرأة تعلق به التحريم احتياطا و ان لم يقلن ذلك لا يتعلق به تحريم ۔ كذا فى الجوهر النيرة"(فتاوى الهندية / ج: ١ / ص: ٣٤٤)



باب الرضاع من امرأتين

سوال :......

كه ديو سړي دوې ښځې وې يوه كوچنۍ وه بله لويه وه كوچني ته يې تى وركړ حرمت راولي كنه . دغه رنګه كه يوه بيده وه كوچني ورودله ؟

جواب :...... دواړې پر زوج باندې ناروا دي او حرامې دي:

”و إذا تزوج الرجل صغيرة و كبيرة فارضعة الكبيرة الصغيرة حرمتا على الزوج ثم ان لميدخل بالكبيرة فلا مهر لها و للصغيره نصف المهر و يرجع به الزوج على الكبيرة ان كانت تعمدت الفساد و ان لم تعمدت فلا شيئ عليها و ان عملت ان الصغيرة امرأته و كذا إذا جائت الصغيرة إلى الكبيرة و هى نائمة فخذت ثديها و ارتضعت منها بانتا منه و لكل واحدة منهما نصف الصدق و لا يرجع به احدٍ ۔ “كذا فى سراج الوهاج (فتاوى الهندية / ج: ١ / ص: ٣٤٥۔ و مثله فى شرح الهداية فتح القدير / ج. ٣ / ص: ٣٢٠ ۔) لانه يصير جامعاً بين الام والبنت رضاعاً و ذلك حرام۔

سوال :......

كه د دوو ښځو شيدې سره ګډې سوې بيا تحريم څنګه راځي د يوې كه د دواړو ؟

جواب :...... په نزد د شيخينو تحريم په اغلب سره راځي د هري يوې كه ډيري وې او په نزد د إمام محمد صاحب رحمه الله په دواړو پوري تحريم راولي :

”و إذا اختلط لبن امرأتين تعلق التحريم باغلبها عند هما و قال محمدؒ تعلق بهما كيفما كان و هو رواية عن ابى حنيفةؒ و هو اظهر و احوط ۔ هكذا فى التبيين ۔ و لو استويا تعلق التحريم بهما اجماعاً“(فتاوى الهندية ۔ / ج: ١ / ص: ٣٤٥)



باب الرضاع و شهادته

سـوال :......

رضاع په څه شي باندي معلوميږي، شاهدان غواړي کنه؟

جواب :...... په دوو شيانو معلوميږي په اقرار او په شاهدانو:

"الرضاع يظهر باحد امرين احدهما الاقرار والثانی البينة "(البدائع ـ هندية / ج: ۱ / ص: ۳٤۷)

سـوال :......

په رضاع کي څو شاهدان غوښتل کيږي عادلان او که غير عادلان؟

جواب :......

په رضاع کي دوه شاهدان يا يو رجل بل دوې ښځي عادلاني:

"ولا يقبل فی الرضاع الا شهادة رجلين اورجل و امرأتين عدول كذا فی المحيط ـ فتاوی هندية / ج: ۱ / ص: ۳٤۷"

سـوال :......

که د رضاع په وجه ښځه او سړی سره جلا سول بيا پر سړي مهر سته که نه؟

جواب :......

که له مخه تر دخول فرقت راغلی بيا شی نسته او که وروسته له دخوله وو بيا مهر مثل يا لږ مسمیٰ سته:

"و إذا شهد رجلان عدلان اورجل و امرأتان و فرق بينهما فان كان قبل الدخول بها فلا شيئ لها و ان كان بعد الدخول بها يجب الاقل من المسمی و من مهر المثل و لا يجب النفقة والسكنی ـ كذا فی البدائع "(هنديه / ج: ۱ / ص: ۳٤۷)

سـوال :......

ایا ښځه او سړی به پخپله سره جلا کیږي او که د قاضي په اجازه؟

جواب :......

فرقت به په اجازه د قاضي صاحب سره راولي نه پخپله:

"و لا تقع الفرقة الا بتفريق القاضی كذا فی النهر الفائق"

سـوال :......

په رضاع کي د ښځو شاهدي یواځي صحیح کیږي که نه چي عدالت وي؟

جواب :......

په رضاع کي یواځي د ښځو شاهدي نه قبلیږي . إمام مالکؒ وايي که یوه ښځه موصوفه په عدالت سره وه بیا قبلیږي:

"و لا تقبل فی الرضاع شهادة النساء منفردات و انما تثبت بشهادة رجلين او رجل و امرأتين "(هداية ـ والكفاية ـ اجنبية كانت او أم احد الزوجين والمراد من الاقرار انفراد هن من الرجال ـ فتح القدير شرح الهداية / ج: ۳ / ص: ۳۲۳)

سـوال :......

که دوه کوچنیان د میږي یا بزې شیدې ورودلې تحریم راولي کنه؟

جواب :......

یا تحریم نه راولي ځکه جزئیت نسته په مابین د انسان او حیوان کي:

"او إذا شرب صبيان من لبن شاة لم يتعلق به التحريم لانه لا جزئية بين الادمی والبهائم والحرمت باعتبارها"(فتح القدير شرح الهداية / ج: ۳ / ص: ۳۱۹)



فصل فی بیان المحرمات
القسم الاول المحرمات بالنسب

سـوال:......
د نسب له خوا محرمات څو او کوم کوم دي چي نکاح يې نه ده روا؟
جواب:......
د کومو قريبانو چي نسب يې سره يو وي او نکاح، وطى او اسباب د نکاح يې ټولـه حرام دي همېشـه دا ده لـکـه مور، خور، لور، د پلار خوندي، د مور خوندي، د ورور لوڼي، د خور لوڼي، دا محرمات فی النسب دي:
"وهن الامهات والبنات والاخوات والعمات وبنات الاخ و بنات الاخت فهن محرمات نكاحاً و وطئا و دواعيه على التابيد"(فتح القدير شرح الهدايه / ج: ۳ / ص: ۱۱۷ـ فتاوىٰ الهندية / ج: ۱ / ص: ۲۷۳)
سـوال:......
لـه امهات يعـني مور او بنات يعني لور او اخوات يعني خور او عمات د پلار خور او خالات يعـني د مور خور له دې څخه کوم کوم مراد دي چي محرمات دي؟
جواب:......
"فالامهات أم الرجل وجداته من قبل ابيه و امه وان علون و اما البنات فبنته الصبية و بنات ابنه و بنتة وان سفلن و اما الاخوات فالاخت لاب و أم و الاخت لاب و الاخت لام وكذا بنات الاخ و الاخت و ان سفلن و اما العمات فثلاث عمة لاب و أم و عمة لاب و عمة لام وكذا عمات ابيه و عمات اجداده و عمات جداته و ان علون و اما الخلات --- لاب و أم ا لاب فعمة العمة حرام و اما خالة الخالة

فان كانت الخالة القربى خالة لاب و أم او لام ... "



﴿باب المحرمات فی الصهریة﴾

سوال :......
محرمات په طرف د خسرګنۍ کي څو قسمه دي او کوم کوم دي؟
جواب :......
څلور قسمه دي اول مور د ښځي د مور مور د خوابني مور:
"و هي أربع فرق الاولى امهات الزوجات و جداتهن من قبل الاب و الام و ان علون" (فتاوى هندية ج ١ / ص: ٢٧٤ - ومثله در المختار على الرد المحتار / ج: ٢ / ص: ٣٠٠)
سوال :......
دوهم قسم څو دي او کوم کوم دي؟
جواب :......
دوهم قسم لوڼي د ښځي او لوڼي د اولاد ددي:
"الثانية بنات الزوجة و بنات اولادها وان سفل بشرط الدخول بالام. "
والثالثة ......مړور له محرماتو څخه ده يعني د زوى ښځه او د زوى د زوى ښځه او د زوى د لور . و ان سفل ادخل بها الابن أم لا .
څلورم قسم محرمات نساء الاباء و الاجداد من جهته الاب او الام و ان علىٰ هؤلاء محرمات على التابيد نكاحاً و وطئاً . كذا فى الحاوى القدسى .
(سابقه . . .)
سوال :......
ايا ښځه د ه غه چا چي زوى سره يې نيولې وي زوى يې نه وي، روا ده کنه؟

جواب :......

هو! رواه ده:

"ولا تحرم حليلة الابن المتبنى على الاب المتبنى هذا ـ ـ (رد المحتار / ج: ۲ / ص: ۳۰۲ ـ ومثله فتح القدير و العنايه / ج: ۳ / ص: ۱۲۱ ـ وقصة ان رسول الله تبنى زيد بن حارثه ثم تزوج زينب"

سوال :......

اسباب د تحریم څو دي؟

جواب :...... اسباب د تحریم انواع:

"قرابة ـ مصاهرة ـ رضاع ـ جماع ـ ملك ـ شرك ـ ادخال امة على حرة ـ م ـ ـ ـ سج ـ ـ "(در المختار على هامش رد المحتار / ج: ۲ / ص: ۳۰۰)

سوال :......

محرمات په سبب د قرابت کوم کوم دي او مصارهت کوم دي؟

جواب :......

محرمات په سبب د قرابت:

"كفروعه وهم بناته وبنات اولاده وان سفلن واصوله وهم امهاته و امهات امهاته و اباته و ان علون وما ذكره فى / ص: ۱۰۵ ـ

دوم: محرمات فى المصاهرت كفروع نسائه المدخول بها وان نزلن و امهات الزوجات و ـ ـ ـ ـ ـ صحيح و اعلون ـ ـ ذكر تفصيلاً فى صفحه ۱۰۶ ـ

دريم ـ رضاع فيخرم به ما يحرم من النسب الا ما استثنى بينه ـ ـ الرضاع ـ ـ

څلورم ـ ملك كنكاح السيد امته و السيدة عبد ـ (رد المحتار / ج: ۲ / ص: ۳۰۰)

سوال :......

ایا ښځي ته هم دا تحریم ستنه او که یواځي سړي ته دی؟

جواب :......
هو، پر ښځه باندي هم حرام دي د سړي بعضي قريبان لکه خوسر د مېړه زوی وغيره . کما يحرم على الرجل ان يتزوج بمن ذکر حرم على المرأة ان يتزوج بنظير ما ذکر . (سابقه حواله)

...

باب المحرمات بالزنا واللمس

سـوال :......
ايا د زنا په سبب تحريم راځي که نه ؟ او دا په کوم تحريم کي داخل دی؟
جواب :......
هو! تحريم راولي:
"کما في الدر المختار على رد المحتار / ج: ۲ / ص: ۳۰۱ : حرم على المتزوج ذکراً کان او انثى نکاح اصله و فروعه علا و انزل و بنت اخيه و اخته و بنتها ولو من زنا و عمه و خالته"(در المختار / ج: ۲ / ص: ۳۰۳ ـ و حرم ايضا بالصهرية اصل مزنية (هنديه / ج: ۱ / ص: ۲۷٤)

سـوال :......
په لاس وروړلو يا په شهوت کتلو سره تحريم راځي که يا؟
جواب :......هو، مسه کول او نظر کول اسباب د وطي دي تحريم راولي:
'وحرم ايضا بالصهرية اصل مزينية والمراد بالزنا الوطء الحرام و اصل الممسوسة بشهوة ولو شعر على رأس بحائل لا يمنع الحرارة و اصل ما سته و ناظره إلى ذکره و المنظور إلى فرجها و فروعهن مطلقا والعبرة للشهوة عند المس والنظر لا بعد هما وحدها'"(در المختار على هامش رد المحتار ـ و مثله في الهندية / ج: ۲ / ص: ۳۰٤ ـ هنديه / ج: ۱ / ص: ۲۷٤)

سـوال :......
حد اندازه د شهوت څومره قدر ده څنګه دی ؟
جواب :......
انـدازه د شهـوت دا ده چې په زړه کې یې شوق ورته وسي که ښځه مشتهاة نه وه او یاشوق زیات سي که مشتهاة وه . کما فی الرد المحتار / ج: ۲ / ص: ۳۰۴ .

"و قیل حدها ان یشتهی بقلبه"
سـوال :......
ایا تحریم د مصاهرت په نکاح صحیح سره راځي او که په فاسده سره؟
جـواب :...... حرمت د مصاهرت په نکاح صحیح سره راځي نه په نکاح فاسده سره:
"و تثبت حرمة المصاهرة بالنکاح الصحیح دون الفاسد"(هندیه فتاوی / ج: ۲ / ص: ۲۷٤ ـ فتـاوی قـاضـی خـان علی هـامـش هندیة / ج: ۱ / ص: ۳۹۰ ـ الصهریة تثبت بالعقد الجائز و بالوطء خلالا کان او عن شبهة او زنا)
سـوال :......
که په نکاح فاسده سره په نکاح سوه حرمت راولي او که وطی غواړي؟
جواب :......
یا په نکاح سره حرمت مصاهرت نه راځي بلکي وطئ غواړي:
"فلو تزوجها نکاحا فاسداء لاتحرم علیه امها بمجرد العقد بل بالوطئ "(فتاوی هندیة / ج: ۱ / ص: ۲۷٤)
سـوال :......
که سړي وطي وکړه په شبهه سره حرمت راولي کنه دغه رنګه زنا یې وکړه؟
جواب :......

هو! په وطي سره حرمت راځي که په قصد یا شبهه یا په زنا په هر رنګ چي وي .

”وتثبت بالوطئ حلالاً کان اوعن الشبهة او زنا “(قاضي خان / ج: ۱ / ص: ۳۹۰ ـ فتاوی هندية / ج: ۱ / ص: ۲۷٤ ـ

دو همه مسئله:

”فمن زنی بامرأة حرمت علیه امها وان علت و ابنتها وان سفلت وکذا تحریم المزنی بها علیٰ آباء الزانی و اجداده وان علو و ابنائه وان سفلو کذا فی الفتح القدير“

سوال :......

که له ښځي سره مباشرت یا لاس پر غاړو واړول سي حرمت د مصاهرت راولي کنه ؟

جواب :......

هو ، حرمت راولي لکه مچه چي ځيني واخلي دغه رنګه غاښ په لګول:

”و المباشرت عن شهوة بمنزلة قبلة وکذا المعانقة ـ“(قاضی خان) و کذا لو عضها بشوة هکذا فی الخلاصة و کذا فی در المختار علی الرد المحتار ـ (فتواوی الهندية / ج: ۱ / ص: ۲۷٤ ـ / ج: ۲ / ص: ۳۰۸ ـ) و المعانقة کالتقبیل و کذا القرص و اعض بشهوة ولو لا اجنبية و تکفی الشهوة من احدهما ـ

سوال :......

که ښځي و فرج د نارینه ته و کتل یا یې مسه کړ په شهوت سره یا یې مچ کړ بیا حرمت د مصاهرت راولي کنه؟

جواب :......

هو ، حرمت راولي :

”کذا فی الهندية / ج: ۱ / ص: ۲۷٤ : فان نظرت المرأة إلی ذکر رجل او

لمسته بشهوة او قبلت بشهوة تعلقت به حرمة المصاهرة والمعتبر النظر إلى الفرج الداخل هكذا فى الهداية و عليه الفتوى۔"

سـوال :......

كه د ښځي و بدن ته ماسوا له فرجه سړي وكتل حرمت اولي كه نه؟

جواب :......

يا په نور بدن سره حرمت نه راځي مګر كه يې په شهوت سره وكتل بيا راځي:

"و لا تثبت بالنظر إلى سائر الاعضاء الا بشهوة و لا بلمس۔ سائر الاعضاء لا عن شهوة بلا خلاف"(فتاوى الهندية / ج: ١ / ص: ٢٧٤ ـ فتاوى در المختار على الرد المحتار / ج: ٢ / ص: ٣٠٤)

سـوال :......

كه ښځه ولاړه وه سړي يې و فرج ته وكتل حرمت راولي كه نه؟

جواب :......

يا و ښځي ته كتل په ولاړي حرمت نه راولي مګر په ناستي چي تكيه يې وهلي وي:

"قالوا لو نظر إلى فرج و هو قائمة لا تثبت حرمة المصاهرة و انما يقع النظر فى الداخل إذا كانت قاعدة متكئة "كذا فى فتاوى قاضى خان على هامش هنديه (فتاوى الهندية / ج: ١ / ص: ٢٧٤)(ج ١ / ص: ٣٦٢)

سـوالى :......

كه سړي و فرج د ښځي وكتل په شهوت سر په اينه كي او يا په اوبو كي حرمت راولي كه نه؟

جواب :......

يا بيا ددغي ښځي مور او لور نه پر حراميږي ځكه د عكس ليدل دى نه فرج .

”ولو نظر فی مرآۃٍ و رأی فیها فرج امرأۃ بشهوۃ فنظر لا تحرم علیه امها و ابنتها لانه لم یر فرجها و انما رأی عکس فرجها و لو کانت المرأۃ علی شرط حوضٍ او علی قنطرۃ فنظر الرجل فی الماء فرأی فرجها فنظر عن شهوۃ لا تثبت الحرمة کذا فی فتاوی قاضی خان و هو الصحیح کذا فی الخلاصة“(فتاوی هندیة / ج: ۱ / ص: ۲۷٤ ـ و مثله فی در المختار علی هامش رد المحتار / ج: ۲ / ص: ۳۰۵ ـ لا تحرم المنظور إلی فرجها الداخل إذا رآه من مرآۃ او ماء لأن المرئی مثاله بالانعکاس لا هو ـ

سوال :......

که سړي وکتل و فرج د لور ته بې له شهوته بیا یې په زړه کي دا خواهش راغلی چي کشکي مي داسي جاریه وای حرمت راولي کنه؟

جواب :......

که شهوت واقع سو په داسي حال کي چي سترګي یې واقع وې پر فرج بیا حرامیږي مور د دې انجلۍ او که یې شهوت واقع سو پر هغه چي خواهش یې وو بیا نه حرامیږي:

”و إذا نظر إلی الرجل فرج البنت بغیر شهوۃ فتمنی ان یکون له جاریة مثلها فوقعت منه شهوۃ مع وقوع بصره قالوا ان کانت الشهوۃ و وقعت علی البنت حرمت علیه امرأته و ان کانت الشهوۃ وقعت علی التی قمناها لا تحرم لأن نظره فی هذه الصورۃ إلی فرج البنت لم یکن عن شهوۃ“ کذا فی فتاوی قاضیخان علی هامش ج۱ ـ / ص: ۳٦۳ـ فتاوی هندیة / ج: ۱ / ص: ۲۷٤)

سوال :......

مسه کول ښځي چي حرمت راولي قصد غواړي کنه؟

جواب :......

قصد نه غواړي:

"فتاوی الهندية / ج: ۱ / ص: ۲۷٤ و فتح القدير / ج: ۳۔ / ص: ۔ ثم لا فرق في ثبوت الحرمة بالمس بين ان كونهعامداً او ناسياً او مكرهاً او مخطئاً او نائماً"(در المختار على الرد المحتار / ج: ۲ / ص: ۳۰٦)

سوال :......

که سړي ښځه دپاره د جماع راپورته کوله په خطايي لاس پر لور ولګېدی او هغه يې راکش کړه او هغه مشتهاته هم وه تحريم راولي که نه؟

جواب :......

هو، که د ذه ګمان داوو چې دايې مور ده بيا حرمت راولي:

"فلو ايقظ زوجته يجامعها فوصلت يده إلى بنته منها فقرصها بشهوة و هي ممن تشتهي يظن انها امها حرمة عليه الام حرمة ۔۔ فلو ايقظ زوجته او ايقظت هي لجماعها فمست يده بنتها المشتهاة او يدها ابنه حرمة لام ابداً"(در المختار / ج: ۲ / ص: ۳۰٦)

سوال :......

حرمت په وخت د حائل يعني جامې کي پ لمس سره راځي کنه؟

جواب :...... که داسي جامه وه چې نرمه وي د لاس حرارت تودوالی او د بدن تودوالی معلومېدی بيا حرمة راولي که جامه پنډه وه حرارت نه معلومېدی بيا يې نه راولي:

"ثم المس انما يوجب حرمة المصاهرة إذا لم يكن بينهما ثوب أما ذان كان بينهما ثوب فان كان صفين لا يجد الماس حرارة المموس لا تثبت حرمة المصاهرة و ان انتشرت آلة بذلك و ان كان رقيقاً بحيث تصل حرارة المحسوس إلى يده تثبت كذا في الذخيرة"(فتاوى هندية / ج: ۱ / ص: ۲۷٥ ۔ در المختار على هامش رد المحتار / ج: ۲ / ص: ۳۰٤ ۔ فتاوى قاضى خان على هامش هنديه / ج: ۱ / ص: ۳٦۱)

سـوال:......
پـه لـمس يعني لاس وروړلو كي څونه موده ضروري ده كه خالي لاس ور وړل كافي دي؟
جواب:...... خالـي لاس ور وړل پـه شهـوت سره حرمت راولي وخت او دوام نه غواړي:
”والدوام عـلـى الـمس ليس بشرط الثبوت الحرمة حتى قبل إذا مد يده إلى امرأته بشهـوة فـوقعت على انف ابنتها شهوةفازدادت حرمت عليه امرأته و ان نزع يده من ساعة كذا في الذخيرة“(فتاوى الهندية / ج: ۱ / ص: ۲۷۵)
سـوال:......
ايا د ښځي دپاره څونه وخت دى چي مشتهاته كيږي او هغه شرط دى كنه؟
جواب:......
هو، دا شرط دى چي مشتهـاتـه بـه وي يعـني د سړي به شوق ورته كيږي. وخت يې نهـه كالـه عـمـر دى او كـه پـه صورت چاغـه وه غټـه وه بيا اوه هم صحيح دى:
”و يشترط ان تـكـون الـمـرأة مشتهاة كذا في التبيين او الفتوى على ان بنت تسع محل الشهـوة لا مادونها كذا في معراج الدراية ـ و قال الفقيه ابو الليث ما دونه تسع سنين لا تكون مشتهاة و عليه الفتوى كذا في فتاوق قاضي خان و حكى عن الشيخ الامام ابى بكر رحمه الله تعالى انه كان يقول ينبغي للمفتى أن يفتى في السبع و الثمان انها لا تحرم الا ان بالغ السائل انما عليه ضخمة جسيمة فحيئنذٍ يفتى بالحرمة كذا في الذخيرة و المضمرات “(فتاوى هندية و كذا فتاوى رد المحتار / ج: ۱ / ص: ۲۷۵ ـ / ج: ۲ / ص: ۳۰۵ ـ فتاوى قاضي خان / ج: ۱ / ص: ۳٦۰)
سـوال:......

د ښځي او د شيخ کبير شهوت او شوق به څنګه معلوميږي؟

جواب :......

دښځي او شيخ کبير که څه هم ښورېدل دآلې نه وي خو بيا ددوی دوو شوق په وخت د نظر کولو يا د مسه کولو کي به د زړه په ښورېدلو او يا زياتېدلو باندي معلوميږي او ښورېدل دآلې شرط نه دی:

”وفی امرأة و نحو شيخ کبير تحرك قلبه اوزيادته وفی الجوهرة لا يشترط فی النظر للفرج تحريك آلة به يفتی هذا إذا لم ينزل ..“(رد المحتار / ج: ۲ / ص: ۳۰۵ ۔ فاتوی الهندية / ج: ۱ / ص: ۲۷۵) فان کان شيخا او عنينا فحد الشهوة ان يتحرك قلبه۔

سـوال :......

کـه سړ مسه کېدن و کړه يا يې نظر ورته وکړ انزل سو بيا حرمت د مصاهرت راولي او که نه، که يې نه راولي څه و جه ده؟

جواب :......

کـه انزل سو بيا حرمت نه راولي ځکه شهوت ختم سو چي مفضي و وطي ته وو:

”کذا فی الدر المختار علی هامش رد المحتار / ج: ۲ / ص: ۳۰۵) : فلو انزل مع مس اونظر فلا حرمة به يفتی در المختار ۔ وفی رد المحتار لانه بالانزل تبين انه غير مفضی إلی الوطئ (هدايه) قال فی لاعنابة ومعنی قولهم انهلا يوجب الحرمة بالانزل ان الحرمة عند ابتداء المس بشهوة کان حکمها موقوفا إلی ان يتبين بالانزل فانانزل لم تثبت والا ثبت الخ“(فتاوی هنديه / ج: ۱ / ص: ۲۷۵)

سـوال :......

که کوچني هلک کوچنۍ انجلۍ وطي کړه تحريم راولي کنه؟

جواب :......

هو، راولي يې هلک او انجلۍ داسي دي لکه لوی سړی او ښځه:
"فتاوی الهندية / ج: ۱ / ص: ۲۷۵: و وطئ الصبی الذی يجامع مثله بمنزلة وطی البالغ فی ذلك قالوا والصبی الذی يجامع مثه ان يجامع و يشتهی و تستحق النساء و من مثله كذا فی فتاوی قاضی خان (ج ۱ / ص: ۳٦۳ علی هلمش هندية"

سـوال:......
که سړي له ښځي سره لواطت وکړ تحريم راولي د مصاهرت کنه؟ که سړي د ښځي و دبري ته وکتل، حرمت راولي که نه؟

جواب:......
يا په دوارو مسئلو کي حرمت نه راولي په مفتی به قول کي:
"و لـو نـظـر إلی دبر المرأة لا تثبت به حرمة المصاهرت فی فتاوی قاضی خان / ج: -- / ص: --
و كـذا لـو وطئ فی دبرهـا لاتثبت بـه الحرمة كذا فی التنبيين و هو الاصح هكذا فی المحيط و عليه الفتوی هكذا فی جواهر الاخلاطی "(فتاوی الهندية / ج: ۱ / ص: ۲۷۵ / ص: ۱٦۸) ولـو اتـی امـرأا فـی دبـرهـا لا تـوجـب حـرمة المصاهرة ۔(فتاوی النوازل كتاب النكاح)

سـوال:......
کـه ښځه پر موټر سائيکل يا بل شي سپره کړه او يا يې شوه کړه تحريم راولي که نه؟

جـواب:...... کـه چيري د دوی دوو په مابين کي کپړه يا بل شی وو بيا حرمت نه راولي:
"ولو اركب امرأة او نزلها و بينهما ثوب صنيق لا تثبت الحرمة(قاضی خان)"

سـوال:......
که سړی پر ښځه برسېره شيطان خطا کړ تحريم راولي که نه؟

جواب :......

یا تحریم نه راولي:

"وكذا لو احتلم على امرأة لا تثبت الحرمة"(قاضي خان۔ مثله في الهندية / ج: ۱ / ص: ۲۷۵)

سوال :......

که یې له مړې ښځې سره جماع وکړه تحریم راولي کنه؟

جواب :......

تحریم نه راولي:

"وكذا لو جامع ميتة لا تثبت الحرمة"

سوال :......

که سړي پنځه ښځې په نکاح کړې نکاح یې روا ده کنه؟

جواب :......

که په یوه وار یې په نکاح کړې د ټولو نکاح فاسده ده او که یې یوه یوه په نکاح کوله د څلورو دا جائزه ده او د یوې دا فاسده ده:

"وإذا تزوج الحر خمساً على التعاقب جاز نكاح الأربع الاول و لا يجوز نكاح الخامسة و ان تزوج خمساً في عقدة فسد الكل"(ومثله في الهنديه / ج: ۱ ص۲۷۷ ـ فتاوى قاضيخان على هامش الهندية / ج: ۱ / ص: ۳۹۲ـ ۳۶۳)

سوال :......

د مراهق هغه هلک چې لويښت ته نژدې وي او د مجنون لېوني او د نشه کونکي فرق په حرمت راوستو کي له بالغ سره سته کنه چې ښځه مسه کړي یا یې وطي کړي یا یې ووینې نظر ورته وکړي؟

جواب :......

یا فرق نه لري چې عاقل وي:

"ومراهق ومجنون وسكران كبالغ فی ثبوت حرمة المصاهرة بالوطی او المس او النظر "(بزازیة ۔ فتاوی در المختار علی هامش رد المحتار / ج: ۲ / ص: ۳۰٦)

سـوال :......

که ښځي ته لاس ور وړی يې يا مچه کړه يا يې ورته وکتل شهوت له دواړو خواوو غواړي او که له يوه طرفه؟

جواب :......

شهوت کافي دی له يوه طرفه په مسه کي او نظر کي شهوت د ناظر له طرفه دی :

"و تكفی الشهـــوة من احدا هما هذا انما يظهر من فی المس اما فی النظر فتعتبر الشهوة من الناظر سواء وجدت من الآخر أم لا"(سابقه حواله)دالمحتار ج۲ ص ۳۰٦

سـوال :......

که سړی له ښځي سره پر دابه يا بل شي سپور سي او يا يې دا سپره کړه فرق يې سته کنه ؟

جواب :......

هو ا فرق يې سته که په ښځه پسي سپور سي بيا حرمت راولي او که يې ښځه سپره کړه تر اوبو يې پرې ايسته يا له شا سپره وه شهوت نه وو . . . صحيح دی:

"او يركب معها ای علی الدابة بخلاف ما إذا ركبت علی ظهر و عبر الماء حيث يصدق فی انه لا عن شهوة"(بزازيه ۔ سابقه حواله / ص: ۳۰۷) درالمختار علی الدر المحتار



﴿باب الشهادة فى التحريم و الاقرار به﴾

سوال :...... كه سړي اقرار وكړي چي ما دوستي حرامه كړې ده قبليږي كنه؟

جواب :...... هو، قبليږي او ددې په مابين كي به جلاوالي راځي :

"كما فى الهندية / ج: ۱ / ص: ۲۷۵ : ولو اقر بحرمة المصاهرة يواخذ به و يفرق بينهما و كا فى فتاوى رد المحتار / ج: ۲ / ص: ۳۰۷ : ادعت الزوجة انه قبل احد اوصولها او فروعها بشهوة او ان احد اصولها افرعها قبله بشهوة فهو مصدق۔"

سوال :......

كه يو سړي وويل چي ما تر نكاح دمخه ستا له مور سره جماع كړې وه تحريم راولي كنه؟

جواب :......

هو، دغه اقرار هم تحريم راولي . دوى دوه به سره جلا كيږي:

"وكذلك إذا اضاف ذلك إلى ما قبل النكاح بان قال لامرأته كنت جامعت امك قبل نكاحك يؤاخذ به و يفرق بينهما ولكن لا يصدق فى حق المهر"(فتاوى الهندة / ج: ۱ / ص: ۲۷۵ ـ ومثله فى الرد المحتار د ۲ / ص: ۳۰۸ : و قيل له ما فعلت بام امرأتك فقال جامعتها تثبت الحرمة و لا يصدق انه كذب و لو هازلاً۔

سوال :......

د سړي پر دغه اقرار باندي همېشتوب شرط دى او كنه، كه يې بيرته رجوع وكړه روا ده كنه؟

جواب :......

همېشتوب شرط دى كه يې وويل چي ما در وغ ويلي دي قاضي به يې

تصدیق نه کوي مکر د ده او د الله تعالی په مابین کي حال معلوم دی که کاذب وو پخپل اقرار کي ښځه نه حرامیږي:

"فتاوی الهندیة / ج: ۲ / ص: ۲۷٦: و الاصرار علی هذا لیس بشرط حتی لو رجع عن ذلك و قال کذبت فالقاضي لایصدقه و لکن فیما بینه و بین الله تعالی اذ کان کاذباً فیما اقره تحرم علیه امرأته"

باب الشهادة فی التحریم و المس

سوال:......

که سړي له ښځي مچه واخیسته یا یې ورته وکتل یا یې لاس ور وړی بیا یې وویل چي په شهوت سره مي نه دی ور وړی د ده قول صحیح دی که نه؟

جواب:......

په مچه اخیستلو کي به د ده قول نه منل کیږي تر هغه وخته چي ښکاره نه سي چي دی بې شهوته وو ځکه چي په مچه کي خامخا شهوت وي او په نظر او لمس کي شهوت خامخا نه وي:

"و إذا قبلها ثم قیل لم یکن عن شهوة او لمسها او نظر إلی فرجها ثم قال لم یکن بشهوة فقد ذکر الصدر الشهید رحمه الله تعالی فی التقبیل یفتی بثبوت الحرمة ما لم یتبین انه قبل بغیر شهوة و فی المس و النظر إلی الفرج لا یفتی بالحرمة الا إذا تبین انه فعل بشهوة لأن الاصل فی التقبیل الشهوة بخلاف المس و النظر"(فتاوی الهندیة / ج: ۱ / ص: ۲۷٦ ـ در المختار علی هامش رد المحتار / ج: ۲ / ص: ۳۰۷)

سوال:......

که سړي ښځه تر تیو ونیوله بیا یې ویل چي په شهوت سره نه وو . قول یې قبول دی که نه؟

جواب :...... یا ، قول یې نه دی قبول:

"ولو اخذ ثديها و قال ما كان عن شهوته لا يصدق"

سوال :...... که د نشې په حال کې یو سړی خپلې . . .ته قصد د جماع وکړي مور یې پر حرامیږي که نه؟

جواب :......

"سئل القاضي علي السغدي عن سكران باشر ابنته و قبلها و قصد يجامعها ان يجامعها فقالت الابنته انا بنتك فتركها هل تحرم امها قال نعم"(هنديه ـ سابقه حواله)



القسم الثالث المحرمات بالرضاع: القسم الرابع المحرمات بالجمع:

كل من حرم بالقرابة و الصهرية محرمها بالرضاع على ما عرف في كتاب الرضاع .

القسم الرابع المحرمات بالجمع

سوال :......

محرمات چې جمع کېدل سره یو ځای کېدل یې حرام دي څو دي ؟

جواب :...... دوه قسمه دي یو قسم جمع کېدل د پردو ښځو دي او بل د ذوات الارحام دي:

"و هو نوعان الجمع بين الاجنبيات و الجمع بين ذوات الارحام "

سوال :......

جمع کېدل د پردیو ښځو څنګه دي او څوک دي چې جمع یې ناروا ده؟

جواب :...... "اما الجمع بين الاجنبيات فان لا يحل للرجل ان يجمع بين اكثر من أربع نسوة " یعنې تر څلور بالا نه دي و سړي مسلمان ته روا . و لا یجوز

للعبد ان یتزوج اکثر من ثنتین (یعني) و مریيي ته تر دوو پرته نه دي روا .
و یجوز للحر ان یتزوج أربعا من الحرائر و الاماء کذا فی الهدایة . (فتاوی
هندیة / ج: ۱ / ص: ۲۷۷)

☆...... و اما الجمع بین ذوات الارحام:

سوال :......

آیا د دوو خوند نکاح پر یو ځای روا ده کنه . دغه رنګه وطء؟

جواب :......

یا نه ده روا جمع د دوو خوند نه په نکاح نه په وطء په ملک یمین:

"فانه لا یجمع بین اختین بنکاح و لا بوطء بملك لایمن سواء کانتا اختین من النسب اومن الرضاع و مثله فی فی در المختار و حرم الجمع بین المحارم نکاحا وعدة ولو من طلاق بائن وحرم الجمع وطأ بملك یمین بین امرأتین ایتهما فرضت ذکراً لم تحل الاخری .(ج ۲ / ص: ۳۰۸)"



﴿باب الجمع بين الاختين﴾

سـوال :......

كه يې دوې خوندي په نكا ح كړې د كومې يوې نكا ح باطله ده؟

جواب :......

كه يې پـه يوه وار په نكا ح كړې وې دواړي به جلا كوي كه دخول يې كړى وو يـو څـه انـدازه مهـر مثـل به وركوي يا به مسمى وركوي او كه يې دخول نه وو كړى بيا پر سړي باندي شى نستـه:

”فان تزوج الاختين فى عقدية واحدة يفرق بينهما و بينه فان كان قبل الدخول فلا شيئ لهما وان كان بعد الدخول يجب لكل واحدٍ منهما الاقل من مهر مثلها و من المسمى۔“

جواب :......

كه يې په جلا جلا نكا ح كړې وې بيا دآخري يوې دا فاسده ده:

”و ان تزوجهما فى عقدتين فنكاح الاخيرة فاسدة و يجيب عليه ان يفارقها و لو علم القاضى بذلك يفرق بينهما فان فارقها قبل الدخول لا يثبت شيئ من الاحكام و ان فارقها بعد الدخول فلها المهر و يجب الاقل من المسمى و من مهر المثل و عليها العدة و يثبت النسب و يعتزل عن امرأته حتى تقضى عدة اختها كذا فى محيط السرخى ۔ و لو تزوجهما فى عقدين و لا يدرى ايتها اسبق فانه يؤمر الزوج بالبيان فان بين فعلى ما بين وان لم يبين فانه لا يتحرى فى ذلك و يفرق بينه و بينها كذا فى شرح الطحاوى ۔ و لهما نصف المهر إذا كان مهراهما متساويين و هو مسمى فى العقد و كان الطلاق قبل الدخول “(فتاوى الهندية / ج: ١ / ص: -- و مثله فى الدر المختار على هامش رد المحتار / ج: ٢ / ص:

۳۱۰: و ان تزوجها معاً اى الاختين او من بمعناهما او بعقدين و نسى النكاح الاول فرق القاضى بينه و بينهما ويكون طلاقاً و لهما نصف المهر۔

و مثله فى الفتح لاقدير شرح الهداية / ج: ۳ / ص: ۱۲۳: فان تزوج اختين فى عقدتين و لا يدرى ايتها اولى فرق بينه و بينهما لأن نكاح احدهما باطل بيقين و لا وجهه إلى التعين لعدم الاولوية و لا إلى التفيذ مع الجهل لعدم الفائدة او لضرر فتعين لما نصف المهر الخ۔

سوال:......

جمع والى د دوو خوند ولي نه دى ورا؟

جواب:......

"و لا يجمع بين اختين نكاحا ولا بملك يمين وطأ لقوله تعالى: وان تجمعوا بين الاختين و لقوله عليه السلام: من كان يؤمن بالله واليوم الاخر فلا يجمعن ماءه فى رحم اختين"(هدايه ـ فتح القدير شرح الهداية / ج: ۳ / ص: ۱۲۱ـ رد المحتار / ج: ۲ / ص: ۳۰۹)

دليل ثاني: د حرام والي په مابين د محرماتو كي بل دليل دا دى چي عادةً په مابين كي د دوو بنو جنگ يا جگړه بدنيتي راځي او بعضي يې په مابين كي وي نو قطعه د صله رحمي په كي راځي . نبي عليه السلام هم منع كړې ده:

"ما ذكره من الدليل لا يكفى لاثبات عموم القاعدة من حرمة الجمع بين جميع المحارم فاالجمع بينهن حرم لافضائه إلى قطع الرحم لوقوع المتشاجر عادة بين الضر۔ والدليل على اعتباره ما ثبت فى الحديث برواة الطبرانى و هو قوله ﷺ فانكم إذا فعلتم ذلك قطعتم ارحامكم و تمامه فى الفتح"

سوال:......

ايا په جنت كي دوې خوندي سره جمع كيږي كنه؟

جواب:...... هو، ځكه هغه علت چي موجود وي په جنت نسته:

"هذا اجاب الرملی الشافعی عن الجمع بین الاختین فی الجنة بانه لا مانع منهلا الحکم یدور مع العلة وجودا و عدماً و علة الباغض و قطعیة الرحم منقیة فی الجنة الا الام والبنت ای العلة الجزئیة فیهما و هی موجودة فی الجنة"

...

باب الجمع بین المحارم

سوال:......

ایا جمع په مابین د ښځي او عمې د پلار خور یا د مور خور روا ده کنه، کوم دلیل دئ؟

جواب:...... یا جمع کېدل په نکاح کي د مذکوره قریبانو نه دی روا . دلیل دا دی:

"و لا یجمع بین المرأة و عمتها او خالتها اوابنة اخیها او بنة اختها لقوله علیه السلام لا تنکح المرأة علی عمتها و لا علی خالتها و لا علی ابنة اخیها و لا علی ابنة اختها و هذا مشهور تجوز الزیادة علی الکتاب ---"(فتح القدیر شرح الهدایة - والکفایة - و العنایة / ج: ۳ / ص: ۱۲۵ - فی الدر المختار علی الرد المحتار / ج: ۲ / ص: ۳۰۹ : لا تنکح المرأة علی عمتها اه و هو مشهور)

سوال:......

جمع په مابین ددوو ښځو کي چي خوندي نه وي خاله یا عمه او ورېره او خورځه بیا جمع کېدل روا دي او که نه دي روا یعني ماسوا له خورځې او وریرې؟

جواب:......

که یوه ښځه نر کي او بله ښځي کي بیا سره جمع سي د دې دوو نکاح سره روا ده کنه:

"و لا یجمع بین امرأتین لو کانت احدهما رجلا لم یجز ان یتزوج بالاخری لأن الجمع بینهما یفضی إلی القطعة والقرابة المحرمة للنکاح محرمة القطع"(فتح القدیر شرح الهدایة والعنایة والکفایة / ج: ۳ / ص: ۱۲۵)

...

باب الحرمة من الزنا

سـوال :......

که چا زنا وکړه د هغې ښځې مور یا لور په نکا ح کولای سي کنه؟

جواب :...... یا د مزني مور او لور او د مور مور د لور لور هم دا رنګه د زانی پر پلار او نیکه او د زاني پر زامنو باندي حرامه ده نکا ح یې:

" ومن زنی بامراة حرمة علیه امها و ان علت فتدخل الجدات و ابنتها و ان سفلت وکذا تحرم المزنی بهما علی آباء الزانی و اجداده و ان علوا و ابنائه و ان سفلوا"(فتح القدیر شرح الهدایة / ج: ۳ / ص: ۱۲٦)

سـوال :......

که سړي ښځه په نکا ح کړه هغه له بل سړي څخه اولاد درلودی نکا ح یې صحیح ده کنه؟

جواب :...... نکا ح یې روا ده خو وطی به تر هغو نه ورسره کوي چي اولاد یې پیدا سي :

"فان تزوج حبلی من زنا جاز النکاح و لا یطئ حتی تضع حملها "

سـوال :......

که د کوچني نسب معلوم وي بیا نکا ح صحیح ده او کنه؟

جواب :......

بیا نکا ح باطله ده :

"و ان كان الحمل ثابت النسب فالنكاح باطل بالاجماع لابی یوسف رحمه الله تعالی ان الامتناع فی الاصل محرمة الحمل و هذا الحمل محترم لانه لا جناية منه هذا لم یجز اسقاطه"(فتح القدير شرح الهداية / ج: ۳ / ص: ١٤٦ - در المختار على الرد المحتار / ج: ۲ / ص: ۳۱٦)

...

باب الحرمة بين المحرمات و جوازها

سوال:......

جمع په مابين د ښځي او د مېره د لور يا د ښځي او د ښځي د زوی د ده يا د مينځي چي بيا يې بادار وکړزي روا ده او كه نه، په نكاح كي؟

جواب:......

هو، روا ده ځکه له دغو څخه چي هر يو نر سي هاغه بل ښځه سي نكاح يې سره روا كيږي:

"فجاز الجمع بين امرأة و بنت زوجها او امرأة ابنها او امة ثم سيدها لانه لو فرضت المرأة او امأة الابن او السيدة ذكراً لم تحرم اى التزوج "(فتاوى در المختار على هامش رد المحتار / ج: ۲ / ص: ۳۰۹)

فی الصور الثالث لأن الذكر المفروض فی الاولی يصير متزوجا بنت الزوج و هی بنت رجل اجنبی - و فی الثانية يصير متزوجا امرأة اجنبية - و فی الثالثة يصير و اطأ لامة -

سوال:......

ايا د دغو عكس روا كيږي كنه مثلا لور د زوج يا مور د زوج يا مينځه نر كړي

بیا یې سره په نکاح کړي، یا بیا نه روا کیږي حرمت راولي؟

جواب :......

"بخلاف عکسه هو ما إذا فرضت بنت الزوج او أم الزوج او امة ذکرا حیث تحرم الاخرى لانه فى الاولى یصیر ابن الزوج فلا تحل له موطؤة ابیه و فى الثانیة یصیر ابا الزوج فلا تحل له امرأة ابه و فى الثالثة یصیر عبداً فلا تحل له سیدته"(فتاوی در المختار علی هامش رد المحتار / ج: ۲ / ص: ۳۹۰)

﴿باب التحریم بین الامتین﴾

سـوال :......

کـه سړي پـه نـکـاح کـړه خـور د میـنـځې پـه نکاح صحیحه سره نکاح یې صحیح ده کنه؟

جواب :......

نکاح یې روا ده خو وطي به تر هغو نه ورسره وي چې یوه پر حامره نه سي:

"وان تزوج بنکاح صحیح امة قد وطئها صح النکاح لکن لا یطأها واحدة منهما حتى یحرم حل استمتاع احدهما علیه بسبب ما لأن للعقد حکم الوطئ حتى لو نکح مشرقى مغربیة یثبت نسب اولادها منه لثبوت الوطئ حکماً"(فتاوی در المختار علی هامش رد المختار / ج: ۲ / ص: ۲۱۰ ـ فتح القدیر شرح الهدایة والعنایة و الکفایة / ج: ۳ / ص: ۱۲۲ ـ فتاوی النوازل / ص: ۱٦۷)

سـوال :......

حرام والی د منکوحې ښځې په کوم شي سره راځي او هغه څو دي:

جواب :......

فتحریم المنکوحة بالطلاق والخلع والردة مع انقضائه العدة والمملوکة یبیعها کلا او بعضا و اعتاقها کذلک و هبتها مع التسلیم و کتابتها و

تزویجها بنکاح صحیح بخلاف الفاسد الا إذا دخل بهما الزوج فانها لوجوب العدة علیهما منه تحرم علی المالک فتحل له حینئذ المنکوحة و لا یؤثر الا حرام والحیض و النفاس و الصوم والرهن والاجارة والتدبیر لأن . . . لا یحرم بعد الاسباب . (فتاوی رد المحتار / ج:۲ / ص:۳۱۰ . فتح القدیر شرح الهدایة / ج:۳ / ص:۱۲۲)

. . .

باب التحریم فی الصبی

سوال :......

که یو سړي ښځه په نکاح کړه هغه حامله وه دیوه نکاح یې صحیح ده کنه؟

جواب :......

نکاح د هغې ښځې چې په بند راوړه سوې وي او حامله وي فاسده او باطله ده:

"فانتزوج حاملا من السبی فالنکاح فاسد(فالنکاح باطل)" کفایه : لانه ثابت النسب ـ فتح القدیر شرح الهدایة مع العنایة والکفایة / ج: ۳ / ص: ۱٤۷ ـ فتاوی النوازل / ص: ۱۷۳ : ولو کان الحامل من السبی فالنکاح فاسد روی مسلم)

سوال :......

که یو سړي ښځه ولیده چې زنا یې وکړه بیا یې په نکاح کړه وطي یې حلاله ده که استبراء غواړي؟

جواب :......

په نزد د إمام اعظمؒ او امام یوسفؒ باندي یې نه غواړي:

"و کذا إذا رأی امرأة تزنی فتزوجها حل له ان یطاها قبل ان یستبرئها عندهما و قال محمدؒ لا احب ان یطأها ما لم یستبرها (هدایة) "(فتح القدیر شرح الهدایة

/ ج: ۳ / ص: ۱٤۹ ـ ومثله فتاوى النوازل / ص: ۱۷۲ كتاب النكاح) جاز نكاح من رآها تزني وله وطؤها بلا استبراء و اما قوله تعالى والزانية لا ينكحها الا زانٍ فمنسوخ بآية فانكحوا ماطاب لكم من النسآء ـ (فتاوى در المختار على هامش رد المحتار / ج: ۲ / ص: ۳۱۷)

دی وايي يعني ابن عابدين: "وقال ابو الليث قوله (يعنى محمد رحمه اللّٰه) اقرب إلى الاحتياط و به نأخذ (بناية) (و وفق فى العناية)"

☆...... القسم الخامس الاماء المنكوحة على الحرة او معها:

سوال :......

ايا نكاح د ازادي ښځي او مينځي سره روا ده او كنه ؟

جواب :...... يا نكاح د مينځي پر ازادي ښځي نه ده روا:

"لا يجوز نكاح الامة على الحرة و لا معها كذا فى محيط السرخسي ـ و كذا المدبرة و أم الولد كذا فى الفتح القدير : و لو جمع بين الامة و الحرة فى عقد واحدة صح نكاح الحرة و بطل نكاح الامة هذا إذا كان يصح نكاح الحرة وحدها فانلم يصح فضماالى الامة لايوجب بطلان نكاح الامة كذا فى الخلاصة ولو نكاح الامة ثم الحرة صح نكاحهما كذا فى فتاوى قاضي خان "(فتاوى الهندية / ج: ۱ / ص: ۲۸۰)

سوال :......

كه د سړي قدرت د ولور وو بيا نكاح له مينځي سره كولاى سي كه نه؟

جواب :......

كه قدرت د سړي د ولور وو بيا نكاح د مينځي سره مكروه ده:

"و يكره نكاح الامة مع طول الحرة هكذا فى البدائع و لو تروج أربعاً من الاماء وخمسا من الحرائر فى عقد صحيح نكاح الاماء كذا فى ـ ـ ـ"(فتاوى هندية / ج: ۱ / ص: ۲۸۰ ـ وكذا در المختار على الدر المحتار / ج: ۲ / ص: ۳۱٦)

☆...... القسم السادس المحرمات التي يتعلق بها حق الغير

سوال:......

ايا سړي ته دا روا دي چي د بل ښځه په نکاح کړي يا هغه چي په عده کي وي؟

جواب:......

يا نه د بل ښځه روا ده نه د بل معتده ورته روا ده:

”لا يجوز الرجل ان يتزوج زوجة غيره وكذلك المعتدة كذا في السراج الوهاج“(الفتاوى الهندية / ج: ١ / ص: ٢٨٠) سواء كانت العدة عن الطلاق او وفاة او دخول في نكاح فاسد او شبهة نكاح كذا في البدائع۔

سوال:......

كه سړي د بل چاښځه په نکاح کړه عده پر سته که نسته؟

جواب:......

كه په خبر وو چي د بل چا ده بيا يې وطي کړه عده پر واجب ده او که په خبر نه وو چي دا منکوحه د بل چا ده عده پر واجب نه ده وطي يې پر خپل مېړه حرامه نه ده:

”ولو تزوج بمنكوحة الغير و هو لا يعلم عانها منكوحة فوطئها تجب العدة و ان كان يعلم انها منكوحة الغير لا تجب حچتى لا تحرم على الزوج وطؤها كذا في فتاوى قاضيخان و يجوز لصاحب العدة ان يتزوجها كذا في محيط السرخسي ۔ هذا إذا لم يكن هناك مانع آخر سوى العدة كذا في البدائع ۔ و قال ابو حنيفة و محمد رحمهما الله يجوز ان يتزو / ج: امرأة حاملا من الزنا و لا يطؤها حتى تصنع و قال ابو يوسف رحمه الله لا يصح و الفتوى على قولهما كذا في المحيط و كما لا يباح وطؤها لا تباح دواعيه كذا في فتح القدير ۔“(الفتاوى الهندية / ج: ١ / ص: ٢٨٠)

سوال:......

کـه چـا دوې ښځي پـه نـکـا ح کـړې ديـوې نکـا ح صحيح کېده د بلي دا نـه صحيح کېده بيا به څنګه چم ورسره کوي؟

جواب :......

کـومـه يـوهـچي پـر حـرامـه ده پـه وجه د رضاع يا د قرابت محرمة هغه به جلا کړي:

”ومـن تزوج امرأتين فى عقدة واحدة واحدهما لا يحل له نكاحها صح نـكـاح التـى يـحـل نـكـاحها و بطل نكاح الاخرى لأن المبطل فى احدهما اوله۔“(فتح القدير شرح الهداية / ج: ۳ / ص: ۱۵۳)

سـوال :......

کـه سړي لـه يوې ښځي سره نکا ح وکړه چي مخکي يې زنا ورسره کړې وه د هغې اولاد هم وو نکا ح يې روا ده کنه؟

جواب :......

نکا ح يې روا دا او وطي هم روا ده او نفقه يې هم پر ستـه :

”و فـى مـجـمـوع الـنـوازل إذا تـزوج امـرأة قـد زنـى هو بهما وظهر لهما حبل فـالـنـكـاح جائز عند الكل و له ان بطأهاعند الكل و تستحق النفقة عند الكل و كذا تـزوج امرأة فجائت بسقطٍ قد استبان خلفه فان جائت به لا ربعة اشهر جاز النكاح ون جـائـز بـه اقـل مـن ذلك لـم يـجـز لأن خـلقة لا يستبين الا فـى مأة وعشرين يوماً“(الفتاوى الهندية / ج: ۱ / ص: ۲۸۰)

. . .

☆...... القسم السابع المحرمات بالشرك:

سـوال :......

کوم مشرکان دي چي د ښځو يې له مسلمانانو سره نکا ح ناروا ده:

جواب :......

نـه ده روا نكا ح د مجوسيانو چي د اور عبادت كوي او د دوثنيات چي د بتانو عبادت كوي كه آزادي وي او كه محديانى وي عام طور:

”لايجوز المجوسيات ولا الوثنيات و سواء فى ذلك الحرائر منهن و الآماء“و حرم ن كاح الوثنية ، نسبه إلى عبادة الوثن و هو ما له جثة اى صورة انسان من خشب اوحجر او فضة اوجوهر تنحت و الجمع اوثان و الصنم صورة بلا جثة هكذا فرق بينهماكثير من أهل اللغة و قيل لا فرق ـ (فتاوى در المختار على هامش رد المحتار / ج: ٢ / ص: ٣١٣ ـ فتاوى عالمگيرية / ج: ١ / ص: ٣٨١)

سـوال :......

آيا ماسوا لـه دغـه دوه قسمونو نور مشركان سته كه نه، جلا دي او كه په كښي داخل دي؟

جواب :......

په دې كي داخل دي عبادت كونكي دلمر او د سپوږمۍ وغيره :

”ويدخل فى عبادة الاوثان عبدة الشمس والنجوم و الصور التى استحسنوها والمعطلة و الزنا دقة والباطنية و الاباحة و كل مذهب يكفر به معتقده كذا فى الفتح القدير“(رد المحتار / ج: ٢ / ص: ٣١٣ ـ وهندية / ج: ١ / ص: ٢٨١)

سـوال :......

ايا د مشركانو نكا ح ناروا ده او كه يې مذبوحه هم حرامه ده؟

جواب :...... مذبوحه يې هم حرامه ده مگر د ضرورت ماسوا نكا ح څخه يې وطي مراد ده:

”رد المحتار / ج: ٢ / ص: ٣١٤ : فلا تحل منا كحتهم و لا تؤكل ذبيحتهم لا نهم ليس لهم كتاب سماوى و أفاده بحرمة النكاح حرمة الوطئ بملك اليمين “(الفتاوى الهندية / ج: ١ / ص: ٢٨١) و الاولى ان لا يفعل و لا تؤكل ذبيحتهم الا لضرورة ـ كذا فى الفتح القدير ـ

سوال :......

حرمت د مشرکاتو یواځي مسلمانانو ته دی که نورو کفارو ته هم دی:

جواب :......

یواځي مسلمانانو ته حرامه ده وطي د مشرکي او غیره:

"او المراد الحرمة على المسلم كما فى الخانية و تحل المجوسية و الوثنية لكل كافر الا المرتد"(ومثله فى الهندية و لا يطأ المشركة والمجوسية بملك يمين ۔ رد المحتار / ج: ۲ / ص: ۳۱٤ ۔ الفتاوى الهندية / ج: ۱ / ص: ۲۸۱)

....

باب المحرمات بالمذهب

سوال :......

آیا نکاح په مابین د أهل السنة او شیعه ګانو کي روا ده کنه؟

جواب :...... یا نکاح په مابین د دې دوو کي نه ده روا:

"المناكحة بين أهل السنة والاعتزال لا يصح "

سوال :......

یو څوک داسي وایي چي زه مومن یم انشاء الله له أهل السنة سره نکاح جائز ده کنه؟

جواب :......

یا نه ده جائز:

"و قال الامام الفظى رحمه الله و كذلك من قال انا مؤمن ان شاء الله"

سوال :......

ایا حنفي مذهبه له شافعي مذهبه سره نکاح کولای سي کنه؟

جواب :......

بعضي علماؤ ويلي دي چي حنفي مذهبه دي لور نه ورکوي و شافعي مذهبه ته او له شافعي مذهبه څخه دي وغواړي:

"و قال الامام لاينبغى ان يزوج الحنفى بنته من الشافعى المذهب و لكن يتزوج منهم و سمعت عن بعض آئمة خوارزم انه يتزوج من المعتزلى ولا يزوج منهم كما يتزوج من الكتابى ولا يزوج منهم و لعله اخذ هذا التفصيل عن كلام ابى حفص الالفكردرى "(فتاوى البزازية على هامش الفتاوى الهندية / ج: ٤ / ص: ١١٣ ـ مسئلة ثلاثة ـ مثله فى الدر المختار على هامش رد المحتار / ج: ٢ / ص: ٣١٤)

...

باب المحرمات من أهل الكتاب

سوال :......

ايا د كتابياتو نكاح له مسلمانانو سره جائز ده او كنه؟

جواب :......

په الفتاوى الهندية كي واي چي نكاح د كتابي روا ده كه حره وي كه امه وي:

"و يجوز نكاح الكتابية الحربية والزمية حرة كان او امة"(ص ٢٨١ / ج: ١)

جواب :......

او په رد المحتار كي وايي چي نكاح يې روا ده سره له مكروه تنزيهي :

"و صحح نكاح كتابية وان كره تنزيهاً"(در المختار) وفى الرد المحتار : اطلقه مشمل الحربية و الذمية والحرة و الامة وان كره تنزيها ، اى سواء كانت ذمية اوحربية فان صاحب البحر استظهر ان الكراهة فى الكتابية الحربية تنزيهية فالذمية اولى و تمامه هناك مؤمنة بنبى مرسل لقربة بكتاب منزل وان اعتقدوا المسيح الهاً ـ (در المختار على هامش رد المحتار / ج: ٢ / ص: ٣١٤ـ و مثله فى

الفتاوی الهندیة / ج: ۱ / ص: ۲۸۱)

و إذا تزوج المسلم كتابية حربية فی دارالحرب جاز و يكره فان خرج إلی دارنا الاسلام بقی علی النكاح وان خرج و تركها فی دارالحرب و قمت الفرقة بتباين الدارين۔

فصل فی أهل الكتاب

سوال :......

که مسلمان کتابیه په نکاح کړه بیا یې منعه کولای سي له بیعت او له کنیسا . دغه رنګه له شرابو او که یې نه سي منع کولای؟

جواب :......

هو، بیا یې منع کولای سي له دغو شیانو څخه:

"ثم إذا تزوج المسلم الكتابية فله منعها من الخروج إلی البيعة و الكنيسة و من اتخاذ الخمر فی منزله كذا فی النهر الفائق"(الفتاوی الهندية / ج: ۱ / ص: ۲۸۱)

سوال :......

ایا کتابیه ښځه سړی مجبوره کولای سي پر غسل له حیض یا له جنابت یا نفاسه ؟

جواب :......

یا نه یې سي مجبوره کولای:

"و لا يجبرها علی الغسل من دم الحيض والنفاس و الجنابة "(سراج الوهاج سابقه حواله مسئلة ثلاثة)

سوال :......

هغه څوک چي زبور یا صحیفي د ابراهیم علیه السلام یا بل دین مني أهل

کتاب دی کنه؟

جواب :......

هو! هر هغه څوک چي دین سماوي مني او پر هغه اعتقاد لري هغه أهل کتاب دی:

"وکل من یعتقد دینا سماویاً و له کتاب منزل کصحف ابراهیم علیه السلام و شیث علیه السلام و زبور داود علیه السلام فهو من أهل الکتاب فتجوز مناکحتهم و آکل ذبائحهم کذا فی التبیین"

...

باب التحریم الصائبات

سوال :......

ایا د هغو ښځو چي عبادت د ستورو کوي نکاح یې جائزه ده او که؟

جواب :......

اختلاف په کي سته . إمام صاحب رحمه الله وایي چائزه ده یاران وایي ناروا ده . په در المختار کي وایي :

"علی الرد المحتار / ج: ۲ / ص: ۳۱۵ ـ ومثله الفتاوی الهندیة / ج: ۱ / ص: ۲۸۱ : لایصح نکاح عابدة کوکب لاکتاب لها و لا وطئها بملك یمین ابن"

ابن عابدین په رد المحتار کي تفصیل ورکړی ده :و هذا عبارته : معنی الصائبة المذکورة فی المتون علی احد التفسیرین فیماقال الهدایة و یجوز تزویج الصائبات ان کانوا یمنون بدین نبی ﷺ و یقرون بکتاب لانهم من أهل الکتاب و ان کانو یعبدون الکواکب و لا کتاب لهم لم تجز مناکحتکهم لا نهم مسرکون والخلاف محمول علی اشتباه مذهبهم فکل اجاب علی ما وقع عنده و علی هذا حال ذبیحتهم ای الخلاف بین الامام القائل بالحل بناء علی تفسیره بان لهم کتاباً

و -- یعظمون الکواکب کتعظیم المسلم الکعبة و بین صاحبیه القائلین بعدم الحل بناء علی انهم یعبدون الکواکب والصحیح انهم ان کانو یعبدونها حقیقة فلیسو أهل کتاب و ان کانوا یعظمونها کتعظیم المسلمین للکعبة فهم أهل کتاب ، فعلی هذا فقول المصنف لا کتاب لها لا مفهوم له ۔

☆......القسم الثامن المحرمات بالملك:

سوال :......

د ښځي دپاره روا ده چي پخپل مريي سره نکاح وکړي يا له مشترک مريي سره؟

جواب :...... یا نه ده روا:

”لایجوز للمرأة ان تتزوج عبدها ولا العبد المشترك بینهما و بین غیرها“

سوال :......

آیا ملک یمین او ملک النکاح سره یو ځای کیږي کنه؟

جواب :......

یا ملک یمین سره له ملک النکاح نه جمع کیږي:

”و إذا اعترض ملك الیمین علی النکاح یبطل النکاح بان ملك احد الزوجین صاحبه اوشق--- منه کذا فی البدائع“(مسئله ثلاثه ۔ الفتاوی الهندیة / ج: ۱ / ص: ۲۸۳)

سوال :......

ښځه یا سړی په احرام کي نکاح کولای سي که نه؟

جواب :......

هوا نکاح کولای سي همدا رنګه ولي که په احرام کي وي بل چا ته نکاح ورکولای سي:

”و یجوز للمحرم والمحرمة ان یتزوجا فی حال الاحرام وکذا تزوج الولی

مـولیتـه"و فـی الدر المختار و رد المحتار / ج: ۲ / ص: ۳۱۵ : و المحرمة بحج او عمرة و لو بمحرم۔۔۔

عن ابن عباسؓ تزوج رسول اللّٰه ﷺ میمونة و هو محرم و بنی بها و هو حلال ۔ نکاح جائز و طئ ناجائز۔

☆......القسم التاسع المحرمات بالطلاقات:

سـوال :......

د حـري ښـځـې نـکـا ح چې طلاق سوې وي په درې طلاقه له مخه تر زوج اخر روا ده کنه؟

جواب :......

نـه ده روا پـه نـکـا ح کېدل د داسـې ښـځې چې طلاقه سوې وي په درې طلاقه چې بل مېړه و نه کړي او هغه وطي ورسره و نه کړي دغه رنګه مینځه ده:

"لا یحـل لـلـرجل ان تتزوج حرة طلقها ثلاثا قبل اصابة الزوج الثانی و لا امة طـلـقها ثنتین و کما لا یجوز نکاحها لا یحل له وطؤها بملك الیمین کذا فی فتاوی قاضیخان / ج: ۔ / ص: ۔ الفتاوی الهندیة / ج: ۱ / ص: ۲۸۲"

سـوال :......

که سرې مینځه په نکا ح کړه بیا یې طلاق کړه په دوه طلاقه بیا یې واخیسته او ازاده یې کړه بیا یې دوهم وار نکا ح روا ده که نه؟

جواب :......

یـا بیـا یـې نکا ح نه ده روا تر هغو چې بل مېړه و نه کړي هغه نزدیکت ورسره وکړي او عده تېره کړي:

"و لـو تـزوج امة ثم طلقها ثنتین ثم اشترها و اعتقها لا یحل له ان یتزوجها حتی تتزوج غیره و یطأها و یطلقها و تنقضی عدتها "(سابقه حواله) هندیة ج ۱ ص ۲۸۲

☆☆☆

سوال :......

که یو سړي دوې ښځې په نکاح کړې یوه حلاله وه او بله حرامه، نکاح یې روا ده او کنه ؟ دغه رنګه مهر د کومې واجب اولازم دی؟

جواب :......

مهر مسمیٰ ټول د محللې دی ځکه مبطل په یوه کې دی نو په اندازه د هغه به مهر هم ورکول کیږي او که یې په محرمه دخول کړی وو بیا مهر مثل دی:

"وصح نكاح المضمومة إلى محرمة و المسمى كله لها اى المحللة ، ولو دخل بالمحرمة فلها مهر المثل ، كان تزوج المرأتين فى عقد واحد احدهما محل و لا اخرى غير محل لكونها محرماً او ذات زوج او مشركة لأن المبطل فى احدهما فيتقدر بقدره"(رد المختار على الرد المحتار / ج: ۲ / ص: ۳۱۸)

سوال :......

په شرط سره نکاح صحیح کیږي که نه ؟ یوه ښځه وایي که زما د پلار خوښه وه نکاح کوم کنې نه ؟

جواب :......

"والنكاح لا يصح تعليقه بالشرط كتزوجتك ان رضى ابى لم ينعقد النكاح لتعليقه بالحظر كما فى العمادية و غيرها فما فى الدرر فيه نظر و لا اضافة إلى المستقبل كتزجتك غدا اوبعد غدٍ لم يصح ولكن لا يبطل النكاح بالشرط الفاسد و حتى يبطل الشروط دونه يعنى لوعقد مع شرط فاسد لم يبطل النكاح بل الشرط بخلاف ما لو علقه بالشرط ماضٍ كائن لا محالة فيكون تحقيقاً فينعقد فى الحال كائن"



باب الکفاءة

فصل فی الکفاءة فی النسب

سوال:......

کفاءة مثل والی دښځي د نارینه له خوا معتبر دی که د ښځي له خوا؟

جواب:......

کفاءة د رجل یعني نارینه وو له طرفه معتبر دی نه د زنانه:

"الکفاءة معتبر فی الرجل للنساء للزوم النکاح کذا فی محیط السرخسی و لا تعتبر فی جانب النساء للرجل کذا فی البدائع" (الفتاوی الهندیة / ج: ۱ / ص: ۳۹۰)

سوال:......

که یوې ښځي نکاح وکړه له ښه سړي سره چي تر دې ښه وو بیا قریبان ددوی دوو په مابین کي جلاوالی راوستی سي که نه؟

جواب:......

یا بیا ولي حق د جلاوالي نلري چي دوی سره بېل کړي:

"فاذا تزوجت المرأة رجلاً خیراً منهما فلیس للولی ان یفرق بینهما فان الولی لا یتعیر ان یکون تحت الرجل من لا یکافوه" (الفتاویٰ الهندیة / ج: ۱ / ص: ۳۹۰)

سوال:......

کفاءة په څو شیانو کي معتبر دی هغه کوم شیان دي چي ښځه او مېړه به سره برابر وي بیا کفو بلل کیږي؟

جواب :......

په نسب کي به برابر وي، په اسلام کي به برابرو، په حریت کي به برابر وي:

''اکفاءة تعتبر فی اشیاء منها النسب''

فصل فی الکفاءة فی النسب

ســوال :......

آیا قریش کفو د غیر قریش دی یا د نورو عربو ؟

جواب :......

قریش بعض کفو د نورو عربو کفو دي که څه هم هاشمي پخپله نه وي:

''فقریش بعضهم اکفاء لبعض کیف کانوا حتی ان القریشی الذی لیس بهاشمی یکون کفاء للّٰه‌هاشمی وغیر القریش من العرب لا یکون کفأ للقریش والعرب بعضهم اکفاء لبعض الانصاری و المهاجری فیه سواء''(الفتاوی الهندیة / ج: ۱ / ص: ۲۹۰۔ در المختار علی هامش رد المحتار / ج: ۲ / ص: ۳٤۷ : فقریس بعضهم آکفاء بعض)

القرشیان من جمعها أب هو النضر بن کنانة فمن دونه و من لم ینتسب الاب فوقه فهو عربی غیر قریشی و النضر هو االجد الثانی عشر للنبی ﷺ فانه محمد بن عبد اللّٰه بن عبد المطلب بن هاشم بن عبد مناف بن قصی بن کلاب بن مرة بن کعب بن لوی بن غالب بن فهر بن مالك بن النضر بن کنانة بن خزیمة بن ملاکة بن الیاس بن مضر بن نزار بن معد بن عدنان علی هذا اقتصر البخاری و الخلفاء الأربعة کلهم من قریش و تمامه فی البحر۔ (رد المختار / ج: ۲ / ص: ۳٤۵)

سوال:......
کوم وخت د ښځي او د سړي مثل والی کفائت معتبر دی؟
جواب:...... په اول وار کي چي نکاح کيږي د نکاح په شروع کي بايد مثل والی لحاظ کړي:
"الكفاءة معتبرة فى ابتداء النكاح للزومه او لصحته"

سوال:......
ايا کفائت د چا معتبر دی د ښځي له خوا او که د سړي له خوا؟
جواب:......
د سړي له خوا کفائت معتبر دی نه د ښځي له خوا، سړی به مثل وي کفو به وي کوم اوصاف چي راتلونکي دي هغه به سړي کي موجود وي يعني سړی به تر ښځه کم نهوي په دغه اوصافو کي چي په کفائت کي راغلي دي:
"من جانبه در المختار: اى يعتبر ان يكون الرجل مكافئا لما فى الاوصاف الآتية بانلا يكون دونها فيما و لا يعتبر من جانبها بان تكون مكافئة له فيها بل يجوز ان تكون دونه فيهما"(رد المحتار / ج: ۲ / ص: ۳٤٤)

سوال:......
ولي کفائت د سړي له خوا ضروري دی او د ښځي له خوا نه دی ؟
جواب:......
ځکه شريفه دا بد بولي چي فراش سي د هغه چا چي هغه تر ده کم وي:
"لان الشريفة تأبى ان تكون فراشا للادنى"(سابقه حواله)

سوال:......
ايا سړی دا خوښوي چي ښځه تر ده کمزوري وي په کفائت کي که نه؟
جواب:......
هو! کفائت معتبر نه دی د ښځي له خوا که سړی معتبر وي تر ښځه پروا

نلري:

"المعتبر من جانبهما لأن الزوج مستفرش فلا تغيظه دناء ة الفراش و هذا عند الكل فى الصحيح كما فى البزازية"(فتاوى در المختار على الرد المحتار / ج: ٢ / ص: ٣٤٤)

سوال:......

ايا كفائت حق د ښځي دی که د قريبانو دی؟

جواب:......

كفائت حق د قريبانو دی که يوې ښځي نكاح له يوه سړي نامعلوم سره وكړه بيا معلوم سي چي مرېيی دی د ښځي اختيار نسته او د قريبانو يې اختيار سته:

"و الكفاء ة هى حق الولى لا حقها فلا نكحت رجلاً و لم تعلم حاله فاذا هو عبد لاخيار لها بل للاولياء ـ و فيه نظر بل هى حق لهما ايضا بدليل انالولى لو زوج الصغيرة غير كنه لا يصيح ما لم يكن ابا او جداً غير ظاهر لفسق"(رد المحتار / ج: ٢ / ص: ٣٤٤) و الحاصل من هذا ـ

چي حق د كفائت د دواړو سته هم د ښځي او هم د قريبانو لكه په رد المحتار كي چي بيان سوي دي سره له سوالو او جوابو . انظر هناک .

سوال:......

كه ولي ښځه د ده په رضا وركړه حال د سړي نه وو معلوم ئی معلوم سو د ښځي يا د ولي اختيار سته كنه د كوم يوه نسته او د كوم سته؟

جواب:......

ديوه هم نسته اختيار مگر كه شرط كړی وو چي دا به كفو وي بيا كفو نه وو يا يې په وخت د عقد كي اطلاع پيداكړه بيا يې هم وركړه او هغه اطلاع چي دوی وركړې وه غلطه وه يعني كفو نه وو ده ويل كفو دی بيا داسي صورت

کي د دوی تہ ولو اختیار سته چي کوي یې یا یې نه کوي:
"ولو زوجها برضاها و لم یعلموا لعدم الکفاءة ثم علموا لا خیار لاحد الا إذا شرطوا الکفاءة او اخبرهم بهما وقت العقد فروجوعها علی ذلك ثم ظهر انه غیر کفه کان لهم الخیار"
په دې کي درې صورته راغلـه یو د نه اختیار دوم اودریم د اختیار کل. (فتاوی در المختار علی هامش رد المحتار / ج:۲ / ص:۳۴۵)

...

باب کفاءة العرب واقسامه

سوال:......
عرب څو قسمه دي اوعرب او نور عرب سره کفو دي او کنه؟
جواب:......
په در المختار کي وایي چي عرب بعض کفو دي د بعضو نورو عربو:
"العرب بعضهم آکفاء بعض و استثن فی الملتقی تبعا ـ للهدایة بنی باطلة لختهم والحق الاطلاق قاله المصنف کالبحر والنهر الفتح والشرنبلالیة وغیره ـ العرب صنفان عرب عاربة و هم اولاد قحطان ومتعربة و هم اولاد اسماعیل والعجم اولاد فروخ اخی اساماعیل و هم الموالی والعتقاء و المراد بهم غیر العرب و ان لم یسمهم رق سموا بذلك اما لأن العرب لما افتتحت بلا دهم و ترکتهم احرارا بعد ان کان هؤلاء الاسترقاق فکانهم اعتقوا او لانهم نصروا العرب علی قتل الکفار والناصر یسمی مولی نهر"
سوال:......
بني باهله څوک دي؟
جواب:......

"قال فی البحر باهله فی الاصل اسم امرأة من همدان کانت تحت معن بن اعصر بن سعد ابن قیس عیلان فنسب ولده الیها و هم معروفون بالخساسة قیل کانو یأکلون بقیة الطعام مرة ثانیة و کانوا یأخذون عظام المیتة یطحنونها و یأخذون دسوماتها و لذا قیل فی النظم بیت:

من هاشم

إذا کانت النفس من باهله

إذا قیل للکلب یا باهلی

عوی الکل من شوم هذا البیت

(فتاوی در المختار علی الصدر رد المحتار / ج: ۲ / ص: ۳۴٦)"

سوال :......

کفائت په څو شیانو کي معتبر دی هغه کوم دي؟

جواب :......

کفائت په شپږو شیانو کي معتبر دی هغه دا دي:

"و نظم العلامة الحموی ماتعتبر فیه الکفاءة فقال

ان الکفاءة فی النکاح تکون فی

ست لها بیت بدیع قد ضبط

نسب و اسلام کذلك حرفة

حریة و دیانة مال فقط

(فتاوی رد المحتار علی الدر المختار / ج: ۲ / ص: ۳۴۵)

سوال :......

که غیر الاب یعني بې پلاره او بې نیکه د بل ولي انجلۍ و عنین ته ورکړه چي هغه معلوم هم وي نکاح یې جائز ده کنه، کفائت په جماع کي سته کنه؟

جواب :......هو، قدرت پر جماع شرط د کفائت دی لکهع مهر از نفقه تر هغو لا

اولا دی او کـه انجلی لویه وه بیا که وکیل و مجبوب ته ورکړه چي هغه عنین وو روا ده:

"قلت و فی الفتاوی الحامدية عن واقعات قدری آفندی عن القاعدة غير الاب و الجد من الاولياء لو زوج الصغيرة من عنين معروف لم يجز لأن القدرة على الجماع شرط الكفائة كالقدرة على المهر و النفقة بل اولیٰ و اما الكبيرة لو زوجها الوكيل عنينا مجبوب جاز وان كان لمن التفريق لعبد"

...

فصل فی تاریخ العجم و نسبه

سوال :...... آیا عجم په عربو کي شامل دي کنه کومي قبیلې دي او عجم يې ولي بولي؟

جواب :......

عجم په عربو کي دخيل نه دي . عجم ته موالی او عتقاء هم ويل کيږي:

"و اما فی العجم المراد بهم من لم ينتسب إلى احدى قبائل العرب و يسمون الموالی والعتقاء كما مرو عامة أهل الامصار والقرى فی زماننا منهم سواء تكلموا بالعربية او غيرها الا من كان له منهم نسب معروف كالمنتسبين إلى احدى الخلفاء الأربعة او إلى الانصار و نحوهم "(فتاوی رد المحتار على در المختار / ج: ۲ / ص: ... ومثله فی فتاوی الهندية / ج: ۱ / ص: ۲۹۱)

سوال :......

آیا نسب او نور شيږ شيان د کفائت په عربو او عجمو دواړو کي ضروري دي که يواځي په يوه قبيله کي سته او په بله کي نسته؟

جواب :......

کفائت په نسب کي يواځي په عربو کي شرط دی نه په عجمو کي :

"و هذا فی العرب ای اعتبار النسب انما یکون فی العرب فلا یعتبر فیهماالاسلام کما فی المحیط و النهایة و غیرهما و لا الدیانة کما فی النظم و لا الخالحرفة کما فی المضمرات لأن العرب لا یتخذ هذه الصنائع حرفاً و اما الباقی ای الحریة و المال فالظاهر من عباراتهم انه معتبر قهستانی لکن فیه کلام متعرفه فی مواضعه "(سابقه حواله)

سـوال :......

آیا دیانت تقوی په مابین د زوج اوزوجې کې ضروري ده کنه؟

جواب :......

هو ، دیانت معتبر دی د دوی په مابین کې که عجم وي که عرب وي:

"و یعتبر فی العرب والعجم دیانة ای تقوی فلیس فاسق کفواً لصالحة اوفاسقة بنت صالح ... کان اولا علی الظاهر (در المختار) قال فی البحر و ظاهر کلامهم ان التقوی معتبر فی حق العرب والعجم فلایکون العربی الفاسق کفواً لصالحة عربیة کانت اعجمیة قال فی النهر صرح بهذا فی ایضاح الاصلاح علی أنه المذهب و ذکر فی البحر ایضا ان ظاهر کلامهم اعتبار الکفاء ة ما لا فیهما ایضا قلت و کذا حرفة کما یظهر لما تذکره عن البدائع (قوله دیانة) ای عندهما و هو الصحیح و قال محمد رحمه الله لا تعتبر الا إذا کان یصفح و یسخر منه او یخرج إلی الاسواق سکران و یعلب به الصبیان لانه مستخلف به (هدایه) و نقل فی الفتح عن المحیط أن الفتوی علی قول محمد رحمه الله لکن اللذی فی التتارخانیة عن المحیط قیل و علیه الفتوی و کذا فی المقدسی عن المحیط البرهانی و مثله فی الذخیرة قال فی البحر و هو موافق کما صححه فی المبسوط و تصحیح الهدایة معارض له فالافتاء بما فی المتون اولی "(فتاوی رد المحتار علی الدر المختار / ج: ۲ / ص: ۳۴۶۔ الفتاوی الهندیة / ج: ۱ ص۲۹۱)

☆☆☆

فصل الکفاء ة فی المال

سوال:......

ایا کفائت فی المال په سړي کي ضروري دی کنه سړی په قدرت پر مال نفقه کسب لري کنه؟

جواب:......

هو، ځکه په اوس زمان کي فخر کول په مال سره ډېر دی تر نورو شیانو:

"ومالاً ای فی حق العربی والعجمی لأن التفاخر بالمال اکثر من التفاخر بغیه عادة و خصوصا فی زماننا هذا بداء(بان یقدر علی المعجل) ای علی ما تعارفو تعجیله من المهر و ان کان کله حالاً فلا تشترط القدرة علی الکل و لا أن ی---- بهما فی الغنی فی ظاهر الروایة وهوالصحیح"

سوال:......

د خونه وخت نفقه به سړی برابرولای سي بیا د ښځي کفو بلل کیږي؟

جواب:......

دیوې میاشتي نفقه چي برابرولای سي صحیح دی او د هري ورځي داراوړي په روزانه یا بل کسب باندي هم صحیح دی:

"ونفقة شهر لو غیر محترف و الا فان کان یکتسب کل یومٍ ك--- و تطلیق الجماع فلو صغیرة لا تطلیقه فهوکفه، و أن لم یقدر علی النفقة لانه لا نیقة لها"(فتاوی در المختار علی هامش رد المحتار / ج: ۲ / ص: ۳۴۸ ـ و منها الکفاء ة فی المال ، الفتاوی الهندیة / ج: ۱ / ص: ۲۹۱ و منها الکفائة فی الدیانة)

☆☆☆

فصل فی الکفائة فی الحرفة

سوال:......

آيا كسب د سړي به هم برابر وي له كسب د ښځي يا به تر هغې بالاوي؟

جواب :......

هو، په كسب كي هم كفائت ضروري دى د سړي كسب كاروبار په بې كاره نه وي چي بى ښځه پېغور وركړي يا يې داسي كار وي چي دى په شرميږي مثال ښځه د عالم لور وي يا د قاضي او مېړه يې امي وي يا د بل داسي سړي لور و چي د مېړه يې كاروبار تر هغه بدوي:

"او حرفة: ذكر الكرخيؒ ان الكفاءة فيها معتبرة عند ابى يوسفؒ و ان أبو حنيفةؒ بنى الامر فيها على عادة العرب ان مواليهم يعملون هذه الاعمال لا يقدون بها الحرف فلا يعتبرون بها و اجب ابو يوسفؒ على عادة أهل البلاد و انهم يتخذون ذلك حرفة فيعتبرون باالدين منها فلا يكن بينهما خلاف - ١ - الحقيقة فعلى هذا لو كان من العرب من االهل البلاد من يحترف بنفسه تعتبر فيهم الكفاءة فيهما حيئنذ فتكون معتبرة بين العرب و العجم - ومثله فى فتاوى هندية / ج: ١ / ص: ٢٩٢ - فمثل حائلا غير كفئ لمثل خياط و لا خياط لبزاز و تاجر و لا هما لعالم و قاض و فى الملتقى و شرحه فما ئك او حجام او كناس او دباغ او خلاق او بيطار او حداد او صغار غير كفئ لسائر الحرف كعطار او بزاز او صواف"

سوال :......

ايا كفائت په وخت د نكاح تړولو ك معتبر دى او كه وروسته ترعقد هم معتبر دى؟

جواب :......

كفائت په وخت د عقد كي معتبر دى كه بيا كفائت وروسته ترعقد خراب سي پروا نلري:

"و الكفاءة اعتبارها عند ابتداء العقد فلو يضر زوالها بعده فلو كان وقته كفواً ثم مجر لميفسخ و اما لو كان ذباغا مضار ناجرا فان بقى عارها لم يكن كفوا و

الالا"(فتاوی رد المحتار علی الدر المختار ۔ و مثله فتاوی الهندية / ج: ۱ / ص: ۲۹۱ ۔ ثم الكفائة تعتبر عند ابتداء النكاح ولايعتبر ۔۔۔۔۔۔۔۔۔

سـوال :......

آیا عجمی کو کېدلی سي عربي یعني عجمي سړی عربه ښځي کولای سن یا قریشي ؟

جواب :......

پـه در المختار کي وايي چي عجمي کفو د عربي نسي کېدلی که څه هم عالم وي خو پـه رد الـمحتـار کـي وايي چي علم بهتره دی تر نسب نو عالم عجمي کولای سي عربي .

"فالعالم العجمی یكون كفواً للاهل العربی والعلوية لأن شرف العلم فوق شرف النسب و ارتضاه فی فتح القدير / ج: / ص: ۔ و جزم به البزازية و العالم الفقير يكون كفوا للغنى الجاهل و الوجهفيه ظاهر لأن شرف العلم فوق شرف النسب و عن هذا قيل ان عائشة رضى الله عنها أفضل من فاطمة رضى الله عنها لأن عائشة شرف العلم كذا فی المحيط و لم يفرق سبحانه و تعالى بين القريش و عيره فی قوله هل يستوى الذين يعلمون و الذين لا يعلمون إلى اخره ۔"

☆ ☆ ☆

فصل فی الفرق بين فضيلة العائشةؓ و فاطمةؓ

"قوله و لذا قيل يعنى در المختار اى لكون شرف العلم اقوى قيل أن عائشةؓ أفضل لكثرة علمها و ظاهره انه لايقال ان فاطمة أفضل من جهة النسب لأن الكلام مسوق لبيان أن شرف العلم ااقوى من شرف النسب لكن قد يقال باخراج فاطمةؓ من ذلك لتحقق البضعة فيها بلا وسطة و لذا قال الامام مالك انهما بضعة

ﷺ ولا أفضل علی بضعة منه احد و لا یلزم من هذا اطلاق انهما أفضل الا لزم تفضیل سائر بناته ﷺ علی عائشةؓ بل علی الخلفاء الأربع و هو خلاف الاجماع کما بسطه ابن حجر فی الفتاوی الحدیثیة و حینئذ فما نقل عن اکثر العلماء من تفضی لعائشة محمول علی بعض الجهات کالعلم و کونها فی الجنة مع النبی ﷺ و فاطمةؓ مع علیؓ و هذا قال فی بر الامالی : نظم:

وللصدیقة الرجحـــان فاعلم

علی الزهراء فی بعض الخلال

و قیل بالتوقف لتعارض الادلة و اختاره الاستروشی من الحنیفة و بعض الشافعیة کما اوضحه ملا علی القاری فی شرح الفقة الاکبر و شرح بدر الامالی "(رد المحتار علی الدر المختار / ج:۲ / ص: ۳۵۱)

سوال :......

ایا د بازاري او صحرایي فرق سته کنه، بازاري انجلۍ د صحرایي هلک کفو دی کنه؟

جواب :......

هو ا بازاري اوصحرایي ته اعتبار نسته دغه رنګه و ښایسته ته هم اعتبار نسته دغه رنګه و عقل ته هم اعتبار نسته دغه رنګه و عیوبو ته چي دا مرضمن په دې کي پلانی مرض سته دا شیان کفائت ته اعتبار نلري:

"القروی کفو للمدنی فلا عبرة بالبلاد کما لاعبرة بالجمال (خانیة) و لا بالعقل و لا بعیوب یفسخ بها البیع خلافا للشافعی لکن فی النهر عن المرغیانی المجنون لیس بکفو للعاقلة لانه یفوت مقاصد النکاح فکان اشد من الفقر و دناء ة الحرفة و ینبغی اعتماده لأن الناس یعتبرون بتزویج المجنون اکثر من ذی الحرفة الد--- (فتاوی الرد المحتار علی الدر المختار / ج:۲ / ص: ۳۵۱ ـ و مثله فی الفتاوی الهندیة / ج: ۱ / ص: ۲۹۲)ـ و الجمال لا یعد فی الکفاء ة و اختلف فی العقل"



مطلب فی اجازة الزوج

سـوال :......

دسري دپاره دا جائز ده چي ښځه ووهي كه يې ځان نه ښايسته كاوئ يا يې لمونځ نه كاوه يا يې شرطونه د لمانځه نه پر ځاى كول يا يې و ده ته ځان په لاس نه وركاوه په داسي حال كي چي عذر نه وي او طهارت وي؟

جواب :......

هو! و ده ته وهل د ښځي په منع دې شيانو سره روا دي:

"وله ضربها بترك الزينة إذا كان يريدها و ترك الاجابة و هی طاهرة و الصلاة و شروطها كذا فی الفتح القدير / ج: ـ / ص: (فتاوى هندية / ج: ۱ / ص: ۳٤۱)

سـوال :......

كه ښځي لمونځ نه كاوه و سړي ته دا روا دي چي طلاقه يې كړي كنه ؟

جواب :......

هو، دا ورته روا دي كه څه هم مهر وركولاى نه سي:

"رجل له امرأة لا تصلی له ان يطلقها وان لم يقدر علی ايفاء مهرها"(سابقه حواله) هندية ص ۳٤۱

سـوال :......

كه ښځه و مجلس د علم ته تله د مېړه اجازه غواړي كنه منع يې كولاى سي مېړه كه نه؟

جواب :......

هو! بې اجازې نه سي تللاى و مجلس د علم ته يا زده كړي ته .

"فان ارادت ان تخرج إلى مجلس العلم بلا اذنه لم يكن لها ذلك"
دغه رنگه كه د چا مور خور كونړه وه بيا له مېلمستيا او دمصيبت له ځای
څخه زوی نه سي منع كولای كه چيري هلته ښكاره فسق نه وو . (سابقه
حواله) هندية ج١ ص ٣٤١ .

☆ ☆ ☆

باب القسم (بفتح القاف و بالكسر ---

سـوال :......

د دوو يا درويا څلورو ښځو په مابين کي عدل او انصاف کول واجب دي که فرض؟

جواب :......

لـه ظاهره آيت څخه معلوميږي چي فرض دی په وخت د ويري د ظلم او احتمال د وجوب هم ستـه او د ندب هم ستـه او د فرض هم:

"و ظاهر الآية انه فرض "(در المختار) و الرد المحتار : فان قوله تعالى فان خفتم الا تعدلوا فواحدة ، امر بالاقتصار على الواحدة عند خوف الجور فيحتمل انه للوجوب فيعم ايجاب العدل عند تعددهن كما قاله في الفتح او للندب و يعلم ايجاب العدل من حيث انه يفهم انه انمايخاف على ترك الواجب كما في البدائع و على كل فقد دلت الآية على ايجابه .(فتاوى رد المحتار على الدر المختار / ج: ۲ / ص: ٤٣١)

سـوال :......

اياعدل په مابين د ښځو کي په ټولو شيانو کي واجب يا فرض يا مندوب دی؟

جواب :......

تسوية به په مابين د ښځو کي وږي په شپې تېرولو کي او په جامه او په خرقه کي:

”یجب ان یعدل فیہ ای فی القسم بالتسویۃ فی البیتوتۃ و فی الملبوس و المأکول و السکنی والصحبۃ ۔ و کذا فی الالفتاوی الھندیۃ (ج ۱ / ص: ۳٤۰)“



﴿قسم بين الزوجات نفقه ، حضانت﴾

..که يو ښځه خپل واري پخپله مرضۍ پرېږدي نو دا جائز ده:

سوال:...... (۱) يو سړی چي واده يې کړی دی د يوې کونډي ښځي سره په دې شرط نکاح کوي چي د شپې اوسېدل به زما د (کور والا) په اختيار کي وي او د ډوډۍ ورکولو هيڅ پابنده نه يم، ښځه وايي چي دا شرط زما منظور دی نو آيا اوس داسي کول صحيح دي او که به سړی د دواړو مايېنو په مينځ کي د حقوقو برابري کوي؟

(۲) د دوو طلاقو وروسته که چيري سړی بيرته د ښځي سره يو ځای کېدل وغواړي يو ځای کېدلای سي او که نه؟ که کېدلای سي نو صورت يې څه دی؟

(۳) برتهـ کنټرول يعني خانداني منصوبه بندي جائز ده او که نه؟

جواب:...... که چيري واقعي په خوشحالۍ يوه ښځه خپل حقوق پرېږدي نو دا جائز دي"و لو ترک قسمها ای نوبتها لضرتها صح و لها الرجوع فی ذلک" (در مختار علی حاشيه الشاميه / ص: ۴۳۵/ ج: ۲)

(۲) کومي ښځي ته چي درې طلاقونه ورکول سوي دي هغه بې له حلالې او نوي نکاح خپل په کور کي نه سي آبادولای، د الله تعالی په دې قول سره:﴿فان طلقها فلا تحل له من بعد حتی تنکح زوجا غيره﴾ (الآية)

(۳) په بعضو صورتو کي يعني ښځه د حمل قدرت نلري او يا يوه بله شرعي مجبوري وي نو بيا منع حمل صحيح دی. (فقط و الله اعلم بالصواب)

..د تېر سوو شپو د راګرځولو حکم:

سوال: ...... کله چې زید دوهم واده وکړی نو زیاتره وخت یې د دوهمې کور والا سره وو، او لې ښځې ته به کله ناکله راتلی بیا به یې څه خرچه ورکول او تلی به، هغه په تبلیغ کې ولاړی نو کله چې هغه ته احساس وسو هغه د اولې کور والا ځخه بخښنه وغوښتل او وعده یې وکړه چې اوس به بې انصافي نه کوم، په مخکنې وخت کې چې زید د ښځې کومه حق تلفي کړې ده نو پر زید باندې لازم ده چې هغه د دومره شپې د اولې ماینې سره تیرې کړې لکه څومره چې هغه د هغې بلې کور والا سره تیرې کړې وې؟

جواب: ......زید دې په راتلونکې وخت کې انصاف وکړې او پر مخکنی غلطۍ دې د الله تعالی ځخه بخښنه وغواړي او اوله کور والا دې هم راضي کړل سي، د مخکنیو شپو راګرځول پر زید باندې لازم نه دی.

"و لو قام عند واحد شهرا فی غیر سفر ثم خاصمته الاخری فی ذلك یؤمر بالعدل بینهما فی المستقبل و هدر ما مضی فلیس بها ان تطلب ان یقیم... عندها مثل ذلك عن الهندیه و الذی یقتضیه النظر ان یؤمر بالقضاء إذا طلبت لانه حق آدمی و له قدرة علی ایفائه فتح و اجاب فی النهر بما ذکره الشارح من التعلیل قال الرحمتی و لانه لا یزید علی النفقة و هی تسقط بالمضی اھ"(شامیه / ص: ٤٣٤ / ج: ۲)

.. کور والا د کتنغ پر پخولو باندې مزدوري نه سي اخیستلای:

سوال: ...... دیو سړي دوې ښځې دي، دواړي په جلا جلا سرایو کې اوسیږي، د کوچنیانو په اندازه دواړو ته نان او نفقه ورکول کیږي، په دوی دواړو کې یوه ښځه ډوډۍ او داسې بل شی مېره ته پخوي او تر کښت پورې یې ور رسوي کوم چې سهار او ماښام دواړه پنځه میله سفر جوړیږي، او داسې کالي او نور پر منځل او د دوهمې ښځې یې په دې خدمت کې هیڅ حصه نسته، نو اوس آیا دغه خدمت کونکې ښځه د نان او خوار کې پر ته د بل ډول معاوضې مستحقه ده؟ د کوچنیانو تعلیم علاج او معاجله او داسې نور یې

هم پر مېړه دي، د کوچنیانو ودونه هم پر مېړه دي؟
جواب :...... د مېړه خدمت دیانتاً پر ښځې باندې لازم دی، نو د ډوډۍ پر پخولو باندې مزدوري د ښځې اخیستل صحیح کار نه دی، لهذا برابره نفقه باید هري یوې ته ورکړل سي .
"استاجر امرأته لتخبز له خبزا للأكل لم يجز اهـ لان هذا العمل من الواجب عليها ديانتا اهـ و افاد المصنف آخر الباب ان من الواجب عليها ديانتا اهـ و افاد المصنف آخر الباب ان استيجار المرأة للطبخ والخبز و سائر الاعمال البيت لا ينعقد نقله من المضمرات "(الدر المختار مع الشامية / ص: ٦٢ / ج: ٢)
(۲) د مور او پلار پر ذمې باندې دا ټولي خرڅې لازمي دي، مثلاً تعلیم په کول، د نکاح واده او داسي نورو شیانو خرڅې به پلار اخلاقاً اداء کوي .
..د ناشزې د نفقې حکم:
سوال :...... که چیري ښځه د مېړه د اجازې پرته د خپل پلار کني کره ولاړل نو آیا د دې خرڅه به مېړه ورکوي؟
جواب :...... په صورت مسئوله کي که چیري ښځه د مېړه نافرماني کوي او د هغه د اجازت پرته د پلار کني کره تللې وي نو پر مېړه باندې د هغې نفقه واجب نه ده .
"و ان نشزت فلا نفقة لها حتى تعود إلى منزله"(هدايه اولين / ص: ۱۱۸) فقط و الله اعلم بالصواب۔
..د کوچنیانو د دیني تعلیم خرڅ پر مېړه باندې واجب دی:
سوال :...... د کوچنیانو د تعلیم خرڅه به مېړه جلا ورکوي او که نه؟
جواب :...... د کوچنیانو د دیني تعلیم خرڅ ټوله د ښځې پر خاوند او د کوچنیانو پر پلار باندې لازم دی، او د دنیوي تعلیم خرڅ پر پلار باندې نسته .
"و كذا طلبة العلم إذا كانوا عاجزين عن الكسب لا يهتدون اليه لا تسقط نفقتهم عن ابائهم إذا كانوا مشتغلين بالعلوم الشرعية لا بالخلافيات الركيكة و هذيان

الفلاسفة و لهم رشد و الا لا تجب كذا في الوجيز للكردري"(عالمگيري / ص: ٥٦٣ / ج: ١)

..كه ښځه په سفر ځي نو د نفقې او كرايې مستحقه ده:

سوال: ...... كه چيري د سړي كور والا په سفر ځي نو نفقه او كرايه وركول ضروري او لازمي ده او كه نه؟ كه د حج سفر وي او يا يو بل سفر كه مېړه ورسره وي او كه نه وي؟ په تفصيل سره راته ووايئ او همداسي كه چيري د يوې ماينې پر علاج باندي څه پيسې خرڅې سي نو هغه بلي ته به هم دومره پيسې وركوي؟

جواب: ......واضحه دي وي چي د كور والا (ماينې) سفر كول پر څو قسمه دی، او د هر يوه حكم جلا دی، له دې وجهي يې تفصيل ضروري دی (١) د مېړه د اجازې پرته بې له شرعي عذره سفر كونكې ښځه ناشزه ده داسي ښځه د نفقې مستحقه نه ده . په در مختار كي راغلي دي:

"لا نفقة لاحد عشر مرتدة إلى قوله و خارجة من بيته ، بغير حق و هي الناشزة حتى تعود و لو بعد سفره (الى ان قال) و حاجة و لو نفلا لا معه و لو بمحرم لفوات الاحتباس و لو معه فعليه نفقة الحضر خاصة لا نفقة السفر والكراء اهـ قلت لا يخفى أن هذا إذا خرج معها لاجلها أما لو أخرجها هو يلزمه جميع ذلك(شاميه / ص: ٧٠٤ / ج: ٢)"

سفر (٢) د مېړه په اجازې سره پخپل كار پسي كه څه هم مېړه ورسره نه وي نو د كرايې په اتفاق سره مستحقه نه ده ، كه څه هم دا سفر پر ښځي باندي فرض وي داستحقاق نفقې په اړه اختلاف دی د حضرت محمدؒ په نيز استحقاق نسته .

" و هو الاظهر كذا في السراج (هنديه / ص: ١٤٣ / ج: ٢)"

او د امام ابويوسفؒ په نيز استحقاق سته مګر د كرايې په اتفاق سره مستحقه نه ده، د امام ابو يوسفؒ د قول په وضاحت كي صاحب البدائع

ليکي:

"تفرض لها نفقة الاقامة لا نفقة السفر لان الزوج لا يلزمه الا نفقة الحضر فاما زيادة المؤنة التي تحتاج اليه المرأة في السفر من الكراء و نحو ذلك فهي عليها لا عليه اهـ"(بدائع / ص: ۳۳۲ / ج: ۲)

او که حج تطوع وي او که يوبل سفر نو بيا هم په اتفاق سره د نفقې مستحقه نه ده .

"اما إذا حجت للتطوع فلا نفقة لها اجماعا إذا لم يكن الزوج معها في الجوهرة النيرة"(هندية / ص: ۱٤۳ / ج: ۲)

نو د کرايې خو په طريقه اولیٰ سره نه ده حقداره .

سفر (۳) د خپل فرض او يا تطوع حج د اداء کولو لپاره د خپلمېړه سره روانه وي نو با هم کرايه او نفقه د دې حق نه ده .

"اما إذا احتج الزوج معها فلها النفقة اجماعا و تجب عليه نفقة الحضر دون السفر و لا يجب الكراء هكذا في فتاوى قاضي خان"(هنديه / ص: ۱٤۳) د نفلي حج هم دغه حکم دی .

(۴) که چيري مېړه ماينه په سفر واستوي او يا يې پخپل يو کار پسي واستوي نو په دې صورت کې د هغه ټوله خرڅه د مېړه پر ذمه باندي واجب ده لکه څرنګه چي په حواله د شامي تېره سوه، او مېړه ته دا حق حاصل دی چي کومه ماينه يې زړه وغواړي هغه په سفر بوزي .

د لوړو سفر د تفصيل په رڼا کې دا تحقيق وسو چي د اولو درې قسمو سفرو خرڅ پر مېړه واجب دی، نو که چيري مېړه د يو سفر کرايه و يوې ماينې ته ورکړه نو دا عطيه ده د دومره مقدار پيسو هغه بله هم مستحقه ده، د اولي څخه بيرته نه سي اخيستل کېدلای او هغه بلې ته به يې د خپل جيب څخه ورکوي او په (۴) قسم سفر کې که چيري يې يوې کور والا ته خرڅ ورکړی وي هغه بله يې نه ده مستحقه پاته نور جزئيات دي پر همدې باندي

منطبق کړل سي .او د ذهاب او اياب د زوجې کرايه په هيڅ صورت کي هم د مېړه پر ذمه نه ده . په بذل المجهود کي ليکلي دي چې په عطيه کي عدل مطلوب دی لکه په خوراک پوښاک او داسي نورو کي و الله اعلم.

(۲) علاج هم چونکه د مېړه پر ذم هنه دی لهذا د علاج لپاره چي کومي پيسي يوې ماينې ته ورکړل سي هغه بلي ته به هم دومره ورکول کيږي، د حکومت له خوا ملاوېدل دا د مېړه عطيه نه شی نه جوړيږي، د علاج په اړه که چيري د يو قابل اعتماد مفتي فتوی ملاو سي چې د مېړه پر ذمه دي نو د هغه د فتوی مطابق برابري نه ده لازم، بلکي د ناجوړی په وخت کي د ناجوړي علاج کافي دی، که څه هم پر يوې باندي زيات خرڅ وي او پر بلي باندي کم . فقط و الله اعلم بالصواب .

..مېړه ماينه د هر ډول مزدوری او ملازمت څخه کرځولای سي:

سوال: ...... که د سړي کور والا ملازمت کول غواړي او مېړه د هغه اجازه نه ورکوي نو آيا بې له اجازې هغه ملازمت کولای سي؟

جواب: ...... په صورت مسئوله کي و ماينې ته د ملازمت کول جائز نه دی .

"و ينبغي عدم تخصيص الغزل بل له أن يمنعها من الاعمال كلها المقتضية لكسب لانها متغنية عنه لوجوب كفايتها عليه"(شامی / ص: ۷۲۲ / ج: ۲)

..د مېړه په تنخواه کي د ښځي حق سته او که نه:

سوال: ...... د مېړه په تنخوا اول حق د ماينې دی او که د مور او پلار (۲) که چيري د سړي کور والا د مېړه د پلار او مور سره جنګ او جنجال کوي او هغه مور او پلار سړي ته ووايي چي دغه ښځه طلاقه کړه نو سړی به څه کوي، همداسي که چيري د سړي ښځه د سړي د پلار کني سره اوسېدل نه غواړي او يواځي اوسېدل غواړي او مور او پلار سړي ته اجازه نه ورکوي نو سړی بايد څه وکړي؟

جواب: ...... دغه تنخواه د میړه ملکیت ده پر میړه د ښځي نان او نفقه په هر حال کي واجب ده، که هغه ښځه غني وي او که فقیره، د مور او پلار او د کوچني ورور او خور خرڅه هم پر هلک واجب ده حال دا چي هغه غریبان وي په هندیه کي راغلي دي:

"الاب إذا كان فقيرا معسرا وله اولاد صغار محاويج و ابن كبير موسر يجبر الابن على نفقة أبيه و نفقة اولاده الصغار"(ص١٥٢ / ج: ٢)

د ذوی الارحام غني نفقه شرعا واجبه نه ده، مګر بیا هم د مور او پلار مالي او ځاني خرڅ پر اولاد باندي اخلاقاً فرض دی په هندیه کي دي:

"لا يقضى بنفقة احد من ذوى الارحام إذا كان غنيا"(ص١٥٢ / ج: ٢)

(٢) او (٣) د مور او پلار پر وینا باندي بې قصوره کور والا ته شرعا طلاق ورکول ضروري او واجب دی، کور والا دي پوهه کړل سي او پر بخښني دي تیاره کړل سي، همدا راز کور والا د جلا کور غوښتنه کولای سي.

"تجب السكنى لها عليه في بيت خال عن اهله و اهلها الا ان تختار ذلك"(ص ١٤٧ج٢)

..ښځه د اولاد د ساتني خرڅه میړه ته بخښلای سي:

سوال: ...... ما خپلي کور والا ته طلاق ورکړی دی زما کوچنیان دي هغه غوښتنه کوي چي ماته یې راکړه، هغه څه بد مزاجه ده د دې وجهي څخه زه د کوچنیان ساتنه پخپله کول غواړم چي کله د هغې غوښتنه زیاته وه نو ما ورته وویل چي د هغوی نان او نفقه زه نه درکوم هغې راسره ومنل، نو آیا په دې صورت کي د دې کوچنیا ن خرڅه پر ما شرعاً واجب ده او که نه؟

جواب: ...... د نابالغو بچیانو نفقه پر پلار باندي واجب ده، د دې وجهي څخه د ښځي د تسلیم ولو سره سره هم د کوچنیانو خرڅ ستا له ذمې نه ساقطیږي، د نه ورکولو په صورت کي به ته د الله تعالی په نیز د مجرم یې، په هندیه کي راغلي دي:

"نفقة الاولاد الصغار على الاب لا يشارك فيها أحد"(ص ١٤٩ / ج: ٢)

البتـه ښځـه د ساتنې حق الخدمت د نفقه په ډول بخښلاى سي ولي د واړه د هغې ذاتي حق دى په در مختار کي دي:

"الابراء قبل الفرض باذل و بعده يصح مما مضى و من شهر مستقبل"

پـر دې بـانـدي علامه شاميؒ ليکي: أى إذاكانت مفروضة بالاشهر فلو بالايام يبرأ من نفقة يوم مستقبل و كذالو بالسنين (شاميه / ص: ٦٥٣ / ج:٢)

.. که خاوند طلاق ورکړي نو د معتدې ښځه په هر حال کي د نفقې مستحقه ده :

سوال: ......کـه چيـري ديـو سړي ښځه فاحشه وي او هغه سړى و هغې ته طلاق ورکړي نو پر دې سړي باندي مهر او نان نفقه واجب ده او که نه؟

جواب: ......په صورت مسئوله کي د مهر او نان نفقې خاوند ذمه دار دى:

"الـمعتدة عن الطلاق تستحق النفقة والسكنى كان الطلاق رجعيا او بائنا او ثلاثا اهـ"(عـالـمگيري / ص: ١٤٨ / ج: ٢) قال فى البحر فالحاصل ان الفرقة لامن قبله او مـن قبلها فـلـو مـن قبلـه فلها النفقة مطلقا سواء كانت بمعصية او لا طلاقا او فسخا اهـ(شامى / ص: ٦٦٩ / ج: ٢)

.. که ښځه بې له څه وجهي د پلار کنى کره کښېني نو د نفقې مستحقه نه ده :

سوال: ...... زمـا کـور والا زمـا څـخـه تـللې ده د پلار کنى کره ناسته ده، په وار وار راغو ښتلې مي ده نه ده راغلې اوس هغه د نفقې مستحقه ده؟

جواب: ...... تر څو پوري چي د مېړه کره را نه سي د نفقې مستحقه نه ده .

"خارجة من بيته بغير حق و هى الناشزة اهـ"(شامى / ص: ٦٤٦ / ج: ٢)

.. د عـدت د نـفـقې د بخښـلو په عوض که مېړه طلاق ورکړي نو نفقه يې بخښـل کيږي :

سوال: ...... د مېړه او ماينې تر مينځ جنجال وو، د صلحي هيڅ صورت يې نه

درلودی آخر ښځي د طلاق غوښتنه وکړه، سړي ورته وول چي مهر درکوم د عدت تېرولو خرڅه نه درکوم ښځي ومنل، سړي طلاق ورکړی نو نفقه پر لازمه ده او که نه؟

جواب:......که چیري مېړه د دې ښځي د غوښتي سره سم په همدې مجلس کي و هغې ته طلاق ورکړی نو د مېړه پر ذمه باندي د عدت خرڅه واجب نه ده، بلکي هغه د دې څخه خلاص دی:

"فهکذا إذا طلب ابرائها له عن المهر و النفقة صریحا لیطلقها بابرأته و طلقها فورا یصح الابراء لانه ابراء بعوض اهـ "(شامیه / ص: ٦١٥ / ج: ٢) فقط و اللّٰه اعلم بالصواب۔

..جلا خونه د کور والا حق ده:

سوال:...... څه وایي علماء کرام د دې مسئلې په اړه چي موږ په یوه کور کي یو ځای اوسیږو مور او پلار ورونه او زما کور والا، مګر زما د کور والا پر دې خبره باندي زور دی چي هغې ته جلا سرای واخله، حال دا چي زما مالي حیثیت دومره نه دی، چي د هغې لپاره جلا سرای واخلم، نو آیا د دې ښځي د جلا سرای غوښتنه شرعاً صحیح ده او آیا د دې لپاره د جلا سرای اخیستل زما لپاره ضروري دي؟

جواب:...... و کور والا ته دیو داسي خوني د غوښتني حق سته په کومي کي چي د کور نور هیڅ څوک تصرف و نه لري لهذا غوښتنه یې صحیح ده ور پوره دي کړل سي، پاته سو صحن، بیت الخلاء باورچي خانه او داسي نور د کور ټول خلک استعمالولای سي او یا یې استعمالوي په دې کي څه حرج نسته، د دې څخه زیات د جلا او ځاني سرای غوښتنه یې صحیح نه ده.

"کما في الدر المختار و بیت منفرد من دار له غلق (کفاها) لحصول المقصود و في الشامیة فان کانت دار فیها بیوت و اعطی لها بیتا یغلق و یفتح لم یکن لها ان تطلب بیتا آخر"(شامي / ص: ٦٠٠)

د دې عبارت څخه هم همدا معلومیږي چي که چیري په سرای کي د دې لپاره جلا خونه وي نو بیا د جلا سرای غوښتنه نه سي کولای .

..د دوارو کور والا اولاد زیات او کم وي نو د نفقې حکم یې:

سوال:...... څه وایي علماء کرام د دې مسئلې په اړه چي د زوجتین په مینځ کي چي د یوې اولاد بالکل کوچني وي او د بلي د غټان او قریب البلوغ وي د دوی په مینځ کي به د مساوات طریقه څه وي؟ یعني په څه طریقه به هغوی ته خرڅه ورکول کیږي او حال دا چي د یوې کور والا اولادونه زیات دي؟

جواب:...... د کوم سړي چي دوې کور والاوي وي د هغوی په مینځ کي د زوجتینو مساوات په دې ډول کول په کار دي چي د هر ماینې نفقه دي جلا جلا مقرره کړ سي او په دې کي دواړي ښځي برابري کړل سي او د اولادو نفقه دي جلا مقرره کړل سي او د دوارو اولاد د جلا جلا د حاجت په لحاظ سره برابر کړل سي ، یعني که چیري د یوې ضرورت په لس روپۍ پوره کیږي هغې ته لس روپۍ او د کومي ضروریات چي په پنځه روپۍ پوره کیږي هغې ته پنځه روپۍ ورکړل سي، مثلاً د ښځي خرڅ دي پنځلس روپۍ مقرر کړل سي او د انجونو او هلکانو خرڅ دي لس روپۍ مقرري کړل سي، نو په دې صورت کي د زیاتو اولادو والا ماینې ته چي کومي پیسې رسیږي هغه د ماینې د وجهي څخه نه بلکه د زیادت اولاد د وجهي به وي پر دې باندي که چیري هغه بله کور والا یې اعتراض وکړي نو اعتراض یې بې کاره دی او نوري خرڅې مثلاً د واده او داسې نوري خرڅې لپاره دي جلا قانون جوړ کړل سي په کوم کي چي ته خودمختاره یې .

"کذا فی امداد الاحکام / ص: ۸۸۷ / ج: ۲"

..و بد کرداري ښځي ته حق د حضانت نه رسیږي:

سوال:...... زما منکوحه او مدخوله ښځه دوه واره تښتول سوې ده او س هم

تبنتـول سـوې ده، مذکورې ښځې له نس او زما له نطفې يو زوی د اوه نيمو کـالـو دی او يوه لور د څلورو کالو ده دواړه کوچنياني يې د تيښتې په وخت کې پرې ايښي دي د کومو ساتنه چې زه پخپله کوم اوس ښځه د عسکرو په ذريعه کوچنيان غواړي اوس که چيرې زه دغه کوچنيان مذکورې ښځې ته ورکـړم نـو د دوی پـر ژونـدانـه بـه بـد اثـر پـريـوزي نـو اوس يو هلک هغو تـه ورکړل سي او که دواړه، څه حکم دی؟

حالانکه په دې شرط باندې د کوچنيانو ورکړې ته زه تيار يم چې د ښځې يو نژدې قريب ورور، پلار راسي او غوښتنه وکړي ذکر سوې ښځه چونکه د خپل يار سره ده په دې حال کې د کوچنيانو د ژوند او تربيت هم مسئله ده د شريعت له مخې حکم په واضح ډول راکړئ؟

جواب:......"لثبت (ای الحضانة للام (الی قوله) او بعد الفراقة الان تكون مرتدة او فاجرة فجورا يضيع الولد به كزنا و غناء و سرقة و بياحة كما فی البحر والنهر (الشامية / ص: ۲۸۸ / ج: ۲)"

د لـوړ عبارت څخـه معلوميږي چې که مور فلجره وي او د بد کاري رنګه کـارونـه کـوي نـو هـغـې تـه پر خپلو بچيانو د حضانت حق نه دی حاصل ولې چې پـه دې صـورت کـې هـغـه د کـوچـنيـانـو ښه تربيه نسي کولای نو په دې صـورت مـسـئـولـه کـې کـه چيـرې واقـعـي ښځه داسې وي لکه په سوال کې ښکاره سوي نو هغې ته پر خپل اولاد باندې د ساتنې حق حاصل نه دی البتـه د کوچنيانو انا د هغوی ساتنه کولای سي .

..د حضانت حق کله ساقطيږي:

سوال:...... مـسـمـی زيد او مـسمی بي بي مرسی دواړه مېړه او مايـنه دي د دوی تـر مـيـنځ د څو کالو راهيسې اختلاف موجود دی، او تر محکمې پوري يې قـصـه رسېدلې ده، تـر دې ځـايـه پـوري چې مېړه يې تر مـارشل لاء پوري ځغاستې وکړې، په محکمه کې د اولاد او ماينې د غوښتنې لپاره عـريضې

وكړې چې د اوربدو وروسته و ايستل سوې، مسماة مرسي بي بي د خپل كوچنيانو د انجلۍ عمر اوه كاله د اول هلك عمر څور نيم كاله او د كشر هلك عمر يې دوه نيم كاله دى د دوى سره سره د خپل پلار ګنۍ كره ژوند تېره وي ، لنجلۍ كاله دى د دوى سره سره د خپل پلار ګنۍ كره ژوند تېره وي، انجلۍ د قرآن كريم او هلك ښه معياري زده كړې تر سره كوي د كوچنيانو پلار كوچنيان د دې ښځې څخه جلا كوي او له خپل ځان سره اوسول غواړي، او د كوچنيانو مور وايې چې يا زه يې د خپل ځان سره اوسوم، اوس راته ووايا ست چې كوچنيان دي د پلار په سرپرستۍ كې وي او كه د مور؟

جواب :......هلك تراوو كالو پوري انجلۍ تر نهو كالو به د مور سره وي، پلار يې په زوره د مور څخه نه سي راوستلاى، كه څه هم طلاق سره واخيستل سي، ليكن كه چيري ښځه د طلاق وروسته ديو بل نامحرم سړي سره واده وكړي نو بيا د مور د تربيت حق ساقطيږي .

”(والحاضنة) أما ، او غيره (أحق به) اى بالغلام حتى يستغنى عن النساء و قدر بسبع و به يفتى ....

(قوله : حتى يستغنى عن النساء) بأن يأل و يشرب و يستنجى وحده ، و المراد بالاستنجاء تمام الطهارة بأن يتطهر بالماء بلا معين ، و قيل مجرد الاستنجاء و هو التطهير من النجاسة و ان لم يقدر على تمام الطهارة زيلعى اى الطهارة الشاملة للوضوء ـ

(قوله : و قدر بسبع) هو قريب من الاول بل عينه لأنه حينئذ يستنجي وحده ، ألا ترى إلى ما يروى عنه ﷺ أنه قال : مروا صبيانكم إذا بلغوا سبعا ، و الأمر بها لا يكون الا بعد القدرة على الطهارة“ (شامى / ص: ٦٩٥ / ج: ٢)

..د ساتني په وخت كې ښځه كوچنيان ليري ځان سره نه سي بيولاى:

سوال :...... څه وايې علماء كرام د دې مسئلې په اړه چې دطلاقي سوي ښځې

د کوچنیانو د کومو عمرونه چي ۹، ۵، ۳، ۲ کاله دي، خپل د ځان سره و یو بلي علاقې ته بېول غواړي هلته په مقامي ډول د هغوی هیڅ وارث نسته، اوس که چیري هغه کوچنیان هلته بوزي نو زموږ هلته ور تګ ډېر ګران کار دی او نه هم موږ په دې امید یو چي بیا دي د خپلو کوچنیانو سره ملاؤ سو، آیا شریعت داسي لیري سیمو ته د کوچنیانو د بېولو اجازت ورکوي؟

جواب:......"لیس للمطلقة بائنا بعد عدتها الخروج بالولد من بلدة إلی اخری بینهم تفاوت"(در مختار / ص: ۶۹۷ / ج: ۲ علی الشامیة)

له دې جزئیې څخه ښکاري چي مطلقه ښځه د حضانت د حق له وجهې کوچنیان و لیري سیمي ته نه سي بېولای، په داسي ځای کي دي اوسېږي چي د کوچنیانو پلار د کوچنیان لیده کاته کولای سي.

..د مور وروسته د ساتني حق چا ته حاصل دی:

سوال:...... یوه ښځه په خدایی مرګ مړه سوه، یو هلک یې د پنځو او بله انجلۍ یې د څلورو کالو پرېښول، د کوچني په قریبانو کي سکه آنا، خاله چي واده یې لا نه دی سوی او عمه یې موجوده ده، د هغو د پلار مور مړه سوې ده، د کوچنیانو د ساتني په اړه اختلاف مینځ ته سوی دی، د کوچنیانو پلار دوهم واده هم کړی دی، اوس یوې خوا ته پلار او مېړېزه مور ده او بل طرف ته یې سکه انا او خاله ده، پوښتنه دا ده چي د کوچنیانو د ساتني حق شرعاً و چا ته دی (۲) د ساتني موده یې څومره ده (۳) د ساتني په وخت کي به خرڅ د چا پر ذمه وي؟

جواب:...... په صورت مسئوله کي د حضانت حق و انا ته دی:

"ثم ای بعد الام بان ماتت اولم تقبل او استطت حقها او تزوجت باجنبی ام الام و ان علت عند عدم اهلیة القربی اهـ"(الدر المختار علی الشامیة / ص: ۶۹۳ / ج: ۲)

(۲) د هلک د اوو کالو او د انجلۍ د ۹ کالو تر عمر کېدلو پوري د انا سره

او سپړل صحیح دي . (کذا فی الشامية / ص: ۶۹۳ / ج:۲)

(۳) د ساتني خرڅه د پلار پر ذمه ده:

"تستحق الحاضنة أجرة الحضانة إذا لم تكن منكوحة و لا معتدة لابيه و هی غير أجرة ارضاعه و نفقته كما فی البحر عن السراجية اهـ "(الدر المختار علی الشامية / ص: ۶۹۱ / ج: ۲)

..و مور ته تر څو پوري د ساتني حق سته:

سوال: ...... ملک عبد المجيد مړ سوی دی د هغه دوه زامن او شپږ لوڼي دي، هلک يې يو د يوولسو کالو او بل د درو کالودی، انجوني يی درې بالغاني دي او درې نابالغي دي د دې هلکانو او انجونو اکا هم موجود دی او ماما يې هم سته، د کوچنيانو د ساتني او تربيت حق و چا ته دی او د دوی د نکا ح د ولايت حق و چا ته حاصل دی؟

جواب: ......د هلکانو عمر د اوو کالو او د انجونو عمر د ۹ کالو تر کېدلو پوري د ساتني حق و مور ته حاصل دی، په دې شرط چي هغه داسي ځای نکا ح و نه کړي چيري چي دا انجونو ته هغه سړی نامحرمه وي .

"والحاضنة اما غيرها احق به اي بالغلام حتی يستغنی عن النساء و قدر بسبع و به يفتی لانه الغالب .... الخ و الام و الجدة احق بها حتی تحيض و غيرهما احق بها حتی تشتهی و قدر بتسع و به يفتی و عن محمد ان الحكم فی الام والجدة كذلك و به يفتی لكثرة الفساد .... اهـ "(در مختار علی الشامية / ص: ۶۹۵ / ج: ۲)

..پلار بالغه اولاد د طلاق سوي مايني د ليدني څخه نه سي منع کولای:

سوال: ...... زيد خپل د مطلقې ښځي څخه خپل بالغه اولاد منع کولای سي چي د هغې سره ليده کاته مه کوئ، او که نه؟

جواب: ......"إذا بلغت الجارية مبلغ النساء ان كانت بكرا كان للاب ان يضمها إلى نفسه و ان كانت ثيبا ليس له ذلك الا إذا لم تكن مأمونة علی نفسها والغلام إذا عقل و اجتمع رأيه و استغنی عن الاب ليس للاب ان يضمه إلی نفسه الا إذا لم يكن

مأمونا على نفسه كان له ان يضمه ... انتهى "(قاضي خان / ص: ۱۹۳ / ج: ۱)
ليدني شخصه يې نـه سي منـع كولاى . فـقـط و الله اعـلـم بـالـصـواب .
(متفرقات نكاح)

..نكاح كول ښه كار دى او كه په عبادت اخته كيدل:

سوال: ..... بنده فقير له ډيرې مودې راهيسې د قرآن كريم په خدمت اخته دى او د مسجد خدمت هم كوي، او بنده تر اوسه واده هم نه دى كړى، بعض خلك راتـه وايي چي واده وكړه كوم څوک چي واده و نـه كړي د هغـه جنازه نـه صحيح كيږي، زما لپاره واده ضروري دى او كه نه؟

جواب : ..... په مسلم شريف كي حديث دى د كوم مفهوم چي دا دى چي نبي كريم ﷺ ځوانانو ته په خطاب كي ويلي دي، چي اې د ځوانانو ډلې په تاسو كي چي كوم څوک د نكاح كولو صلاحيت لري هغه ته په كار ده چي نكاح وكړي، ولي چي دا واده د نظر د كښته كولو ذريعه ده او د شرمګاه د تحصين لپاره دى، او كوم څوک چي يې طاقت و نه لري نو پر هغه باندي روژې لازمي دي:

"عن عبد الله قال لنا رسول الله ﷺ يا معشر الشباب من استطاع منكم الباءة فليتزوج فانه اغض للبصر و احصن للفرج و من لم يستطع فعليه بالصوم فانه له وجاء صحيح مسلم (ص٤٤٩ / ج: ۱)"

په يو بل حديث كي يې فرمايلي دي چي په خلكو څه سوي دي چي داسي داسي خبري كوي چي زه لمونځ كوم، زه بديږم، او روژه مات كوم، او له ښځو سره واده كوم ،او كوم څوک چي زما له سنته اعراض وكړي هغه له موږه نه دى:

"فقال ما بال اقوام قال كذا كالكنى اصلى و انام و اصوم و افطر و اتزوج من النساء فمن رغب عن سنتى فليس منى"(صحيح مسلم / ص: ٤٤ / ج: ۱)

له دې دواړو حديثو څخه ثابته سوه، چي نكاح د نبي كريم ﷺ سنت ده

، او د نکاح کولو نبي کریم ﷺ ترغیب هم ورکړی دی او د نکاح پر نه کولو باندي یې د ناخوښۍ اظهار هم کړی دی ، او فقهاؤ په تعلیم او تعلم او نفلي عبادت مشغولېدو څخه نکاح افضله بللې ده .

"وهو افضل من اشتغال بتعلم و تعليم كما فى درر الجار و قدمنا انه افضل من الخلى للنوافل"(شامی / ص: ۳۸۳ / ج: ۲)

علامه کاساني فرمايي : "قال النبی ﷺ النكاح سنتي و السنن مقدمة على النوافل بالاجماع و لانه اوعد على ترك السنة بقوله فمن رغب عن سنتی فليس منی و لا وعيد على ترك النوافل"(بدائع الصنائع / ص: ۲۲۹ / ج: ۲)

د کوم حاصل چي دا دی چي نکاح کول زما سنت دی او سنت تر نفلو مقدم دی ، او پر دې باندي اجماع ده او د سنت پر پرېښولو وعید بیان سوی دی ، او د نفلو پر پرېښولو یې وعید نه دی بیان کړی لهذا که چیري نه د حق زوجیت مهر ، نان و فقه پر اداء کولو باندي قادر یې نو پر نکاح باندي خامخا عمل وکړه .

..د محرم الحرام په میاشتي کي د نکاح کولو حکم:

سوال : ...... څه وایي علماء کرام د دې مسئلې په اړه چي د محرم الحرام په شپو کي نکاح کول صحیح ده او که نه؟

جواب : ......د محرم په میاشتي کي د نکاح کولو قباحت په هیڅ دلیل شرعي سره نه دی صحیح د کال د نورو میاشتو په شان په دې میاشت کي هم نکاح صحیح ده ، بلکي د دې رافضي بدعت او له ځان د جوړي سوي مسئلې ختم کولو لپاره علماء کرامو ته کوشش په کار دی ان شاء الله د ثواب سبب گرځي .

..په تعلیم بوخت سړی حق د زوجیت څه ډول اداء کړي:

سوال : ...... هلک او انجلۍ بالغان دي پلار او مور د دواړو نکاح په خوشحالي سره وکړه ، هلک د دیني تعلیم شوقي دی او س د تعلیم په حصول اخته دی تقریبا څلور کاله بعد به فارغیږي ، آیا دا جائز دی چي انجلۍ دي

ليري خپل د پلار كنى كره وي، او هلك دي په تعليم اخته وي، او په كال كال نه سي را، د بعضو خلكو خيال دى چي تر تعليم پخپل كور كي او سېدل ښه دي، كه نه نو گناهگار دى د بعضو خلكو خيال تر كومه ځايه صحيح دى، وضاحت يې وكړئ او ژر د جواب راكولو كوشش وكړئ؟

جواب:......دا خبره جائزه ده چي انجلى كره وي او هلك تعليم حاصلوي، او دا خيال چي تعليم پرځاى دي په خپل كور كي وي كه نه نو گناهگار كيږي دا صحيح خبره نه ده د كور آبادولو صورت داهم كېدلاى سي چي هلك په دوو درو يا څلورو مياشتو كي كور ته راسي او په دې شرط چي مور او پلار د ښځې او خوراكې ذمه يې پر خپل ځان اخيستي ده او د تعليم اجازه يې وركړې ده او دى تعليم پرېږدي دا صحيح خبره نه ده، البته د كور ضرورتونه پوره كول ضروري دي د كوم لپاره چي تګ او راتګ كېدلاى سي .

..بې له عذره تر څه وخته سړى د كور والا ښځه جلا اوسېدلاى سي:

سوال:...... حضرت عمرؓ چي كوم دستور جوړ كړى وو چي نارينه د خپلي كور والا ښځه يو اځي څلور مياشتي جلا اوسېدلاى سي، آيا تر دې مودې زيات سړى له خپلي كور والا ښځه جلا اوسېدلاى سي او كه نه، د ائمه كرامو څخه د يو چا مذهب دى او كه نه؟ هل يجوز النظر إلى فرج امرأته و هكذا مكسها؟ بينوا و توجروا .

جواب:......بې له عذره تر څلورو مياشتو پوري سړي ته د كور والا ښځه جلا اوسېدل نه دي په كار، مگر هو! كه چيري په قصد سره تر دې مودې زيات مېړه له ماينې جلا اوسيږي نو د محكمې په ذريعه ښځه نكاح فسخ كولاى سي:

"قال علمائنا إذا امتنع من الوطئ قصد الاضرار بالزوجة من غير عذر مرض او رضاع و ان لم يحلف كان حكمه حكم المولى و ترفعه إلى الحاكم"(احكام القرآن / ص: ۷۵ / ج: ۱)

"(۲) یجوز لکن ترك النظر اولی قال فی الهدایة الاولی ان لا ینظر کل واحد منهما إلی عورة صاحبه لقوله علیه السلام إذا اتی احدکم اهله فلیستتر ما استطاع و لا تجرد ان تجرد العیر اهـ "(شامیه / ص: ۲٤٦ / ج: ۵)

..د انجلۍ والاو له خوا و زوم ته د سرو زرو ګوتمۍ ورکول:

سوال: ...... شرعاً د زوم لپاره د سرو زرو ګوتمۍ اخیستل او د هغه استعمالول څرنګه دی؟ کوم چې په ودو کې د تحفې پر ډول ورکول کیږي.

جواب: ......په صورت مسئوله کې د ګوتمۍ اخیستل صحیح دي ولې چې هغوی پخپله خوشحالي سره ورکړې ده:

"الا لا یحل مال امرئ الا بطیب نفس منه (الحدیث)"

البته دهغې په ګوته کول د مېړه لپاره حرام کار دی: "لقوله علیه السلام حرم لباس الحریر و الذهب علی الذکور امتی و احل لاناثهم" (ص ۲۴۲ / ج: ۱ ترمذی)

البته هغه خرڅول او د هغه قیمت په استعمال کې راوستل جائز دي. (والله اعلم بالصواب)

..د کور والا مور او پلار د ملاوېدو څخه نه سي منع کولای:

سوال: ...... یو سړی د مور په وینا د کور والا مور او پلار د خپلې کور والا د لیده کاته څخه منع کولای سي او که نه؟

جواب: ......په هفتې کې یو وار مور او پلار د لیدنې څخه نه سي منع کولای، البته په مستقل ډول د دلې اوسېدلو څخه یې منع کولای سي.

"و قال بعضهم لا یمنع الابوین من الدخول علیها للزیارة فی کل جمعة و انما یمنعهم عن الکینونة عندها و به أخذ مشایخنا و علیه الفتوی و کذا لو ارادت المرأة ان تخرج لزیارة المحارم الخ فهو علی هذه الاقاویل" (خانیه علی الهندیة / ص: ۴۳۹ / ج: ۱)

د مـور احتـرام کوه طلاق ښه خبره نه ده، چي کله د مور او پلار ته ته حق اداء کـړې نو د کور والا سره په ښه ژوند کولو هیڅ نیول نسته بلکي د الله تعالی له خوا دې هم غوښتنه ده .

..د نکا ح ویلو طریقه:

سوال:...... د نکـا ح پـه وخت د مېړه او مایني تر مینځ په څه ډول اقرار وکړل سي الفاظ په عربي او اردو سره را وښیاست؟

جواب :...... د بالـغـي ښـځـي ولـي اولاً دي د بـالـغـي ښځي څخه په دې الفاظو د نکـا ح اجازه واخلـي، چي زه د دومره عوض په بدل کي ستا نکا ح د فلا ن بن فلان سره کول غواړم . آیا پر دې باندي ته راضي يې ؟ ښځه دي ووایي چي هو، بیـا دي د انجلۍ څخـه د اجازې اخیستـلو وروسته و زوم ته راسي او د خطبه مسنوني د ویلو وروسته دي په دې ډول ایجاب او قبول وکړي .

چي زه د فـلانـي بـنـت فـلان نـکـا ح د دومـره مهر پـه عوض ستا سره کول غـواړم، زوم دي ووایي چـي ما قبوله کړې ده بس نکا ح وسوه، ایجاب او قبول کـم از کـم د دوو نـارینه وو او یا د یوه نارینه او دوو ښځو په مخکي کېدل لازمي دي .

..سنت طریقه دا ده چي نکا ح دي د انجلۍ پلار ووایي:

سوال:...... د انـجـلـۍ نکا ح به د انجلۍ پلار خپله وایي او که د قاضي او یا یو عالم ویل بهتر دي؟

جواب :......د پـلار د خپـلـي لـور نـکـا ح پـخپله ویل ښه کار دی، اسنت هم دی ولـي چـي نبـي کـريـم ﷺ د خپـلـي لـور فـاطـمـې ؓ نکا ح پخپله ویلې ده لکه څرنګه چي ذکر سوي دي:

چـي : وسنت دریں باب آنست که ولی مخطوبه خود خطبه نکاح که مسنونست بخواند واز عاقدیں ایجاب وقبول کنند زیرا که آنحضرت ﷺ وقت نکاح حضرت فاطمه باحضرت علیؓ چنین بعمل آورده بودند۔ تـاسـو نور هم ښـه په تفصیل سره په فتاویٰ هادیه ج ۱ کي کتلای سئ

(مسائل اربعين في بيان سنة المرسلين / ص: ۳۱)

مكر دا هغه وخت دي چي ولي پخپله د نكاح دويلو صلاحيت او لياقت ولري .

او كه چيري، هغه د دې صلاحيت نه لري چي د نكاح خطبه دي ووايي او يا ايجاب او قبول وكړای سي، نو بيا چي هر څوک نكاح ووايي صحيح ده .

اگر قاضی غیر وکیل مذکور باشد در روبروئی آں وکیل ایجاب وقبول کنند نزد علمائے حنفیہ جائز است۔ (مسائل اربعين / ص: ۳۱)

..لنكوټه (سهرا) دزوم ورپرسر كول كه څه هم د ګلانو وي ناجائز ده:

سوال: ...... نن سبا د واده په مراسمو كي زوم ته لنكوټه (سهرا) ورتړله كيږي او دغه د واده يو لازمي رسم بلل كيږي ستاسي څخه غوښتنه ده چي د دې شرعي حكم بيان كړئ؟

جواب: ......لنكوټه (سهرا) زوم ته ورتړل دا خالص د هندوانو رسم او رواج دی له دې وجهي دا يو غير اسلامي كار دی، له دې څان ساتل ډېر ضروري دي ولي چي په حديث شريف كي راځي چي: "**من تشبه بقوم فهو منهم**" او د كافرانو سره مشابهت منعه دی لكه څرنكه چي حضرت شاه محمد اسحاق پخپله په مسائل اربعين كي ليكي:

"اما- ہرہ کہ از گل تیاری کنند ان ہم بسبب مشابہت کفار جائز نیست بلکہ ہار گل کہ بر سر نوشہ وعروس وقت نکاح یا بعد از ان می پندند بدعت است وماشبہ ست با کبر ان واز مشابہت کافران وگبر اہا احتراز لازم است۔"

..خورماوي غورځول سنت دي او كه وېشل:

سوال: ...... د واده په وخت كي خورماوي غورځول سنت دي او كه يې وېشل؟

جواب: ......په صورت مسئوله كي د واده په وخت كي خورماوي غورځول سنت دي:

"في الحديث: أن النبي ﷺ حضر في املاك (أي نكاح فأتي بطباق) عليها

جوز و لوزو تمر فنشرت فقبضنا ايدينا فقال ما بالكم لا تأخذون فقالوا الا لك عفيت من النبي فقال مما ينهتكم عن نهي العساكر خذوا على اسم الله فجاذبنا و جاذبنا"(اعلاء السنن / ص: ۱۱ / ج: ۱۱)

..د انجلۍ والاوو د هلک والاوو له کورنۍ څخه د واده د مصرف پیسې اخیستل:

سوال: ...... زموږ په سیمه کې رواج دی چې د رشتې کولو په وخت کې د هلک والاوو څخه څه پیسې اخیستل کیږي په کوم سره چې د واده مصارف په پوره کیږي داسې پیسې اخیستل جائز دي او که نه؟

جواب: ...... د داسې پیسو غوښتل ناجائز دي او د هغه بیرته ورکول لازمي دي:

"ومن السحت ما يأخذه الصهر من الختن بسبب بنته بطيب نفسه حتى لو كان بطلبه يرجع به"(رد المحتار كتاب الحظر و الاباحة / ص: ۲۷۲)

..د نبي کریم ﷺ د نابالغه د نکاح د ویلو ثبوت

سوال: ...... نبي کریم ﷺ د نابالغه انجلۍ نکاح ویلې ده او که نه، که یې ویلې وي نو حدیث راته ولیکئ؟

جواب: ......نبي کریم ﷺ د خپل اکا د لور حضرت امامهؓ نکاح د حضرت عمر بن ابي سلمة سره وکړه حال دا چې هغه نابالغه وه او پخپله نبي کریم ﷺ د حضرت عائشېؓ نکاح د اوو کالو په عمر کړې ده .

..د نکاح ویلو د اجرت حکم:

سوال: ...... زید نکاح خوان د عمر نکاح د بکر د خور سره او د بکر نکاح یې د عمر د خور سر وتړله، عمر او بکر په ګډه پنځه روپۍ د نکاح خوانۍ ورکړې ، زید انکار وکړ چې یا زه لس روپۍ غواړم کمې نه غواړم، آیا و هغه ته د دې اخیستل جائز دي او که نه؟ او که ناجائز دي نو اخیستل یې ورته جائز دي؟

جواب: ......د نکاح خوانۍ اجرت (لکه څرنګه چې په عرف کې دی) ناجائز

دی ولې چې جواز د اجارې لپاره ضروري دی .

(۱) آزادي مستاجر لـه چا څخه چې څومره غواړي اخيستلای سي او ورته ويلای هم سي .

(۲) آزادي اجير يعني څومره اجرت چې اخيستلای سي اخيستلای يې سي په دې شرط چې د سرکار له خوايو مقرر نرخ نه وي، مګر داشيان په عمل کې ورک دي، په دې وجه پر موجوده نکاح خوانۍ باندې د پيسو اخيستلو رواج صحيح نه دی، البته دا ډول يې جواز کېدلای سي چې په ښار، سيمه او يا کلي کې يو څو داسې نکاح خوانان وي چې هغه د نکاح په مسئلو باندې خبر وي .

او د چا چې کوم يو زړه غواړي بيايي او بيا فريقين چې څومره اندازه اجرت ورکړي هغه يې واخلي او نکاح خوان هم آزادي وي، له دې څخه څه فيس و قاضي منيب ته ور نه کړل سي .

او کوم څوک چې وغواړي اجرت هم د هغه پر ذمه وي، داسې نه چې د نکاح لپاره رابلونکی خو انجلۍ والا وي او ورکونکی بيا هلک والا وي نو په دې ډول دا اجاره جائز کېدلای سي، د دې حدودو او شرطو څخه په وتلو اجاره فاسده او ناجائزه ګرځي . (كذا في امداد الفتاوى / ص:٦٦/ ج:٣)

..و زوم ته د پيسو امېل ور په غاړه کول:

سوال: ...... و زوم ته د واده په وخت کې خپل قريبان د پيسو امېل ور په غاړه کوي او پر بعضو پيسو باندې عکسونه هم وي .

(۲) همداسې د حاجي صاحبانو په راتګ باندې، چې کله هغه پر ستېشن او يا اډې باندې کښته کيږي نو ملګري او قريبان هغه ته هم د پيسو امېل ور په غاړه کوي، حاجي صاحبان دغه امېل پخپله خوشحالي سره په غاړه کوي، نو زوم او حاجي صاحب ته دغه امېل په غاړه کول جائز کار دی او که نه ؟

مکروه تحريمي دی او که مکروه تنزيهي؟
د پيسـو امېـل په کومو کي چي عکس وي او په کومو کي چي عکس نه وي په دې کي فرق سته؟
جواب :...... د زوم او حاجيانو پـه غاړه د پيسو امېل ورکول دا محضي يو رواج دی لـه دې څخـه ځـان سـاتـل لازمي دی، د سلف صـالحينو د دې هيڅ ثبوت نستـه .

..په يوه مجلس کي که څو نکاحوي په يوه خطبه کافي دي:

سوال :...... د رائيـونـډ پـه اجتـماع کي په دريمه ور ځ يو مجلس جوړيږي په کوم کي چي ډېري نـکـاحـوي د انـجـونـو او هـلـکـانو تړلي کيږي او د هغـه صـورت دا دی چي يـو وار خطبه ويل کيږي او بيا ټولـه ايجاب و قبول کوي ،نـو آيا يـو ځل نکاح ويل د ټولو لپاره کافي ده او که به يې د هري يوې لپاره جلا جلا وايي؟
جواب :......پـه صـورت مسـئولـه کي يـو وار نکاح ويل کافي ده . ويل سوې خطبـه د ټولو لپاره کافي کيږي جلا جلا ويل يې ضروري نه دي . (کذا فی دار العلوم ديوبند / ص:۱۴۸/ ج:۷) .

..د مخطوبې د ليدلو گنجائش سته:

سوال :...... هلک خپله کېدونکې کور والا و نظر ليدلای سي او که نه ؟ شرعا د دې څه حکم دی؟ بينوا و توجروا .
جواب :...... د سړي د خپلي کېدونکي کور والا يو نظر ليدل په حديث کي د دې اجازت سته، البتـه د واده څخه له مخي د دوارو ليدنه او يا هر ډول تعلقات حرام دي .

باب القسم بين الزوجين في البيتوتة و المجامعة و الصحبة

سوال:......
ايا د ښځو په مابين کي ښځو عدل په جماع کي کوي که به يې نه کوي؟
جواب:......
جماع کول ښځي بنا ده پر خوشحالي باندي نو که يې په مابين کي خوشحالي وه بيا به برابري کوي او که نه وه بيا په جماع کي برابري ضروري نه ده ، خو بيا هم يو وخت يو وخت دي جماع هم ورسره کوي چي خواهش يې و زنا ته نه وسي:
”لا فى المجامعة كالمحبة بل يستحب و يسقط حقها ... و يجب ديانة احيانا ولا يبلغ مدة الايلاء الا برضاها و يؤمر المتجد بصحبتها احيانا و فى الرد المحتار: لانها تبنتنى على النشاط و لا خلاف فيه بل يستحب در المختار ۔ اما المحبة فهى يميل القلب و هو لا يملك فى الفتح ، و المستحب ان يستوى بينهن فى جميع الاستمتاعات من الوطى ، القبلة و كا بين الجوارى و امهات الاولاد ليحصنهن عن الاشتهاء للزنا و الميل إلى الفاحشة (قوله و يؤمر المتعبد) فى الفتح فا عا إذا لم يكن له الا امة واحدة فتشاغل عنها بالعبادة او السرارى اختار الطحاوى رواية الحسن عن ابى حنيفة ان لنا يوماً و ليلة من كل أربع ليال و باقيها له لأن له ان يسقط حقها فى الثلاث بتزويج ثلاث حرائر و ان كانت الزوجة امة فلها يوم و ليلة فى كل سبع و ظاهر المذهب ان لا يتعين مقدار لأن القسم معنى نسبى و ايجابه طلب ايجاده و هو يتوقف على ... فلا يطلب قبل تصدره بل يؤمر أن يبيت معها و يصلحها احيانا عن غير توقيت۔“

سـوال :......

پـه شپـه تېـرولـو يـا نـفـقـه يا نورو حقوقو كي فرق د ځواني ښځي او زړې، او مسلماني او كتابيې فرق سته او كه ټولي يو حق د تسويې لري؟

جواب :......

د پېغـلـي او كـونـډي، نـوې او زړې، مسـلـمـانـي او كتابيې يوحق دی پـه ايت شـريف كـي مـطـلـق راغـلـي: والبكر و الثيب والجديدة والقديمة والمسلمة و الكتابية (در المختار سورة الطلاق الاية، و فی الرد المختار : ای قوله تعالی و لـن تستـطـيـعـوا ان تـعـدلـوا ای فـی الـمـحبة فـلا تميلوا فی القسم قاله ابن عباس و قوله تعالی عاشروهن بالمعروف و غايته والقسم و قوله تعالی فان خـفـتـم الاتـعـدلـوا و لا طـلاق احـادی الا حـاديـث النهی و لأن القسم من حقوق الـنكا ح ولا تفاوت بينهما فی ذلک و اما ما روی من نحو للبكر سبعو للثيب ثلاث فيحتمل ان المراد التقبيل فی البدائة دو ن الزيادة فوجب تقديم الدليل الـقـطـعـی كـان فـی الـبـحـر و فی شر ح درر البحار أن الحديث لا يدل علی نفی التسوية بـل عـلـی اختيار الدور بالسبع و الثلاث جميعاً بينه و بين ما روينا . (فتـاوی رد المختار علی الدر المختار / ج:٢ / ص: ٤٢٤ . و مثله فی فتح الـقدير شرح الهداية / ج:٣ / ص:٣٠٠ و إذا كان للرجل امرأتا حرتا ن فعليه ان يـعـدل بينهـمـا فـی القسم بكرين كانتا او ثبين او احدهما بكرا و الاحدی ثيب لـقـولـه عليه السلام من كانت له امرأتان و مال إلی احدهما فی القسم جاء يوم القيمة وشقه مائل .

. . .

باب القسم فی النفقة و السفر

سـوال :......

مېره به ښځي ته څونه نفقه ورکوي معلومه به وي که نه؟

جواب :......

که زوج او زوجه دواړه غنيان وو بيا نفقه د غنيانو پرواجب ده او که فقيران وو بيا د فقيرانو ده او که يو غني و بل مسکين وو با متوسطه ده دامفتى به قول دى :

"و اما النفقة هى لا اكل والشرب واللبس و المسكن (قوله) فبما لهما اى انكانكل من الزوج والزوجة غنيين فالواجب نفقة الاغنياء اوفقراء او مختلفين فالوسط و هذا هو المفتي به كما مر"(در المختار على هامش رد المحتار / ج: ۲ / ص: ٤٣٥ ـ ومثله فى الفتاوى الهندية / ج: ۱ / ص: ۳٤۱)

سوال :......

په سفر کي د ښځو په مابين کي قسم تسوية يا برابر والى سته کنه؟

جواب :......

په سفر کي د سړي اختيار دى چي هره يوه ورسره بيايي خوښه يې خپله ده خو بيا هم ددوى د زړو د خوشحالي دپاره قرعه سره وکړي ښه کار دى:

"و لا قسم فى السفر دفعاً للحرج فلهالسفر بمن شاء منهن والقرعة احب تطيباً لقلوبهن "(در المختار) لانه لا يتيسر الا لجملهن معه و فى الزامة ذلك من القدر ما لا يخفى ـ(فتاوى رد المحتار / ج: ۲ / ص: ٤٣٥ ـ و مثله فى الهندية / ج: ۱ / ص: ۳٤۱ ـ وو مثله فى فتح القدير شرح الهداية / ص: ۳۰۲ / ج: ۳)

فصل فى بيان ان الضررتين و الضرائر هل يجوز جمعها أم لا فى مسكن واحد

سوال :......

ايا سړي ته دا روا دي چي دوې ښځي په يوه خونه کي بيده وي که نه دي روا؟

جواب :......

نه دي روا، جمع كېدل د دوو ښځو په يوه خونه يا كوټه كي، مګر كه د دوی خوښه وه بيا پروا نلري مګر بيا وطي د يوې په حضور د بلې كي مكروه ده:

"لا يجوز ان يجمع بين ضرتين او الضرائر فی مسكن واحد الا برضاهن للزوم الوحشة ولو اجتمعت الضرائر فی مسكن واحد بالرضا يكره ان يطأ احدهما بحضرة الاخرىٰ حتى لو طلب وطأها لم تلزمها الاجابة"

ســوال :......

د سړي دپاره دا جائز دي چي ښځه مجبوره كړي پر غسل د جنابت او د حيض او نفاس ؟

جواب :......

هو، كه ذميه نه وه دغه رنګه سړی ښځه مجبوره كولای سي پر خوشبويي په كور كي او پر ځان ښايسته كولو په كور ک او دغه رنګه منع كولای سي له داسي شي جوړولو څخه چي بد بويه وي:

"وله ان يجبرها على الغسل من الجنابة والحيض و النفاس الا أن تكون ذمية وجبرها على التطيب والاستحداد وله ان يمنعها من أكل ما يتأذى من رائحته و من الغزل هذا له ان يمنعها من التزين بما يتأذى بريحه كان يتأذى برائحته الحناء الحفذ و نحوه "(الفتاوی الهندية / ج: ۱ / ص: ۳٤۱ مسئلتين)

...

مطلب فی اقسام المتعة

ســوال :......

متعه څه وخت لازمه ده پر سړي او متعه و څه ته وايي، څو شيان دي؟

جواب :......

چې سړی ښځه طلاقه کړي له تر خلوت صحیحه او له مخه تر وطي او مهر يې نه وي ایښی بیا به متعه ورکوي چې هغه درې جامې دي ۱ . ادرع ۲ . خمار ۳ . و ملحفة :

”در المختار (و یجب متعة لمفوضة و هی من زوجت بلا مهر طلقت قبل الوطئ و هی درع و خمار و ملحفة لا تزید علی نصفه ای نصف مهر المثل) و تعتبر المتعة بما لهما ای فان کان غنین فلها الاعلی من الثیاب او فقیرین فالادنی او مختلفین فالوسط ، کالنفقة به یفتی - و ذکره الخصاف أنه الاشبه بالفقة و الارجع قول الخصاف لأن الولوالجی صححه و قال و علیه الفتوی “

درعه قمیص ته وایي او خمار و ټکري ته، ملحفة یوه جامه ده له سره بیا تر پښو پوري . څوک وایي ازار مقصد دا دی چې یوه جوړه کپړې سره له پروني ، او که يې ددې پر ځای پیسې ورکړې هم صحیح دي؛ و لو دفع قیمتها اجبرت علی القبول کما فی البدائع .(فتاوی درالمختار علی هامش رد المحتار / ج:۲ / ص:۳۶۵ و کذا مثله فی فتاوی قاضیخان / ج:۱ / ص:۳۸۴ . و مثله فی الهندیة / ج:۱ / ص:۳۰۴)

...

مطلب فی اقسام المتعة

سوال :......

متعه و کومې ښځې ته ورکوله کیږي مطلقې ته څو قسمه دي؟

جواب :......

څلور قسمه دي ۱ . چې ښځه طلاقه کړي له مخه تر دخول ، مهر يې نه وي ورکړی دلته متعه واجب ده . ۲ . بل دا دی چې مهر يې مسمی کړی وي دلته بیا نه واجب ده نه مستحب ۳ . بل دا دی چې وروسته له دخول څخه وي که يې مهر مسمی کړی وي که نه وي بیا مستحب ده ۴ . بل دا چې قاضي يې

پرلازم کړي نيم مهر:

"در المختار علی هامش رد المحتار / ج: ۲ / ص: ۳٦٤: فالمطلقات أربع ای مطلقة قبل الوطی او بعده مسمی لها او لا۔ و مثل فی الهندیة المتعة عندنا ثلاثة اوجه : متعة واجبة للمطلقة قبل الدخول و لم يسم لها مهراً (و مستحبة) وهی للمطلقة بعد الدخول و لا واجبة و لا مستحبة و هی للمطلقة قبل الدخول و قد مسی لها مهرا "(فتاوی هندیه / ج: ۱ / ص: ۳۰٤) .

...

مطلب فی العزل

سوال :......

ايا سړي ته عزل يعني مني بې له فرجه تويول روا دي کنه؟

جواب :......

هو، روا دي که د ښځې اجازه وه : بعض علماء وايي بې له اجازې هم روا دي:

"و يعزل عن الحرة و كذا المكاتبة باذنها لكن فی الخانية انه يباح فی زماننا لفساده(در المختار) و فی الرد المحتار : إذا لم مخيف علی الولد السوء لفساد الزمان و الا فيجوز بلا اذنها ۔ و يحتمل أن يريد بالمثل ذلك العذر كقولهم مثلك لا ... و يحتمل انه اراد الحاق مثلا هذا العذر به كان يكون فی سفر بعيد او فی دار الحرب فخاف علی الولد او كانت الزوجة سيئة الخلق و يريد فراقها فخاف ان تحبل و كذا ما يأتی فی اسقاط الحمل عن ابن وهبان"(در المختار علی الرد المحتار / ج: ۲ ۔ / ص: ٤١٢)

....

مطلب فی اسقاط الحمل

سوال :......

آيا حمل ساقطېدل يعني حمل غورزول ضائع كول روا دي كنه؟

جواب :......

"قال فى الدر المختار و رد المحتر على الدر المختار / ج: ۲ / ص: ٤١٢ : و قالوا يباح اسقاط الولد قبل أربعة اشهر و لو بلا اذن الزوج - و فى الدر المحتار : قال فى النهر بقى هل يباح الاسقاط بعد الحمل نعم بياح ما لم يتخلق منه شيئ و لن يكون ذلك الا بعد مأة و عشرين يوماً و هذا يقتضى ال--- ارادوا بالتخليق نفخ الروح و الا فهو غلط لأن التخليق يتحقق بالماشاهدة قبل هذه المدة كذا فى الفتح و اطلاقهم يفيد عدم توقف جواز اسقاطها قبل المدة المذكورة على اذن الزوج و فى كراة الخانية و لا اقول بالكل إذا لمحرم لو كسر بيض الصيد ضمنه لانه اصل الصيد فلما كان يؤاخذ بالجزاء فلا اقل من ان يلحقها اثم هنا إذا اسقطت بغير عذر"

مقصد داسو چي كه عذروو بيا اسقاط دحمل جائز دى بې له اجازې او كه عذر نه وو بيا بې له اجازې پر ښځه باندي ضمان سته خو چي (۱۲۰) شپو دمخه وي .

ابن وهبان ويلي دي چي عذرونه دا دي چي د ښځي شيدې ختمي سي وروسته له ښكاره كېدو دحمل ۲ . د پلار يې پيسې نه وي بلي ښځي ته مزدوري د شيدو نه سي وركولاى د كوچني پر مرګ بېرېږي . قال ابن هبان و من الاعذار أن ينقطع لبن بعد ظهر الحمل .

• • •

مطلب فيما يرسله إلى الزوجة

سوال :......

كه سړي و ښځي ته يو شى ور واستوه لكه د خوراک شى يا جامه يا پيسې يا بله شي له مخه تر واده او و يې نه ويل چي په مهر كي دي يا په تحفه كي دي

بیا یې دعوه وکړه چې په مهر کې وو ، ښځې وویل چې دا تحفه وه قول د چا معتبر دی؟

جواب :......

په در المختار کې وایي چې دا هدیه ده مهر نه ګرځي . که دعوه راغله سړی به قسم کوي او ښځه به شاهدان راولي که چیرې زوج قسم وکړي کوم شی چې ده ور استولی وو هغه موجود وو ښځه به هغه بیرته ورکوي بیا به مهر ځیني غواړي یا به ټوله ځیني غواړي ءیې نه وو ورکړی او که هلاک سوی شی وو بیا به حساب کوي چې له مهر سره برابر دی که نه که برابر وو بیا دیوه دپاره هم رجوع نسته:

"ولو بعث إلى امرأ ا شيئا ولم يذكر جهة عند الدفع غير جهة المهر لقوله الشمع او ناء ثم قال انه من المهر لم يقبل لوقوعه هدية فلا ينقلب مهر فقالت هو هدية وقال هو من المهر او من اكسوة او عارية فالقول له بيمينه و البينة لها فان حلف والمبعوث قائم فلها ان ترده و ترجع بباقى مهر"(فتاوى در المختار على هامش رد المحتار / ج: ۲ / ص: ۳۹٤)

مطلب الولد يتبع خير الابوين ديناً

سوال :......

اولاد به د مور او پلار په جلاوالي کې د کوم یوه تابع وي از روی دین ؟

جواب :......

په در المختار کې دي:

"والولد يتبع خير الابوين دينا ان اتحدت الدار "او په رد المحتار کې بیا وایي:" هذا يتصور من الطرفين فى الاسلام العارض بان كانا كافرين فاسلم او اسلمت ثم جائت بو.. قبل العرض على الآخر والتفريق او بعده فى مدة يثبت

النسب فی مثلها او کان بینهما ولد صغیر قبل اسلام احدهما فانه باسلام احدهما یصیر الولد مسلما او أما فی الاسلام الاصلی فلا یتصور الا أن تکون الام کتابیة و الاب مسلما"(فتاوی رد المحتار علی الدر المختار / ج: ۲ / ص: ۴۲۷)

خلاصه دا ده چې کوچنی به د مسلمان تابع وي چې په دوی دوو کې هر مسلمانو یا مسلمان سي خو په دوی دوو کې هر یو مسلمان شي بیا به پر دا بل باندې اسلام عرض کوي که یې نه کی قبول بیا دا حکم دی چې ذکر سو که دواړه مسلمان وو اصلي بیا داحکم نسته مګر که ښځه کتابیه وه او سړی مسلمان وو دده تابع ګرزي .

...

مسائل الاشتراک والفرقة

ما ثبت لجماعة فهو بینهم علی سبیل الاشتراك الا فی مسائل:

۱ ـ ولایة النکاح للصغیرة والصغیر ثابتة للاولیاء علی سبیل الکمال ـ

۲ ـ القصاص الموروث یثبت لکل من الورثة علی الکمال حتی قال الامام للوارث الکبیر استیفاؤه قبل بلوغ الصغیر بخلاف ما إذا کان لبالغین فان الحاضرة یمکه فی غیبة الأخر اتفاقا لاحتمال العفو ـ

۳ ـ ولایة المطالبة بازالة الضرر العام عن طریق المسلمین تثبت لکل من له حق المرور علی الکمال و الظابط ان الحق إذا کان مما لایتجزی فانه یثبت لکل علی الکمال فالاستخدام فی المملوك مما یتجزی ـ

۴ ـ الفرق ثلاثة عشرة فرقة ـ

سبع منها تحتاج إلی القضاء و ستة لا:

۱ ـ الفرقة بالجب ، والعنة ، و بالخیار ، البلوغ ، و بعد الکفاء ة ، و نقصان المهر ، و باباء الزوج عن الاسلام ، و باللعان ـ

٢ـ الفرقة بخيار العتق و بالايلاء و بالرد و تباين الدارين و بملك احد الزوجين صاحبه و في النكاح الفاسد۔ (الاشباه و النظائر لابن نجيم / ص: ١٤٧ مسائل جميعا ۔ كتاب النكاح)



مسائل متشتات فی النکا ح

١ ـ ليس لنا عبادة شرعت من آدم إلى الان ثم تستقر في الجنة الا الايمان والنكاح۔

٢ـ النكاح بقبل الفسخ قبل التمام لا بعده فلا تصح اقالته و لا ينفسخ بالجحود الا في مسألتين فيقبله بعد ردة احدهما و ملك احدهما الآخر۔

٣ـ يكمل المهر بأربعة بالدخول و بالخلوة الصحيحة وبوجوب العدة عليها منه سابقا و بموت احدهما۔

٤ـ للزوج ان يضرب امراته على أربع و ما بمعناها : على ترك الزينة بعد طلبها و على عدم اجابتها إلى فراشه و هي ظاهرة من الحيض والنفاس و على خروجها من منزلة بغير اذنه بغير حق و على ترك الصلوة في رواية و قد بينا في شرح كنز قولهم و ما كان بمعنها۔ (الاشباه والنظائر لابن نجيم / ص: ١٤٧ ۔ ثلاث مسائل۔)

٥ـ الفقير لا يكون كفواً للغنية كبيرة كانت او صغيرة الا ان يكون عالماً او شريفا كذا في الملتقط۔

٦ـ ادعت بعد الزفاف انها زوجت بغير رضاها فالقول لها الا إذا طاوعت في الزفاف ولو زوج بنته و سلمها الاب إلى الزوج فذهبت و لا يدرى اين ذهت لا يلزم الزوج طلبها كذا في الملتقط ۔

٧ـ لا ينبغي للقاضي ان يزوج صغيرة الا إذا كانت مراهقة تطلب ذلك منه ايضا۔

٨ـ تزوجها على انها بكر فاذا هي ثيب فعليه كمال المهر : و العذرة تذهب باشياء

فليحسن الظن بها كذا في الملتقط و لو غلط وكيلها بالنكاح في اسم ابيها و لم تكن حاضرة لا ينقعد النكاح ۔

۹۔يحبس من خدع بنت رجل او امرأته و اخرجها من منزلة إلى ان يأتي بها او يعلم بموتها كذا في الملتقط۔

۱۰ ۔ اختلفا في الصحة و الفساد فالقول لمدعي الصحة كذا في الخانية ۔(الاشباه و النظائر لابن نجيم / ص: ۱٤۹)

۱۱ ۔ لها أن تخرج بغير اذنه قبل ايفاء المعجل مطلقا و بعده إذا كان لها حق او عليها او كانت قابلة او غسالة اولزيارة ابويها كل جمعة مرة او لزيارة المحارم كل سنة و فيما عدا ذلك من زيارة الاجانب و عيادتهم والوليمة لا تخرج و لا باذنه۔ و لو خرجت باذنه كانا عاصيين ، و اختلفوا في خروجها للمحمام و المعتمد الجواز بشرط عدم التزين و التطيب۔

۱۲ ۔ينعقد النكاح بما افاد ملك العين للحال الا في لفظ المتعة فانه يفيد ملك العين لما هبة الخانية ۔ لو قال متعتك بهذا الثواب كان هبة مع ان النكاح لا ينعقد به۔

۱۳ ۔ لا يجوز للمرأة قطع شعرها و لو باذن الزوج ولا يحل لها وصل شعر غيرها بشعرها۔ (الاشباه والنظائر لابن نجيم / ص: ۱٤۸ ۔ مسائل ثلاثة)۔

☆......مسائل متشتات في الاقرار:

۱٤ ۔ الاقرار بالولد من حرة اقرار بنكاحها ،لا الاقرار بمهرها و قوله خذي هذا من نفقة عدتك لايكون اقراراً بطلاقها۔ و قوله اعطني مهري اقرار بالنكاح كذا في اقرار اليتيمة يجوز خلو النكاح عن الصداق و النكاح باقل من مهر المثل الا في صغيرة يزوجها غير الاب و الجد و محجورة و موكلة عينة۔

۱۵ ۔ النكاح لا يقبل الفسخ بعد التمام هكذا ذكروا بنوا عليه ان جحوده لا يكون فسخاً قلت يقبله لعبده في ردة احدهما كما بيناه في الشرح و اما طروه الرضاع

علیه و المصاهرة فعندنا یفسده و لا یفسخه کما فی الشرح۔ (الاشباه والنظائر لابن نجیم کتاب النکاح / ص: ۱۴۹)

۱۶۔ الوطئ فی دار الاسلام لا یخلو عن حداو مهر الا فی مسئلتین : تزوج صبی امرأة مکلفة بغیر ذان ولیه ثم دخل بها طوعاً فلا حد و لا مهر کما فی الخانیة۔ و لو وطئ البائع المبیعة قبل القبض فلا حد و لا مهر و یسقط من الثمن ما قابل البکارة و الا فلا کما فی بیوع الولوالجیة۔ (الاشباه و النظائر لابن نجیم / ص: ۱۴۸ مسئلتین)

۱۷۔ تزوج امرأة اخری و خاف الا یعدل لا یسعه ذلك، و ان علم انه یعدل بینهما فی القسم والنفقة و جعل لکل واحدة مسکناً علی حدة جاز له ان یفعل فان لم یفعل فهو مأجور لترك الغم علیها و فی زماننا و مکاننا ینظر إلی معجل مهر مثلها من مثله ۔ و اما نصف المسمی فلا یعتده به کلانه قد یمهر خمسین الف دینا و لا یعجل الا اقل من الف ثم ان شرط لها شیئا معلوما من المهر معجلا فأوفاها ذلك لیس لها ان تمنع و کذا المشروط عادة نحو الخسف و المکعب و دیباج اللفافة و دراهم السکر علی ما هو عرف مسمی سمر قند فان شرطوا لا یدفع شیئا من ذلك لا یجب ، و ان سکتوا لا یجیب الا ما صدق العرف من غیر تردد فی الاعطاء بمثلها من مثله ، و العرف الضعیف لا یلحق المسکوت عنه بالمشروط کذا فی الملتقط۔



باب المفقود

د مفقود (نادركه ورك) د مرګ د حكم موده:

سـوال :......

د مفقود په مرګ باندي د څو كلونو وروسته حكم كيږي؟

جواب :......

له (۹۰) كلونو وروسته:

"لان الغالب الشائع موته في ذلك المدة ـ "(درر الحكام / ص: ٥٠ ، المادة ٤٣ المعروف عرفا كالمشروط شرعاً)

يـعني كه څه هم يې تصريح نه وي پرې كړي نو معروف داسي دى لكه چي يـې تـصريح پـرې كـړي وي لـه وجهـي د دلالت د عـرف په دغه باندي (فتاوى هادية / ج:۲ / ص:۵۴)

د مـفقـود د ښځي دپاره د إمام مالک صاحب رحمه الله او د مالكية وو په نزد د مـفقـود د زوجيت څخه جلا كېدل په دار الاسلام كي داسي طريقه ده چي ښځه بـه د قـاضـي پـه مـحـكمه كي مرافعه وكړي او د شرعي شهادت سره يې ثابته كـړي چـي زمـا نـكـا ح د فلانكي سړي سره سوې ده، كه چيري د نكا ح عيني ګـواهـان مـوجود نه وي نو په دې وخت كي بيا شهادت بالتسامع هم كافي دى . يـعـنـي د عـام شهـرت پـه بـنـا بـانـدي هم شهادت وركول كېدلى سي، او ددې وروسـتـه دي د شاهدانو په ذريعه د هغه مفقود والى ثابت كړي او بيا به قاضي پـخپـلـه ددې مـفـقـود سـړي پـلټـنه او معلومات كوي ، او كله چي د معلوماتو څخه مـايـوس سي نو ښځي ته به څلور كاله نور هم د انتظار حكم وكړي كه

چيـري بيـا هـم پـه دې څلـورو كـلـونو كي دننه د مفقود پته معلومه نه سي نو مفقود به ددغو څلورو كلونو د مودې په ختم كېدو باندي مړ ګڼل كيږي .
او همدا رنګه د څلورو كلونود ختمېدلو وروسته به څلور مياشتي او لس ورځي د وفـات عـدت تېروي . او بيـا بـه يې ښځي ته په بل ځای كي د نكا ح كـولـو اختيـار وي . او اوس د څلورو كلونو د وخت د تېرېدو څخه وروسـتـه بـه بيـا مـحـكـمې ته ورځي احاضريږي به، او د فات د عدت دپاره د قاضي څخه د حـكـم حـاصـلول د مالكيه وو په نزد ضروري نه دي بلكه د قاضي قضا يواځي پـه اول وخـت تـاجيـل پـه وخـت كي ضـروري دی . د زيـات تفصيل دپـاره دا كتابونه وګورئ:
المنتقىٰ للباجى المالكى / ج:۵ / ص: ۳۰۳ .
كتـاب الاقضية . و مثله فى شر ح الدرر / ج: ۱ص ۴۰۰ . حيث قال الخليـل فيؤخل الخ .
مدونة / ج:۲ / ص: ۱۵۷ . و مثـلـه فـى شر ح الدردير / ص: ۳۹۹ . و مثله فـى الفتاوى الهندية / ج:۲ / ص: ۵۲۴، باب الثانى عشر فى العنين . و مثله فـى در الـمـحـتـار / ج:۲ / ص: ۵۱۵، بـاب الولى . و مثله فى تشريح الوافي / ج:۲ / ص: ۴۳، ۴۴ .



﴿باب العنـين﴾

(د نامرد احكام او مسئلې) د عنين د ښځي حكم:

سـوال :......

ديوې نجلۍ لـه كوم هلک سره نكا ح وشوه او لـه واده نه وروستـه معلومه شوه چي هـلک عـنيـن (نـامـرده) دی او د زوجيت حقـوق نه شي ادا كولی او په علاج

کی آباد وه بیا دیو جنجال په وجه د خپل ورور کره بیرته راغلل درې کاله بعد یو مولوی صاحب بیله کفؤ او بیله اجازت د ولی د نکاح پر باطل والی یی فتویٰ حاصله که بیل طلاقه یی ددې کونډې مذکوری نکاح ددې فتوی له وجهی وکړل اوس هغه ښځه ددې حامل رقعی سره ده او فتوی هم حاضره ده:

ایما امر نکحت بغیر أذن ولیها فنکاحها باطل باطل باطل الحدیث

دې مولوی څه لیکلی دی ویی وگوری او ځواب راکړی چی شرعا څه حکم دی او همدا راز کونډه د مغل خاندان څخه ده او اوس چی یی د چا سره نکاح کړې ده هغه د اعوان خاندان سره تعلق لری؟

جواب: د مذکوری ښځی نکاح ثانی جائز نه ده د میړه څخه یی طلاق اخستل ضروری دی مغل او اعوان خاندان تقریبا هم کفؤ دی ښه خبره داده چی نکاح یی ولی ورلره وکړی مگر بیا هم که چیری ښځه بیله اجازې د ولی نکاح وکړی نکاح یی صحیح ده

ینعقد نکاح الحرة العاقله البالغه برضائها و ان لم ینعقد علیها ولی بکرا کانت او ثیبا . . الخ (هدایه ص ۲۹۲ ج۲) فقط والله اعلم بالصواب .

ډولزن دعالم کفو نه دی .

سوال؟ د مسملة جعفری خانم پلار وفات سو هغه انجلی عاقله بالغه ده د هغې حقیقی ورور هم سته کوم چی تر دې مشر دی هغه هم عاقل بالغ دی دغه هلک او انجلی د مسلم راجپوت قبیلې څخه دی دغه همسایه یو قصایې یعنی د قصایی ذات سره یی تعلق دی دغه قصای هلک جعفری خانم پخپل چم او چالبازی کی راوستلی او د هغې سره یی په پټه

رجسټري نکاح کړې ده کله چې د انجلۍ ورور او مور خبر سول هغوی په سختۍ سره دا کار بد وګڼۍ او انجلۍ یې پخپله قبضه کې واخسته ولې چې دغه نکاح قصایي هلک بیله اجازې د ولي کړې وه دا نکاح منعقد نه سو قصائي او راجپوت دپنجابي اقوامو څخه دیلکه څرنګه چې به بهشت زیور څلورمې حصې کې د ولي په بیان کې په مسئله نمبر (۳) دریمې کې داسې ذکر دی (بالغ یعنې ځوانه انجلۍ خود مختاره ده که نکاح کوي او که یې نه کوي که چیرې خپله نکاح یو ځای وکړي نو نکاح یې صحیح ده که ولي په خبر وي او که نه وي او ولي په خوشحاله وي او که نه وي په هر ډول یې نکاح صحیح ده البته که چیرې یې نکاح د خپل ذات څخه په کښتې خلګو کې کړې وي او ولي په دې سره نه وي خوشحاله نو بیا فتوی پر دې ده چې نکاح یې نه کیږي په حواله د عالمګیری ص۳۰ ج۲ راجپوت ذات غټ او قصایي ذات کوچنی شمیرل سوي دي په دې صورت کې د راجپوت انجلۍ نکاح د قصایي هلک سره بیله د ولي د رضا مندۍ نه سي کیدلای آیا دا صحیح دي د نکاح وروسته یې هیڅ آواز وانه وریدل سو .

جواب: د واقعې د صحت په صورت کې د مسماة جعفري او عبد القدیر تر مینځ نکاح شرعا نه ده منعقده سوې ولې چې عبد القدیر د جعفري هم کفؤ نه دی په هندیې کې راغلي دي روی الحسن عن ابی حنیفة ان النکاح لا ینعقعد و به اخذ کثیر من مشائخنا کذا فی المحیط والمختار فی زماننا للفتوی روایة الحسن ص۲۹۳ ج۱) لهذا د طلاق اخستلو پرته بل ځای د نکاح کولو حقداره ده .

.. د کومې ښځې چې هیڅ ولي نه وي د هغې هم په خپل غیر کفو کې

نکا ح کول صحیح ده:

سوال:......

یو ه ښځه سیده، هاشمیه ،عاقله، بالغه عمر ۲۵ کاله، خپله نکا ح يې د غیر سید سني مسلمان سره وکړه، د ښځي پلار او ټوله خاندان شمسي شیعه ګان دي کوم چي حضرت عليؓ ته د خدای درجه ورکوي هغه پر دې نکا ح باندي راضي نه دي آیا دا نکا ح صحیح ده؟

جواب:......دمذکوري ښځي اولیاء که چیري واقعتاً کافران دي نو هغوی ته پر دې ښځي ولایت حاصل نه دی او د سیدي ښځي نکا ح د غیري سید هلک سره جائز ده، لکه څرنګه چي د حضرت عمرؓ نکا ح د حضرت فاطمیؓ د لور ام کلثوم سره وسوه د کوم ثبوت چي د شیعه سني په ټولو کتابو کي موجود دی ، لهذا مذکور بالا نکا ح صحیح سوه .

”وقد مر اول الباب ان من الاولی لها فنکاحها صحیح نافذ مطلقا ولو من غیر کفه .... او بدون مهر المثل“ (فقط و الله اعلم بالصواب)

..تر ډېري مودې د پوښتني په نه کولو ولایت نه ختمیږي:

سوال:......یو سړی د کورني جنجال په وجه خپله ماینه، زوی او لور د کوره و ایستل، او تر اولس کالو پوري يې پر هغوی هیڅ پوښتنه و نه کړه، او نه يې هم طلاق ور کړی او چي کله يې دوهم واده وکړی هغه خپل د نابالغي انجلۍ نکا ح یو ځای وکړه چي کله محکمې ته رجوع وکړل سوه محکمې هغه نکا ح باطله وبلله آیا داسي کول صحیح دي؟

جواب:......دومره اوږده موده د اولاد پوښتنه نه کول سخته ګناه ده، د دې سره سره بیا هم د پلار د ولایت حق نه ختمیږي، لهذا ده چي د کوچني والي په حال کي کومه نکا ح ددې نابالغي انجلۍ کړې ده هغه بالکل صحیح ده او منعقده او لازمه ده، د پلار په ورکړل سوي نکا ح کي خیار بلوغ هم نسته لهذا د عدالت ختمول د نکا ح معتبر قول نه دی .

"ویجوز النكاح صغير و الصغيرة او ثيبا(إلى قوله) فان زوجها الاب اوالجد فلا خيار لهما بعد البلوغ "(هدايه / ص: ۲۹٦ / ج: ۲)

..له سيده مسئيو سره بې له اجازت داولياؤ د نكاح حكم:

سوال: ...... مسمى اختر محمد مسئو ساكن نيو ملتان پر ويزيټ ويزه امريكې ته تللى وو، هغه يې د مسماة خرم شاه سره ياري سوه كله چې د اختر محمديو ملګري په دې قصه خبر سو، نو هغه اختر محمد د ګناه څخه د ساتنې په غرض څلور ګواهان خپل دځان سره بوتلل او اختر محمد او خرم شاه يې هم دځان سره بوتلل د مسجد ملا ته ولاړل او په شرعي ډول يې د دوی نكاح سره وكړه حال دا چې د اختر محمد عمر (۱۹) كاله وو او د خرم شاه عمر (۱۷ كاله وو مګر د مولوي صاحب او څلور ګواهانو او زوجينو پرته هيڅ چا ته دواده كېدلو علم نسته، تر دې ځايه چې د زوجينو مور او پلار هم په دې نه دي خبر لو بيا چې كله داختر محمد مور او پلار په دې خبر سول نو هغه خوابدي سوه او دانجلۍ پلار ته يې هم وويل د انجلۍ پلار وويل چې صحيح ده چې نكاح يې سوې ده نو زما انجلۍ شپږ مياشتې بعده فارغه كيږي نو هغه خپل كور (پاكستان) ته بوزه اوس هلك محمد اختر چې كله پاكستان ته بيرته راتلی نو هغه خپلي كور والا ته وويل چې كه چيري ته پاكستان ته راتلل غواړي نو دلته زما ورور دی و هغه ته وايه هغه به تا پاكستان ته راورسوي، اوس اختر محمد پاكستان ته راغلی لو انجلۍ په امريكه كي ده همدا راز په نكاح كي پنځوس زره ډالره (ـــ٥) مهر مقرر سوی وو، مګر اختر محمد پخپلي كور والا باندي ټوله مهر بخښلی وو او د حاصلولو دستخط يې په كړی وو چې خرم شاه مهر وصول كړی دی، لوس انجلۍ (خرم شاه) په امريكه كي ديو مفتي څخه پوښتنه كړې هغه وايي چې نكاح مو صحيح نه ده، تا ګناه كړې ده لهذا توبه او استغفار وكړه او بل ځای نكاح كولای سې اوس پوښتنه دا ده چې شرعا په

ذكر سوي صورت كي نكا ح سوې ده او كه نه ؟ نيز په امريكه كي د موجود مفتي صاحب فتوى هم ستا په خدمت كي درليږم هغه هم وواياست چې صحيح ده او كه نه؟ جواب راكړئ او ثواب تر لاسه كړئ .

جواب :...... په دې صورت مسئوله كي د راكړل سوې نكا ح نامې مطابق چونكي انجلۍ سيده ده او هلك د كمي درجې د قوم دى لهذد مفتى به قول مطابق دا نكا ح نه ده سوې، وروسته د وليانو په اجازه هم نه سوه صحيح ولي چي نكا ح د سره منعقد سوې نه وه، ولي چي اجازه د موقوف لپاره كېدلاى سي د غير منعقد لپاره نه:

" ثم المرأة إذا زوجت نفسها من غير كفء صح النكاح في ظاهر الرواية عن ابى حنيفة رحمه الله تعالى وهو قول ابى يوسف رحمه الله تعالى آخرا وقول محمد رحمه الله تعالى آخراً ايضا حتى أن قبل التفريق يثبت فيه حكم الطلاق و الظهار و الايلاء والتوارث و غير ذلك ولكن للأولياء حق الاعتراض و روى الحسن عن ابى حنيفة رحمه الله تعالى أن النكاح لا ينعقد و به أخذ كثير من مشايخنا رحمهم الله تعالى في المحيط المختار في زماننا للفتوى رواية الحسن"(هنديه / ص: ۲۹۲ / ج: ۱ ، الباب الخامس في الاكفاء)

..د عصبات په موجوديت كي و نيكه ته ولايت حق نسته :

سوال :...... څه وايي علماء كرام د دې مسئلې په اړه چي غلام محمد و غلام سرور دواړه د اكا زامن دي غلام محمد مړ سو نو يې يوه نابالغه لور مسماة راجن مائي پرېښول د كومي عمر چي تقريباً ٦ كاله وو، د غلام محمد كونډي (رحمت مائي) او خوسريې دا انجلۍ نكا ح د ولي حقيقي غلام سرور د اجازې پرته كړې ده، د نكا ح په وخت كي غلام سرور شپږ ميله ليري وو هغه چي كله په دې باندي خبر سو نو څو خلك يې له ځان سره بوتلل او د انجلۍ مور او نيكه ته يې وويل چي دغه نكا ح زما نه ده خوښه او نه مي هم اجازه ده، نو اوس آيا د غلام محمد د اجازې پرته دا نكا ح شرعاً

جائز ده او که نه؟
جواب :...... د عصباتو د موجودیت په وخت کي و مور او نیکه ته د ولایت نکاح حق حاصل نه دی نو لهذا د دوی کړل شوې نکاح موقوفه ده د غلام سرور پر اجازت باندي، د هغه پر ردولو سره ختميږي:
"فلو زوج الا بعد حال قیام الاقرب توقف علی اجازته"(الدر المختار علی الشامیة / ص: ۳٤۰ / ج: ۲)
..د زنا څخه د پیدا سوې انجلۍ ولي زاني نه سي کېدلای :
سوال :...... څه وایي علماء کرام د دې مسئلې په اړه چي یوه ښځه طوائفه (زانیه) ده، د دې ښځي ناجائزه تعلقات د دې ښځي سره وه، د زید څخه یې حمل پیدا سو بیا زید د دې ښځي سره تعلقات وشکول، ښځي بیا ناجائز تعلقات ورسره شروع کړه، د ښځي څخه یوه حرامي انجلۍ پیدا سوه، د کوچني والي په وخت بکر د طمع نفساني په وجه د هغې د مور د نه منلو دغه انجلۍ و عمر ته په نکاح ورکړه، خو اوس انجلۍ ځوانه سوې ده، اوس نه انجلۍ پر دې نکاح باندي رضامنده ده او نه هم د هغې مور کوم چي د مخه لا هم نه وه راضي آیا په داسي صورت کي د بکر ولایت جائز بلل کېدلای سي نکاح یې صحیح کېدلای سي او که نه ؟
جواب :...... مذکوره سړی د دې مذکوري انجلۍ د نکاح متولي وو نه د دې وجهي د ده کړل سوې نکاح لازمه نه ده، لهذا دغه انجلۍ او د هغې مور د خپل فکر موافق د دې انجلۍ نکاح په یو بنه ځای کي کولای سي .
..آیا په ولایت کي مشر او کشر ورور سره برابر دي :
سوال :...... څه وایي علماء کرم د دې مسئلې په اړه چي یوه نابالغه انجلۍ ده د هغې دوه ورونه دي، د مشر ورور په غیر موجودیت کي یې د دې انجلۍ نکاح کړې ده، اوس یې مشر ورور په دې نکاح نه دی راضي، آیا شرعا کوچنی او مشر ورور په ولایت کي سره برابر دي او که نه؟

جواب :...... دانجلۍ وروركوم چې په نكاح كې شامل وو كه چيرې هغه په دې وخت كې عاقل او بالغ وو نو بيا دا نكاح وشوه، ولې چې كوچنى او مشر ورور په ولايت كې سره برابر دي .

هكذا مفهوم من كتب الفقه لهذا بې له طلاق حاصلولو د دې انجلۍ نكاح بل ځاى كول صحيح نه ده .

.. كه چيرې يو عصبه نه وي نو د ولايت حق چا ته دى:

سوال :...... محمد بخش ولد الله بخش كوم چې د الله يار مرحوم د خالد د لور زوى دى، هغه د الله يار مرحوم د نابالغې لور مسماة منظور الهي نكاح د محمد بخش ولد خدا بخش سره وكړه، د نكاح په وخت كې يې چې كله و مور ته وويل شوه نو هغې وويل چې كه چيرې زما مشره لور او زما مشر زوم پر دې راضي سي نو زه هم راضي يم، مګر محمد بخش ولد الله بخش هغوى په راضي كولو كې ناكامه سو، د دې وجهې څخه د الله بخش كور والا نه د نكاح په وخت راضي وه او نه هم وروسته، مګر نكاح يې په زوره وكړل شوه، او د انجلۍ مور يې په وهلو ټكولو په ويوه خونه كې بنده كړه، د انجلۍ مور كرم خاتو وايي چې زه نه د نكاح په وخت كې راضي وم او نه هم اوس راضي يم ، او نـه هم خپلـه لور وركول غواړم او نـه يې هم اوس غواړم او نه يې هم هيڅ كله وركوم همدا سي د منظور الهي ورور كوم چې د نكاح په وخت نابالغه وو او اوس هغه بالغه دى هغه هم پر دې نكاح باندې نه دى راضي شرعاً دا نكاح سوې ده او كه نه ؟ او دغه انجلۍ اوس يو بل ځاى نكاح كولاى سي او كه نه ؟

جواب :...... محمد بخش ولد الله بخش ته د مسماة منظور الهي د نابالغې د نكاح ولايت حاصل نه وو، بلكې د نكاح شرعي حق يې و مور ته وو، لهذا د محمد بخش وركړل سوې نكاح د انجلۍ د مور پر اجازې باندې موقوفه وه، نو چې كله هغې رد كړل دا نكاح باطله سوه پس په صورت مسئوله كې د

صحيح کېږلو په شرط و انجلۍ ته دا حق حاصل دی چي دوهم ځای چي چيري يې زړه غواړي نکاح دې وکړي، مخکنی نکاح باطله ده.
"قال فی الدر المختار فان لم يکن عصبة فالولاية للام .... الخ(ص ۲۴۹ / ج: ۲)
و نـکاح عبد و امة بغير اذن السيد موقوف علی الاجازة کنکاح الفضولی سيجئ فی البيوع توقف عقود کلها ان لها مجيز حالة العقد و الا تبطل (ص ۴۴۹ / ج: ۲)"
په کفائت کي يوازي د اسلام اعتبار دی او که د نورو امورو هم له کفوي څخه څه مراد دي او د مهر مثل څخه څه مراد دي، زيد د کفؤ تفسير په دې ډول کوي چي کفؤ مشتق ده د کفائة څخه بالفتح په معنی د مساوات او وايي چي "الکفاءة معتبرة فی النکاح قال عليه السلام الا لا يزوج النساء الا الاولياء و لا يزوجن الا من الاکفاء (هداية اولين / ص:۳۵)
و إذا تزوجت المرأة نفسها من غير کفؤ فللاولياء ان يفرقوا بينهما (اهـ) و الاصل فيه قوله عليه السلام قريش بعضهم اکفاء بعض بطن الخ" نو زيد وويل چي کم قوم والا د اعلی قوم والا هم نسب نه دی، لکه غير هاشمي د هاشمي، کفؤ نه دي البته که چيري ښځه کښته قوم والا وي او نارينه پورته قوم والا وي نو دا صورت د کفؤ څخه هم لوړ دی، د دې وجهې څخه دا جائز دی مکر بکر وايي چي د کفؤ او غير کفؤ الفاظ چي چيري راغلي هلته د اسلام او غير اسلام فرق دی، مسلمانان ټول يو تر بله سره کفؤ دي، مکر زيد وايي چي د کفؤ او غير کفؤ ذکر د مسلمان په اعتبار سره دی څرنګه قول صحيح دی، همدا راز زيد وايي چي د مهر مثل تشريح هدايه والا داسي کوي "مهر مثلها يعتبر باخواتها و عماتها و بنات و اعمامها الخ" صحيح دي، مکر بکر وايي چي دا صحيح نه دي مکر مهر پر هستی طاقت باندي دی، زيد وايي صحيح دی مکر د لسو درهمو سپينو زرو څخه بايد کم نه وي د چا قول صحيح دی؟
جواب: په دواړو امورو کي د زيد قول صحيح دی. (فقط و الله اعلم بالصواب)
..عالم باعمل د سيد زادې کفؤ دی:

سوال:...... واضحه دي سي كه چيري يو سيد زاده ښځه د بدكارىٔ ځخه د ځان ساتني په غرض پخپل خواهش د يو امي سره واده وكړي، نو په شرع شريفي كي خو به يو بنديز نه وي ، نو اوس د هغې نكاح دي وكړل سي او كه نه؟

جواب :......كه چيري هغه غير سيد عالم باعمل دى نو بى ددې سيد زاد كفؤ كرځي او د دې نكاح د ديسړي سره كېدلاى سي، او په وارثانو كي هيڅ چا ته هم د اعتراض حق حاصل نه دى .

او كه چيري هغه عالم نه وي نو بيا هغه د دې سيد زادې كفؤ خو نه دى مگر نكاح يې بيا هم د دې سړي سره صحيح ده، مگر په دې صورت كي د وارثانو رضامندي ضروري ده، كه چيري د دې سړي سره وارث د نكاح پر كولو باندي راضي نه وي، نو بيا يې نكاح نه صحيح كيږي .

"كما فى الشامى / ص: ۳۲۳ / ج: ۲ : فالعالم العجمى يكون كفؤ للجاهل العربى و العلوية لان شرف العلم فوق شرف النسب فقط و الله اعلم بالصواب"

..كه په غير كفؤ كي قريبان خوابدي وي نو هم يې نكاح كولاى سي:

سوال:...... زيد د خپلي لور واده په غير قوم كي د دې وجهي كړي چي پخپل قوم كي يې يو ذي علم او ښه سړى نسته، په دې خبره كي د زيد سكه ورور او خور هم د ده سره موافق دي مگر سكه اكا په دې خوابدى كيږي او قطع رحمي اختياروي او مطلب يې محضي دنيوي غرض دى ، پوښتنه دا ده چي زيد خو به په داسي كولو سره گناهكاره كيږي نه؟

جواب :......"ولو زوج ولده الصغير من غير كفؤ بان زوج: ابنته امه او ابنته عبدا جاز وهذا عند ابى حنيفة كذا فى التبيين هنديه (ص ۱۵ / ج: ۲)"

له دې وجهي څخه و پلار ته حق حاصل دى چي هغه خپل د لور نكاح په غير كفؤ كي وكړي او د پلار دغه حق د يو بل قريب په رضامندىٔ پوري اړه نه لري، لكه څرنگه چي د جزي خبرو څخه ښكاري، نو د پلار دغه كار

پـه هيـڅ صورت کې ګناه نه ده، نو په داسې صورت که چيرې يو قريب او يا اکـا قـطـع تعلق وکړي نو دا قطع تعلق د هغه لخوا بلل کيږي د زيد لخوا نه، مـګـر زيـد تـه په کار ده چې د دې قريب په تعلقات د ښخوا په شان و اوسې او په دې کې کمې را نه وړي .

"قال عليه السلام صل من قطعك (الحديث)" معلومه دې وي چې د هر غير قوم کېدو غير کفؤ والى ضروري نه دى . فقط و الله اعلم بالصواب .

..فاسق ، فاسقه د بنت صالح کفؤ نه سي جوړېدلاى :

سوال :...... کـه ديو شريفي کورنۍ ښځه د خپل پلار ګنې د اجازې پرته په يو جاهلې او رذيلې کورنۍ کې نکا ح وکړي، نوشريعت مطهره دغه نکا ح چې پـه غيـر کـفـؤ کـې يې کړې ده جائز بولي، او که نه؟ حال دا چې د ښځې خاندان علـمـي خلک او د هره لحاظ لوړه کورنۍ بلل کيږي، مګر د ښځې چال چلن او داسې نور صحيح نه دي او د دين د احکامو پابندي هم نه کوي؟

جواب :...... پـه صـورت مسئـولـه کې دغه نکا ح په وجه د خيار کفائت قابل د فسـخې نـه ده، ولـې چې دغـه ښځه پخپله هم فاسقه ده او فاسقه بنت صالح د فـاسق سړي کـفؤ ده، پس د دې مذکوره سړي او مذکورې انجلۍ خپل مينځې نکا ح کفؤ ده .

"والدليل عليه ما في الشامية قلت والحاصل ان المفهوم من كلامهم اعتبار صلاح الكل و ان اقتصر على صلاحها او صلاح آبائها نظر إلى الغالب من ان صلاح الولد والوالد متلازمان فعلى هذا فالفاسق لا يكون كفؤاً لصالحة بنت صالح بل يكون كفؤا لفاسقة بنت فاسق و كذا الفاسقة بنت صالح كما نقله في اليعقوبية فليس لابيها حق الاعتراض لان ما يلحقه من العار ببنته اكثر من العار بصهره"(باب الكفارة / ص: ٣٤٨ / ج: ٢)

..نېک عالم سړى د ښه خاندان کفو دى :

سوال :...... يوې کـونـډې خپـلـه نکا ح ديو ديندار او عـالم سړي سره کړې ده،

كونده وايي چي دغه نكاح زما د وليانو څخه پټه وساتئ، ولي چي هغه د يو دنياداره سره زما نكاح كول غواړي، په دې ډول به زما د اولادو راتلونكي خراب سي، د دې عالم تعلق د يو ښې كورنۍ سره دى، حال د اچي د كونډي د كورنۍ څو ښځي د دې عالم دين په كور كي وركول سوي دي، او هم دا چي ډېر خلك د ښځي خاندان د قريشي تسليمولو څخه ځان ساتي، د دې عالم دين جائيداد هم تر دې كونډي زيات دى د دې نكاح څه حكم دى؟

جواب:......په صورت مسئوله كي دغه نكاح لازمه سوې ده، او صحيح سوې ده، د ښځي وليان هغه نه سي ختمولاى، ولي چي دا په كفؤ كي سوې ده .

”في الجامع قاضي خان الحسب يكون كفؤ للنسيب فالعالم العجمي يكون كفؤا للجاهل العربي إلى انقال و زادوا لعالم الفقيه يكون كفؤا للغني الجاهل و الوجه فيه ظاهر لان شرف العلم فوق شرف النسب فشرف المال اولى“

.. كه يو شيعه سړى خپل ځان سني وښيي او بيا يې په شيعيت سړى خبر سي نو وليان دا نكاح فسخ كولاى سي:

سوال:......يو سړى د خپل لور د وركولو په وخت كي په دې انكار وكړى چي هغه سړى شيعه وو، مګر نكاح كونكي سړي د څو كسانو مخ ته دا اقرار وكړى چي زه نه يم شيعه، د دې اقرار وروسته هغه دوستي ورسره وكړه، له دواړو خواوو نكاح وسوه يعني دوستي كونكو خپل د نابالغي لور نكاح دوى ته وركړه، څه وخت وروسته هغه كور والا د خپلي پلار ګنۍ سره د ملاوېدو په غرض بوتله او بيا يې ښځه هلته بندي كړه او پر شيعيت باندي يې هم مجبوره كړه، او ټولو پر صحابه كرامو باندي بدي بدي خبري كول شروع كړې، او ماينې ته يې وويل چي ته هم صحابه كرامو ته بد او رد ووايه، چونكي هغه اهل سنت والجماعت ښځه وه نو هغې انكار كوى، هغه انجلۍ د خپلي پلار ګنۍ كره هم نه پرېښوله د ډېرو كوششو وروسته

دغـه انـجلـۍ خپـل پلار کور ته راوستله چونکي لور د ده وه نو په زوره يې ځيني راوستلهٔ اوس بنځه و هغه کور ته ورتلل نه غوړي او نه يې هم پلار د شيعيت په ور استوي نو شرعاً جواب راکړئ؟

جواب:...... پـه صـورت مسئـولـه کـي هلک خپل ځان د سني توب په حال کي ښـکاره کـړی او نـکاح يې کړې ده او د انجلۍ پلار ګنی د ده پر شيعيت بالکل عـلـم نـه درلودی بلکي هغه قسماً ويلي وو چي زه سني يم، لهذا دغه نکاح په غيـر کفؤ کي د کېدو له وجهي فسخ کېدلای سي، هر هغه حاکم، مجسټريټ، يـا قاضي چي مسلمان وي د دوی نکاح فسخ کولای سي، د دې ډول مضمون ورکول د انجلۍ د پلار له خوا لازم دی بې له قضاء د قاضي نه سي کېدلای.

"وفـی الـدر الـمختار: ولـو زوجـوهـا برضاها ولم يعلموا بعدم الکفائة ثم علموا لاخيار لاحد الا إذا اشرطوا الکفاء ة او أخبرهم بها وقت العقد فزوجها علی ذلك ثم ظهر أنه غير کف کان لهم الخيار" (شامی / ص: ٣٤٥)





فصل فيما تحل به المطلقة

سوال: كه يوه سړي ښځه طلاقه كړه په طلاق بائن سره بيا كه چې ری دغه سړي بيرته په نكا ح كولای سي كنه؟

جواب: كـه طلاق بـائـن وه پـه نـكـا ح كولای ئـې سي پـه عدت كي او وروستـه تـر تيـريـدلـو دعـدې ځـكـه حلال والی دمحيلـه پاتـه دی تر دريم طـلاقـه پـوري مـخ كـي تـر دغـه مـعلوم دی او په عده كي غير منع ده ځكه اشتباه دنسب نستـه .واذا كان الطلاق بائناً دو ن الثلاث فله ان يتزوجه فی العدة وبعد القضائها رواية مع شر ح الهداية فتح القدير ص٢٠ .

سوال:

كه چيري ثلاثـه وه بيا تزوج په نكا ح كول او سړي ته روا ده او كه نه؟

جـواب: بيـا واول زوج ته نه روا كيږي تر هغو چيدې بل ميړه نه وي كړی او هغه سړی دخول ونه كړي بيا ئې وروسته طلاقه كړي يا مړ سي .

كـمـا فـی الهداية ج٢ وان كان الطلاق ثلاثا فی الحرة او ثنتين فی الامة لم تـحـل لـه حتـیٰ تـنـكح زوجاً غيره نكاحاً صحيحاً ويدخل بها ثم يطلقها او يموت عنهما فتح القدير شر ح هداية ج۴ ص ٣١ .

سوال:

دزوج آخر لپـاره يواځي عقد نكا ح كول كافي دی او كه دخول هم غواړي ؟

جواب:

باب الحلالة

سوال: كه چيري يو چا په حلاله كي دقوم لوط فعل وكړ يعني دشا په طرف كي ئې دخول وكړ نو واول ميړ ح ته بيا حلاليږي كه نه ؟

جواب: دشرعي حلالې دپاره دا ضروري ده چي جماع به دمخ له خوا ورسره كوي دشا له خوا جماع كافي نه ده . دحلالې دپاره دا كافي نه ده او دا كبيره گناه ده . اذا آتاها في دبرها لاتحل للاول (الفتاوىٰ القنية ص٧٣ كتاب الطلاق .

سوال:

كه يوې دوهم ميړه وكړ له نكاح وروسته دوهم ميړه مړ سو او جماع ئې نه ورسره وكړه اوس دا ښځه واول ميړ ح ته حلاله ده او كه نه؟

جواب: دحلالې دپاره ددوهم ميړه له خپلي منكوحې سره جماغ ضروري ده چي ادخال هم وكړي مگر دجماغ قائم مقام نه ده .قال العلامه ابن عابدين ولو مات عنها قبل الوطى لا يحلها للاول لاذا شرط هنا الوطئه ردالمحتار ج٦ ص ٥٣٢ كتاب الطلاق .

سوال: كه سړي ښځه طلاقه كړه په طلاق ثلاثه سره بيا ښځه ولاړه دپلار كورته يو كال ئې تير كړى بيائې خپل ميړه ته حال واستوى چي ما حلاله كړې ده زه غواړ چي بيرته له تا سره نكاح وكړم په دې وينا سره نكاح صحيح ده او كه نه؟

جواب: دښځي له خوا ددې خبري چي ما حلاله كړيده داول ميړ ح دپاره كافي نه ده تر هغو چي پوره تحقيق ونه كړي او له ټولو كيفياتو او حالاتو ځان خبر نه كړي كم وخت چي پوره حالات ورته معلوم سو چي رښتيا ئې

حلاله کړې ده داول میړه لپاره بیائې نکاح جائز ده . لو قالت حلت لأ او قال حلاله کردم لا یحل له التزوج مالا یستفسر ها لاختلاف الناس فی کیفیة التحلیل وهو الصواب (القنیة ص۸۴ کتاب الطلاق

سوال:

که دحلالې دپاره دوهم سړي په وخت دجماع کي پر ذکر باندي یو شی وپیچی او بیا ئې جماع ورسره وکړه واول میړ ح ته رواده او که نه ؟

جواب: دحلالې دپاره په نکاح کي دمشتهیٰ سړي دذکر داخلول ضروري دی تر څو چي لذت هاصلیدی شي انزال ضروري نه ده چي په دغه وخت کي له لذت حاصل وه بیا رواده که نه وه بیا نه ده روا . وفی الهدایة اذا الف زکره بخرفة وادخل فرجها فان وجد الحرارة تحل والا لا . ج ۱ص۴۷۳

باب حقوق الزوجین

سوال، په شریعت مطهره کي دښځي او میړه په مابین کي کوم کوم حقوق دي ؟

جواب: دخاوند او میړه په مابین کي ډیر حقونه دي چي اداکول ئې لازمي دي بعضي یوازي په ښځی پوري تعلق لري دښځي حقوق دي چي مثلاً . . . .نفقه کسوة مکان اعفاف الزوجه عدل انصاف او داسي نور بعضي یواځي په خاوند پوری اړه لري دخاوند حقوق دي مثلاً په جائزو امورو کي دخاوند اطاعت دخاوند دامانت ساتل دخاوند داولاد او مال ساتنه وخپل خاوند ته دتأدیب حق او . . . .لره دحیضه او نفاسه څخه په پاکیدو باندي دجنابت لپاره غسل او نور او بعض دښځي او خاوند په مابین کي

مشترک دي چي ادا کول ئې پر دوارو باندي مثلاً يو له بل سره ښه ژوند تيرول او په نرمي سره سلوک کول او يو دبل تکليف برداشتول هم داسي نور حقوق خو مشترک دي مګر دخاوند دذمه واری له وجهی دده حقوق زيات دي .قال فی الهندية فی کل موضع کان للقاضي ان يقضیٰ لها بالنفقة فلما ان تأخذ من مال الزوج مايکفيها بالمعروف بغير قضاء ج۱ ص ۵۵۰ .

سوال: که ديوه سړی دوې يا درې يا څلور ښځې وي او په هغو کې ئې له يوې سره مينه او محبت زيات وي او په نورو حقوقو کې ئې يو ډول چلن وو بيا دنورو ښځو دحقوقو تر پښو لاندي کيدل راځي او که نه ؟

جواب: ددې سړي چي ديوې سره ئې مينه او محبت زيات وي او په نورو حقوقو کي عادل وي په شريعت مطهره کي ئې مواخذه نسته ځکه خاوند په داسي حقوقو کي مکلف دې چي دده په اختيار کي وي قلبي محبت دده په اختيار کي نه دی . نه دده په قدرت کي راځي نو مکلف نه دی .

ومما يحب على الازواج للنساء العدل والتسوية بينهن فيما يملکه والبيوتة عندها للصحة وللموالاة لا فيما لا يملک وهو الحب والجماع الفتاویٰ الهندية جلد ۱ ص ۵۴۴ الباب السابع عشع فی النفقات .قال العلامة الکاساني وروی عن ابی قلابة ان النبی ﷺ کان يعدل بين نسائه والقسمة ويقول اللهم هذه قسمين فيما املا فلا تواخذ فيما تملا ولا املا بدائع الصنائع ج۲ ص ۳۳۲ باب النفقات .

سوال

: که ښځي دخاوند له مور او پلار سره يو ځی ژوند نه کاوه بيا دخاوند دا

رحـم پـه اجـاره بـانـډي نيـول جـائز نه دی بلکه په مقدس شریعت کي دا ډول شيـان يـواځـي دخپـلـو خـاونـدانو داستعمال لپاره جائز دی دنورو دپاره ئی استعمال په هيڅ صورت کي هم جائز نه دی .

لـمـا قالَ تبارک وتعالیٰ نسآء کم حرث لکم فأتوا حرثکم انی شئتم (سوره بقره ٢٢٣)

روی الـعـلامة الـجـلال الـديـن الـسيـوطی عن ابن سيرين وحسن بن زيـاد لايـعـار الفرج (الدر المنثور ج٦ ص ٥ سورة الشوریٰ) ومثله فی الجواهر الفتاویٰ ج١ ص ٢٠٧) دټيسټ ټيوب بيبی شرعی حيثيت .

درجعی طلاق تر دوو کلونو وروسته دپيدا شوي بچی دنسب ثبوت

سوال﴾

زيـد خپـلـي ښـځـي تـه رجعی طلاق ورکړ له طلاق نه دوه کاله وروسته ئـې بـچـی پـيـدا سـو کـلـه چـي زيد دبچي دپيدا کيدو نه خبر سو نو زيد دانـکـار پـه کـولو سره وويل چي دا هلک زما نه دی نو آيا دا بچی به دزيد له نسب څخه ثابتيږي او که نه ؟ بينوا توجروا .

جواب﴾

درجـعـی طـلاق نـه وروسـتـه کـه چيـري ښـځـه دعدت دتيريدو اقرار وکـی او دعـدت نـه ئـی وروسـتـه بـچـی پيدا سي نو دبچي نسب له زيد څخه نه ثابتيږي . البتـه کـه چيري ښځه مخ کي له ولادت څخه دعدت دتيريدو اقرار نه وي کړی نو دبچي نسب به له زيد څخه ثابتيږي .

لما قال العلامة التمر تاشي (فيثبت نسب) ولد معتدة الرجعی وان ولدت لاكثر من سنتين مالم تفر بمضی العدة والمدة تحمله وكانت الولادة رجعة لو فی الاكثر (تنوير الابصار علی هامش رد المحتار ج٢ ص ٦٧٦ فصل ثبوت النسب .

قال العلامة ابن الهمام ويثبت نسب ولد المطلقة الرجعة اذا جائت به لسنتين واكثر مالم تقر بانقضاء عدتها (فتح القدير ج٣ ص ١٧٢ باب الحضاة) ومثله فی كنزا لدقائق علیٰ هامش البحر الرائق ج۴ ص ١٥٦ باب ثبوت النسب)

پلار لره دخپل بچي له نسب ځخه دانكار كولو حكم

سوال

يو سړی دخپلي منكوحې له اولاد ځخه انكار كولی شي او كه نه؟ كه چيری يو څوک انكار ځني وكړي نو اولاد به ئی ده ته منسوب كيږي او كه بل چاته ؟ بينوا توجروا .

جواب

له منكوحې ځخه داولاد قوی دی ددې دثبوت لپاره نه دكومي دعوې ضرورت سته او نه دخاوند له نفی او انكار ځخه نسب نفی كيدلای سي .كوم بچی هم چي له منكوحې ځخه پيدا سي نسب به ئې دهغې له خاوند ځخه ثابتيږي .بيا هم كه چيرته خاوند له ښځي ځخه دپيدا كيدونكي بچي ځخه انكار وكړي او لعان وكړي نو بيا دخاوند ځخه دنوموړي بچي نسب نه ثابتيږي ليكن ورسته له دې

ښځه دخاوند او ښځي په حيث سره ددواړو يو ځاى او سيدل مشكل دي نـو ددې لپـاره يـا خـو خـاونـد ښـځـي تـه طلاق ورکوي او يا بـه قاضي د دواړو تر مـينځ تفريق (جلاوالى) راولـي .

لـمـا قـال الـعـلامة ابن عـابـدينؒ حيث قسم الفراش الى قوله وقوى وهو فراش المنكوحة ومعتدة الرجعي فانه فيه لا ينتفى الا باللعان .

(رد الـمـحتـار ج۲ ص ٦۴۸ بـاب ثبوت النسب كتاب الطلاق مطلب الفراش على اربع مراتب)

قال فى الهندية قال اصحابنا لثبوت النسب ثلٰث مراتب الاول النكا ح الـصـحيـح وما هو فى معناه من النكا ح الفاسد والحكم فيه انه يثبت الـنـسـب مـن غيـر دعـوة ولايـنتفى بمجرد النفى وانما ينتفى باللعان فـان كـان مـمن لا لعان بينهما لا ينتفى نسب الولد (الفتاوىٰ الهندية ج۱ ص ۵۳٦ البـاب الخامس عشر فى ثبوتالنسب كتاب الطلاق ومثله فى الفتاوىٰ التاتار خانية ج۴ ص ۷۸ باب الثبوت كتاب الطلاق .

دولد الزنا نسب

سوال﴿

کـوم بـچـى چي لـه زنـا ځـخـه پيدا سي نسب ئى له چا ثابتيږي؟ آيا زاني داسې بچي ته خپل بچى ويلاى سي ؟او كه نه بينوا توجروا .

جواب﴿

دزنـا ځـخـه دپـيـدا كـيدونـكـي بـچي لـه زاني ځـخـه دنسب ثابتيدل مـمـكـن نـه دى او نـه زانى داسي بچي تـه خـپـل زوى ويل سي كه چيرته مزنيه دچا په نكا ح كي وي نو له زنا ځخه دپيدا كيدونكي بچي نسب

به دمزنیې له خاوند څخه ثابتیږي او که چیري دکومې ناواده سوي نجلۍ څخه بچی پیدا سي نو نسب به ئې دمزنیې خواته کیږي .

لقوله علیه السلام: الولد للفراش وللعاهر الحجر (مشکوٰة ج۱ ص ۲۸۷ باب اللعان کتاب النکاح فصل الاول .

قال فی الهندیة اذا زنیٰ رجل بامرأة فجائت بولد فادعاه الزانی لم یثبت نسب منه واما المرأة فیثبت نسب منها (الفتاویٰ الهندیة ج۴ ص ۱۲۷ فی الفصل الثامن فی دعوة الولد من الزنا وما فی حکمه کتاب الدعویٰ ومثله فی الهندیة ج۱ ص ۵۴۰ الباب الخامس عشر فی ثبوت النسب کتاب الطلاق .

له زنا څخه دحاملې ښځي تر نکاح وروسته دبچي نسب

سوال﴾

یوه سړي دیوې آزادي ښځي سره زنا وکړه او له حامله کیدو نه وروسته نوموړي سړي ددغې مزنیې ښځي سره نکاح وکړه او دا معامله ئی سره کړې لاکن له زنا څخه چي کوم بچی پیدا سي او نوموړی سړي اقرار وکړي چي دا بچی زما له نطفې څخه دی نو آیا له دې څخه نسب ثابتیږي او که نه؟ بینوا توجروا .

جواب﴾

له زنا څخه هیڅکله هم نسب نه ثابتیږي دنوموړي سړي دنسب دثبوت دعویٰ ناقابل التفات ده بیا هم که چیري له نکاح څخه شپږ میاشتي وروسته ئی بچی پیدا سي نو بیا قضاء ئی له ناکح څخه

نسب ثابتيږي او كه چيرې له نكاح نه وروسته له شپږو مياشتو په كم وخت كي بچی پيدا شي نو بيا كه چيرتی ئې خاوند اقرار وكړي چي دا زما دی كه څه هم دنسب دثبوت لپاره دا اقرار مفيد نه دی لاكن دهغه دنسب له اقرار څخه دا بچی ميراث اخيستلای سي او چي دزنا اقرار وكړي او دبچي دنسب دعویٰ وكړي نو په دې سره نه نسب ثابتيږي او نه په ميراث كي ورته حصه وركول كيږي .

قال فی الهنديه ولو زنیٰ بامرأة فجعلت لم تزوجها فولدته ان جائت به لستة اشهر فصاعد ثبت نسبه الا ان يدعيه ولم يقل انه من الزنا اما ان قال انه منی من الزنا فلا يثبت نسبه ولايرث منه (الفتاویٰ الهندية ج ۱ ص ۵۴۰ الباب الخامس عشر فی ثبوت النسب كتاب الطلاق .

قال العلامة ابن الهمامؒ واذا تزوج الرجل امرأت فجائت بولد لاقل من ستة اشهر منذ يوم تزوجها لم يثبت نسبه (فتح القدير ج۴ ص ۱۷۸ باب ثبوت النسب كتاب الطلاق ومثله فی البحر الرائق ج۴ ص ۱۵۵ باب ثبوت النسب كتاب الطلاق .

دتښتول سوي ښځي داولاد نسب

سوال

يوه سړي دچا منكوحه ښځه وتښتوله او تر ډيره وخته پوری ئی له ځان سره وساتله چي بچي هم ځني پيدا سوي دي په داسي حال كي چي خاوند ئی هغې ته طلاق هم نه دی وركړی نو په داسي صورت كي دنوموړی ښځي داولاد نسب به له چا څخه ثابت وي ؟ بينوا توجروا .

جواب

دتښتـو ونـکی لـپاره دبـل چا لـه مـنـکوحې ښځه نفع اخيـستـل زنا دنسـب ثبـوت سبـب نه دی دداسي تـښـتـول سوي ښځي داولادونو نـسب بـه لـه خـاوند ښځه ثابـتيږي چي دنفی لپاره به ئی خاوند دلعا ن ذريعه اختيـاروي داسـي ښځي چي تر څو پوري له خاوند ښځه باقاعده آزادی نـه وي حـاصـلـه کـړې تـر ډيـره وختـه پـوری لـه بـل چا سره په اوسيـدلو بـانـدي ئـی نـکـا ح نـه ورسـره روا کيـږي او نـه ئـی داولادونـو نـسـب ثابتيـږي .

لـحديـث الـنبـی ﷺ الـولـد لـلفراش و للعاهر الـحجر (مشکوٰة ج۱ ص ۲۸۷ باب اللعان کتاب النکا ح .

وقـال ابـن عـابـديـنؒ اما نکا ح منکوحة الغير ومعتدته لانه لم يقل احد بـجـوازه فـلـم ينعقد اصلاً (رد المحتار ج٦ ص ۴۰۰ باب الـمحـرمات کتاب النکا ح .

وقـال الامـام فـخـر الـديـن حسـن بـن منصورؒ الاوزجندی ولا يجوز نـکا ح مـنکوحة الغير عند الکل الفتاویٰ خانيه علی هامش الهندية ج ۱ ص ۳٦٦ بـاب الـمـحـرمـات کتاب النکا ح ومثاله فی البحر الرائق ج۳ ص ۹۲ باب المحرمات کتاب النکا ح .

لـه کـور ښځه تر ايـستـلو وروستـه دغير مطلقه منکوحې ښځه دپـيـدا سوي بچي حکم

سوال﴾

زيد خپله ښځه په يوه وجهه بغير له طلاق ورکولو له کوره وايستله دوه کاله وروسته دهغې زوی پيدا سو خاوند ئې په خبريدو سره انکار وکړ چې دا بچی زما نه دی ايا د زيد دا انکار شرعاً درست دی که نه . بينوا توجروا .

جواب ﴾

دغير مطلقه منکوحې چې له نکاح نه شپږ مياشتې وروسته بچی پيدا سي که ئې خاوند اقرار وکړي او يا خاموش پاته سی په هر حالت کښې ئې بچی هغه ته منسوب کيږي کوا کی له کوره څخه دايستلو نه وروسته تر حفو پوري چې دده په نکاح کې وه تر هغو پوري به دپيدا کيدونکو اولادونو نسب له خاوند څخه ثابتيږي بيا هم که چيري په ريشتيا هم له بچي څخه انکار کول مقصود وي نو بيا کولی شي چې دلعان طريقه غوره کړي کوم چې ورته له نسب څخه دانکار لپاره کتمنه ثابتيږي .

قال العلامه برهان الدين المرغيناني واذا تزوج الرجل امرأة فجائت بولد لاقل من ستة اشهر منذ يوم تزوجها لم يثبت نسبه وان جائت به لستة اشهر فصاعداً يثبت منه اعترف الزوج او سكت فان جحد الولادة يثبت بشهادة امرأة واحدة تشهد بالولادة حتىٰ لو نفاه الزوج بلاعن لان نسب يثبت بالفراش القائم (الهداية ج۲ ص ۴۰۹ باب الثبوت النسب .

وقال فى الهندية واذا تزوج الرجل امرأت فجائت بالولد لاقل من ستة اشهر منذ تزوجها لم يثبت نسبه وان جائت به لستة اشهر

فصاعداً یثبت نسبه منه اعترف به الزوج او سکت (الفتاویٰ الهندیة ج١ ص ٥٣٦ الباب الخامس عشر فی ثبوت النسب) ومثله فی ردالمحتار ج٢ ص ٦٧٦ فصل فی ثبوت النسب الباب الخامس عشر فی ثبوت النسب .

دخاوند د ډېر وخت
دنه موجود والي په صورت کي
دښځي دحامله کیدو حکم

سوال﴾

که چیري یو سړی له څو کلونو څخه مسافر وي او نه موجود والی کي ئی بچی پیدا سي نو دبچي نسب ئی له هغه څخه ثابتیږي او که نه ؟

جواب﴾

دنسب دثبوت لپاره نکاح اهم سبب دی نو ددې لپاره دنکاح په موجود والي کي چي کوم بچی پیدا سي هغه به ثابت النسب وي دصورت مسئوله مطابق که چیري دخاوند د ډیري مودې په نه موجود والي کي چي بچی پیدا سي نو خاوند ئی دنفی لپاره کولی شي چي دلعان طریقه خپله کړي .

لقوله علیه السلام :الولد للفراش اللعاهر الحجر . (مشکوٰة ج١ ص ٢٨٧ باب اللعان کتاب النکاح .

وقال ابن عابدینؒ حیث قسم الفراش علیٰ اربع مراتب وقوي وهو فراش المکوحة ومعتدة الرجعی فانه فیه لا یبقیٰ الا باللعان (رد

المحتار ج ۲ ص ۶۸۴ مطلب الفراش علی اربع مراتب) ومثله فی الهندية ج۱ ص ۵۳۶ الباب الخامس عشر فی ثبوت النسب .

دحمل مده

سوال ﴾

یو بچی له زیات څخه زیات او له کم څخه کم ترڅومره وخته پوري دمور په نس کي پهته کیدلای سی ؟ او بیا په څومره وخت کي په صحیح او سالم صورت کي پیدا کیدلای سی ؟ بینوا توجروا .

جواب ﴾

دحمل کم تر کمه موده شپږ میاشتي ده او زیات له زیات موده ئی دوه کاله یعنی زیات نی زیات تر دوو کلو پوري دمور په نس کی پاته کیدلای سي دفقهي حنیفي له مخی دحمل موده له دوو کلو څخه نه سی زیاتیدلای .

لما قال العلامه مرغیناني واکثر مدة الحمل سنتان لقول عائشةؓ الولد لا یبقیٰ فی بطن اکثر من سنتین ولو بظل مغزل واقله ستة اشهر لقوله تعالیٰ :وحمله وفصاله ثلٰثون شهراً ثم قال وفصاله فی عامین فبقی للحمل ستة اشهر (الهداية ج ۲ ص۴۱۰ باب ثبوت النسب .

وقال شیخ الاسلام محمد بن عبدالله التمر تاشي واکثر مدة الحمل سنتان لخبر عائشةؓ واقلها ستة اشهر اجماعاً (تنویر الابصار علیٰ هامش ردالمحتار ج۲ ص ۶۷۶ فصل فی ثبوت النسب ومثله فی الکنز الدقائق علیٰ هامش االبحر الرائق ج۴ ص ۱۶۳ باب ثبوت النسب .

دحمل دکمې مودې

څخه دمخکښې پیدا شوې بچې دنسب حکم

سوال﴾

یوه سړي دیوې مطلقې ښځې سره نکاح وکړه ښځې دنکاح په وخت کې اطمینان ورکړی ؤ چې حمل مې نسته او عدت مې تیر سوی دی نوموړي سړي دښځې په خبره اعتماد وکړ په داسې حال کې چې دنکاح څخه پنځه میاشتې وروسته ئې بچی پیدا سو نو اوس ئې دا بچی له مخکنې خاوند څخه کېدل کیږي او که له نوي خاوند څخه ؟بینوا توجروا .

جواب﴾

له نکاح څخه وروسته له شپږو میاشتو په کم وخت کې دبچې پیدا کیدل ممکن نه دی کله چې ددې ښځې دحمل له مودې څخه مخ کې بچی پیدا سي نو له دې څخه معلومیږي چې نوموړي ښځې دروغ ویلي دي او له بل سړي سره ئې ددو کې په صورت کې نکاح کړیده نو ځکه دا نکاح اعتبار نه لري او بچی به له مخ کنی خاوند څخه ثابتیږي او داسړی به دبچی دپیدا کیدو نه وروسته دوباره نکاح کوي او دا ښځه به له ځان سره ساتي .

لما فی الهندیة واذا تزوجت المعتدة مزوج آخر ثم جائت بولدان جائت به لاقل من سنتین منذ طلقها الاول او مات ولاقل من ستة تزوجها الثانی فالولد للاول (الفتاویٰ الهندیة ج۱ ص ۵۳۸ الباب الخامس عشر فی ثبوت النسب .

قال العلامة مرغيناني واذا تزوج امرأة فجات بولد لاقل من ستة اشهر منذ يوم تزوجها لم يثبت نسبه (الهداية ج۲ ص۴۰۹ باب ثبوت النسب ومثله فی فتح القدير ج۴ ص ۷۸ باب ثبوت النسب .

دحمل کمترینه موده

سوال﴾

که چیري دیوه سړي دواده څخه شپږ میاشتي وروسته بچی پیدا سي نو آیا دا بچی به ثابت النسبه وي او که نه . او یا که چیری ئی پلار له نسب څخه انکار وکړي نو ددې بچي د نسب نفی کیدلای سی او که نه ؟ بینوا توجروا .

جواب﴾

له نکاه نه وروسته دحمل دکمي مودې یعني شپږمیاشتي نه وروسته چي کوم بچی پیدا سي نو نسب ئې له پلار څخه ثابتیږي او دپلار لپاره ئی دانکار ګنجائش نسته دنسب څخه دانکار لپاره دلعان څخه پرته بله طریقه نسته .

لما فی الهندية واذا تزوج الرجل امرأة فجائت بالولد لاقل من ستة اشهر منذ تزوجها لم يثبت نسبه وان جائت به لستة اشهر فصاعداً يثبت نسبه منه اعترف به الزوج او سكت فان جحد الولادة يثبت بشهادة امرأة واحدة تشهد با لولادة (الفتاویٰ الهندية ج۱ ص ۵۳٦ الباب الخامس عشر فی ثبوت النسب .

قال العلامة التمر تاشيؒ واقلها ستة اشهر اجماعاً فيثبت نسب (تنوير الابصار علیٰ هامش ردالمحتار ج۲ ص ٦۷٦ باب ثبوت النسب

) ومسله فی کنز الدقائق علیٰ هامش البحر الرائق ج۴ ص ١٦٢ باب ثبوت النسب .

دنسب دثبوت لپاره

موده دنکاح له وخت څخه شروع کیږي

سوال﴾

دیوه هلک نکاح په ١٩٨٨ داپریل په میاشت کی وسوه او خپله ښځه ئی دجولائی ١٩٨٨ په میاشت کي کورته راوړله او له یو ځای کیدو نه تقریباً درې میاشتي وروسته دخسر په کور کي دښځی بچی پیدا سو اوس پوښتنه داده چي ایا ددې بچي نسب له نوموړي هلک څخه ثابتیږي او که نه ؟ په داسي حال کي چي هلک او نجلۍ دترور زوی او لور هم سره کیږي او دیوه کورته تلل او راتلل هم بینوا توجروا .

جواب﴾

په نوموړی صورت کي که چیري په رښتیا هم نکاح په اپریل ١٩٨٨ کی سوي وي او یو ځای سوی په جولائی ١٩٨٨ کی وي او له جولائی نه درې میاشتي وروسته ئی په ستمبر کي بچی پیدا سي نو په دې صورت کي دنسب دثبوت لپاره دوخت اعتبار به دنکاح له وخت څخه وي دیو ځای کیدو له وخت څخه به نه وي بیا هم که چیري خاوندئې انکار وکړي نو بیا ورته دلعان دطریقې خپلول ضروري دي او له شپږ میاشتو څخه دکم وخت په صورت کي به بچی ثابت النسبه نه وي .

لما فی الهندیة واذا تزوج الرجل امرأة فجائت بالولد لاقل من ستة

اشهر منذ تزجها لم يثبت نسبه وان جائت به لستة اشهر فصاعداً يثبت نسبه من اعترف به الزوج او سكت فان جحد الولادة يثبت بشهادة امرأة واحدة تشهد بالولادة (الفتاویٰ الهندية ج۱ ص ۵۳٦ الباب الخامس عشر فی ثبوت النسب .

لما قال العلامة برهان الدين المرغينانیؒ واذا تزوج الرجل امرأت فجائت بولد الاقل من ستة اشهر منذ يوم تزوجها لم يثبت نسبه لان العلوق سابق على النكاح فلا يكون منه وان جائت به لسنة اشهر فصاعداً يثبت منه . لان الفراش قائم والمدة تامة الخ . . . (الهداية ج۲ ص ۴۱۱ .باب الثبوت النسب ومثله فی فتاویٰ قاضي خان على هامش الهندية ج۱ ص ۵۵۸ فصل فی النسب .

دساداتو نسب او دحضرت سيدة فاطمهؓ فضيلت

سوال﴾

سوال دادی چي داولاد نسب خو دپلار خواته کيږي په داسي حال کي چي دنبی ﷺ نارينه اولاد نه ؤ نو دساداتو نسب څنګه باقی پاته سو ؟ ځکه چي حضرت علیؓ خو پخپله سيد نه ؤ بينوا توجرو .

جواب﴾

دا صحيح ده چي په اسلام کي داولاد نسب له پلار څخه ثابتيږي ليکن دسيده حضرت فاطمهؓ يو ځانګړی خصوصيت دی چي ددې داولادونو نسبت د دې خواته کيږي او ددې په واسطه سره د حضور اکرم ﷺ واته کيږي له دې مبارکې څخه پرته يوې ښځي ته هم دا

شرافت او بزرګي نه ده حاصله نو ځکه دساداتو دنسب سلسله نن په دنیا کي قائمه پاته ده .

روی الحاکم عن جابر عن النبی ﷺ قال قال رسول الله ﷺ کل بنی آدم ینتمون الی عصبة الاولد فاطمة فان ولیهم عصبیتهم (مجمع الزوائد ج۹ ص ۲۷۴ رقم حدیث ۱۵۰۱۳ .کتاب المناقب الباب ۱۴ .

قال العلامة مفتي عزیز الرحمٰن له روایت څخه حفر ګندیږي چي نسب له پلاره ثابتیږي لیکن بنی فاطمة له دې حکم څخه مستثنیٰ دي دامام حسن او امام حسینؓ نسب دحضرت فاطمةؓ په واسطه دبنی کریم ﷺ خواته منسوب دی په راتلونکي زمانه کي دهیڅ یوې ښځي له خوا څخه اګر که سیده هم وي نسب نه ثابتیږي . (فتاویٰ دار العلوم دیوبند ج۱ ص ۷۵) باب ثبوت النسب .

له درو کلونو وروسته

دپیدا سوي بچي دنسب حکم

سوال﴾

که چیري دیوه سړي دمړني نه درې کاله وروسته ئی دښځي بچی پیدا سی په داسي صورت کي چي هغې بل میړه هم نه کړی نو ددې بچي دنسب په باره کي دمقدس شریعت څه حکم دی؟ ایا دا بچی به نوموړي مړي ته منسوب کیږي او که نه ؟بینوا توجروا .

جواب﴾

دمفتیٰ به په قول مطابق دحمل اقله موده شپږ میاشتي او زیات نه

زیاتـه مـوده ئی دوه کاله دی په دې وخت کي چي کوم بچی پیدا کیږي هـغـه ثابت النسبه وي لاکن کوم بچی چي دچا له وفات څخه د دوو کلو پوره کیدو وروستـه پیدا سي او له بل چاسره نکاح هم نه وي کړی نو نسب ئی دپلار خـواتـه نـه مـنسـوبیږي نو لـه دې وجهي پـه صورت مسئـولـه کـیږي کـوم بـچـی چـي دپـلار دمړيني له درو کلو وروسته پیـدا سـوی دی لـه پـلار څـخه نه ثابتیږي او داسي بچی به دمور خواته منسوبیږي .

لـمـا فـی الـهـنـدیة ولو فات عنها قبل الدخول او بعده ثم جائت نولد من وقـت الـوفـاة الـی سـنـتیـن یثبت الـنسـب منه و ان جائت به لاکثر من سنتیـن مـن وقـت الـوفـات لایثبت الـنسب (الفتاویٰ الهندیة ج۱ ص الباب الخامس عشر فی ثبوت النسب .

له دوولس کلن هلک څخه د نسب دثبوت مسئله

سوال﴾

پـه قبائیـلي علاقو کي خلک ډیر په وړوکوالي کي خپلو اولودونو تـه ودونه کوي نو پوښتنه داده چي که چیري دیوه هلک عمر دوولس یا دیارلس کاله وي او ښځه ئی حامله سي نو آیا ددې حمل نسب به دهلک خواته کیږي او که نه بینوا توجروا .

جواب﴾

کـه چیـری هـلک مراهق بلوغ ته نزدې وي (چي دهلک عمر دوولس کـاله او دانجلۍ عمر ۹ کاله وي نو بیا له دوڅخه دحمل نسب ثابتیږي

او که نه وي نو نه سي ثابتیدلای . له دې وجهې په نوموړي صورت کي هم دحمل نسبت به دهلک خواته کیږي ځکه چي عمر ئی دوولس کاله یعني بلوغ ته نژدې دی .

قال العلامی حصکفی والانسب فی حلیه اذلا ماء للصبی نعم ینبغی ثبوته من المراهق احتیاطاً قال ابن عابدین (قوله اذ لا ماء للصبی) ای فلا یتصور منه العلوق وانما ثبت نسب ولد المشرقی من مغربیه اقامة للعقد مقدم العلوق لتصوره حقیقة بخلاف الصبی کما فی البحر قوله نعم ینبغي) عبارة الفح ثم یجب کون ذلک الصبی غیر المراهق اما المراهق فیجب ان یثبت النسب منه (ردالمحتار ج۵ ص ۱۳۲ فصل فی نوع العلام)

فان الشیخ الامام ابو زهرةؒ الشرط الاول ان یکون الزوج یتصور منه الحمل فان کان صغیراً الا یتصور منه الحمل لا یثبت لان هذه قرینة قاطعة علی ان الحمل لیس منه وقد اتفق علی ذلک الائمة (الاحوال الشخصیة ص ۳۸۹ القسم الرابع ثبوت النسب .

له حلاله پرته ددوهمي نکاح څخه دپیدا شوي بچي دنسب حکم

سوال﴾

یوه سړي خپلي ښځي ته پر یوه ځای درې طلاقه ورکړه او بیا څو ورځي وروسته ئی بغیر له شرعي حلاله څخه دوباره نکاح ورسره وکړه ځکه چي په یوه غیر مقلد عالم دین ورته دنکاح تجدید فتویٰ ورکړې وه په داسي حال کي چي نوموړی پخپله حنفی مذهبه دی لا

دوهمي نکاح څخه ئې يو بچی پيدا سوی دی نو دداسي بچي دنسب په باره کي دشريعت څه حکم دی؟ بيّنوا توجروا .

جواب ﴾

په صورت مسئوله کي دوهمه نکاح شرعاً فاسده ده او پرته له کوم تاخير او ځنډ ددواړو تر منځ جدائی ضروري ده البته دبچي نسب ئې له خپل پلار څخه ثابتيږي .

لما في الهندية ولو طلقها ثلاثاً ثم تزوجها قبل ان تنكح زوجاً غيره فجائت منه نولد ولا يعلمان بفساد النكاح فالنسب ثابت وان كان يعلمان بفسادالنكاح يثبت النسب ايضاً عند ابی حنيفة كذا فی التاتار خانية (الفتاویٰ الهندية ج۱ ص۵۴۰ الباب الخامس فی ثبوت النسب .

دعدت په حالت کي له خوښيني سره دنکاح په صورت کي دپيدا سوي بچي دنسب حکم

سوال ﴾

يوه سړي خپلي ښځي ته طلاق ورکړ او دطلاق وجه داوه چي دښځي ئی شک وو چي خاوند ئې له خپلي خوښيني سره ناجائز تعلقات لري ځکه چي دوی اکثره وخت په خلوت کي سره اوسيدل اوس دامطلقه ښځه ده او خاوند ئې دهمدې ښځي له خور سره چي خوښيني ئې کيږي نکاح وکړه او وتښتيدی .څه وخت وروسته ئې

يو زوى هم پيدا سو ايا ددې بچي نسب به له نوموړي سړي څخه ثابتيږي او که نه ؟ بينوا توجروا .

جواب﴾

دصورت مسئوله مطابق دعدت په دوران کي له خوښيني سره نکاح جائز نه ده که چيري چا وکړه نو فسخ ئې واجبه ده او اصلي خبره داده چي دامام ابو حنيفه په نزد له فاسد نکاح څخه پيدا کيدونکي بچي هم ثابته النسبه وي نو ځکه ددې بچي نسب به له خپل پلار څخه ثابتيږي بيا هم ددواړو لپاره داولي ښځې دعدت له ختميدو نه وروسته دوباره نکاح ضروري ده او بغير له نکاح څخه دوى يو ځاى نه شي سره اوسيدلى .

لما قال العلامه الكاساني ان تزوج احدا هما بعد الاخرىٰ جاز نكاح الاولىٰ وفسد نكاح الثانية (بدائع الصنائع ج۲ ص ٦٩ كتاب النكاح .

وقال ايضاً واما نكاح الفاسد فلا حكم له قبل الدخول واما بعد الدخول فيتعلق به احكام منها ثبوت النسب (بدائع الصنائع ج۲ ص ۳۲۵ باب ثبوت النسب .وفى الهندية وان تزوجها فى عقيدتين فنكاح الاخيرة فاسد . يجب عليه ان يفارقها يحب الاقل من المسمى ومن مهر المثل وعليها العدة ويثبت النسب ويعتزل عن امرأته حتىٰ تقضى عدة اختها (الفتاوىٰ الهندية ج۱ ص ۲۷۷ ـــ۲۷۸ باب الثبوت النسب .

له خوابني سره دنکا ح نه وروسته دپیدا کیدونکو اولادونو دنسب حکم

سوال﴾

یو سړی دخپلي ښځي له مړيني نه وروسته له خپلي خوابني سره نکا ح وکړه څو کاله سره پټ وو او په همدې دوران کښي ئې څلور بچي هم پيدا سوی دی او اوس نو موړي سړی مړ سوی دی نو ایا دغه اولادونه ثابت النسبه دي او نوموړي سړي په ترکه کښي دمیراث حقدار ه دی او که نه ؟ په داسي حال کي چي دمرحوم له اولي ښځي څخه پیدا کیدونکي بچي دغه بچيان خپل ورونه او خوندي نه ګڼي او دپلار په میراث کي دوی ته حق هم نه ورکوي مهرباني وکړ دقرآن او حدیث مبارکه په رڼا کي دا نزاع ختمه کړئ ؟ بینوا توجروا .

سوال﴾

له خوابني سره شرعاً نکا ح جواز نه لري او کی چیري څوک نکا ح ورسره وکړي نو فاسد نکا ح به وی په داسي حال کي چي له فاسد نکا ح څخه عدت او او دنسب د ثبوت مسائل ثابتیږي له دې وجهي له نوموړي صورت کښي اګر که له خوابني سره نکا ح فاسد دی او فسخ ئی واجبه ده مګر دپیدا سؤوو اولادونو نسب ئی له پلار څخه شرعاً ثابت دي او دا اولادونه دنورو خوندو اوورونو په شان په میراث کي بابر حق لري او هیڅوک ئی له خپلي حصې څخه نه سی منع

کولای او نه ئی چاته دګرزولو اختیار سته .

لما فی الهندیه رجل مسلم تزوج بمحارمة فجئن باولاد یثبت نسب اولادمنه عن ابی حنیفةؒ خلافاً لهما بناء علیٰ ان النکاح فاسد عند ابی حنیفة باطل عندهما (الفتاویٰ الهندیه ج۱ ص ۵۴۰ باب ثبوت النسب)

قال العلامة ابن عابدینؒ نکاح المحارم مع العلم بعدم الحل فاسد عنده خلافاً لهما (ردالمحتار ج۲ ص ٦٥٩ باب العدة مطلب عدة المنکوحة فاسداً)

وقال ایضاً قوله لانه نکاح باطل ای فالوطی فیه زنا لایثبت به النسب بخلاف الفاسد فانه وطی بشبهة فیثبت به النسب ولاتکون بالفاسد فراشاً لابالباطل (ردالمحتار ج۲ ص ٦٨٧ باب ثبوت النسب)

خپل ذات یعني شجره نسب دبدلولو حکم

سوال﴾

دذات (شجره نسب) بدلول او یا بل قوم ته خپل نسبت کول دشریعت له مخي جائز دی او که نه ؟ بینوا توجروا .

جواب﴾

دیوه مسلمان لپاره دخپل ذات بدلول او بل قوم ته خپل نسبت کول دشریت له مخي حرام او ګناه ده په حدیث شریف کي پر دې سخت وعید راغلی دی او نبی کریم ﷺ فرمایلي دي چي په نسب بدلونکي سرې باندي جنت حرام دی .

عن سعد قال رسول الله ﷺ يقول من ادعىٰ غير ابيه وهو يعلم انه غير ابيه فالجنة حرام (صحيح بخاري ج۱ ص ۱۰۰۱ كتاب الفرائض)

دبل چا له منی څخه دستنې

په ذریعه دپیدا سوي بچې دنسب حکم

سوال﴾

زموږ په کلي کهلور ضلع مظفر آباد آزاد کشمیر کي یو سړی دی چي پنځلس کاله کیږي واده ئې کړی دی لیکن تر اوسه پوري دخدای په قدرت سره داولاد دنعمت څخه محروم دی هغه دخپل جائیداد دوارث جوړولو لپاره یوه هیله جوړه کړه چي ښائی په دې طریقه سره مي زوی پیدا سي نو ئې خپلي ښځي ته دیو نامعلوم سړي دمنې ستن ولګول چي ښځه ئې ترې حامله سوه له ټاکلي وخت څخه وروسته ئې لور پیدا سوه کومه چي له قدرتي لوئیدو څخه محرومه او هر وخت مریضه وه قد (ونه) ئې هم جګیږي شکل ئې هم ددوی دخاندان دیوه سړي سره هم معمولي غوندي مشابهت نه لري ددې بچې له پیدا کیدو وروسته تر سپړو کلو پوری ئې بیا بچی نه کیدل او واضحه خبره ده چي دنوموړي سړي پلار خپل ځان داسلام لوی دعویدار هم کښي لیکن دچا دحقوقو دغصب کولو هیڅ پروا هم نه کوي دبانک په سودي نعاملاتو کښي ډیره ژوره دلچسپی لري هغه هم دخپل زوی ددې نابنائسته عملونو ښه معلومات لري اوس پوښتنه داده چي ایا دداسي سړی په اسلام کي څه مقام ستهاو که نه که چیری وي نو لږ وضاحت ئې وکړئ او که چیری ئې داسلام له حدودو او قیودو څخه

تجاوز کړی وي نو دقرآن او سنتددې سري په باره کي څه حکم ده ؟هیله ده چي په تفصیل سره جواب راکړئ ؟ بینوا توجروا .

جواب﴾

په پورته ذکر سوي طریقې (دستني په ذریعه) داولاد حصول حرام دی او داسلام داصوصو خلاف ورزي ده بیا که چیري په دې طریقه سره دتولید عمل مکمل کړي وي نو نسب ثابتیږي درسول الله ﷺ فرمان دی چي الولد للفراش وللعاهر الحجر) الحدیث)

نو ددې بچي نسب دنوموړي سړي څخه ثابتیږي او دوراثت رضاعت او داسي نور احکام پری جاری کیږي دنسب دثبوت لپاره دوطی فطری صورت ضروري نه دی له فطری صورت څخه پرته هم که چیري په هغې طعیقې سره دخاوند ماده منویه دښځي رحم ته ورسیږي نو نسب ثابتیږي .دفقهاء کرامو په ځینو عبارتونو کي دې خواته اشاره سوې ده .

په خلاصة الفتاویٰ او عالمګیري کښي کي دي چي البکر اذا جومعت فی مادو ن الفرج فحملت بان دخل الماء فی فرجها فلما قرب او ان ولادتها نزال عزرتها ببیضة او بحرف درهم ج۴ ص ۱۱۴ .

دنجلۍ دشرم ګاه څخه دباندي (باهر) که چیرته جماع ورسره وشي او نجلۍ ترې حامله شي په دې شرط چي ماده منویه دهغې په سرم ګاه کي داخل کړه شي او کله چي دولادت وخت ئې راشي نو دهګۍ یا ددرهم په په کونجونو دهغې دبکارت پرده پرې کړل سي .

له دې څخه داهم څرګندیږي چي دنسب دحرمت حکم هم ثابت سي

يعنى مور پلار نيكه انا او داسې نور دنسب سلسله داسې حرامه سې
لكه څرنګه چې دفطري توالداو تناسل له وجهې حراميږي .په دې
كى هيڅ شک نسته چې دا صورت عملاً دزنا صورت دى او داسى پيدا
كيدونكى بچى ولد الزنا دى البته په دې باندې په اسلامى ملكونو
كى دزنا شرعى سزا نه شي نافذيدلاى ځكه چې شرعى سزا صرف په
ناجائز حمل باندې نه بلكه له يوه او بل څخه دخوند اخيستلو باندې
ده (جديد فقهى مسائل ص ۱۵۲)

دڅوارلسو پنځلسو كلونو له جدائى سره بچى ثابت النسب ګڼل كيږي

سوال ﴾

يو څوک د۱۹۷۱ دپاكستان او هندوستان په جنګ كى ورک سو او
تر څو كلونو پورې ئې دمرګ او ژوند معلومات نه كيده او له
وركيدو څخه ئې تقريباً څوارلس پنځلس كاله وروسته بچى پيدا سو
اوس پوښتنه داده چې ددې بچې نسب له چا څخه ثابتيږي ؟ بينوا
توجروا .

جواب ﴾

اسلام تر ډيره پورې دبچې دثابت كيدو كوشش كړى دى په
نوموړي صورت كې اګر كه په ظاهره سره اثبات النظر مشكل دى
ليكن شريعت مطهره ددې ولد نسب هم ثابت كړى دى او يوه قانونى
ماده ئې پرې ايښې ده :چې الولد للفراش وللعاهر الحجر . (بخارى
شريف)ولد يعنى بچى به دفراش تابع وي او دزاني لپاره يوازې ډبره

ده .د دې قانون لاندې په صورت مسئوله کې ددې ولد نسب له خپل پلار څخه ثابتیږي اګر که حقیقت داسی نه دی . دا نسب له لعان نه بغیر له خپل پلار څخه نه نفی کیږي .

لما فی الهندية والحكم فيه انه يثبت النسب من غير دعوة لا ينتفى بمجرد النفى وانما ينفى باللعان (الفتاوىٰ الهندية ج۱ ص ۱٦۳ باب ثبوت النسب .